# د افغانستان  د جزا حقوقو مبادی

دویم چاپ


**افغانستان د حقوقي زده کړو پروژه (ALEP)**

**د سټانفورډ د حقوقو پوهنځی**

www.afghanistanlegaleducation.com

afghanistanlegaleducaiton@gmil.com

**د سټانفورډ د حقوقو پوهنځی**

**کرون کوارډرنجل**

**۵۵۹ نیتن ابوت وي**

**سټانفورډ، کلیفورنیا، ۸۶۱۰ – ۹۵۳۰۵**

**د افغانستان حقوقي زده کړو پروژه، د افغانستان جزائی حقوقو مبادی(دوهم چاپ) محصلین لیکونکی**

**لیکوالان:**

اونا او

راج نارایان

ماکس ریتیګ

سکات سکایفر

اننا ستیفنس

ایلی سوګرمن

ادیتوران:

**ستیفن احمد، حمید ام خان او د 2010 – 2011 کلونو په ترڅ کې د ALEP ډلې غړی**

**۲۰۰۹ – ۲۰۱۰ د ALEP محصلین غړی**

کاترین بایلین

ویل هاو من

جیم کلونوسکی

نیکولاس مارتینز

جی مینګ

انګرید پرایس

جولیان سیمکوک

**۲۰۱۰ – ۲۰۱۱ د ALEPمحصلین غړی**

ستیفن احمد

روز لیدا ایهلر

الیزابت اسپینوزا

جن فارنګنون

ګابریل لیدین

نیکولاس ری

**۲۰۱۱ – ۲۰۱۲ دALEP محصلین غړی**

ایوان بیرکویست

مورګان ګاللاند

ستیفنګوسنیل هندلر

مایکل سولمییر

**۲۰۰۸ – ۲۰۰۹ دALEPمحصلین غړی**

اونا او

راج نارایان

ماکس ریتیګ

سکات سکایفیر

**۲۰۰۷ – ۲۰۰۸ د ALEPمحصلین غړی**

الکساندر بینارد

جیسن بیرګ

بینجامین جوزیلف

اننا سستثفینز لوید

ایلی سوګارمان

جیوفر سوینسون

**دALEP  پروژې سلاکاران**

پروفیسور ایریک جینسین

د پوهنځی  رئیس لارري کرامیر

**د  ALEP د حاکمیت قانون برخې  همکاران**

ستیفین احمد (2012)

**د دوکتورا دورې همکاران**

جین روند (2012)

تیلر ستریکلینګ(2011)

بریتان هیللیر(2010)

حامد م. خان(2009)

بینجامین جوزیلوف(2008)

د مندرجات فهرست


کورودانی ........ ط

د پیل خبرې ........ ي

لومړی ځپرکی ........ 1

د جزا حقوق سریزه ........ 1

I. سریزه ........ 1

II. د جزا حقوقو موخې ........ 2

1. جزا ........ 2

2. امنیتی تدابیر ........ 5

3. ویرول ........ 7

4. د مجرم اصلاح ........ 9

III. د جزا حقوقو سرچینې ........ 11

1. اساسي قانون ........ 11

2. د اسلام حقوق ........ 13

3. د ۱۹۷۶ کال د جزا قانون ........ 14

4. تقنیني سندونه ........ 15

IV. په افغانستان کې د جزا حقوقو تاریخچه ........ 15

1. د مشروطیت دورې مخکې د جزایي عدالت منشاء ........ 16

2. دوه ګوني محاکماتي سیستم: ۱۹۲۰ –۱۹٦٤ ........ 17

3. د جزایي حکم د صادرېدو واحد سیستم ........ 19

4. د واحد قضایه نظام بیا رامنح ته کول ........ 22

اصطلاحات ........ 22

اخځلیك او معلوماتي سرچینې ........ 24

دوهم ځپرکي ........ 25

جرم ........ 25

I. سریزه ........ 25

II. د جرم عناصر ........ 27

1. قانوني عنصر ........ 27

2. مادي عنصر ........ 29

3. معنوي عنصر ........ 33

III. د جرم طبقه بندي ........ 38

1. د قانوني عنصر په بنسټ ........ 38

2. د مادي عنصر پر بنسټ ........ 39

3. د معنوي عنصر پر بنسټ ........ 41

IV. دجرم شروع ........ 41

1. په جرم د شروع عناصر ........ 42

2. د ناشوني جرم څرنګوالي ........ 44

3. د جرم د شروع مجازات ........ 45

V. ډله ایز مجرمیت ........ 45

1. په جرم کې مرسته او لمسونه ........ 46

2. اتفاق ........ 48

د بحث راغونډیدا ........ 51

اصطلاحات ........ 52

اخځلیک او معلوماتی سرچینې ........ 53

دریم څپرکی ........ 54

جزایی مسؤلیت ........ 54

I. د جرم مسؤلیت ........ 55

II. د جزایی مسؤلیت محدودیتونه ........ 57

1. توجیه ........ 58

2. بخښنه ........ 65
3. د عدلی اداري په وړاندې ننګونې – د سرچینو محدودیتونه ........ 73
III. د حکمی اشخاصو جزایی مسؤلیت ........ 73
د بحث راغونډېدا ........ 75
اخځلیك او معلوماتی سرچینې ........ 76
څلورم څپرکی : مجازات ........ 78
I. اصلی مجازات ........ 80
1. د حکمونو/لارښودونو د تنظیم واك ........ 80
2. احتیاط ........ 81
3. دشدت شرایط ........ 81
4. مخففه شرایط ........ 83
5. د استیناف بیا کتنه ........ 84
6. د دودیزو مجازاتو لپاره بدیل – د اختلافونو د حل او فصل بدیل ........ 85
7. د مضاعفو مجازاتو ممنوعیت ........ 87
II. تبعی/ اصلی جزاګانې ........ 88
III. تکمیل جزاګانې ........ 90
IV. غیر رسمی قانونی سیستم ........ 91
د بحث راغونډېدا ........ 94
اخځلیك او معلوماتی سرچینې ........ 96
پنځم څپرکی ........ 98
د افغانستان جزا په حقوقو کې اصلی جرمونه ........ 98
I. سریزه ........ 99
1. قانونیت ........ 100
2. قانونی تفسیر ........ 101
لومړی برخه : اسلامی حقوق د افغانستان جزا حقوقو د سرچینې په توګه ........ 102

I. دحدود جرمونه ........ 104
1. غلا ........ 106
2. زنا ........ 108
3. لارې وهل ........ 109
4. د الکولو څښل ........ 110
5. افترا ........ 112
6. ارتداد ........ 113
7. بغاوت ........ 119
II. د قصاص جرمونه ........ 120
1. قتل ........ 121
2. نور زخمونه (جراحات) ........ 123
III. تعزیری جرمونه ........ 124
دوهمه برخه : د افغانستان د جزایی حقوقو د مدنی قانون سرچینې ........ 125
I. د اشخاصو خلاف جرمونه ........ 126
1. سړی وژنه - قتل ........ 126
2. قتل – د نفس قتل ........ 131
3. وهل او زخم ........ 133
4. د لارې وهل ........ 136
5. اختطاف ........ 139
6. جنسی تېری او دښځو خلاف تاوتریخوالی ........ 145
II. د ملکیت خلاف جرمونه ........ 150
1. غلا ........ 150
2. اختلاس ........ 153
3. دشپې غلا ........ 154
4. فریبکاری ........ 156

III. د نظام په وړاندې جرمونه (ځانګړی جزایی قوانین) ........................................ 158

1. ارتشاء او اداری فساد ........................................................................ 158

2. د مخدرو موادو تولید او قاچاق ........................................................... 162

3. د تروریزم تمویل .............................................................................. 171

4. د پیسو تطهیر ................................................................................... 176

دریم برخه: وروستنی کتنې –مدافع وکیلان ............................................................. 182

د بحث راغونډېدا .......................................................................................... 185

اصطلاحات ................................................................................................ 187

اخځلیکونه او معلوماتی سرچینې ............................................................................ 188

# کورودانی

د ALEP هېڅ یوه پروژه د دوستانو او مرسته کوونکو له ملاتړ پرته شونې نه ده. د ستانفورد حقوقو مؤسسې پوهنځی رئیس، لاری کرامېر، (چه د ایریک جنسن سره په ګډه د محصلینو سرپرستی کوی) د پېغلې دېورا زوموالت ، د ستانفورد پوهنتون عمومی سلاکار او د افغانستان د امریکایی پوهنتون د تمویل کوونکو د بورد غړې له دې پروژې څخه زغرنده ملاتړ کړی دی. په ځانګړې توګه، پروفیسور رابرت ویسبورګ خپله مسلکی پوهه ددې درسی کتاب په لیکلو کې زموږ په واک راکړه.

ALEP د افغانستان امریکایی پوهنتون سره له مشارکت ډېر خوشحاله دی. په ځانګړې توګه د پروژې په پیل کې د افغانستان امریکایی پوهنتون ارشد مامور داکتر اتاناسیوس مولاکېس ملاتړ ډېر ګټور وو.

# د پیل خبرې

دا واضح خبره ده چه افغانستان اوس مهال د ګذار مرحلې په ترخ کې د ننګونو او ستونزو سره مخامخ دی. د افغانستان خلك د هېواد بیا رغونې په کار کې بوخت دی. د اختلافونو دریو لسیزو افغانستان ته زیان رسولی دی. نه یوازې یی د هېواد بنسټیز جوړښتونه ویجاړ کړی دی، بلکه هغه بنسټونه چه ځوان رهبرانو ته ښوونه او روزنه ورکړی هم له ودې پاته دی. له ټولو مهمه داده چه افغانستان د قانون پوهانو د کمښت سره مخامخ دی. د ګذار په مرحله کې دا اړتیا په واضح توګه د لمس وړ ده ځکه چه افغانستان بیا رغونې ته د په کار پوه مدافع وکیلانو شتون د اهمیت وړ دی. سر ددې هم، د افغانستان ځوان وګړو ته یو فرصت دی تر څو مثبت بدلونونه راولی او د خپل هېواد په رهبرانو باندې واوړی.

دې ننګونو او فرصتونو ته د ځواب ورکولو په منظور، د ۲۰۰۷ کال په منی کې د ستانفورد حقوقی مؤسسه جوړه او په کار یی پیل و کړ. دا پروژه شاګرد محوری جنبه لری او د افغانستان د پوهنتونونو سره د حقوق پوهانو دروزنې لپاره کار کوی. په پراخ مفهوم سره، د ALEP پروژه په نظر کې لری چه د رهبرانو راتلونکی نسل وروزی تر څو په هېواد کې د بیا رغونې او جوړوې بهییر رهبری په غاړه واخلی.

په ۲۰۰۷ کال کې دې ډلې مؤسس غړی د پروژې غوره دنده یعنی د افغانستان د جزا قانون سریزه ولیکله. دې ډلې دوهمه غوره دنده د قانون په هغې برخې باندې تمرکز وو چه د ملی بیا جوړونې د هڅو سره یی تړاو درلود. د ملکیت په هکله د جزا قضایی نظام جوړول چه د قانون په حاکمیت کې رېښه لری، د هېواد د پایښت وړ توسعې او د بین المللی ټولنې سره د هغې اړخ لګولو یا ادغام لپاره ډېر اهمیت لری. ددې انګېرنې او مقصد په نظر کې نیولو سره، د ALEP ډلې د جزا حقوق درسی کتاب ولیك چه لوستونکی د افغانستان د جزایی حقوقو د ټولو مفاهېمو سره آشنا کوی یعنې له جزایی اصولو څخه د اسلامی حقوقو تر غوره رول او بیا د جزا د غوره قوانینو څخه د قربانیانو او تورنو کسانو تر حقونو پورې.

په ۲۰۰۸ – ۲۰۰۹ کلونو کې د ALEP ډلې د ستانفورد حقوقو محصلینو اونا، رااج مارایان، ماکسی ریتنګ، سکوت سکایفېر، انی ستېفن، ایلی سوګارمن او جیوفری سوینسون د ایریك جینسن د ستانفورد حقوقو مؤسې د قانون حکومت برخې د پروګرام همتا دایرکتر او لاری کرامیر د ستانفورد حقوقو مؤسسې رییس تر سرپرستی لاندې کار کاوه.د ALEP ډله له رئیس کرامیر چه ددې پروژې هڅوونکی او ملاتړ کوونکی وو او همدارنګه غواړی د خپلې مننې مراتب دیبورا زوموالت –(AUAF) د ستانفورد پوهنتون عمومی سلاکار او د افغانستان د امریکایی پوهنتون د امنا هیئت غړی څخه د دوی د مرستی او همکاری له امله منه وکړی.

همدا شانې ALEP غواړی د (AUAF) سره د مشارکت له امله خوشحاله دی او په ځانګړی توګه د داکتر اتانیسیس مولاکیس –د دې پوهنتون له ارشد علمی کارمند څخه د نوموړی د مرستې په خاطر منه کوی.

په ۲۰۱۱ – ۲۰۰۱۲ درسی کال کې د ALEP ډلې د جزا حقوقو درسی کتاب باندې بیا کتنه وکړه او ادیت یی کړ او دا بیا کتل شوی نسخه یی چمتو کړه چه په واقعیت کې د افغانستان د جزا حقوقو دوهم چاپ ګڼل کیږی.

دا درسی کتاب له پنځو څپرکیو څخه تشکلیل شوی دی چه لوستونکی په افغانستان کې د جزا حقوقو سره آشنا کوی. موږ د زړه له کومی هیله لرو چه ددې درسی کتاب معلومات او تبصرې د لوستونکو سره مرسته وکړی تر څو اخلاقی او د مسؤلیت د احساس له مخې پریکړی وکړی او د کسب او حرفې په توګه د دندې له انتخاب پرته هم په افغانستان کې د قانون د حاکمیت سره مرسته وکړی.

په پیل کې باید وویل شی چه اسلامی حقوق د جزا حقوق په ټولو برخو کې رهنمایی کوی، له اساسی قانون څخه د جزا تر قانون او د هغه اړوند نورو موضوعه قوانینو پورې. لدې امله دا درسی کتاب د اسلامی حقوقو او د جزا په قانون کې د هغه د رول په هکله له بحث کولو پرته بشپړ کېدای نشی. ددې په ترڅ کې موږ هڅه کوو ترڅو محصلین د اسلامی حقوقو د ځینې اړخونو سره آشنا کړو. دا متن نباید د اسلامی حقوقو او اسلامی عقیدې په هکله یو جامع بحث و انګېرل شی، بلکه د مسلو د درک لپاره لومړنی مفاهیم وړاندې کوی نه د ټاکلی خلاف کار معرفی کول.

لوستونکی باید وپوهېږی چه د اسلامی حقوقو له نظره د جرم په هکله د پوهانو تر منځ جدې توپیر شتون لری. خو موږ پدې جر او بحثونو کې د برخه اخیستنې اراده نه لرو. د هغه پر ځای کوښښ کوو تر څو د اسلامی حقوقو اجمالی او بنسټیز نظر او د افغانستان د جزا په حقوقو باندې د هغه اثر څرنګوالی طرح کړو. موږ هیله لرو تر څو پدې کار سره لوستونکی زموږ دې کار ته په درنه سترګه وګوری او پدې لټه کې شی چه ددې پېچلو اړیکو یعنې د جزایی ټکو د تفسیر مطالعې او بېلا بېلو تفسیرونو او نظرونو ته دقت وکوی.

پدې انګېرنې سره، لومړی څپرکی لوستونکی د افغانستان د جزایی قوانینو د تاریخ سره آشنا کوی او ددې متن په اوږدو کې غوره موضوع ګانې په ګوته کوی. پدې څپرکې کې دری موضوعګانی یعنې د جزا حقوقو د بحث موضوع، د جزا حقوقو سرچینې او په افغانستان د جزا حقوقو تاریخچې ته بېل شوی دی.

دوهم څپرکی د ممنوع اعمالو په اساسی عنصر باندې بحث کوی. په لنډ ډول دا څپرکی د جرم عنصرونه په تفصیل سره بیانوی چه ددې عنصورنو څخه هر یو باید د تورن پېژندلو څخه مخکې موجود وی. دهغو عنصرونو څخه چه قانون په ګوته کړی دی پدې څپرکې کې ارزول شوی دی یعنې (۱) آیا د نظر وړ عمل د وقوع په مهال د جرم په توګه تشخیص شوی دی او که نه (قانونی عنصر)، (۲) آیا د تورن عمل د اړونده قوانینو له خوا د اټکل شوی اعمالو سره سمون لری (مادی عنصر)، (۳) آیا تورن د جرمی عمل د ارتکاب په مهال د لازمې روحی او روانی سلامتی څخه برخمن وو (معنوی عنصر).

دریم څپرکی، په دقت سره د جرمی اعمالو پایلې د جزا قانون او نورو اړونده موضوعه قوانینو پر اساس بررسی کوی. پدې څپرکی هڅه شوې ده ترڅو مرکزی ارزښتونه ا و د جزائی مسؤلیت مؤید اصول و ارزول شی. دا څپرکی همدارنګه د جزائی مسؤلیت حدودو د بحث یو عمومی مدخل ګڼل کیږی. محصلین به و توانیږی چه په نقادانه توګه هغه مسائل وپلټی چه د "حکمی ا شخاصو" لکه کارګری اتحادیی، جمع "حقیقی اشخاص" یا افرادو له جرمی اعمالو څخه ناشی کیږی.

څلورم څپرکی د محصلینو سره مرسته کوی تر څو په نقادانه توګه د مجازاتو رول تحقیق کړی، په ځانګړی توګه، پدې څپرکې کې هغو قواعدو ته اشاره کیږی چه اوس مهال د مجازاتو په برخه کې کارول کیږی او په ټولنه کې د هغو اهمیت ارزول کیږی. البته، هغه معلومات چه په څلورم څپرکی کې وړاندې شوی له هغه څخه چه ورځنی ژوند کې جرمی پیښې رامنځ ته کیږی ډېر توپیر لری. سره ددې هم، د حقوقو سره آشنا کېدل د دواړو یعنې هم محصلینو او هم مدافع وکیلانو ته آن له قانون څخه د نه پیروی کولو په حالت کې هم ګټور دی.

په پایله کی، پنځم څپرکی په افغانستان د غوره جرمونو کره بررسی ته ځانګړی شوی دی. دا څپرکی د اسلامی حقوقو تاثیر او هغه جرمونه چه د هغه د تعلیماتو پر اساس مشخص شوی دی لکه حدود، قصاص او تعزیر بیانوی. ددې څپرکی ډېره برخه مثبته حقوقو کتنه کوی لکه چه د جزا او په نورو موضوعه قوانینو کې تسجیل شوی. دا څپرکی د دولت په وړاندې جرمونه (ارتشاء او فساد، د مخدرو موادو کښت او قاچاق، د تروریزم تمویل او د پیسو تطهیر)، د اشخاصو خلاف جرمونه (قتل، تیری او زخم، غلا، اختطاف، او ...) او د ملکیت خلاف جرمونه (اختلاس ...) په ګوته کوی. بالآخره، دا څپرکی دې موضوع ته اشاره کوی چه تورن کسان څرنګه د جرمی اعمالو د تورونو سره په ځانګړی توګه د مدافع وکیلانو د خدماتو څخه په استفادې سره مقابله کوی.

موږ د زړه له کومی هیله لرو چه تاسو به ددې متن له مطالعې، جر او بحثونو او کارکولو څخه خوند واخلی.

**ایریک جینسن**

**پالو التو، کلیفورنیا**

**د نومبر1، 2009**

# لومړی څپرکی

## د جزا حقوق سریزه

### I. سریزه

دا درسی کتاب د جزا حقوقو اړوند پراخه مسلې لکه د جرم عناصر، جزایی مسؤلیت او مجازات په بر کې نیسی. په پیل کې دا مهمه ده چه په ځیر سره وپوهیږو چه د جزا حقوق په څه معنی دی.

**غوره تعریفونه – د جزا حقوق څه ته وایی؟**

د جزا حقوق چه کله د جنایی حقوقو په نوم هم یادیږي د هغه مقرراتو مجموعه ده چه جزایی اعمال په ګوته کوی. دا مجرمانه عملونه کېدای شي چه د حکومت له لوري په قانوني توګه مجازات شي. د جزا قانون د هغه قواعدو مجموعه ده چه پولیس او څارنوال د یو ناقانونه عمل د سرته رسولو په خاطر د یو شخص د تورن کولو په مهال، ورته مراجعه کوي.

د جزا حقوق ټولنه او د ټولنې غړي مطالعه کوي او پدې اړوند یعنې قانون، اخلاق، ارواح وهنه و عامه سیاست په هکله بې شمېره پوښتنې راپورته کوي. تر کومه ځایه چه د جزا حقوق له هرڅه د مخه د افرادو په کړو وړو اړه پیداکوي، د جرم مطالعه نه یوازې د حقوقو مطالعه بلکه همدازنګه د انسان د رفتار څرنګوالی هم دی. د جزا حقوق د ټولنې د قضاوت ښکارندوی دی دا ځکه چه کله یو عمل دومره بدی یا ناوړه کېدای شي چه له آزادي څخه د فرد د بې برخه کېدو او آن د ژوند له لاس ورکولو سبب ګرځي. په نتیجه کې، د جزا قانون د محدودیتونو پکارول، دقیقه پلټنه تضمینوی.

دا درسي کتاب د جزا حقوق تر څېړنې لاندې نیسي. دا کتاب په جزایی کړندود باندې بحث نه کوي( پدې معنا چه د افغانستان د جزایی اجراآتو د قانون له مخې یو فرد څرنګه دستګیر، تورن، محاکمه او مجازات کیږي). د هغه پرځای، پدې درسي کتاب کې د جزا حقوقو اصلی اجزا یعنی د جرم عناصر، جزایی مسؤلیت، مجازات، او د افغانستان په قوانینو کې د راغلو جرمونو په هکله بحث کوي.

پدې څپرکي کې له دریو غوره موضوعګانو څخه یا دونه شوی: د جزا حقوقو موخې، د جزا حقوقو سرچینې، او په افغانستان کې د جزا حقوقو تاریخچه.

## II. د جزا حقوقو موخې

هغه افراد چه په نړې کې ناقانونه اعمال تر سره کوي، د مجازاتو د يوې او يا بلې بڼې سره مخامخ کيږي. خو پوښتنه داده چه بشري ټولنې د بد رفتار لپاره، ولې د مجازاتو لاره خپله کړی؟ او داچه څرنگه ټولنه دا معلوموي چه کوم ډول مجازات مناسب دي؟ پدې څپرکي کې څلور نظريې يعنې د اهليت سلبول، بازدارندگي، توانموندنه او د ناقانونه اعمالو د مجازاتو توجيه کول، تر بحث لاندې نيسي.

| د لوست تمرکز |
| --- |
| څرنگه چه تاسو د مختلفو نی‌ریو په هکله معلومات تر لاسه کړل، ستاسو په آند کومه يوه تر ټول عادلانه ښکاري؟ ستاسو په نظر کومه يوه يا کومې په افغانستان کې د جزا د قانون او مجازاتو لپاره تر ټولو مهمه ده؟ |

### 1. جزا

جزا د "مجازاتو وړ" په معنا درک کيږي. دا پدې معنا ده چهد اړونده جرم لپاره مجازات بايد د مجرمانه عمل سره متناسب وي. داچه ټولنه اړونده عمل د جرم په توگه غنديو لدې امله د داسې عمل مرتکب شوی شخص بايد مجازات شي. بيا هم جزا لزوماً پدې مفهوم نده چه مجازات بايد په دقيقه توگه د جرم سره متناسب وي. جزا تل د " سترگې د سترگو په وړاندې" معنا نه ورکوي. د مثال په توگه، که چېرې يو شخص بل شخص په خنجر ووهي (ټپي يې کړي)، مجرم لزوماً د خنجر وهلو په جزا نه محکوميږي. ددې پرځای، فرد کېدای شي د يوې ټاکلې مودې لپاره چه د قاضي، څارنوال او ټولنې په باور د زيان لېدونکي د درد سره متناسب وي، بندی شي.

کله چه ټولنه د اعمالو د تشخيص په برخه کې د قانون جوړونې له لارې قواعد تدوين کوي، د قواعدو د تدوين عمليه د اړونده اعمالو د خطر، زيان او غير اخلاقی والي په هکله د ټولنې د باور او دريځ په روښانه کولو کې مرسته کوي. سره ددې چه دا د ټولنې قضاوت دی، خو هغه دا معنا هم لري چه ټولنه څارنوالان، قاضيان او د بنديخانو مسؤلين د اصلي جرمونو د مرتکبينو خلاف دداسې جرمونو د سرته رسولو څخه وساتي. په بل عبارت، جزا د خصوص غچ اخيستلو د مجاز په معنا ندي. دې خلاف، دا مطلب پدې نظر ولاړ دی چه په مجرمانه کړنو کې راښکېل شوي افراد د مجازاتو وړ دي، او دا د ټولنې واک دي چه په رسمي توگه د مجازاتو د شرايطو يوه مجموعه وضع کړيږ.

د جزا د اجزاوو څخه يو بل دادی چه مجازات نه بايد د جرم د شدت سره نا متناسب وي. د مثال په توگه، د مجازاتو طرفداران امکان لري ووايي چه که چېرې يوه ښځه له نانوايي څخه د ډوډۍ يوه ټکلې غلا کړي، هغه نه بايد په مرگ محکومه شي. هغه مجازات چه له جرم څخه زيات وی، غير عادلانه دي ځکه دا کار د

درد او آزادي څخه د بې برخه کېدو يو ناوړه عمل ګڼل کيږي. په عين حال کې، مجازات نبايد تر اندازې زيات کوچني وي. که چېرې يو شخص د يوې کورنۍ ټوله شتمني غلا او د خپلې ګټې لپاره وپلوري، پدې حالت کې د مجازاتو طرفدار ممکن ووايي چه ددې عمل په خاطر يوازې د ۵۰۰ افغانيو د جريمې ورکول کافي نه برېښي. که چېرې مجازات تر اندازې زيات آسانه وي، پدې صورت کې هغه د جرم د سرته رسوونکي په ګټه دي.

د مجازاتو طرفداران د" په حق" مجازاتو کچه د ټاکلو په لټه کې دي. دا يو ذهني او ستونزمن کار دی. داچه نه شو کولای يو فرد په عين هغه طريقه چه قرباني ترې زيانمن شوی، مجازات شي، ټولنه بايد په تخميني توګه له جرم څخه را ولاړ شوی زيان د بندی کولو او يا نغدي جريمې پواسطه و ټاکي. په افغانستان د مجازاتو ډولونه او لارې چارې به وروسته د څلورم څپرکي په ترخ کې په زيات تفصيل بيان شي. قاضي د مناسبې جزا د ټاکلو په برخه کې د پام وړ واک درلودونکی دی. پداسې حال کې چه د جزا د قانون ځينې برخې د ګناه لپاره د دقيقو حکمونو درلودونکي دي، خو د هغه ډېری مواد داسې دي چه مجازات يوې ټاکلې مودې له مخې د " له... څخه کم" او " له ... څخه زيات" او نورو ورته بيانونو په ترڅ کې وړاندې اټکل کيږي. سره ددې، دا پوښتنه په خپل ځای پاته کيږي: په هغه صورت کې چه د يو جرم لپاره د عادلانه مجازاتو د اټکل په هکله ډېرنظرونه شتون ولري، کم ترکمه دا موضوع په پيل کې يوه قاضي ته پرېږدی تر څو هغه پدې هکله پرېکړه وکړي چه کومه جزا سمه او مناسبه ده.

## د مباحثې پوښتنې

۱. اګر چه ټولنه افراد په هماغه طريقه چه قربانيان زيانمن شوی دی، نه مجازات کوي، خو بيا هم په افغانستان کې د دولت له لري د وګړو اعدام اجازه لري. د هغه حالت او داچه که يو سړی بل څوک ټپی کړي، توپير په څه کې دی؟

۲. د مجازاتو په ټاکلو کې يو قاضي بايد څومره اختيار ولري؟ که چېرې قاضي د جزا په ټاکلو کې واک ونه لري، کومې ستونزې رامنځ ته کېدای شي ؟

## فعاليت

د مجازاتو – بنديخانه، جريمه، يا داسې نورو نومونه وليکی چه د لاندنيو ليست شوو جرمونو لپاره ستاسو له نظره مناسبې ښکاري. خپل ځوابونه د خپلو همصنفيانو سره پرتله کړی او د خپلې پرېکړې په هکله بحث وکړئ.

۱. یو سړی خپل ملګری د چاقو په وهلو سره د مرګ حالت ته رسوي، ځکه چه ملګری یی هغه د لنډې ونې (قد کوتاه) په نوم یاد کړی دی.

۲. یوه مېرمن د خپل ناروغ زوی لپاره له درملتون څخه درمل غلا کوي.

۳. یو وګړی چه برښنا ته لاس رسی نه لري او همدارنګه له دولت څخه نور هېڅ خدمات نه تر لاسه کوي، د مالالیاتو له ورکولو څخه ډډه کوي.

۴. یوه مېرمن چی زوی یی له کټ څخه نه ښکته کېږي، په ټېله سره هغه له کټ نه لیرې کوی او په ترڅ کې د طفل پښه ماتېږي.

۵. د کانو او اوبو په وزارت کې یو کارمند هغه پیسې چه هغه شرکت ته په پام کې نیول شوی کوم چه ددې وزارت له لوري د ځاګانو او کانو د کیندلو لپاره ګمارل شوی، غلا کوي.

په افغانستان کې ډېری مجازات په جزا باندې ولاړې دي. د مثال په توګه، په افغانستان کې ډېری اختلافونه د ځمکې پر سر له اختلافونو څخه بیا تر جرمي اعمالو پورې، د رسمي سیستم څخه بهر د په جرګو او ځایی شوراګانو له لوري حل او فصل کېږي. د جرګې او شورا بنې په ټول افغانستان کې یو تر بله توپیر لري، خو ددوی ترمنځ ورته ګډ ټکي هم شته. یو له دې څخه د هغه جرمي اعمالو مجازت دي، چه جرم ګڼل کېږي. د معمول سره سم، د ځایي ټولنو مخه ور، د جرم مرتکبین په هغه طریه مجازات کوی چه قربانیانو ته یی په هغې سره زیان رسولی دی. دا مجازت کېدای شي په پام وړ اندازی سره له جریمې یا بند څخه توپیر ولري، خو اصل خبره پخپل حال پاته کېږي: هر هغه څوک چه د ځایی ټولنې لیکل شوی او نالیکل شوي قانون مات کړیو خپل عمل سره په متناسبه جزا ورکول کېږي.

## د مباحثې پوښتنې

۱. اندې پاراګراف ولولي. آیا تاسو فکر کوی چه د ترمیمي عدالت دا مفهوم یا جزا، په افغانستان کې ډېر دود دی؟

۲. "د جزا حقوق د پښتونولي قواعد، تر ډېره د ترمیمي عدالت پر مفهوم ولاړ دی، نه په لویدیز او بین المللي حقوقو کې په جزایی عدالت باندې. د ناوړه عمل په خاطر بندی خانې ته د استولو پر ځای، سرغړوونکی مکلف دی تر څو زیانمن شوی لوری ته یا پور ورکړی او یا خون بها او معذرت وغواړي.... معذرت یا

> نتواتی چه د پښتني غوښتلو ځانګړي دود دی، دښمني ته خاتمه ورکوي. دا دود په ټولو پښتني قابیلو کې د استفادې وړ دی، چه نژدې په یوه بڼه په ټولو ځايي ټولنو کې فعال دی". [1]

په ورته توګه، د حنفی کلاسیکې فقې له مخې د جزا نظریه د جرمونو یه طبقه بندي کې تر قیاس لاندې قرار لري. پام وکړي چه په لاندني نقل قول کې د قتل اړونده مختلفو مجازاتو ترمنځ تناسب د جرم سره څرنګه دی. نتیجه دا چه د قتل په خاطر د اعدام مجازات، د قتل جرایمو د یوې طفل برخې لپاره پکارول کیږي.

> "د اسلام کلاسیک حقوق کوښښ کړی تر څو د اعدام د مجازاتو د اعمال په اړوند ۱) د قاتل له لوري د ځانګړي قصد،۲) د دیت (خون بها) یا د مقتول د کورنۍ ټاکلو غړو ته د غرامت ورکولو په مقابل کې د قصاص څخه تېرېدل، ۳) د زیانمن شوي شخص اوپه ځینو حالاتو کې د قاتل حالت په نظر کې نیول کیږي. ټول مکتبونه پردې اتفاق لري چه قصاص یوازې په هغه حالت کې د اجرا وړ دی چه قتل په ناحق او د قصد له مخې تر سره شوی وي. سربېره پردې، یو شمېر مکتبونه د قاتل لپاره د قصاص د مجازاتو شونتیا د قصد د مختلفو درجو په نظر کې نیولو سره ... محدودوي. د حنفي فقهې مکتب د قصد د طبقه بندي څخه ملاتړ کوي: د عمدی او تصادفي حالت سربېره، دا مکتب د انسان وژنې مختلف حالتونه لکه 'شبه عمد'، ' تصادف معادل ' (جاری مجرا الخطا)، او 'غیر مستقیم' (بې سبب) په نظر کې نیسي، پداسې حال کې چه د [غچ اخیستل ] یوازې د 'بشپړ عمدي قتل' په صورت کې اجازه ورکوي. نور ارتدوکس یا دودیز مکتبونه پدې برخه کې دری درجې په ګوته کوي: عمدي، شبه عمدي او تصادفي. د قصد د درجو د دقیقې څېړنې او د عین د ثابتولو اسباب د غچ اخیستنې قضایی بهیر مهار او پدې توګه د اعدام د مجازاتو کارول محدودوي". [2]

ټول خلک د مجازاتو په نظریه باندې باور نه لري. پدې مجازاتو باندې اصلي نیوکه داده چه د قرباني او ټولنې څخه را ولاړه شوې جزا، فرد ته صدمه رسوي. ځینې کسان داسې استدلال کوي چه د غچ اخیستنې لپاره هوډ د توجیې وړ نه دی ځکه چه د تورن او د ټولنې ترمنځ د تاوتریخوالي لړۍ په حرکت راولي. په واقعیت کې، د غچ اخیستنې ددې لارې ځینې انتقاد کوونکی، دا کار یو ابتدایی تدبیرګڼي چه په معاصره ټولنه کې ځای نه لري. ددې نیوکو په ځواب کې، مجازات شوی داسې استدلال کوي چه د غچ اخیستنې د تشویق پر ځای، د جزا مجازات د تاوتریخوالي لړۍ پای ته رسوي، ځکه چه دا کار تورن کسان د خپل عمل سره متناسب مجازاتو منلو ته اړ باسی او دولت هغه اجرا کوی.

## 2. امنیتی تدابیر

[1] International Legal Foundation, *The Customary Laws of Afghanistan*, 10 (2004).

[2] Robert Postawko, *Towards an Islamic Critique of Capital Punishment*, 1 UCLA JOURNAL OF ISLAMIC AND NEAR EASTERN LAW, 302-303 (2002).

د مجازاتو لپاره بل منطق امنيتی تدابير دی. د امنيتی تدابيرو د تيوری پر اساس مجازات د توجيه وړ دي ځکه چه هغه د مجرم د دوهم ځلې ارتکاب او يا په عاتی مجرم باندې د هغه د اوښتلو مخنيوی کوي. دا نظريه پردې ولاړه ده چه د جرمونو مرتکبين له بند څخه د خلاصېدو او يا جريمه ورکولو وروستهٔ بيا په جرمی اعمالو لاس پورې کوي. د عادتي مجرمينو تر ټولو عام شوي جرمونه د غلا سره اړه لري چه په هغه کې د شپې غلا، غلا او لوټماری راځي. د امنيتی تدابيرو تيوري وايي چه د مجازاتو موخه بايد د خلکو خلاف د بل جرم د ارتکاب مخنيوی وي.

## غوره تعريفونه – جرم ته بيا مخ اړول څه ته وايي؟

جرم ته مخه کول داسې يوه پديده ده چه د هغه له مخې مجازات شوي مجرمان له بند څخه وروسته، بيا جرمی اعمال سرته رسوي. هغوی د عداتی مجرمينو او يا د جرم تکرارونکو (recidivists) په نوم يادېږي.

د جزا او امنيتی تدابيرو ترمنځ توپير هميشه روښانه ندی. جزا تر سره شوی (مخکنی) عمل مجازات کوي، پداسې حال کې چه د امنيتی تدابيرو موخه د (راتلونکې) جرم له ارتکاب څخه مخنيوی دی. پداسې حال کې چه جزا د محکوميت په ډول او شدت باندې متمرکز دی، د امنيتی تدابيرو څخه مطلب په راتلونکې کې د نا قانونه اعمالو مخنيوی دی. د امنيتی تدابيرو د نظريی پر اساس، مجازات نژدې هميشه د بندی کولو(او يا کله هم د بندي کولو معادل لکه کورنی توقيف) په مفهوم دی. بندي کېدل، له ټولنې څخه د يو فرد ليرې کول دی چه د جرم د بيا ارتکاب د مخنيوي لپاره يو منل شوې لاره ده.

د بند هر ډول پايښت د امنيتی تدابيرو د تيوري په اساس د توجيه وړده ځکه چه زيات احتمال وجود لري چه خلاف کار يو ځل بيا جرمی عمل تر سره کړي. له کومه ځايه چه د بندي کولو څخه هدف د يو فرد له لوري د نا قانونه عمل له سرته رسولو څخه مخنيوی دی، د بند موده په راتلونکې کې د جرم د بيا تکرار د مخنيوي لپاره تجويز کېږي. په بل عبارت، بند بايد په راتلونکې کې د خلاف کار له لوري د جرمی عمل د ترسره کولو د خطر په له منځ تلو سره، له منځه ولاړ شي. که چېرې مجرم ټولنې ته نور خطر نه ګڼل کېږي، امنيتی تدابير نه بايد د بندي کولو له لاري صورت ومومي.

ددې کار اټکل چه آيا احتمال لري يو خلاف کار فرد دوهم ځل جرمي عمل تر سره کړي، ډېر ستونزمن دی. ډېر شمېر لاملونه کېدای شي داړونده مراجعو سره د هغه په وړاندوينه کې مرسته وکړي. د مثال، په هره اندازه چه مجرم عمر زياتېږي، په بل جرم د ارتکاب چانس را کمېږی. بل مثال د رواني ناروغی سره تړاو لري، تر هغه پورې چه د يو شخص د رواني ناروغي درملنه و نه شي، د پام وړ احتمال شته چه هغه بيا نا قانونه عمل تر سره کړي.

په امنيتی تدابيرو باندې ډېرې نيوکې شوې دي ځکه چه هغه ، د نيمګړتيا سره سره، د وړاندوينې پر بنسټ بند توجيه کوي او په راتلونکې کې د جرم د رامنځ ته کېدو احتمال ته اشاره کوي. انتقاد کوونکي ددې استدلال کوي چه امنيتی تدابير تر اندازی زيات مکانيکي دی و ددې پرځای چه خلك د افرادو په توګه تداوي کړي، په احتمالاتو باندې تمرکز کوي. په بل عبارت، امنيتی تدابير کولای شي د وګړو بندي کول آن په هغه حالت کې هم توجيه کړي چه د افرادو د خطرناك والي په هکله د باور وړ هېڅ يو مدرك هم وجود ونه لری.

| |
|---|
| **د مباحثې پوښتنې** |
| ۱.د هغه لاملونو ليست ترتيب کړی چه ستاسو له نظره د يو شخص له لوري په راتلونکې کې د جرم د سرته رسولو په وړاندوينه کې مرسته وکړي. دا موضوع د خپلو همصنفيانو سره شريکه او بحث پرې وکړی. |
| ۲.پر بند سربېره، د امنيتی تدابير نورې لارې چارې کومې دي؟ آيا دا طريقې د بند په پرتله، غوره دي؟ ولې؟ ولې نه؟ |

## 3. ويرول

د مجازاتو لپاره دريم منطق، وېرول دي. وېرول پردې ده چه مجازات د توجيه وړ دي، ځکه چه د يو جرم په خاطر په محکوميت باندې د يو چا خطرل، وګړي له جرم څخه ليرې ساتي. په بل عبارت، له کومه ځايه چه خلك نه غواړي جريمه ورکړي، بندی او يا اعدام شي، هغوی د جرم له سرته رسولو څخه ډډه کوي.

دوه ډوله وېرول شتون لري: عام او خاص. خاص وېرول پخپله د بالقوه جرم پواسطه اعمال کېږي. که چېرې مجرم د تېر شوي جرمي عمل په خاطر مجازات کېږي، د نوموړي دا کار هغه په راتلونکې کې د جرم له ترسره کېدو څخه ليرې ساتي ځکه چه نه غواړي هماغه مجازات د دوهم ځل لپاره تېر کړي. عامه وېرونه د ټولنې په وړاندې په مبهمه او د يو کل په توګه اعمال کېږي. کله چه يو مجرم د يو عمل په خاطر مجازات کېږي، امکان لري چه د ټولنې غړي په عام ډول د داسې مجازاتو د زغملو په وجه د داسې جرم له سرته رسولو څخه ډډه وکړي. د مثال په توګه، که چېرې يو قاتل د يو بل مجرم د اعدام کولو بهير ووينې، هغه به د قتل له ارتکاب څخه ليرې شي.

د اسلام په حقوقو کې د وېرونې منطق مهم رول لري. په اسلامي هېوادونو کې دولتونه د ځانګړو جرمونو لپاره د مجازاتو په ټاکلو کې اختيار لري. دا اختياري او يا تعزيري مجازات دي چه په راتلونکې کې د جرمي اعمالو د مخنيوي لپاره مقرر شوي دي. لاندې انګېرنې په پام کې ونيسئ.

| |
|---|
| **درست، ښه او معقول:** |

## د اسلام په حقوقو کې ديني، اخلاقي او د عقلانيت ريښې

"پداسې حال کې چه د اسلام حقوق د اجباري مجازاتو لپاره د جرمونو يوه محدوده مجموعه وړاندې کوي، د جرمونو ډېري د دولت د قدرت له مخې چه عمومي تګ لاره ټاکي، مجازات کېږي. دا مجازات د تعزيري مجازاتو په توګه بيان شوي ديز ددې مجازاتو موخه د وګړو ملاتړ، عامه يا خاصه ويرونه او يا د تورن اصلاح ده. پدې توګه، دې دا ډول مجازاتو مشروعيت نه يوې الهامي قاعدې ته وفاداري، بلکه پردې معقول او منطقي باور باندې ولاړ دي چه عامه هوساينه او سوکالي د پورتنيو موخو په لاس ته راوړلو سره ښه والي مومي. په همدې دليل، القرضاوي استدلال کوي چه داسې ګناهونو وجود درلود چه سېکولاريستي زيانونه يې تر دې اندازې بې انډوله وو چه عادلانه مجازات يې نشواي رامنځ ته کولاې ځکه د جرم د مخنيوي لپاره په کافي اندازه د سختو مجازاتو تجويز ددې باعث کېږي چه د ګناه څخه د راپيدا شوي زيان سره تناسب و نه لري. په ورته وخت کې، د ګناه له دوام څخه د تخلف کار د انصراف لپاره، د متناسبو مجازات تجويز، کافي ندي. داچه د اختياري مجازاتو د اعمال لپاره دليل د يوې تجربي ارزونې پر بنسټ اټکل کېږي، د حقوقو دغه برخه په بشپړه توګه له ديني تجربې او تخصص څخه خپلواکه ده او پدې اساس، د الهامي قواعدو پر ځاي، د عمومي ګټو د دفاع لپاره د مقرراتو د وضع کولو مشروعيت بيانوي".[3]

همدارنګه ويرونه د جزا له منطقي دلايلو او امنيتي تداپير څخه بېله نده. جزا او امنيتي تداپير دواړه تېر وخت ته نظر لري. د جزا څخه مطلب د قرباني د زيان په خاطر د مجرم مجازات دي، بداسې حال کې چه د امنيتي تداپير موخه، له جرم څخه د مجرم د بيا ارتکاب څخه ليرې ساتل دي. ددوي له پرتلنې څخه داسې استنباط کېږي چه د وېرونې موخه تر پېښېدو مخکې د جرم مخنيوي دي.

د نورو نظريو په شان، د وېرونې اغيز نامشخص دي. ځينې داسې استدلال کوي چه هغه افراد کوم چه جرم تر سره کوي د عقل له مخې عمل نه کوي او د اړونده جرم مجازات د هغه د رامنځ ته کېدو نه مخکې په نظر کې نه نيسي. نور بيا پدې آند دي چه هغه افراد چه په غير عقلاني توګه په جرمي اعمالو لاس پورې کوي، د ګرفتارې او عدالت ته د راکښلو موضوع په نظر کې نه نيسي. همدا ډول که چېرې مجمان د عقل له مخې عمل وکړي، هغوي د مجازاتو د تېرولو په پرتله د جرم په ارتکاب کې زياته مزه ويني. پدې توګه، کېداي شي مجازات پر مجرمانه رفتار باندې کمه اغېزه ولري.

## د حقوقو اقتصادي نظريه – لنډه سريزه او کارول

[3] Mohammad Fadel, *The Theological and Ethical Roots of Public Reason in Islamic Law*, Canadian Journal of Law and Jurisprudence, vol. 21, pp.58-59 (2008).

د قانون د مطالعې او د هغه د کتنې لباره وجود لري. څېړونکي کولای شي قانون له تاريخي، سياسي، او آن له ادبي نظره مطالعه کړي. د حقوقو د مطالعې د غوره عرصو څخه يوه هم اقتصادي عرصه ده. د څېړونکو زيات شمېر د حقوقو مطالعه د اقتصادي نظريو له هغه جملې څخه د عرضې او تقاضا او د فرصت د ارزښت له مخې تر سره کوي.

وېرونه کېداي شي د يو اقتصادي لينز پواسطه وکتل شي. وېرونه هغه وخت تحقق مومي که چېرې د مجازاتو لګښت تر داسې اندازې پورې لوړ شي چې د جرم د ارتکاب بيه د مجرم د لاس ته راوړنې څخه اوچته وي. دا په څه معنا ده؟ د مثال په توګه راشي داسې و انګېرو چې يو سړي وغواړي يو ښکلې لوښه غلا کړي څکه د هغه مېرمن داسې لوښه ډېره خوښوي. دا لوښه ۱۰۰۰ افغاني قېمت لري. سره ددې، سړي پدې هم ښه پوهېږي چه که چېرې د غلا په مهال هغه ونيول شي، نو هغه به د لوښې د بېرته ورکولو سربېره ۳۰۰۰ افغانی جريمه او تر ٦ مياشتو بند هم ګالي. بدې اړوند کېداي شي يو زيات شمېر اقتصاد پوهان دا ووايي چه نوموړي کس د مجازاتو او غلا په پرتله د جريمې د زياتوالي له امله کېداي شي له غلا څخه ډډه وکړي. دا فرضيه پر دې ولاړه ده چه د جرم مرتکب د ځان د ګرفتاري څخه باوري دي. د جرم د ارتکاب د ارزښت په هکله د واقعي تخمين د ترلاسه کولو لپاره تاسو کولای شي هغه د شخص د نيولو د احتمال سره له پامه وغورځوي.
يو شمېر څېړونکي پدې باور دي چه د جرم د تکرارېدو لپاره بيه يا ارزښت کم اهميت لري څکه هغو افرادو چه په زندان کې يي وخت تېرکړي دي له جرم څخه د مخ ګرزولو دليل بند ته د بيا راګرځېدو خطر نه ګڼي. دا ډول د وضع شوو مجازاتو په اړه د جرم له ارتکاب څخه د يو شخص د مخ ګرځېدو څرنګوالي اټکل، د اقتصادي مفاهيمو پواسطه يوڅه مشکل دي. اصلي دادي چه آن ډېر سخت مجازات د ډېرو کوچنيو جرمونو د توقف سبب کېږي څکه مجرمان فکر کوي چه ليرې ده ونيول شي او هغوي زياتره د مجازاتو شدت له پامه غورځوي.

**د مباحثې لپاره پوښتنې**

۱. مقننه قوه په نظر کې لري چه د آيس کريم په هکله نوي قانون تر کتنې لاندې ونيسي. څه فکر کوي چه د آيس کريم د نه خوړلو په هکله د قانون له حکم څخه د سرغړونې تر ټولو لويه جزا به څه شي وي؟ دداسې انګېرنې دليل څه دي؟

۲. آيا تاسو فکر کوي چه وېرونه اغېزمنه ده؟ آيا دا د هغو چا لپاره چه جرم يي تر سره کړي اهميت لري؟ آيا د اعدام جزا د قتل د سرته رسولو څخه د ډډې کولو لپاره اغېزمنه ده؟

## 4. د مجرم اصلاح

پدې څېرکي کې د مجازاتو لپاره تر نظر لاندې وروستني منطق د مجرم اصلاح کول دي. د مجرم اصلاح پردې ولاړه ده چه مجرمان باید مجازات شي ځکه مجازات د مجرمانو سره مرسته کوي ترڅو پخپله خطا پوه او د يو اصلاح شوي شخص په توګه  د ټولنې سره بیا یوځای شي. د مجرم اصلاح د جزا قانون يو له پخوانيو توجیه کوونکو څخه ګڼل کیږي. دادې ښکارندوي دي چه د ښې راتلونکې په اړوند د خلکو باور په بنسټیزه توګه د بدلون په حال کې دي.

د مجرم اصلاح دوه ډوله ده: معنوي او فکري. لدې امله د اخلاقي بیا جوړونې نظریه، د بند او د مجرم مجازات په سمه لار ښوونه کولای شي. داچه د مجازاتو زغم ربړېدونکي دي، دا د انسان وجدان ويښوي چه په ټولنه کې جرم د منلو وړ نه دي. د مجرم اخلاقي اصلاح کولای شي د بند په موده کې د پروګرامونو په تر لاس نیولو سره تر سره شي او د تورنو کسانو سره د جرم د ترسره کېدو لاملونو، د نورو لپاره د خپلو ناوړه اعمالو منفي پايلو د څرنګوالي په درک کې مرسته وکړي او دا زده کړي چه څر نګه کولای شي په راتلونکې کې د نا قانونه اعمالو څخه مخنیوي وکړي.

د مجرم د اصلاح بل ډول فکري بیا رغونه ده. ځینې کسان داسې استدلال کوي چه مجرمان ددې لپاره جرم تر سره کوي چه هغوي په ټولنه کې د پرمختګ لپاره لازم مهارتونه نه لري او لدې امله جرم ته مخه کوي. په ډېرو هېوادونو کې بندیان د زده کړي مختلفو فرصتونو ته لاس رسي لري چه پخپل وار سره د هغوي لپاره عاطفي او حرفوي سرچینې برابروي او له بند څخه وروسته هغوي د ټولنې لپاره د ګټور وګړي په توګه رامخ ته کیږي. د زده کړې دا ډول فرصتونه د اختلافونو د حل او فصل مهارتون د وړتیا ایجادول، د کار او کسب یا سوداګري مهارت (لکه خبنتې تویول یا ترکاڼي)، او یا کمپیوټري زده کړه او داسې نور په بر کې نیسي. ددې نظریې پر بنسټ د مثال په توګه، که چېري يو مجرم له بند څخه وروسته د کورني عادي ژوند لپاره د شرایطو برابرولو وړتیا ومومي، هغه هیڅکله غلا او جرمي اعمالو ته مخه نه کوي.

د مجرم د اصلاح څخه تر ټولو اساسي نیوکه داده چه دا نظریه په سادګي سره عمل نشي کولای. ددې نظریې پلویان وايي چه زندان یا بندیخانه داسې ځای دي چه مجرمان يو له بله یادوي نه داچه دا ددې زدکړه کوي تر څو په راتلونکې کې د ټولنې د یوه سالم غړي په توګه ژوند وکړي. داچې مجرمان د محکوم شوو افرادو په منځ کې اوسي، تر ډېره په هغه چاپېریال کې یو کلتور حاکم دي او په ځینو مواردو کې آن هغوي جدي جرمونو ته د ارزښت په سترګه ګوري.

البته نه ټول کسان چه په جرم مرتکب کیږي بیا د هغه ته مخه کوي. لدی امله، کم ترکمه ددې نظریې لپاره ځینې ښېګڼې شته چه د افرادو مجازات پخپل وار سره د جرم څخه د واټن په نیولو کې مرسته کوي.

## د مباحثې پوښتنې

۱. آيا ستاسو له نظره د مجرم اصلاح اغېزمنتيا لري؟ آيا د افرادو شخصيت د بدلون وړ دي؟ څه ډول بيا رغونه تغييران شوني کوي؟

۲. آيا حکومتي مراجع په زندان کې د دروسونو په برابرولو کې لکه چه مخکې ترې يادونه وشوه، مرسته کوي؟

۳. آيا د افغانستان په بنديخانو کې د مجرمانو د اصلاح پروګرام وجود لرئ؟

## III. د جزا حقوقو سرچينې

په افغانستان کې د جزا قانون د يوې واحدې سرچينې درلودونکي ندي، بلکه هغه پر څو سرچينو ولاړ دي چه زياتره يي الزام آوره ځواک لري او د هغه ماتونه، د ځان سره جزايي الزاميت لري. البته بايد وويل شي چه اسلامي قوانين د افغانستان د جزا حقوقو ټول اړخونه رهنمايي کوي، په ځانګړې توګه د جزا حقوق او پدې برخه کې نور اړونده حقوق او قوانين. پدې توګه، پدې برخه کې د جزا د حقوقو څلور سرچينې يعنې اساسي قانون، اسلامي احکام ، د جزا قانون او نور اړونده قوانين تر بحث لاندې نيول کيږي.

**د لوست تمرکز**

لکه چه تاسو د افغانستان د جزا قانون له مختلفو سرچينو له مطالعې څخه معلومات تر لاسه کړل، په ياد ولري چه د هغه هر يو صلاحيت او الزام آور ځواک په څه شي کې دي.

### 1. اساسي قانون

د ۲۰۰٤ کال اساسي قانون د جزا د حقوقو د سرچينو پېژندلو لپاره مهم پيل ګڼل کيږي. د اساسي قانون په ۲۷ ماده کې د قانون له حکم پرته هيڅ ډول مجازات نه اعمال کيږي (crimen nullem sine lege) – اصل يا د جرم قانوني عنصر په ګوته شوي دي. د جرم قانوني عنصر د دوهم څپرکي په لومړی برخه کې د جرم د عناصر تر سرليک لاندې تر بحث لاندې نيول شوي دي.

مهمه ده چه په اساسي قانون کې چه د افغانستان د جزايي عدلي سيستم لپاره بنسټيز جوړښت دي، د جزا حقوقو غوره اصول وپېژندل شي. د اساسي قانون ۲۷ مادې ته چه لاندې راغلې پام وکړئ.

**۲۷ ماده – د ۲۰۰٤ کال اساسي قانون**

″هېڅ يوعمل جرم نه ګڼل کېږي خو د هغه قانون له مخې چه د جرم تر ارتکاب د مخه نافذ شوي وي.

هېڅوک د قانون له حکمونه پرته تعقيبېداي، نيول کېداي او يا توقيف کېداي نشي.

هېڅا ته سزا نشي ورکول کېداي مګر د باصلاحيته محکمې په حکم او د هغه قانون له احکامو سره سم چه د تور وړ فعل تر ارتکابه مخکې نافذ شوي وي ″.

۲۷ ماده دوه اصله په ګوته کوي: د قانونيت اصل او د جرم د واقع کېدو ماقبل ته د نه مراجعت اصل. لومړي مورد، لکه چه د اساسي قانون د ۲۷ مادې په لومړي بند کې ليدل کېږي، يو عمل تر هغه وخته پورې جرم نه ګڼل کېږي مګر داچه د هېواد قانون پر هغه حکم وکړي. پدې توګه يو فرد د خپلو اعمالو په خاطر تر هغه پورې تر قانوني پلټنې لاندې نه راځي تر څو چه اړونده مورد د واقع کېدو په مهال د افغانستان د قوانينو پواسطه د مجازاتو وړ نه وي . د افغانستان د ۱۹۷٦ کال د جزا قانون په (۲) ماده کي هم راغلي دي: ″هيڅ عمل جرم نه ګڼل کېږي مګر د قانون په موجب″. دا ايده د قانوني عنصر د معرفي کېدو په ترڅ کې د دوهم څپرکي په لومړۍ برخه کي بيان شوې ده.

دوهم اصل چه د جرم د واقع کېدو ماقبل ته د نه مراجعت اصل په نوم يادېږي پدې معنا دي چه هېڅ قانون او مجازات د جرم د واقع کېدو مخکې د باور وړ ندي. لاندې د ماقبل ته د قانون د نه رجعت يو مثال دي: داسې انځور کړي چه يو سړي په ۲۰۰۷ کال کې يوه وزه په بل سړي باندې په ۱۰۰۰ افغانۍ و پلورله. وروسته بيا په ۲۰۰۸ کال کې، مقننه قوې داسې يو قانون تصويب کړ چه له مخې يې د کرهنې او مالداري وزارت له روغتيايي تصديق پرته د وزو پلورل منع شوي دي. له تصديق پرته د وزې پلورل ۷۰۰ افغانۍ جريمه لري. ددې اصل د حکم پر بنسټ چه هېڅ قانون ماقبل ته رجعت نه کوي، د وزې پلورونکي د هغه قانون په ماتولو نه محکومېږي چه په ۲۰۰۸ کال کې تصويب شو، ځکه چه د هغه عمل په ۲۰۰۷ کال جرم نه ګڼل کېده. ماقبل ته د قانون د نه رجعت اصل د هغو اعمالو په هکله چه د واقع کېدو په مهال جرم نه ګڼل کېږي، د اعتبار وړ ندي.

ماقبل ته د قانون د نه رجعت اصل په اړوند ورته ممنوعيت د مجازاتو په هکله هم د تطبيق وړ دي. مثال داسې فکر وکړئ چه دا قانون د ۲۰۰۸ کال پر ځاي په ۲۰۰٦ کا کې تصويب شوي وي عينې داچه دا قانون د وزې د خرڅلاو په مهال نافذ وو. وروسته بيا په ۲۰۰۹ کال کې يو کال وروسته له هغه چه له مناسب تصديق پرته د وزې خرڅوونکي مسؤل ګڼل کېده، مقننه قوې يوبل قانون تصويب کړ چه ياد شوي جريمه يې له ۷۰۰ افغانيو څخه ۹۰۰۰ افغانيو ته لوړه کړه. پدې حالت کې د وزې خرڅوونکي د زياتې جريمي په ورکولو اړ نه دي ځکه د جريمې مجازات د سرغړونې په مهال په قانون کې ۷۰۰ افغانۍ ټاکل شوې وه.

يوازنی استثناء ماقبل ته د عدم رجعت اصل په اړوند په لاندي حالت کې رامنځ ته کېداي شي: (۱) د جرم لپاره د مجازاتوتخفيف، (۲)د اړونده جرم د نوې طبقه بندي په صورت کې چه د نظر وړ جرم پکې کوچني ښودل شوي وي، يا (۳) کله چه قانون داسې تعديل شي چه اړونده عمل د افغانستان د قانون پر بنسټ جرم و نه ګڼل شي.

**د جزا قانون – ۲۱ ماده**

۱.دجرم ارتکاپ کوونکي د هغه قانون په موجب مجازات کېږي چه د فعل د ارتکاب په وخت کې نافذ وي، مګر داچه د قطعي حکم د صادرېدو ترمخه نوي قانون چه د تورن په ګټه وي، نافذ شي.

۲.که د قطعي حکم د صادرېدو وروسته داسې قانون نافذ شي چه د هغه په موجب هغه فعل چه تورن پرې په جزا محکوم شوي د مجازات وړ ونه ګڼي، د حکم تنفيذ متوقف کېږي او پر هغې جزايي مرتب اثرونه له منځه ځي.

**د مباحثې پوښتنې**

۱. هېڅ ډول مجازات د قانون له حکم پرته نه اعمال کېږي (crimen nullem sine lege)، څرنګه دا اصل د قانون حکومت او دموکراتيک دولت په اړه توضيح کوي؟

۲. ولې دولت د جزا د قانون انفاذ کوونکې مرجع وي؟ ولې پخپله قربانيان د رسېدلي زيان د جبران په خاطر عمل نه کوي؟

## 2. د اسلام حقوق

"شريعت د عدالت د رامنځ ته کېدو په لټه کې نه يوازې د ظالمو قاضيانو څخه په اصلاحي او جزايي مفهوم، بلکه همدا شانې د توزيعي عدالت په مفهوم سره په ټولنه کې د ګټو او ښېګڼو ترمنځ د تعادل در امنځ ته کېدو په لټه کې دي ". [4]

په افغانستان کې د جزا د حقوقو اصل سرچينه د اسلام حقوق دي. د اسلام حقوقو مطابق، چه په پنځم څپرکي کې په زيات تفصيل سره تر بحث لاندې نيول کېږي، د جرمونو دري ډوله شتون لري: حدود، قصاص او تعزير. په افغانستان کې د اسلام حقوق د جرمونو لپاره د حدود او قصاص مجازات تجويز کوي. د جزا قانون

[4] Mohammad Hashim Kamali, *Shari'ah Law: An Introduction*, 30 (2008)

د هغو جرمونو او مجازاتو لپاره چه تر تعزير لاندې راځي تعريف او ټاکي. په واقعيت کې د ۱۹۷٦ کال د جزا قانون په ۱ ماده کې راغلي دي:" دا قانون تعزيري جرمونه او جزاګانې تنظيموي. د حدود، قصاص، او ديت د جرمونو ارتکاب کوونکي د اسلامي شريعت د حنفي فقهې د حکمونو سره سم مجازات کيږي ".

د اسلام حقوق سره ددې قانون ځانګړي توپير د اساسي قانون په ۳ ماده کې بيان شوي چه وايي: "په افغانستان کې هيڅ قانون نشي کولاي چه د اسلام د سپيڅلي دين د معتقداتو او احکامو مخالف وي".

**د اسلام حقوقو، جزا قانون او نورو قوانينو ترمنځ د جزا حقوقو ويش**

۱.که چيرې يو عمل د اسلام حقوقو او د جزا قانون له نظره جرم وي، د جزا د قانون حکمونه تر هغه پورې چه د اسلام د حکمونو سره مغايرت و نه لري د تطبيق وړ دي.

۲.که چيرې يو عمل د جزا قانون له نظره جرم اټکل شوي وي او د اسلام حقوقو له نظره جرم نه ګڼل کيږئ، د جزا د قانون حکمونه د تطپيق وړ دي.

۳. که چيرې يو عمل د جزا قانون له مخې جرم نه وي ولې د اسلام حقوق هغه د جرم ګڼي، د اسلام حقوق د تطبيق وړ دي.

جزايي مسؤليت چه پر دواړو يعنې اسلام حقوقو او د جزا قانون څخه را ولاړ شوي وي، په ابتدائيه محکمه کې تر قانوني تعقيب لاندې قرار مومي. پر دې اساس ډېره مهمه ده تر څو څارنوالان، مدافع وکيلان او قاضيان په دواړو هم د جزا پر قانون او هم د حنفي مذهب پر فقهې باندې و پوهيږي. د حقوقو ددې مادې منځپانګه يا محتوا په پنځم فصل کې په تفصيل سره بيان شوي ده.

## 3. د ۱۹۷٦ کال د جزا قانون

د جزا اوسني قانون په ۱۹۷۰ لسيزه کې د ولسمشر محمد داوود د مبارزې محصول وو. سره ددې چه د جزا دا قانون د شوروي پلوه حکومت په دوره کورنيو جګړو او د طالبانو د حکومت په وخت کې د قانون په توګه نه منل کېده، خود بُن هوکړې هغه په ۲۰۰۲ کال په افغانستان کې د يو حاکم قانون په توګه او داچه ټول جرمي اعمال تر پوښښ لاندې نيسي بيا را ژوندي کړ. پداسې حال کې چه د جزا قانون د بيا ليکنې بهير په پارلمان کې دوام لري، د ۱۹۷٦ کال د جزا قانون پخپل قوت سره پاته دي.

د جزا قانون دري غوره برخې لري. لومړي – د لومړي کتاب  لومړي برخه چه ۲۱ مادې لري د جزا قانون د کلي اصولو څخه استفادې په څرنګوالي څخه بحث شوي کوي. دوهم – دوهمه، دريمه او څلورمه برخې د جرم د تشخيص غوره بنسټونه، د جرم عناصر او د جزا مسؤليت او داچه کوم ډول مجازات امکان لري مءرح

کوي. ددې قانون دوهم کتاب دا په ګوته کوي چه کومې کړنې د افغانستان په قانوني چارچوب کې جرم ګڼل کېږي . په ټوليز ډول د جزا قانون د جرم ټول عناصر معرفي کوي.

**د لوست تمرکز**

ددې کتاب سره مل شوي (ضميمه شده) سندونه څخه د جېا د منځپانګې (محتوا) جدول د جزئياتو سره ولولي او بيا د کتاب د ټولو برخو سره آشنا شي.

## 4. تقنيني سندونه

په افغانستان کې د جزا حقوقو وروستنی سرچينه د ملي شورا له خوا تصويب شوي قوانين دي. د ۱۹۷٦ کال د جزا قانون له تخنيکي او اداري پلوه پدې کتګوري کې نه راځي ځکه دا قانون د قانون جوړونې د بهير په ترخ کې تصويب شوي دي. سره ددې دا قانون پدې درسي کتاب کې د ځانګړي ځاي څخه برخمن دي او د هغو نورو قوانينو څخه چه پدې وروستيو کې د مقننه قوې له خوا تصويب شوي دي اساسي توپير لري. د دا ډول قانون جوړونې بېلګې، په ۲۰۰٤ د مخدرو موادو پر ضد د مبارزې قانون او د ارتشاء او اداري فساد سره د مبارزې قانون تصويبېدل دي. پرته له هغه قوانينو څخه چه د قانون جوړونې د بهير په ترخ کې تصويب شوي دي، د افغانستان ولسمشر هم د اساسي قانون له مخې د تقنيني فرمانونو د صادرېدو واک لري. دا اقدامات پخپل ماهيت کې لنډ مهال دي او پخپله قوانين نه ګڼل کېږي بلکه داسې اوامر دي چه د ولسمشر له لوري صادرېږي او په ملي شورا کې د قانوني پړاو له تېرېدو وروسته د قانون بڼه خپلوي. د دا ډول قوانينو بېلګه، د ارتشاء او اداري فساد سره د مبارزې قانون دي.

**د مباحثې پوښتنې**

په افغانستان کې د جزايي قوانينو ډېري د تقنيني قوانينو په ترخ کې نافذ شوي دي. ستاسو له نظره، ولې داسې کېږي؟ په ټوليزه توګه، د جزا قانون ولې پدې اندازه مشکل دي؟

## IV. په افغانستان کې د جزا حقوقو تاريخچه

ددې څېړکي وروستي برخه د جزا قانون او د هغه جزايي قضيو چه له ۱۸۸۰ کال څخه په افغانستان کې تر قانوني تعقيب لاندې راغلې دي، لنډيز وړاندې کوي. د وخت په تېرېدو سره داچه کوم شي په افغانستان کې د جرم تر تعريف لاندې راځي، د پام وړ ثبات څخه برخمن دي. په جزايي عدالت کې کورټ بدلون په ۱۹٦۰ کلونو کې هغه مهال رامنځ ته شو چه د ټولوجرمونو قضاوت کول ابتدايه محکمو ته وسپارل شو.

له هغه وروسته چه تاسو د جزا حقوقو په هکله دا برخه ولولي، پدې هکله فکر وکړي چه د جزا حقوقو ادارې د افغانستان دولت له استقرار وروسته څرنګه بدلون موندلی دي.

## 1. د مشروطیت دورې محکمې د جزايي عدالت منشاء

د ډېرو په آند د افغانستان اوسني حالت استحکام د امیر عبدالرحمن په سلطنت سره پیل کېږي. په واقعیت کې دا لومړي ځل وو چه په کابل کې يو پیاوړي مرکزي دولت د نور ټول هېواد کنترول تر لاسه کړ.

په ۱۸۸۳ کال کې دولتي قدرت د عبدالرحمن له رسېدو وروسته هغه اعلان وکړ چه دده له سلطنت مخکې د قتل، غلا، او ټیپ کېدو ټولې پېښې، تر قانوني تعقیب لاندې نه نیول کېږي. سره ددې، هغه د افغنستان خلکو ته ګوت څنډېنه وکړه چه هره یوه او ټول جرمونه چه دده د سلطنت په موده کې رامنځ کېږي، په بشپړه توګه د قانون سره سم تر تعقیب لاندې نیول کېږي. د هغه دا خبرې په لاندني نقل قول کې راغلې دي:

> "نور هېڅوک نشي کولای چه قتل یا سرغړونې ته اقدام وکړي. په هغه صورت کې چه څوک د جرم مرتکب او یا خیانت وکړي، شریعت به هغه له ځنډ پرته د خدای (ج) او د خدای در سول (ص) د دساتیرو پر بنسټ د دیني علماوو د فتوا سره سم مجازات کړي او د دولت خلاف جرم د سختو مجازاتو له لارې د عقوبات (uqubat‘) او یاسا (yasa) (دا دوه اصطلاحګانې په ۱۹ پېړۍ کې د مغلو د قوانینو څخه اخیستل شوي چه د سختو سزاګانو لپاره پکارول کېدې) پواسطه محاکمه کېږي او یا د بخښنې او خیر ښېګڼې وړ ګرځي".[5]

په هغه وخت کې د عدالت جزايي سیستم بنسټ د قضاتو اساس یا د قاضیانو د لارښوونې کتاب په نوم یادېده. دې لارښوونې دا کتاب قدرت ته د عبدالرحمن له رسېدو ۵ کاله وروسته چاپ شو. دا لارښود کتاب د افغانستان په تاریخ کې لومړي پې‌لګه وه چه په هغه کې د اسلام حقوق د دولت له لوري تدوني او اجرا شول. پردې سرېېره، پدې کتاب کې زیاتره جرمونه د حنفي مذهب د فقهي پر بنسټ بیان شوي دي. عرف هم په ځايي کچه د قضیو په قضاوت کې رول درلودلي دي. پردې سربېره، داچه پخپله امیر عبدالرحمن خان ځانته د (امیرالمؤمنین) یا د وفادار فرمانچلوونکي لقب ځانته غوره کړ چه د خدای له لوري د ځمکې په سر د سیاسي او مذهبي مشرتابه — خلیفه په معنا دي، سلطنتي فرمانونو د مذهبي اقتدار تر لاسه کړ. د سلطنتي دا ډول حکمونو څخه، هغه التزام وو چه هر دولتي مامور باید امیر ته وفادار ژمن وي. د امیر او یا دولت په وړاندې هر دوه مخې مقام بندي کېږي او یا یي املاک ضبط کېدل. د وفاداري غوښتنه د معاصر فساد د ممنوعیت او بډې اخیستلو سرچینه ګڼل کېږي.

---

[5] Abdul Rahman Khan, Farman K-5 (translated by Amin Tarzi).

په دې لاربنود کتاب کې اټکل شوي جرمونه، په دوو ډلو ویشل کیږي: لومړی ډول یې هغه جرمونه دي چه ځانګړي مجازات لري. د جرمونو د نورو ډولونو مجازات او جریمې د امیر په واک او میل پورې تړلي بلل. امیر دا واک د ځمکې په سر د خلیفه په توګه د ځان سره ساتل. پدې توګه امیر عبدالرحمن خان د قوانینو د تفسیر او د قضیو د قضاوت واک درلود. په واقعیت کې هغه د وروستني مقام په توګه اعلان شوي وو چه کولای یې شول د محکمې هره قضیه وګوري او استیناف غوښتنه واوري. امیر همداشانې د اعدام مجازاتو او تر اعدام زیات تجویز د پلي کولو وروستني واک او اختیار درلود.

په هغه زمانه کې، هغه محکمه چه زیاتره جرمي قضیې په هکله یې پرېکړې کولې، د شرعي محکمې په نوم یادېده. دا محکمه په ټولو قضایي حوضو کې موجودې وې او د هغه په سر کې قاضي قرار درلود. څو کسانو مفتي (دیني عالمان) دنده درلوده چه د قانون په تفسیر د رایې او یا فتوا په ورکولو کې د قاضي سره مرسته وکړي. شرعي محکمې په جومات او یا د قاضي په کور کې موقعیت درلود. دې محکمو د مجرمانه ګڼې شمېر اعمالو د کتنې واک درلود. سره ددې، یو زیات شمېر جرمونو وجود درلود چه د محاکمې لپاره یې تورن کابل ته استاوه. پدې جرمونو کې تقلب په حکومتي اسنادو او سوابقو کې لاس وهنه، د شواهدو او مدارکو جعل، د ناقانونه ګټې لپاره د مهر څخه ناوړه ګټه اخیستل، او تبعید شوو کسانو ته د هستوګنځي چمتو کول شامل وو.

په دې دوره کې په افغانستان کې د جزایي محاکمو نور فعال ډولونه د کوتوالي د ابتدائیه محکمو( جزایي او د پولیسو محکمه) څخه عبارت وه. دې محکمو د دولت خلاف جرم یعنې د عامه نظم ګډوډي او د مرکزي قدرت ثبات د خطر سره مخامخ کولو په برخه کې جرمونو ته رسیدګي کوله. په کابل کې د کوتوالي محکمې په سر کې کوتوال قرار درلود چه د پولیسو د یو ٦٠٠ کسیز ځواک مسؤلیت یې په غاړه درلود. د کوتوالي محکمه د حکیم په نامه یو مامور درلود چه هم یې د قاضي او هم د مستنطق په توګه دنده ترسره کولای شوه.

| |
|---|
| **د مباحثې پوښتنې**<br><br>آیا تاسو فکر کوی چه د بېلو محکمو شتون د اسلام حقوقو او دولت خلاف جرمونو د رسیدګي لپاره ښه نظر دي یا داچه واحده محکمه د جرمونو دواړه ډولونه بررسي کړي؟ |

## 2. دوه ګوني محاکماتي سیستم: ١٩٢٠ -١٩٦٤

دوه ګوني محاکماتي سیستم د عبدالرحمن خان (امان الله خان) د سلطنت په دوره کې رامنځ ته شو او همدارنګه د اساسي قانون د دورې په پیل کې یې دوام وکړ. د **١٩٢٣** کال اساسي قانون په څرګند ډول

قضايي نظام تدوين کړ. ددې قانون د ۵۱ مادې پر بنسټ " په مخ د محکمو کې هرڅوک لپاره د ساتنه (ساتنې) د خپل حق ټولې شرعي واسطې او خبرې وړاندې کولای شي". د اساسي قانون ددې مادې احکام د جرم اعمالو په هکله د قضايي پرېکړه نيونې اړونده سيستم باندې اغېز درلود.
آن د قضايي بېلابېلو برخو د موجوديت باوجود، د اسلامي او ابتدائيه محکمو ترمنځ د کار تفکيک موجود نه وو. هغه جرمونه چه د سکولارېستي ليد سره د امير امان الله خان له خوا د فرمانونو پواسی‌ه تدوين شوي وو، معمولاً داسې جرمونه وو چه د اسلام حقوقو لاندې هم راغلي وو. د مثال په توګه ابتدائيه محکمې د معمول مطابق کولای شول چه د دولت د وزيرانو له لوري د پيسو د غلا اړونده قضيي هم واوري. سره ددې غلا د اسلامي قوانيو له خوا هم جرم ګڼل کېږي چه اسلامي محکمې د هغو د عامه کتنې واک هم درلود. د قضايي تداخل موجوديت د دوو محکمو ترمنځ د لاندې موارد په اړه اختلاف رامنځ ته کوي. (۱) آيا د يوې ټاکلې موضوع په هکله د پرېکړې واک د چا سره دي او (۲) آيا يوه محکمه وروسته له هغه چه بلې محکمې حکم صادر کړي وي، د د يو شخص د دوهم ځل قانوني تعقيب واک لري او که نه.

د ۱۹۲۳ کال په اساسي قانون کې د نوښتونو څخه د سترې محکمې جوړول وو چه په ځانګړو شرايطو کې يي کولاي شول حکم صادر کړي نه دا چه امير ته اجازه ورکړي ترڅو پر جزايي حکمونو باندې وروستني واک ولري. پدې حالت کې ددې محکمو واک ډېر محدود وو. د ۵٦ مادې د حکم له مخې، دې سترې محکمې يوازي کولاي شو چه په لنډ مهاله توګه د دولت د وزيرانو د محاکمې لپاره تشکيل شي. په اصل کې سترې محکمي د ابتدائيه محکمي چه د وزيرانو د قضيو رسيدګي يي په غاړه درلوده، واک يي ځانته کړ. د دريمې محکمې جوړول قضايي سيالي نوره هم پېچلې کړه.

سره ددې، په دواړو محکمو يعني ابتدائيه او اسلامي کې پرېکړه د اعدام له حکم پرته سملاسي د قاضي د حکم پواسطه د اجرا وړ ګرځيده. د اعدام حکم بآيد د استيناف د محکمې او ورپسې پخپله د امير له لوري تأييد کېده. امير په ټولو مواردو کې د دولت وزيرانو له محاکمې پرته د وروستني پرېکړه کوونکي په توګه پاته کېده او هم يي کولاي شول چه د جزايي مسؤليت د اعتبار په هکله پرېکړه وکړي.

همدارنګه د ۱۹۲۳ کال اساسي قانون د لومړي ځل لپاره يو مهم اصل: هيڅ عمل جرم ندي مګر د قانون په حکم (*nullem crimen sine lege*) يا د قانونيت اصل تدوين کړ. د اساسي قانون ۲۱ ماده وايي: " په محکمو کې د عدليه ټول عمومي عرضونه دادونه سم له شريعته او قاعدو د محکمو د حقوقيه او جزائيه فيصله او خلاصيږي". سره دې چه دا اصل مفهوم هغسې چه د ۲۰۰٤ کال په اساسي قانون کې ښودل شوي دي نه بيانوي، ۲۱ ماده په افغانستان کې د حقوقو د پام وړ پرمختيا ګڼل کېږي. ددې اصل پر بنسټ د هرې قضيې قضاوت بايد د قانون له مخې منل شوې وي.البته دويلو وړ ده چه د ۱۹۲۳ کال د ۲۱ مادې په وړاندې مقاومت وجود درلودو ځکه چه د رسمي اسلامي قانون او د دولت جزايي قوانينو په ګډه د شخړو د حل او فصل لپاره د دوديزو او ځايي قانوني بنسټونو د قدرت د کمښت باعث ګرځېده.

د ۱۹۲۳ کال د اساسي قانون په انفاذ سره تعبیري جرمونه تدوین شول. دې تدوین  د مجازاتو په تخصیص کې د مفتي او قاضي واک په پام وړ سره لیرې کړ. ددې اساسي قانون په ۲٤ ماده کې داسې راغلي دي: ″ هیڅ مجازات په فرد نه تپل کیږي په استثناء د هغه حکمونو چه د جزا په قانون کې راغلي.″. د ۱۹۲٤ کال په لویه جرګه کې دیني علامانو په ښکاره پدې غوښتنه نیوکه وکړه ځکه چه ددوي له نظره دا اصل د اسلام حقوقو له نظره د علماوو پواسطه د انفرادي قضیو د رسیدګې شونتیا نفي کوي. امان الله خان پخپل وار سره استدلال کاوه چه ثابت مجازات له جرم څخه د زیاتې ډډې سبب ګرځي ځکه مجرم پوهیږي چه په وړاندې یې څه ډول مجازات قرار لري.

د تعزیري جرمونو په وړاندې د عمومي مخالفت په نظر کې نیولو سره د ۱۹۲۳ کال اساسي قانون تعدیل شو چه د هغه مطابق قاضي او مفتي د یو جرم لپاره د مجازاتو د تخصیص په هکله، زیاته انعطاف پذیري لاس ته راووړه. له تعدیل وروسته، ۲٤ ماه حکم کوي چه: ″ شکنجه، پانه، کنده، نور قسمونه د زجر، وهل، ټکول ټول موقوف دي بیرون له حکمونو د شرع شریف او نظامنامو د دولت، چه سم له حکمو د شرعي سره تنظیم او جوړي شوي دي، هیچاته مجاپات نه ورکول کیږي″. د دې تعدیل اغیز په څرګنده د غیر مدون مجازاتو لپاره اجازه ورکوله.

د نادرشاه د سلطنت په دوره کې د قانونیت اصل لا زیات محدود وو. د ۱۹۳۱ کال د اساسي قانون په ۱۹ ماده کې راغلي دي: ″ پانه، کنده نور رازونه د شکنجې کولو، ګرده موقوف دي پي له حکمه د شرع شریف او اصولنامې د دولت هېچاته جزا نه ورکوله کیږي″. دا ماده د ۱۹۲۳ کال د اساسي قانون ۲٤ مادې په شان د هغو غوښتنو په هکله چه جرمونه مخکې له وقوع څخه باید تشخیص شي، اشاره نه کوي. د هغه پرځای د جرمي مجازاتو ډېر اکثریت د اسلام حقوقو ته پرېږدي. په واقعیت کې د ۱۹۳۱ کال د اساسي قانون ۸۷ ماده وایي: ″ عدلیه محکمې ځاي د ټولو شرعي دعوو دي″.

له ۱۹۲۳ څخه تر ۱۹٦٤ پورې د اسلامي محاکمو او ابتدائیه محاکمو ترمنځ د مسؤلیت ویش دوام درلود. سربېره پردې د جزا هیڅ جامع قانون داسې یو لېست نه لري چه د دولت له لوري د اعلام شوو جرمونو درلودونکي وي. د هغه پرځاي، د تقنیني اعتبار یو لړ سلطنتي فرمانونو شتون درلود.

### 3. د جزایي حکم د صادرېدو واحد سیستم

د ۱۹٦٤ کال د ظاهر شاه د دورې اساسي قانون  د جزا د اوسني سیستم پیل ګڼل کیږي. د اساسي قانون په ځانګړې توګه د افغانستان د جزا قانون په جوړښت کې  دري بدلونه د پام وړ دي: د قانونیت د اصل څرګند منل د قضایي نظام یووالي او په هېواد کې د سترې محکمې جوړېدل.

لومړي د مخکنيو اساسي قوانينو په پرتله، د ۱۹٦٤ کال اساسي قانون د قانونيت د اصل په هکله پراخه موضع اختيار کړه. په اصل کې، په اوسني اساسي قانون کې د قانونيت اصل هماغه د ۱۹٦٤ کال د اساسي قانون د اصل بڼه ساتلې ده. لاندې مادې ته پام وکړئ.

**د ۱۹٦٤ کال اساسي قانون – ۲٦ ماده**

هيچاته جزا نشی ورکولکېدی مګر د هغه قانون د حکمه سره سم چې ددغه تهمتی کار له کولونه ړومبی نافذ شوی وی. هېڅوک بې د قانون له حکمه تعقيب کېدلی يا نيول کېدلی نشی . هېڅوک توقيف کېدلې نشی مګر د واکمنې محکمې او د قانون د حکمونو سره سم. د غاړې خلاصون اصلی حالت دی- څو پورې چې تورن د محکمې له خوا په قطعی پرېکړه محکوم عليه نشی بېګناه ګڼل کيږی...

دا شانې د ۱۹٦٤ کال اساسي قانون په ځرګنده او روښانه توګه د قانونيت اصل تسجيل ګړي دي. دا کار د جزا قانون د هر اړخيزه پراختيا لپاره د پاچا د پاملرنې صورت ومونڌز دې قانون يو پراخ رفتاري لېست چه جرم ګڼل کيږي وړاندې کړ.

تر دې لا مهم داچه د ۱۹٦٤ کال اساسي قانون اسلامي او ابتدائيه محاکم په يوه واحد قضايي سيستم کې يو ځاي کړل . دې اساسي قانون دا مشخصه کړه چه د هغو کومه يوه قضايه محکمه ده.

**د ۱۹٦٤ اساسي قانون – ۹۸ ماده**

قضايه قوه د يوې سترې محکمې او نورو محکمو نه جوړيږی چې شمار يی په قانون کې ښودل کيږی. د قضايه قوې په واک او اختيار کې په هغو دعوو غوررسی پرته ده چې پکښې حقيقی يا حکمی اشخاص – که څه هم دولت وی د مدعی يا مدعی عليه حيثيت لری او د قضاء په وړاندې د قانون د حکمونو سره سم دايرې شی.

د قضايي نظام له جوړېدو وروسته اساسي قانون په محکمو کې د قاضيانو د ګټې اخيستنې لپاره قانون په ګوته کړ.

**د ۱۹٦٤ کال اساسي قانون – ۱۰۲ ماده**

محکمې چه په کومو پېښو باندې غور رسی کوی په هغو کښې ددې اساسی قانون او د دولت د قوانينو حکمونه پرځای کوی که د غور رسی لاندې پېښو د يوې پېښې په باب په اساسی قانون او د دولت په قوانينو کښې کوم حکم نه وی نو محکمې د اسلامی شريعت د حنفی مذهب د کلی اساسونو له مخې په هغه چوکاټ کښې د ننه چه دې اساسی قانونه ښودلی دی په دغه باب يو داسې حکم راباسی چې د دوی په نظر کښې څومره چه ممکنه وی عدالت تر ټولو په ښه توګه لاس ته راوړی.

په تیوري کې ددې مطلب بیان چه د دولت قوانین د اسلام له حقوقو غوره دي، د افغانستان په رسمي قوانینو کې یو مهم بدلون وو. سره ددې، په عمل کې دې کار د قضیو په رسیدګۍ کې کمه اغېزه درلوده. موضوعه قوانین لا هم دا اعلان کاوه چه د اسلام حقوق د حدود او قصاص جرمونه تعقیب تر خپل کنترول لاندې لري، پداسې حال کې چه د تعزیري جرمونو رسیدګي د پخوا په شان له ۱۹۲۳ کال څخه وروسته د دولت سره پاته وه. پدې توګه په افغانستان کې د جزا غوره قوانین تر ډېره بریده له بدلون پرته پاتې شوي وو.

د ۱۹٦٤ کال د اساسي قانون یو بل نوښت د مکمو د سیستم یو کول وو چه موخه یې له واحد قانون څخه کار اخیستل وو. په ځانګړې توګه ابتدائیه محکمې د اسلامي محکمو په کړنو کې د وظیفوي تداخل له لارې د عمومي محکمو په توګه په قضایه چارو کې عمل کاوه او پدې ترتیب سره یې په افغانستان کې یې ټول جرمي قضیې سمبالولې.

پدې برخه کې د مهمو پرمختیاوو چه ۹۸ ماده یې ښکارندویي کوي، په هېواد کې د سترې محکمې جوړېدل وو چه د جرمي مجازاتو په هکله یې د وروستني نظر حق درلود. په جزایي سیستم کې د پاچا ځاي ډېر کوچني وو، لکه چه په ۱۰۱ ماده کې دا موضوع پدې ډول بیان شوې ده: ″ د محکمو د ټولو قطعی پرېکړو عملی کول واجب دی خو د چا د مرګ د حکم په حالت کې د تعمیل د پاره د باچا ښکولل شرط دی″ ۱۰۱ ماده همدا شانې روښانه کوي چه د هېواد ستره محکمه د وروستني پرېکړه کوونکي مقام په توګه، د پاچا مخکني رول ژمنه ده. دا مطلب د ۸۹ مادې سره جوړ راځي چه پکې راغلي دي: ″ټولې محکمې له هر ډول مداخلې څخه آزادې دی″. د لومړي ځل لپاره د دولت له ارکانو څخه چه د اجرائیه قوې له اغېز څخه خلاص وي، د قضايي سیستم خپلواکي په رسمیت و پېژندله شوه.

په ۱۹٦٥ کال کې د جزایي اجراآتو د اصولو قانون د نیولو، تحقیق، توقیف، قضاوت او مجازاتو لارې چارې معیاري کړې. سره ددې چه دې متن جزایي اصول تر بحث لاندې نه نیول، د جزایي اجراآتو د اصولو قانون د قضایي سیتم په یو کېدو کې یوه مهم عنصر ګڼل کېږي چه د جزا حقوقو محصلین باید له هغه څخه خبر وي. پداسې حال کې چه د ۱۹۷۷ کال اساسي قانون د محمد داوود د ولسمشري په دوره کې پورتنیو یاد شوو ماد تغییر و نه موند، د قضایي سیستم معیاري کول د پام وړ پراختیا وموندله. ددې تدوین تر ټولو لویه لاس ته راوړنه د ۱۹۷٦ کال د جزا قانون وو چه اوس هم په افغانستان کې د کنترول کوونکي جزایي قانون په توګه ګڼل کېږي. څرنګه چه مخکې یې یادونه وشوه، د ۱۹۷٦ کال د جزا قانون ټول هغه اعمال چه جرم ګڼل کېږي تر پوښښ لاندې نیسي.

د ۱۹۸۰ کال په لنډ مهال اساسي قانون کې د قانونیت اصل او د ابتدائیه محکمو یووالي پخپل حال پاته شو. په ځانګړې توګه دا و اقعیت د یادولو وړ دي چه د په افغانستان کې د کمونیستي دوران په پیل کې د ببرک کارمل د واکمني په وخت کې د جزا له قضایه سیستم پرته نور ټول قوانین د تعلیق په حال کې راغلل. د ۱۹۸۷ او ۱۹۹۰ کلونو په اساسي قوانینو کې د پخوا په شان د جزا قضایه سیستم له لاس خوړلو پرته پاته شو.

### 4. د واحد قضایه نظام بیا رامنح ته کول

د طلبانو په راتلو سره د جزا قضایه سیستم  د پام وړ تغییر وموند. پداسې حال کې چه طالبانو د جزا قضایه سیستم تر یو محکمه ایز سیستم لاندې راوړ، ټول سکولار قوانین د اسلام حقوق د یو کوچني برخې په ګټه، بې اعتباره اعلان کړل. له قانون څخه د هغوي د تفسیر د څرنګوالي د روښانتیا په مقصد، طالبانو د وګړو د اطلاع لپاره چه کوم قوانین الزام لري، حکم  صادر کړ. د ۱۹۷٦ کال د جزا قانون د نورو قوانینو په شان، لغو اعلان شو.

د پام وړ خپره داده چه قضایه سیستم په رسمي توګه د طالبانو د دولت د رسمي وزر په توګه  په رسمیت وپېژندل شو، بیا هم دا سیستم د درسمي سلسله مراتبو څخه بې برخې وو. د هغه پرځاي، په هر کلي او ښار کې اسلامي دیوان جوړ شو چه د پولیسو پواسطه د حاضر شوو تورنو افراد و قضیې یې پلټلې. د اتنظامي ځواک یا پولیسو له لوري شواهد او مدرکون وړاندې کېدل او قاضي خپله پرېکړه صادرول. د حکمو زیاتې غونډې د عام محضر نه پټې جوړېدلې، که څه هم چه د محکمو ځینې غونډې او مجازت په علني توګه تر سره کېدل. په هر صورت، تورن د پرېکړي د بیا کتنې او استیناف غوښتنې حق نه درلود او مجازات سمدلاسه پلي کېدل.

په ۲۰۰۱ کال کې د طالبانو له راپرزېدو وروسته، د بن هوکړي په ۲۰۰۲ کال کې د جزایي عدالت سیستم په هغه بڼه چه په ۱۹٦٤ کال کې یي وجود درلود بیا را ژوندي کړ. ابتدائیه محکمې بیا جوړې او واک ورکړ شو چه د عامه جزایي مسلو رسیدګي وکړي. په ۱۹٦٥ کال کې د جزایي اجراآتو قانون او د ۱۹۷۷ کال د جزا قانون بیا نافذ او اوس مهال هم لازم الاجرا دي.

**د بحث راغونډېدا**

د افغانستان حقوقي تاریخ د هېواد په اوسني حقوقي لرلید باندې د پام وړ اغېزه لري او پر قضایه  سیستم او د قانون د تدوین اړوند ډېرو تاریخي لانجو لپاره لا اوس هم اهمیت لري. دا مهمه ده چه په متن کې د مسلو سره د مخامخ کېدو په صورت کې د مجازاتو په هکله نظري اساسات او د حقوقو دا تاریخچه را ژوندي کړو.

## اصطلاحات

- **د ۱۹۷٦ کال د جزا قانون – Criminal Code of 1976** : په افغانستان کې د جزا حقوقو سرچینه.

- **وېرونه – Deterrence** :د جرم د مجازاتو نظریه ده چه د هغه پر بنسټ مجرمان ددې لپاره مجازات کېږي تر څو نور د جرم له ارتکاب څخه لاس واخلي.
- **هغه قوانین چه د جرم لځ وقوع څخه وروسته تصویبیږي – Ex post facto laws** : هغه قوانین دي چه د یو شخص له لوري د جرم له ارتکاب وروسته تصویبیږي او د نوموړي شخص د عدلي تعقیب لپاره اعتبار نه لري.
- **امنیتي تداپیر – Incapacitation** : د جرمي مجازاتو نظریه ده چه مجرمان ددې لپاره باید مجازات شي تر څو دوهم ځل ه قانون څخه سرغړونه و نه کړي.
- **هیڅ عمل جرم نه ګڼل کېږي مګر د قانون په حکم – Nullem crimen sine lege: د افغانستان د** قانون داسې اصل دي چه وایي هیڅوک د عمل په خاطر تر عدلي تعقیب لاندې نه نیول کېږي ترڅو د هغه دمخکه اړونده عمل په قانوني توګه جرم نه وي ګڼل شوي.
- **څارنوال – Prosecutor** : هغه قانون پوه چه د څارنوالي دفتر له لوري له قانون څخه د سرغړونې په تور تر شک لاندې کسانو خلاف اقامه دعوا کوي.
- **د جرم تکرار – Recidivism** : هغه فاکت چه یو مجرم قانون ماتوي له مجازاتو وروسته بیاهم دې کار یعنې د جرم ارتکاب ته دوام ورکوي.
- **د مجرم اصلاح – Rehabilitation** : د جرمي مجازاتو نظریه چه مجازات مجرمان خپلو غلطو کړنو ته متوجه کوي او د نورو جرمون د ارتکاب مخنیوي کوي.
- **جزا یا سزا – Retribution** : د جرمي مجازاتو نظریه ده چه وایي مجرمان باید مجازات شي ځکه هغوي د قانون د ماتولو له کبله ددې لایق ګڼل کېږي.

# اخځلیك او معلوماتي سرچينې


د افغانستان د ۱۹۲۳ کال اساسي قانون

د افغانستان د ۱۹۳۱ کال اساسي قانون

د افغانستان د ۱۹٦٤ کال اساسي قانون

د افغانستان د ۱۹۷٦ کال دجزا قانون

Duff, R.A., *Answering for Crime: Responsibility and Liability in the Law* (Portland: Hart Publishing, 2007)

Fadel, Mohammad, *The True, the Good, and the Reasonable: The Theological and Ethical Roots of Public Reason in Islamic Law*, 21 Canadian Journal of Law and Jurisprudence (2008)

Gholami, Hossein, *Basics of Afghan Law and Criminal Justice* (Max Planck Institute, 2007)

International Legal Foundation, *The Customary Laws of Afghanistan* (2004)

Kamali, Mohammad Hashim, *Law in Afghanistan: A Study of the Constitution,*

*Matrimonial Law, and the Judiciary* (Leiden: E.J. Brill, 1984)

*Sharia'ah Law: An Introduction* (Oxford: Oneworld, 2008)

Postwako, Robert, *Towards an Islamic Critique of Capital Punishment*, 1 UCLA Journal of Islamic and Near Eastern Law (2002)

al-Rahman Khan, Abd', Farman K-5 (translated by Amin Tarzi)

Tarzi, Amin, *The Judicial State: Evolution and Centralization of the Courts in Afghanistan 1883-1896* (2003)

Tunick, Mark, *Punishment: Theory and Practice* (Los Angeles: University of California Press, 1992)

# دوهم څپرکي

## جرم

### I. سریزه

پدې څپرکي کې د جرم په غوره عناصرو باند خبرې کیږي. د جرم عناصر د ځانګړو جرمونو د درک او د هغه څرنګوالي لپاره د یو چارچوب په توګه وړاندې کیږیز په ځانګړې توګه د عناصرو دري غوره پوښتنې د مجرمانه هر دول اقداماتو پر بحث کې تعریفي کیږي، له هغه جملې څخه چه (۱)آیا د وقوع په مهال یو عمل جرم اټکل شوي، (۲) آیا د تورن اعمال د قادون د اړونده برخې مطابق جرم ګڼل کیږي، (۳) آیا د جرم د وقوع په مهال، تورن د رواني او یا قصد درلودونکي وو. په بل عبارت، دا پوښتنې د جرم (۱) قانوني عنصر، (۲) مادي عنصر، (۳) معنوي عنصر ته رسیدګي کوي. ددې عناصرو هر یو شتون د تورن په توګه د یو فرد پیژندل، اړین دي.

آن که د جرم یادشوو عناصرو څخه یي شتون هم ولري، لاهم جرم واقعیت نه مومي. د تور د وړاندې کولو په اړوند څارنوال د پام وړ واک درلودونکي دي. په واقعیت کي، څارنوال ددې واک لري پریکړه وکړي چه آیا قانوني پلټنه د عدالت او عامه تګ لارې په ګټه دي او که نه؟ که داسې وي اوکه داسې وشول، بیا دا پوښتنه رامنځ ته کیږي چه کوم جرم باید و پلټل شي. البته دداشانې اختیار درلودلو سره جدي پوښتنه رامنځ ته کیږي یعنې داچه ددې سره د یو فرد ژوند، آزادي یا د ملکیت موضوع تړاو لري. عمومي ګټې د څارنوال د کړنو عمومي لوري ټاکي او د هغه په نتیجه کې باید په دقت سره عمل وکړي او په ټولو حالاتو کې بې طرفه پاته شي. څارنوال د دولت په استازیتوب مسؤلیت لري خلک بندي کړي، د هغوي مالونه ترې واخلي او یا په ځینو مواردو کې د هغوي له ژوند څخه بې برخې کړي.

ځینې موخې، څرنګه چه په لومړي څپرکي پرې خبرې وشوي، د مجازاتو تر شا جرم قرار لري. که چېرې ددې موخو هیڅ یوه د یو ټاکلي عمل د قانوني پلټې له لارې د قناعت وړ ونه ګرځي، پدې حالت کې ښایي قانوني پلټې ته نور ضرورت نه وي. د مثال په توګه، کېداي شي د لاندني مورد د دلیل په هکله فکر وشي: هغه فرد چه زوي یي ناروغ او د مرګ په حال کې پروت دي درملوته اړتیا پیداکوي خو د دارو د اخیستلو توان نه لري، نه ښایي چه د غلا په خاطر مجازات شي ځکه چه هغه د مجازات کولو وړ نه ګڼل کیږي او همداشانې نورو ته د زیان رسولو څخه د مخنیوي له مهل هم د هغه بندي کول لزوم نه لري، هغه په مجازاتوسره منصرف کېداي نشي او نه هم داچه دمجرم اصلاح ته اړتیا رامنځ ته کیږي. البته د څارنوال واک پدې حالت کې ځانته ځانګړي اهمیت خپلوي.

| د مباحثې پوښتنې |
| --- |

۱. آیا کولای شي داسې یو حالت فکر وکړئ چه د هغه په ترڅ کې یو فرد د یو داسې عمل په خاطر چه په ظاهر کې جرم نه ګڼل کیږي، تر قانوني پلټنې یا تعقیب لاندي راشي؟ د مثال په توګه، آیا تاسو یوه بې وزګاره کونډه چه د خپل کوچني زوي د تغذیي لپاره یي د ډوډي یوه ټکلي غلا کړې، تر قانوني پلټنې لاندې نیسئ؟

۲.آیا تاسو یو ځوان سړي چه د خپل پلار وسله را اخلي او په تصادفي ډزو سره خپل دوست وژني، تر قانوني پلټنې لاندې نیسئ؟

د جرم د عناصرو له بحث وروسته، دا څپرکي د جزا په قانون کې د جرمونو د عناصر و په طبقه بندي پیل کوي. ددې طبقه بندي په هکله دري کتنې وجود لري لومړي مورد جرم دیز دوهم دادي چه آیا جرم یو واحد جرم وي او که د جرمونو د یوې لړۍ څخه یوه برخه. دریم ټکي داچه آیا د جرم ارتکاب قصد تتبرېدونکي او که مداوم دي. دا کتنې مهمې دي نه یوازي په دې دلیل چه هغه د پلي کېدو وړ مجازاتو باندې اغېز لري، بلکه همداشانې په دې دلیل چه هغه دا ټاکي چه څرنګه یو څارنوال د ثابت کولو په خاطر یوه قضیه قاضي ته وړادې کوي.

ددې څپرکي دریمه موضع قصد دي. د جزا په حقوقو کې قصد پدې معنا دي چه جرم څه وخت پلان او پیل شوي دي خو واقیت یي نه دي موندلي. مخکې لدې چه یو فرد د جرم د قصد په خاطر تورن شي، د جرم د تر سره کولو په اړوند نوموړي شخص باید ″ د پام وړ ګام″ پورت کړي نه یوازې داچه د جرم د ارتکاب اراده یا قصد او دهغه تیاري ولري.

له هغه وروسته پدې فصل کې ډله ایز جرم د نورو سره د جرک د ارتکاب په همغږي باندې خبرې کیږي. ډله ایز جرم د جرم د ارتکاب په برخه کې د چا سره مرسته او یا د جرم د ترسره کولو په اړه د هغوي سره موفقت په برکې نیسي. د مثال په توګه، که چېرې یو شخص چه د یو هوټل د لوټولو پرېکړه کوي او د خبل دوست څخه غواړي تر څو نوموړي هغه هوټل ته ولیږدوي، دوست یي د هغه سره د مرستې کولو په خاطر د جرم ګناه کارګڼل کیږي.

بالآخره دا څپرکي د جزا په حقوقو کې د بخښنې رول په تفصیل سره بیانوي. په ځینو مشخصو حالاتو کې د یو شخص مجازات سره ددې چه دهغه عمل مجرمانه بنودل شوي وي پخښل کیږي.

په ځانګړې توګه، د حقوقوپه جزا کې د بخښنې مفهوم پردې دي چه آن هغه وخت چه یو فرد د جرم مرتکب وي، ولې له قانوني پلوه د وارد شوي تور له مخې دده دا عمل جرم نه ګڼل کیږي او قانون یي بخښي او په ځینو حالاتو کې د هغه دا ډول رفتار مجاز ګڼي.

سره ددې دا ښکاره کړي د ښو ننګونې لرونکو مفهومونو درلودونکي دي چه د هغو په هر یوباندې پوهېدل یا د افرادو د اعمالو او افکار سره د هغو تعامل او دا چه په نهایت کې دا حقوق څرنګه تحقق مومي، ډېر مهم دي.

## II. د جرم عناصر

تورن نشو کولای د جرم په خاط محکوم تر څو چه لومړي څارنوال دا ثابته نه کړي چه د جرم قانوني، مادي او معنوي عناصر وجود لري. پدې برخه کې ددې عناصرو څخه د هر یوه توضیح وړاندې کیږي. هغسې چه تاسو د جرم د عناصر څخه د هر یوه په هکله معلومات ترلاسه کړ، په یاد ولري چه د جرم بریالي اثبات لپاره کومو مدارکو ته اړتیا لري. همدارنګه مه هېروي چه د جرم د عناصرو څخه د کوم یوه اثبات تر ټولومشکل دي.

### 1. قانوني عنصر

**جزا قانون – ۲ ماده**

هېڅ عمل جرم نه ګڼل کیږي مګر د قانون په موجب.

قانوني عنصر د قانونیت د اصل چې وایي هېڅ جرم له قانون پرته وجود نه لري (crimen nullem lege) نژدې اړیکه لري. د قانونیت اصل څرګندوي چه هېڅ عمل د قانوني پلټنې وړ ندي تر څو چه د هغه وقوع په مهال په مستقیمه توګه د قانون پواسطه منع شوي نه وي.

د جرم قانوني عنصر ددې غوښتونکي دي تر څو د تورن عمل د جزا قانون له خوا د وقوع په مهال ناقانونه اټکل شوي وي. دا الزام پدې معنا دي چه یو څارنوال یا قاضي د کلمې په واقعي کلمه کولای شي د جزا قانون وګوري او په هغه کې هغه ماده پیدا کړي چه له مخې یې د تورن عمل جرم او د مجزاتو وړ ښودل شوي وي . بیا هم، په عمل کې د هغې پکارول، همداشانې پدې معنا ده چه ډېر داسې اعمال شته چه د جزا په قانون کې جرم نه ګڼل کیږي او د جزایي اعمال نه دي. د مثال په تو ګه، خپلې ماندینې ته داسې درواغو ویل چې لوښي ما ندي مات کړي، د جرم ارتکاب نه ګڼل کیږي ځکه چه د جزا په قانون کې هیڅ یوه داسې ماده نشته چه خپلې مېرمنې ته درواغو ویل جرم ګڼل کیږي، سره ددې چه دا عمل غیر اخلاقي او نامناسب کار دي. له بل لوري، که چېرې په محکمه یو له شاهدانو څخه دېوه لوښي د ماتولو په هکله درواغ ووایي، هغه ښایي مجرم تشخیص او مجازات شي ځکه چه په رسمي غونډه که د درواغو ویل د جزا قانون د **۳۸۹** مادې له مخې د درواغو د شهات په معنا دي.

**د قانونیت پرنسیپ : عناصر**

**د قوانینو تدوین او تصویب ( Legislavity)**: د قانونجوړومې واک د مقننه قوې سره خوندي دي او د جزا ټول حقوق د موضوع قوانینو په قالب نه د قضايي نظريو په توګه، رامنځ ته کيږي.

**نرمښت یا انعطاف (Leniency)**: قضايي واک د جرمونو په تفسير پورې محدود دي، نه دهغه په رامنځ ته کولو.

**عامول (Publicity)**: د جزا قوانين بايد وګړو په اطلاع ورسيږي ترڅو د بالقوه مجرمانو لباره د ځاي او فرصت رامنځ ته شي چه د راتلونکو جرمي اعمالو پايلې درک کړي.

د قانونيت اصل په لومړۍ درجه کې د يادښت سره تړاو لري. يادښت ددې غوښتونکي دي چه مجرم د خپل عمل د متشخيص لپاره چه د قانون خلاف دي او که نه، معقول توان ولري. دا د کلمې په واقعي معنا پدې معنا نده چه هر مجرم په واقعيت کې بايد پدې وپوهيږي او يا ورته وويل شي چه کوم څيزمجرمانه دي. ددې خلاف دا پدي معنا دي چه مجرم پخپله بايد د جزا قانون ته مراجعه وکړي چه کوم څيز جرم ګڼل کيږي. لکه چه په دريم څپرکي کې تر يادونه شوي، له قانون څخه بې خبري له جرم څخه د دفاع وړ نده.

اګر چه د حدود او قصاص جرمونه په ځانګړې توګه د جزا په قانون کې تعريف او تشريح شوي ندي، داسې استدلال کيږي چه د اسلام حقوق له نظره جرمونو هم قانوني عنصر پرځاي کړي دي، ځکه د يوې عامې موضوع په څېر مسلمانان د اسلام په قانون ملزم او مظظف دي. پردې سربېره دا چه د جزا قانون په څرګند ډول د حدود او قصاص جرمونو ته اشاره کړې ده او په کافي اندزه يي يادونه کړې چه د هغه سره سم او د جزايي اعمالو د اټکل يا تشخيص په مقصد، افراد بايد اسلامي قوانين او د هغه احکام مراعات کړي.

د اسلامي قوانينو تفسير او پلي کول يوه به موضوع هم را برسېره کوي. لومړي د اسلام حقوق په ټوليزه توګه د حقوق پوهانو(فقهاوو) د مطالعي او اشتغال د يوې برخې په توګه ګڼل کيږي. دا انګېرنه پېچلې ده ځکه چه په ټوليزه توګه د حقوق پوه په توګه د يوه شخص د اوصافو، پوهې او مسلکي زدکړې د اټکل په هکله عمومي توافق وجود نه لري. ددې معيارونو نشتوالي پدې معنا ده چه امکان لري حقوق پوه ددې دندې لپاره د اړينو زده کړو او يا وړ شرايطو درلودونکي نه وي. سربېره پردې په زياتره مواردو کې د اسلام حقوقو له مفاهيمو څخه يو واحد تفسير شتون نه لري او لدې امله تفسيرونه براخه او يو تر بله توپير لري. دوهم په ځانګړې توګه د افغانستان د اساسي قانون د ۱۳۰ مادې له مخې که چېرې د يوه مورد په هکله په موضوعه قوانينو يا اساسي قانون کې احکام نه وي راغلي، پدې صورت کې د اسلام حقوقو او حنفي فقهې احکام د پلي کېدو وړ دي. داچه معلومه نده کله د اسلام پر حقوقو استناد کيږي، وګړي په قوانينو کې د تغييراتو د ثبات د نشوالي له کبله له مخکني اطلاع پرته، د ستونز سره مخامخ کيږي. په نتيجه کې داسې پوښتنه رامنځ ته کيږي چه آيا په افغانستان کې د اسلام حقوقو تطبيق په هکله وګړو ته لازم معلومات ورکول کيږي او که نه.

## د اسلام حقوق په هکله دوه نظرونه او د قانونیت اصل

الله تعالی په قرآنکریم فرمایی چی ″او نه یو مونږ عذاب ورکوونکی (هیڅ طایفی ته) تر هغه پوی چه ولیږو کوم رسول" همداسی فرمایی چی ″ووایه (ای محمده) هغو کسانو ته چه کافران شوی دی، که واوړی بس کړی له کفره نو وبه ښنلی شی ته هغه بدی چه په تحقیق بخوا تیری شوی وی...″ او بلاخره په بل ځای داسی فرمایی چی ″سختی دعمل خپل عفوه کړی ده الله له هغه شی چه پخوا تیر شوی دی او هر هغه چه بیرته وګرځیده نو بدل به واخلی الله....″[6].

د قرآن د نصوصو او احادیثو پر بنسټ، اسلامی عالمانو دوه اساسی جزه چه د قانونیت اصل تشکیلوی استخراج کړی دی. لومړی برخه یی پدی مفهوم ده چه د یو قانون له موجودیت مخکی هیڅ قانونی مکلفیت وجود نه لری. او دوهمه برخه د اباحت اصل دی پدی معنا چه ټول شیزونه او افعال مباح او جایز ګڼل کیږی، مګر دا چه د هغه خلاف ثابت شی. د جزا حقوقو په ساحه کی ددی دوو رکنو تطبیق پدی مفهوم دی چه د هیڅ کړنو په برخه کی هیڅ ډول مجازات نه تطبیقیږی مګر دا چه اړونده عمل د قرآن په نص کی جرم ګڼل شوی وی او هم دا چه دا مجازات د هغه جرمی عمل یوازی هغه حالت ته محدود وی چه د نظر وړ عمل د هغه د قانون له انفاذ وروسته تر سره شوی وی.

2. د [اسلام له نظره د جزا په قانون کې د جرم تعریف نشتوالي] نتیجه د جرم د قانونیت د اصل سره په تناقض کې راځي یا کم تر کمه یوه استثناء جوړوي. دا د بحث وړ ده چه په [په حنفي مذهب کې] د تعریف شوي مجازات د بشري حقونو د کنوانسیونو په وړاندې د افغانستان د ژمنتیا (د اساسي قانون ۷ ماده) او بشري کرامت د دفاع (٦، ٢٤، او ۲۹ مادو) سره تناقض پیدا کوي ″.[7]

## 2. مادي عنصر

| |
|---|
| **د جزا قانون – ۲۷ ماده: د مادي عنصر تعریف** |
| د جرم مادي عنصر د قانون څخه مخالف عمل د ارتکاب یا منع راوړلو څخه عبارت دي په داسې ترتیب چه عمل په جرمي نتیجې منجر شي او د عمل او نتیجې تر منځ د سببیت رابطه موجود شوي وي. |

د جرم مادي عنصر د مجرمانه اقدام د مخه د دریو لاملونو : (۱)عمل، (نتیجه)، او (۳) سببیت مستلزم دي.

### اقدام Act

[6] Muhammad Salim al-'Awwa, "The Basis of Islamic Penal Legislation," in Bassiouni, M. Cherif, *The Islamic Criminal Justice System*, 134 (New York: Oceana Publications, 1982).
[7] Hossein Gholami, Basics of Afghan Law and Criminal Justice (Max Planck Institute, 2007).

اقدام فیزیکي خوځښت یا حرکت دي چه د مجرم له لوري تر سره او یا هغه ته یي نسبت ورکول کیږي. د یو کار تر سره کول اکثراً د فکر کولو او پلان کولو وروسته صورت مومي، مادي عنصر د معنوي عنصر ټینګ تړلي چه په لانې ډول بیانیږي. عمل کېداي شي یو کړنده یا فعال حالت یا منفعل حالت و اوسي. منفعل حالت هم د فعل د پرېښودلو یا د عمل په رسولو کې پاته راتلل دي. په ځینو ځانګړو شرایطو کې قانون یو شخص د یو کار د نه کولو په خاطر مجازات کوي، لکه که چېرې مور او پلار په قصد سره خپل اولاد تغذیه نه کړي او ددوي دا کار د طفل د مړینې سبب شي. انفعال هغه وخت مجازات کیږي چه ګرم لوري د فعل د ترک په صورت کې د بل کار په کولو مکلف وي. د مثال په توګه، مور او پلار دنده لري چه د خپل طفل څخه په سمه څارنه وکړي.

دا مهمه ده په یاد ولرئ چه یو فرد کولاي شي یو عمل پخپل لاس او یا د بل چا په اړ ایستلو سره تر سره کړي. اقدام اکثراً مستقیم وي: مېړه ټوپک په لاس کې اخلي او ګاونډي خپل مېرمنې ته د بد نظر له امله وژني. بیا هم داسې اقدام په متفاوتو شرایطو کې هم رامنځ ته شي. مثال، که چېرې نوموړي خپل ګاونډي په په بایسکله سور ویني او خپل موټر د مقابل موټر په وړاندې کاږ او دروي. دا کار ددې باعث ګرځي چه بل موټر دده ګاونډي وهي. پدې حالت کې مېړه چه عمداً ددې پېښې باعث شوي، جزایي مسؤلیت لري نه هغه شخص چه ګاونډي یي جسماً زیانمن کړي دي. پدې توګه د قتل دا اقدام نسبت مېړه ته ورکول کیږي.

| د مباحثې پوښتنه |
| --- |
| آیا کولاي شي د منفعل حالت دري بېلګې چه جرم ګڼل کیږي، فکر وکړیئ؟ |

## نتیجه Effect

د مادي عنصر دوهم لامل د هغه نتیجه ده. نتیجه د عمل نتیجه ده چه پورته ترې یادونه وشوه. دا کېداي شي فزیکي وي لکه د بایسکل سواره مړینه چه پورته یي یادونه وشوه او یا کېداي شي یوازي پولي وي لکه کله چه یو وزیر د حکومت پیسي غلا کړي. دا نتیجه په ټولیزه توګه داسې نتیجه ده چه د جزا قانون له هغه څخه د ډډې کولو په هڅه کې دي.

په یاد ولرئ چه یو اثر یا نتیجه که څه هم فزیکي او یا پولي وي، باید په عمل کې صورت ومومي. یوازي د بدو فکر کول په جرم باندې د یو چا د محکوم کولو لپاره کافي ندي. هغسې چه د ناوړه قصد په برخه کې به روښانه شي، بد فکر د یو چا د محکوم کولو لپاره بسنه نه کوي. باید له جرم څخه ځینې ظاهري نتیجي شتون ولري. سره ددې، مقابل لوري ته زیان رسول حتمي نه ښکاري بلکه یو ډول نښانې او داسې حرکات چه د یوشخص پواسطه د جرم د ترسره کولو ښکارندوي او یا جرم ته نژدې وي، باید موجودې وي.

**د مباحثې پوښتنې**

ولې قانون د جرم په توګه بد افکار نه مجازات کوي؟ د هغه ځینې عملي او اخلاقي دلایل کوم دي؟

**سببیت**

د مادي عنصر وروستني جز سببیت دي. سببیت د عمل او نتیجې ترمنځ رابطه ده. اقدام باید د نتیجې باعث شي تر څو د جرم مادي عنصر رامنځ ته کړي.

**د جزا قانون — ۲۸ ماده**

۱. شخص د هغه جرم څخه چه د جرمي عمل نتیجه یي نه وي، مسؤل ندي.

۲. هغه شخص چه جرمي عمل یي د نتیجې په پیداکېدو کې د یوه مخکني سبب له امله یا د فعل سره یوځای او یا ورڅخه وروسته برخه اخیستي وي، مسؤل ګڼل کیږي که څه هم شخص د نتیجې په پیداکېدو کې د خپل جرمي عمل په مؤثریت علم ونه لري.

۳. که سبب په یواځني صورت د جرم د نتیجې په پیداکېدو کې کافي وګڼل شي په دې صورت کې یواځې فاعل د خپل جرمي عمل نه مسؤل ګڼل کیږي.

جزایي مسؤلیت یوازې پداسې حالت کې تحمیل کیږي چه د فردي عمل او نهایي نتیجې ترمنځ څرګند تړاو شتون ولري. ددې تړاو پېژندنه هغه وخت شونې ده چه که د مثال په توګه یو فرد بانک ته دننه شي او د وسلې نه په استفادې سره پیسې وغواړي. پدې حالت کې صراف د بانک له غرفو څخه د بانک د پیسو د وړلو مسؤل نه ګڼل کیږي، آن تر دې چه که هغه پخپله دا پیسې ورکړې وي. د غلا شوو پیسو نتیجه په بشپړه توګه غله ته نسبت ورکول کیږي.

د عمل او نتیجې ترمنځ اړیکه تر اندازې زیاته پیچلې ده. مثال، ددې پرځای چه سړي مستقیماً د پیسو د غوښتلو او غلا لپاره بانک ته ولاړ شي، په بانک کې د نورو دا ډول پېښو رامنځ ته کېدل هم احتمال لري. کله چه غل د ټوپک سره د بانک غرفې ته ورننژدې کیږي، په غرفه کې دننه مېرمن له وېرې بې هوښه او زړه یي درېږي او مړه کیږي. پدې حالت کې آیا مجرم د نوموړې مېرمنې د مړینې مسؤل دي؟ د جزا قانون ۲۸ (۲) مادې له مخې، هو کې، هغه د مېرمنې د مړینې مسؤل دي. ځکه د هغه مجرمانه عمل او (د بانک

لوټماري) د نتیجې (د صراف یا مېرمنې د مړینې) هم مهاله دي، آن تر دې که نوموړي د مېرمنې د زړه درېدو قصد هم نه درلود.

دا کار یو شخص دې ته اړ باسي تر څو د سببیت موضوع او د هغه دوام په پام کې ولري. د مثال په توګه یوه سناریو په پام کې ونیسي چه په هغه کې د مړینې د ځای په عوض صراف روغتون ته لیږدوي او په هغه ځای کې مري. بیاهم دا پېښه (مړینه) د جزا قانون د ۲۸(۲) مادې تر حکم لادې راځي ځکه د هغې د زړه د مخکنۍ حملې علت د پیسو د تښتولو په وخت کې رامنځ ته شوي وو. د سببیت مفهوم هغه مهال پېچلي کیږي چه د پېښې موده اوږده شي. صراف په هماغه شپه چه لا ډېر وېرېدلي وه او د رامنځ ته شوې پېښې څخه بې اندېښنه درلوده، کورته ځي. هغه د وېرې او ډېرې اندېښنې څخه د زړه له درېدو څخه رنځ وړ او د هماغه شپې مري. پدې حالت کې آیا د رامنځ ته شوې پېښې مسؤلیت د مجرم په غاړه دي؟ لدې زیات، د راتلونکو احتمالاتو په نظر کې نیولو سره، ستونزمنه ده دا په یوه داسې قضیه بدله کړو چه که چېرې نوموړې مېرمن د غلا شوو پیسو پریشانې او وېرې څخه دري کاله وروسته د زړه درېدو له امله مړه شي، آیا ددې پېښې خلاف کار د جرم مسؤل ګڼل کیږي او که نه؟

سببیت په اکثر مواردو کې ډېر ساده جرم وي. ډېر جرمونه د هغو افرادو سره تړاو لري چه نور افراد د هغوی د جرمي افرادو قرباني کیږي او پایلې یې ډېر ژر د پېژندلو وړ وي. بیا هم سببیتپه مسلمه توګه نشو فرض کولای ځکه چه د جرم د مادي عنصر اساسي او وروستي جز دي.

## مباحثه او د فعالیت پوښتنې

لاندني موارد ولولئ او تصمیم ونیسئ چه آیا ستاسو له نظره د یو فرد د تورن کولو لپاره په هغو کې د مجرمانه عمل او نتیجې ترمنځ کافي سببیت شتون لري او که نه.

۱. یو سړي د خپل ګاونډي په کور کې د تلویزیون د همیشني لوړ آواز له کبله په غوصه دي. نوموړي د ګاونډي کورته ورځي او دهغه مخ په سوک وهي. ګاونډي له سخت تپي کېدو وروسته روغتون ته لیږدوي اوله یو کال بستري کېدو څخه وروسته مري. پدې حالت کې، آیا کولاي شو دا سړي د قتل په جرم محکوم کړو.

۲. یوه مېرمن د زوي سره خوابدې ده، ځکه زوي یې له ښوونځي څخه ناوخته راځي. یوه ورځ کله چه هغه کورته راغي مور یې هغه په دېګ سره په سر وواهه. هلك ته د مغزي ستونزه پیداکیږي. ددې تکلیف په نتیجه کې هلك ځینې ذهني وړتیاوې او د دندې د ترسره کولو توان له لاسه ورکوي. د مور له ډاره نوموړي خپل ځان مشغولوي او د ژوندي پاته کېدو په مقص په غلا پیل کوي. اوس پوښتنه پېدا کیږي چه آیا د هلك مور د غلا د جرم مسؤل ګڼل کیږي؟

۳. یو سړي پخپله محله کې د یوې مغازې د لوټولو پرېکړه کوي. هغه د خپل ټوپک سره مغازې ته ننوزي او د مغازې خاوند ته امر کوي چه په صندوق کې نغدې پیسې هغه ته ورکړي.کله چه د مغازې خاوند پیسې ګڼي، لس کوچنیان مغازې ته راننوزي او کله چه هغوي غل ویني نو پخپله هم هر یو د لوبو شیان له مغازې څخه غلا کوي. د مغازې خاوند پدې حالت کې هیڅ کار نشي کولای. آیا پدې حالت کې وسله وال غل د کوچنیانو د غلا له امله مسؤلیت لري؟

## 3. معنوي عنصر

په اصل کې معنوي عنصر د عمل کوونکي په ذهني یا د هغه په رواني حالت پورې اړه لري. د مجرمانه عمل د ارتکاب لپاره عمل کوونکي معمولاً د قصد له مخې عمل تر سره کوي.

**۳٤ ماده — د جزا قانون : د معنوي عنصر تعریف**

۱. جرمي قصد عبارت دي د فاعل د ارادې د سوق کېدو څخه د هغه فعل ارتکاب ته چه جرم وجود ته راوړي په دې ترتیب چه د نظر لاندې جرم د نتیجې په واقع کېدو منجر شي او یا د بل جرم د واقع کېدو نتیجه شي.

۲. قصد کله بسیې او کله د پخواني اصرار سره یوځای وي.

۳. پخواني اصرار عبارت دي له قاطع تصمیم نیولو څخه پخوا له دې چه د نظر لاندې جرم ترسره شي خو پدې شرط چه د فوري غضب او نفي هیجانونو څخه نه وي پیدا شوي.

٤. اصرار، پخواني ګڼل کیږي بې له دې چه د جرم د ارتکاب کوونکي قصد یو ټاکلي یا نا ټاکلي شخص ته متوجه وي اعم له دې چه قصد د شرط پورې موقوقف وي او یا د کوم کار پورې ارتباط و لري یا ئي و نه لري.

په زیاتره مواردو کې فرد باید مخکې لدې چه د مجازاتو مرتکب شي، ددې کار قصد ولري. که چېرې یو سړي د خوب په حالت کې خپله مېرمن خفه کړي، دا پدې معنا ده چه هغه د ارتکاب قصد نه درلود. که چېرې قضیه همداشانې وي، نوموړي د عمد قتل په توګه نشي تورن کېداي. ددې مسئلې عکس پدې معنا دي چه مېړه پلان درلود قصداً خپله مېرمن ووژني او دا کار د وخت په تېرېدو سره تر سره کړي. داسې اقدام په څرګند ډول عمدي جرم او جنایت تشکیلوي. د جزا قانون (3)34 ماده پدې اړه وایي چه پخواني اصرار

عبارت دي له قاطع تصميم نيولو څخه پخوا لدې چه د نظر لاندې جرم تر سره شي، خو پدې شرط چه د فوري غضب او نفې هېجانونونو څخه نه وي پيدا شوي.

د جزا قانون د **۳۵** مادې په نظر کې نيولو سره، جرم په دوو حالتونو کې عمدي ګڼل کيږي: کله چه د هغه د ارتکاب کوونکي سره جرمي قصد محقق وي که څه هم دا قصد د جرم تر رامنځ ته کېدو څخه مخکې وي او کله چه شخص د وظيفي په تر سره کولو مکلف وي او د هغه د اداکولو څخه عمداً منع راوړي او په جرم منتج شي. په زياتره مواردو کې دا بسنه نه کوي چه تر څو يو فرد يوازې د شکمن رفتار په مخې په جرم محکوم شي. د جزا قانون په ځانګړې توګه دې ته اشاره کوي چه په **۳٦** ماده کې غير عمدي اعمال يا کړنې د عمدي اعمالو په شان اهميت او وزن درلودونکي نده.

| **۳٦ ماده — د جزا قانون** |
|---|
| جرم هغه وخت غير عمدي ګڼل کيږي چه د هغه د فاعل څخه د جرمي نتيجې واقع کېدل د خطا په توګه صادرشوي وي اعم له دې چه خطا د اهمال، ساده توب، بي احتياطي، او بې پروايي څخه پيداشوي وي او يا د قوانينو، مقرراتو او امرونو د نه مراعات کولو څخه پيدا شوي وي. |

د قصد د موجوديت په باره کې د کلي قاعدې باوجود، د غير عمدي اعمالو ځينې لکه جرمي له قانون څخه سرغړونې د مجازاتو ړو دي. د قتل په هکله ٤٠٠ (۱) ماده وايي: ″ که څوک د خطا په اثر چه د اهمال، غفلت، پې احتياطي، د قانون، مقرراتو، لايحو او امرونو د نه مراعات کولو څخه يي نشأت کړي وي د بل شخص د قتل اتکاب کوونکي وګرځي...″ تر دري کلونو حبس او نقدي جزا چه تر **۳٦۰۰۰** افغانيو زياتې نه وي محکوميږي. که څوک بل شخص په تصادفي توګه ووژني، له قانوني نظره هغه د قتل جزايي مسؤليت په غاړه لري که څه هم نوموړي د قتل ټول اړين شرايط پوره کړي هم نه وي. د يادولو وړه ده چه په خطا سره د قتل مجازات د قصدي قتل له مجازاتو څخه څو ځلې کم دي او د اعدام جزا پرې نه تطبيقيږي. پام ولري چه د مجازاتو وړ له قانون څخه سرغړونې يوازې په هغه صورت کې د تطپيق وړ دي چه د جزا قانون پدې هکله ښکاره احکام ولري چه د نه پاملرنې، بې خبري او نه احتياط له امله بايد يو فرد مجازات شي.

| | **معنوی عنصر** | | |
|---|---|---|---|
| **حالت ذهنی** | **خطاء** | **عمدی** | **عمدی + د پخواني اصرار سره** |
| آيا مرتکب (فاعل) له جزائی لحاظ مسئول دي؟ | يوازې په هغه صورت کې چه د قانون حکمونو د مرتکب رفتار د مجازاتو وړ تشخيص | کله چه مرتکب د جرم ارتکاب قصد باندې اعتراف وکړي يا کله چه د مرتکب د وظيفوي | هرکله پرته له دی چی قصد ديوه مشخص و يا نامشخص سری مطرح وی. |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | کړي وي | دندې د نه اجرا له امله جرم رامنځ ته شي | په دوامداره توګه پرته له دې چه د قصد موضوع د یوه ټاکلي او یا نا ټاکلي شخص په هکله مطرح وي |

## اسلام او قصد

"د اعمالو قضاوت باید د هغه د قصد پر بنسټ صورت وومومي او هر فرد د یو څیز د درلودلو لپاره یوه اراده یا نیت لري. دا ددې ښکارندوي دي چه یو شخص نه باید یوازې د افکارو د درلودلو له امله مجازات شي. ځکه اسلام ښه تفکر د یو نیک عمل په توګه یو فضیلت ګڼي خو بد تفکر هیڅ نه ثبت کیږي". [8]

د قصد دوه بیلابیلې بڼې شتون لري. محدود قصد او نا محدود قصد. محدود قصد هغه مهال شتون لري چه یو شخص په نظر کې لري یو ځانګړي جرم د معمول سره سم د یو ټاکلي شخص په وړاندې تر سره کړي. د مثال په توګه، په یوه ټاکلي بانک کې د یوه معین صراف د لوټولو قصد. نامحدود قصد هغه مهال صورت مومي چه د جرم د ارتکاب لپاره مشخص هدف وجود و نه لري. د مثال په توګه، د ګڼې ګوڼې په یوه سیمه کې بمب چاودنه  نامحدود قصد دي ځکه چه موخه یې د ځانګړې فرد وزنه نه ده بلکه یوازې زیاتو وګړو ته  زیان رسول وي.

قصد هغسې چه مخکې ترې یادونه وشوه، د جزایي مسؤلیت په ټاکلو کې مرسته کوي. مثال، یو ځوک پریکړه کوي چه په کوڅه کې یو فرد لوټ کړي. هغه د د پخلنځي یو چاقو را اخلي او خپل مخ په چادر سره پټوي او د چاقو د ځوکې په اشارې سره یوې ښځې ته وایي چه: "ټولې خپلې پیسې ماته راکړه که نه وژنم دي". ښځه وېرېږي او چیغه کوي. پدې حالت کې سړي ښځې ته وایي چه مقصد یې ډارول نه وو او زیاتوي : " بخښنه غواړم" او روانیږي. پیسې د همېش لپاره انسانان نشی عوض کولای. بیا هم آیا یاد شوي شخص مجرم ګڼل کیږي او که نه؟

د قانون له مخې، ددې پوښتنې ځواب مثبت دي. د شخص جرمي قصد له تشکل وروسته کله چه هغه د جرم ارتکاب ته اقدام کوي، هغه مجرم بلل کیږي؛ آن تر دې که نوموړي له جرم څخه انکار هم وکړي. دا نظریه د جرم د پیل سره نژدې تړاو لري چه تاسو به پدې هکله وروسته ددې څپرکي په اوږدو کې معلومات تر لاسه کړي.

## نا بیره او احتمالي قصد

---

[8] Yahaya Yunusa Bambale, *Crime and Punishment under Islamic Law*, p.6 (Lagos: Malthouse Books, 2003).

له زماني نظره دوه ډوله قصد وجود لري: نابېره او احتمالي. نابېره قصد په نژدې راتلونکې کې د جرم قصد دي. د نابېره قصد مثال، کله چه يو فرد د بل چا په سر باندې ټوپک نيسي او دې ته چمتو وي چه د ټوپک ماشه کش کړي، د ا نابېره قصد دي. لدې امله نابېره قصد ، د قصد تر ټولو روښانه ډول دي. دا ډول قصد هغه وخت رامنځ ته کېږي چه يو فرد په ښکاره د جرم د ارتکاب قصد ولري.

**د نابېره قصد بېلګې**

**١.** يوې مېرمنې اورېدلي دي چه ګاونډې يې زامنو ته سبکې سپورې وايي. مېرمن پرېکړه کوي چه خپل ګاونډي په د ډوډۍ په يوې ټکلۍ کې د موږک زهرو په ګډولو سره مسموم کړي. نومړې مېرمن د زهرو سره ډوډۍ پخوي او ګاونډې ته يې ورکوي.

**٢.** يو سړي د خپلې مېرمنې سره په کوڅه کې د قدم وهلو په مهال يو بل سړي ويني چه دده مېرمنې ته په مينه ګوري. د مېرمنې خاوند بل سړي ته د پند ورکولو پرېکړه کوي او د هغه لوري ته روان او هغه په څپېړه وهي.

احتمالي قصد تر نابېره قصد ډېر پېچلي دي. احتمالي قصد په هغه شرايطو شامل دي چه په هغه کې د يو فرد د اعمالو لپاره جرمي انګېزه، اصلي انګېزه نه ګڼل کېږي. په ورته وخت کې، فرد پدې پوهېږي چه د هغه اقدامات جرمي حالت رامنځ ته کوي. د مثال په توګه، يو فرد له خپل دوست څخه کرکه لري ځکه چه نوموړي د داسې يوې ښځې سره واده کړي دي چه ده هم مرسره مينه درلوده. دا سړي پرېکړه کوي چه د نوموړي سره وګوري او د ځان سره چاقو هم را اخلي. سره ددې هم هغه ددې هوډ نه لري چه چاقو وکاروي خو هغه دا کار د ځان د پياوړي ښودلو په مقصد کوي. خو هغه پدې هم پوهېږي چه د خپل دوست په کور کې به نا راحته شي. څرنګه چه بې وړاندوينه کوله هغه ناراحته کېږي، چاقو را وباسي او د خپل دوست بدن ټپي کوي.

انسان پداسې وضعيت کې چه يادونه يې وشوه، د چاقو په کښلو په قصد د خپل دوست کورته نه ځي، خو هغه په داسې يو حالت کې ځان راوست چه په هغه کې د جرمي فعاليت د رامنځ ته کېدو ډېر احتمال وجود درلود. داسې يو حالت د احتمالي قصد ښکارندويي کوي. پدې توګه، هغه د خپل عمل د بالقوه جزايي پايلو څخه خبر وو، په هر صورت بيا هم نوموړي د ريسک په منلو سره خپل کار ته دوام ورکړ. پدې حالت کې، د قانون له نظره دابې مهمه نده چه نوموړي شخص د اذيت رسولو او يا نه رسولو په موخه د خپل دوست ته راغلي وو. سره ددې چه هغه په جرمي احتمالي پايلو پوهېده خو بيا يې هم جرم تر سره کړ. لدې امله هغه د جرم د ارتکاب په قصد باندې محکومېږي.

احتمالي قصد اکثراً پداسې حالاتو کې رامنځ ته کيږي چه يو څوک د جرم ارتکاب لپاره يو خاص قصد ولري او د هغه د  پېښېدو په ترڅ کې، بل تخلف هم رامنځ ته شي. د مثال په توګه، که چېرې يو څوک و غواړي بل شخص ووهي خو پدې ترڅ کې هغه لوټ هم کړي، هغه په دوو جرمونو تورن کيږي. دا سمه ده که څه هم مرتکب په لومړي سر کې د لوټ کولو قصد نه درلود.

احتمالي قصد همدارنګه په هغه صورت کې هم د مسؤليت مستلزم دي چه يو شخص يو جرم تر سره کړي او وروسته د بل جرم مرتکب هم شي. د مثال په توګه، داسې يوه سناريو په نظر کې ونيسئ چه يو څوک بل شخص په وهلو سره مرګ ته رسوي. دا سړي چه د نابېره قصد سره يوازې د وهلو او زخمي کولو د جرم په موخه راغلي وو، په پايله کې يي قتل تر سره کړ. پدې اړه قانون داسې حکم کوي چه هغه ددې قتل مسؤل دي ځکه چه مجرم د ټولو هغو جنايي نتيجو مسؤل ګڼل کيږي چه د عمدي جرم د ارتکاب په مهال رامنځ ته کيږي.

په لنډه و يلاي شو چه که چېرې  تر احتمالي قصد لاندې مجرم په نظر کې لري يو مجرمانه عمل سرته ورسوي، هغه د داسې عمل د ټولو جزايي، منطقي او د پيشبيني وړ پايلو مسؤل دي که څه هم هغه ددې جرم قصد ولري او يا نه.

| د مباحثې پوښتنه |
| --- |
| آيا فکر کوئ چه احتمالي قصد د جزا په قانون کې د هغو غوښتنو يا شرايطو سره چه هر جرم د قصد درلودونکي دي مغايرت لري؟ |

## بيا کتنه او عملي بوښتنې

د جزا له قانون څخه لاندني جرمونه په نظر کې ونيسئ او کوښښ وکړئ چه د هغو په هر يوه کې قانوني، مادي او معنوي عناصر معلوم کړي:

(۱)۳۱۰ ماده : که څوک يو راتلونکي شي تزوير يا سره ددې چه د هغې په تزوير علم لري استعمال يا يي افغانستان ته داخل کړي، د حالونو وسره سم په اوږده حبس محکوميږي: (۱) قانون: فرمان يا د جمهوري رياست امر، د حکومت تصويب، يا د صدارت فرمان او يا د محکمې قطعي حکم، (۲) د دولت مهر، د دولت د رئيس مهر يا امضاء.

۳۵٤ ماده: که څوک د اور د واقع کېدو او يا د بلې لوبې حادثې په وخت کې د عمومي خدمتونو د مؤظف د تقاضا سره بې د معقول عذر د مرستې کولو څخه ځان وژغوري، په حبس چه د شپږو مياشتو زيات نه وي او نقدي جزا چه د شپږو زرو افغانيو څخه زياته نه وي يا ددې دواړو جزاګانو څخه په يوه محکومېږي.

(۱)٤٠٧ ماده: که يو شخص عمداً بل شخص په داسې ډول ووهي چه د پرې کېدو يا نقصان يا ماتېدو يا د بدن د اعضاوو څخه د يوې عضوې د کاره لوېدو يا په دوام لرونکي معلوليت منجر يا د هغه د يوه حواس د فقدان موجب وګرځي د خسارې په جبران علاوه، په متوسی حبس چه د دريو کلونو څخه کم نه وي محکومېږي.

## III. د جرم طبقه بندي

د جزا قانون جرمونه د څو معيارون پر بنسټ طبقه بندي کوي. دا طبقه بندي پر دې بنسټ ولاړه ده چې: (۱) شخص په څرنګه يو خاص جرم تورن شوي دي، (۲) يو عمل څه وخت تر تور لاندې قرار نيسي، او (۳) څه ډول مجازات د پلي کېدو وړ دي. طبقه بندي د دوو نورو طريقو له مخې هم مهمه ده. لومړي د جرم د ډول او د جرم د مرتکب په نظر کې نيولو سره د محکمو واک يو تر بله توپير لري. دوهم، د وخت د تېرېدو يا مرور زمان قاعده د جرمونو د هرې طبقې لپاره متفاوت ده. د وخت تېرېدو قاعده دا کنترولوي چه کله دولت بايد يوه قضيه تر قانوني پلټنې لاندې ونيسي. په زياتره مواردو کې د وخت تېرېدو قاعده د جدي جرمونو لپاره تر نورو اوږده وي. تا کار تر يوه بريده اجازه ورکوي تر څو د کشف او تحقيق لپاره زيات وخت تر لاسه شي. همدارنګه کېداي شي دولت د وخت د تېرېدو په نظر کې نيولو پرته، د جرم د اثبات لپاره د کافي شواهدو په شتون سره د ځينو قضيو پلټنې ته ژمن وي.

| د لوست تمرکز |
|---|
| د جرمونو د طبقه بندي سيستم په هکله څرنګه چه مخکې ترې يدونه وشوه، فکر وکړئ. آيا دا ډول طبقه بندي معقوله ده؟ کولاي شي د نورو معيارونو پر بنسټ جرم طبقه بندي کړي چه ډېر ګټور وي؟ |

## 1. د قانوني عنصر په بنسټ

د قانوني عنصر پر بنسټ طبقه بندي د ترسره شوي جرم ډول د هغه د شدت پر بنسټ ټاکل کيږي. فرد کېداي شي د قباحت، جنحې او يا جنايت تېروتنو مرتکب شي. د قباحت تېروتنه د ډېرې سپکو مجازاتو او جنايت د ډېرو درنو يا سختو مجازاتو وړ ګڼل کيږي. د جرم قانوني عنصر په دوو دليلونو مهم دي. لومړي، څرنګه چه تاسو به په ورپسني برخه کې ولولي، زياتره هر نيمګړي جرم په هغه صورت کې چه مرتکب په کافي اندازه

پرمختګ کړي وي، کېداي شي د جرم د اقدام په توګه و انګېرل شي. بیا هم لکه چه لاندې راغلي دي، یوازې له قانون څخه هغه سرغړونې د جرم د اقدام په توګه ګڼل کیږي چه د جنایت یا جنحې په توګه طبقه بندي شوي وي. سر بېره پردې، هر جنایت یا جنحه کېداي شي د جرم د پیل په توګه محکوم شي مګر دا چه که د جزا قانون په ځانګړې ډول د یو ځانګړي جرم د پیل په توګه احکام په ګوته کړي وي. له بل لوري، قباحت کېداي شي هیڅکله د جرم د پیل په توګه و نه ګڼل شي، مګر داچه قانون په ځانګړې توګه هغه جرم ښودلي وي. دوهم دلیل چه قانوني عنصر اهمیت په ګوته کوي دادي چه د د ملکیت او یا پیسو ضبط او مصادره کول یوازې په جنحه او جنایت کې اجازه لري. مصادره د قباحتي سرغړونې په اړوند یوازي هغه وخت مجاز دي چه قانون د هغه وړاندوینه کړې وي.

## قباحت سرغړونې (Petty offenses)

قباحت د جزا په قانون کې د کم شدت یا سنګیني جرمونو څخه دي. د قباحت مرتکب مجازات له ٢٤ ساعته څخه تر دري میاشتو بند او تر دري زره افغانیو نغدي جریمې پورې وي. د قبح سرغړونو پیل د جرم د پیل په توګه دي مګر دا چه د جزا په قانون کې د هغه په هکله ځانګړي احکام اتګل شوي وي. د قباحت له بېلګو څخه د ژویو سره بد رفتاري (٥١٠ ماده)، د نړېدو په حال کې د یوې ودانی نه رغول (٥٠٣ ماده)، د لارښوونې او ترافیکو علامو د بڼې اویا لوري تغییرول (٤٨٩ ماده) دي.

## جنحه (Misdemeanor)

جنحه د منځنیو سرغړونو څخه ده. د جنحې جرم مجازات له دري میاشتو څخه تر پنځو کلونو بند او حد اقل ٣٠٠٠ افغاني جریمه ده. د جنحې پیل د جزایي جرم تور دي او د تورن د مال په مصادره منجر کېداي شي. د جنحې د جرم بېلګې عبارت دي له : د وظیفوي رازونو افشا او د ځان او یا بل شخص د ګټې لپاره د هغو پکارول (٤٤٥)، سړي تښتونه یا اختطاف (٤١٨ ماده)، د نورو اشخاصو وهل او ټپي کول (٤٠٧ماده).

## جنایت Felony

د جزا په قانون کې جنایت تر ټولو درنه سزا ده. هغه داسې جرم دي چه مجازات یې له پنځو کلونو څخه تر ابدي بند پورې دي. نیمګړي یا نا بشپړ جنایت د تور یا تور په توګه جرم ګڼل کیږي او د تورن شخص یا جنایت کار مالونه مصادره کېداي هم شي. د جنایت بېلګې عبارت دي له : غارت (٤٤٧ ماده)، قتل (٣٩٥ ماده) او د چاودېدونکو توکو څخه کار اخیستل او د خلکو ژوند د خطر سره مخامخ کول (٣٦٣ ماده).

## 2. د مادي عنصر پر بنسټ

د جرم د مادي عنصر پر بنسټ طبقه بندي د تورن شخص د اقداماتو د وسعت په نظر کې نیولو سره تر سره کیږي. په ځانګړې توګه دا ډول طبقه بندي ددې سره تړلې چه څارنوال څومره جرمونه یا تورونه تر تعقیب لاندې نیسي. څارنوال باید له خپل ځان څخه و پوښتي چه آیا د تورن فعالیت د یو یا څو جرمونو سره تړاو لري.

## فوري او مستمر جرمونه Momentary and Continuous Crimes

فوري جرمونه هغو جرمونو ته ویل کیږي چه له ؛پېښېدو وروسته بې له ځنډه پاي ته رسیږي. د مثال په توګه کله چه یو مرتکب جسماً یو څوک ووهي، د وهلو په پاي ته رسېدو سره جرم واقع کیږي. پدې مورد کې قصد فوري او نهایي دي. دا شوني ده چه د جرم مرتکب د خپل قصد په نوي کولو سره دوهم ځل د جنایت مرتکب شي خو دا ځلې نوموړي د بېلو مجازاتو وړ ګرځي. فري جرمونه کېداي شي په جلا توګه بررسي شي ځکه هر ځلې چه تورن کس د بل جرم مرتکب شي، د ورپسني جرم د ترسره کولو لپاره خپل قصد نوي کوي.

همداشاني، فوري جرمونه د قانون جوړوونکي له خوا د ساده جرم په نوم هم یادیږي. ساده جرم هغه جرم دي چه د یو عمل او پېښې وروسته پاي ته رسیږي. بډې یا رشوت، قتل، غلا، وهل ټکول او نور د ساده جرمونو څخه ګڼل کیږي.

د فوري جرمونو خلاف مستمر جرمونه د وخت یوې اوږدې مودې به ترڅ کې دوام مومي. له زماني پلوه په مستمر جرمونو کې باید د لومړي عمل او وروستني عمل ترمنځ یو څه واټن موجود وي. مسومیت د مستمرجرم د کلاسیک ډولونو څخه یوه بېلګه ده. ځکه په مړینه باندې د مسمویت منتج کېدل دوام پېداکوي، که څه هم دا دوام ډېر لنډ وي او لدې امله هغه ته فوري جرم نشو ویلای. همداشانې له جعلي سند څخه ګټه اخیستل یو مستمر جرم دي ځکه چه اړوند شخص مخکې د هغه له کارولو څخه باید هغه خپل کړي. دا ددې مستلزم دي چه د جرم ارتکاب تر هغه پورې دوام مومي چه د جعلي سند تر لاسه کولو او د هغه د پکارولو خبر په منځ کې وي.

همدارنګه  مستمر جرمونه د قانون جوړوونکي له لوري د عادتي جرمونو په نوم هم یادیږي. عادتي جرم ددې غوښتونکي دي چه د جرم له تور نه مخکې د رفتار بېلګه وښودل شي. ددې ډول جرمونو بېلګې بد لمني او عمومي فساد په بر کې نیسي. د جزایي رفتار دا کلي بېلګه مهمه ده نه د هغه انفرادي بد اعمال.

## د مباحثې پوښتنې

۱. آیا د فوري ا و مستمرو جرمونو تر منځ توپیر روښانه دي؟ د مثال په توګه، که چېرې تاسو د څارنوال په توګه د اسنادو د جعل اړوند د یو مورد تور او تعقیب په غاړه ولري، آیا تاسو به دا جرم د یو فوري جرم په توګه تعقیب کړي او که د مستمر؟

۲. یو سړي په کابل کې د یوې کوڅې په اوږدو کې د قدم وهلو په حال کې دي. د جادې په اوږدو کې نوموړي لومړی مغازې ته رسیږي او له داخیلېدو وروسته یو لوي چاقو را وکاږي او د مغازې له خاوندڅخه غواړي چه هغه ته یوه کوچنی خو ډېره قیمتي قالینچه ورکړي. وروسته له هغه چه خرڅوونکي هغه ته قالینچه ورکوي، غل له مغازې وزي او د خوراکي توکو یوې بلې کوچنی مغازې ته ورځي. هغه خپله غوښتنه (داځل د پیسو) تکراروي او له خرڅوونکي څخه پیسې تر لاسه کوي. هغه د بلاک په اوږدو کې څو نورې مغازې او دکانونه (د بوټونو مغازه، نت کافې، د کباب کافي، د رخت پلورنځی او یو بانک) لوټوي. کله چه نوموړي د بلاک پای ته رسیږي، سیمه پرېږدي. آیا ستاسو په نظر دا اوه (۷) غلاګانې یو تربل جدا دې او یا که یو اوږده غلا ګڼل کیږي؟

## 3. د معنوي عنصر پر بنسټ

جزایي جرمونه د معنوي عنصر له مخې هم وېشل شوي دي. پدې طبقه بندي کې تر ټولو مهم لامل د فاعل قصد او یا د فعل پرېښودل دي. پدې اړوند جرمونه په دوه ډوله وېشل کیږي: (۱)عمدي جرمونه او (۲) اشتباهي (غیر عمدي) جرمونه.

لکه چه مخکې موضوع په لازیات تفصیل سره بیان شوه، عمدي جرمونه هغه جرمونه دي چه په هغه کې د فاعل اراده او یا د هغه انصراف په ښکاره څرګند شوي وي. اشتباهي جرمونه هغو ته ویل کیږي چه په هغه کې د فاعل غوښتنه او اراده او یا د هغه انصراف په ضمني توګه ښودل شوې وي. ددې دوه ډوله جرمونو او د هغو د مجازاتو د لا زیات تفصیل لپاره د جرم د عناصرو بحث چه مخکې ترې یادونه وشوه وګوري.

## IV. دجرم شروع

د جرم پیل د نیم بشپړو یا نیمګړو جرمونو په توګه ښودل شوي دي. نیم بشپړ شوي څیز هغه دي چه لا هم پوره بشپړ نه وي او یا په بشپړه توګه یي پرمختیا نه وي موندلې. په ترتیب د نیمګړي جرم نتیجه په بشپړه توګه د پېژندلو وړ نه ده ځکه چه هغه هیڅکله بشپړه نه وي. ټول مجرمانه اقدامات نیمګړي جرمونه رامنځ ته کوي.

د جزا قانون یوازې کامل جرمونه نه مجازات کوي. ددې قانون پر بنسټ هغه افراد چه د جرم د ارتکاب اقدام کوي، هم جزایي مسؤلیت لري. د جزا قانون په ۲۹ ماده کې د جرم شروع داسی تعریف شوي ده:

**د جزا قانون (۱)۲۹ ماده**

په جرم شورع د فعل پیل کېدو د اجراکولو څخه د جنایت یا جنحې د ارتکاب په قصد عبارت دي په دې ترتیب چه د فاعل د ارادې نه د بآندې د ځینو سببونو له امله د هغې اثرونه متوقف یا خنثي شوي وي.

| |
|---|
| د جرم او جزايي مسؤلیت پنځه مرحلې:<br><br>1. مفکوره<br>2. پلان<br>3. عمل<br>4. شروع<br>5. اکمال یا سرته رسول |

د جرم د شروع لپاره دري عناصرو شتون ته اړتیا شته : (۱) د عمل پیل، (۲) د جرم (جنحې یا جنایت) د ارتکاب قصد او (۳) د پایلو نشتوالي. ددې عناصرو هر یو لاندې بیان شوي.

## 1. په جرم د شروع عناصر

<u>**د عمل پیل**</u>

د جزا قانون د عمل پیل داسې تعریف کړي:

| |
|---|
| **د جزا قانون (۲)۲۹ ماده:**<br><br>یواځې تصمیم د جرم په ارتکاب یا د مقدماتي کارونو اجراء کول د جرم شروع نه ګڼل کیږي. |

هر هغه جرم چه د لومړنیو پلان شوو پړاوونو څخه وړاندې ولاړ شي، د تور لپاره کافي دي. د جرم ارتکاب په هکله یوازې فکر کول کافي ندي؛ د جزا قانون یوازي افکار نه مجازات کوي. دا کار به ډېر مشکل وي چه یو شخص یوازې د جرک ارتکاب د تصمیم په هکله تر تعقیب لاندې ونیول شي – پدې پړاو کې د جرم هڅه لا د شخص په وجدان کې غلي وي. سربېره پردې، لومړني اقدامات لا جرم نه ګڼل کیږي او د مجازاتو وړ ندي. دا ډول اعمال د موادو لکه وسله او یا د مالي اطلاعاتو قانوني راټولول په برکې نیسي. هر هغه عمل

چه د جرم له تیاري څخه سېوا او د جرم د ارتکاب په لوري یو مهم ګام وي، د جرم د شروع په توګه تر تعقیب لادې راځي.

مهمه داده چه ځینې داسې لومړني اقدامات شته چه پخپل ماهیت کې جرم دي.داسې اقدامات عبارت دي له : له جواز پرته د وسلې او مهماتو لاس ته راوړل او دداسې شیانو تولیدول چه د هغه پواسطه د پیسو په جعل کې تر کار واخیستل شي.

## د جنایت او جنحې ارتکاب قصد

د جزا په قانون کې کابو ټول راغلي جرمونه د جزایي مسؤلیت له تحمیل څخه مخکې، د ځانګړي قصد د شتون غوښتونکي دي. یوازې اشتباه کول چه جرم رامنځ ته کوي کافي ندي. د جرم په ارتکاب کې د جرم هیڅ ډول اشتباهي اقدام شتون نه لري. په ټولیزه توګه، ټولنه یوازي غواړي د اشتباه څخه رامنځ ته شوي مسؤلیت په هغه چا تحمیل کړي چه د بدو اعمالو د ترسره کولو قصد ولري، او ورپسې هغه سرته رسوي. ډېر کم داسې پېښېږي چه د اشتباه له مخې مسؤلیت اعمال شي او دا کار په هغه حالت کې چه هېڅ ډول مجرمانه پایله وجود ونه لري درست نه دي.

د جرم د شروع مجازات په ورته ډول د جزا په قانون کې راغلي دي. په ټولیزه توګه، افراد یوازې هغه مهال مجازات کېږي چه نورو ته زیان ورسوي. سره ددې په جرم شروع په هغه صورت کې چه د هغه عناصر پوره وي، د هرډول منفي پایلې له شتون پرته د مجازاتو اجازه لري.

لکه مو چه ولوستل، یوازې د جنحې او جنایت جرمونه د جرم د شروع په توګه مجازات کېږي. ددې دلیل دادي چه جنحه او جنایت ډېرجدي جرمونه دي او د هغوي د ارتکاب شروع، باید ټولنې ته د یو خطر په توګه مجازات شي. د هغوي خلاف، د قباحت جرم شروع د مجازاتو وړ نده ځکه چه د جرمي مجازاتو د تجویز لپاره په کافي اندازه جدي نه ګڼل کېږي.

## <u>د مطلوبواثراتو نه تحقق او یا مخنیوي</u>

د جرم د شروع وروستي شرط د جرم د پایلو نه رامنځ ته کېدل دي. د مثال په توګه، یو څوک چه د بل شخص لوټولو قصد لري کولای شي یوې مغازې ته ننوزي، وسله په لاس خلک ووېروي او د اړونده کس څخه پیسې وغواړي. بیا هم، که نوموړې د جرم له ارتکاب څخه ودرول شي، که چېرې هلته د پولیسو یو افسر موجود وي، بیا هم نوموړي کس د غلا جرم اقدام مسؤلیت لري.

کېداي شي د غلا جرم د منفي پايلو څخه مخنيوي وشي او يا هم تحقق و نه مومي. کېداي شي د يوه ځواک په مداخلې سره ددې اثراتو مخنيوي وشي او په ساده ډول شونې ده چه د نظر وړ اثرات تحقق و نه مومي. دا مسئلي لاندې په زيات تفصيل سره تر بحث لاندې نيول شويدي.

## 2. د ناشوني جرم څرنګوالي

له حقوقي اړخه د جرم د شروع په هکله لاهم ډېرې پوښتنې شته. پوښتنه داده چه آيا کولاي شو يو فرد په يو داسې دقدام تورن کړو چه د هغه تمه کېدونکې پايله ناشونې وي. لاندېني وضعيت په پام کې ونيسي:

يوه مېرمن پدې باور ده چه مېړه يي د ګاونډي کور يوې ښځې سره اړيکه لري. نوموړې ټوپک را اخلي او پرېکړه کوي چه که خپل مېړه د ګاونډي په کور کې ومومي، نو هغه به ووژني. د وسلېله پېرودلو څخه يوه اونۍ وروسته، مېړه يي هغې ته وايي چه د يوه پيام رسولو لپاره بايد بېرون ته ولاړ شي او يو ساعت وروسته راځي. سړي له کوره وزي او مېرمن يي له کړکۍ څخه هغه څاري چه د ګاونډي کور په لور رواند دي. مېرمن په منډه راځي ټوپک را اخلي او په وارخطايي د ګاونډي کور په لور روانېږي. کله چه د ګاونډي کور دروازې ته رسېږي، ګوري چه دروازه پرانېستي ده او آهسته کور ته ننوزي، هېڅ نه اوري او دوهم پوړ خوب اتاق ته پورته کېږي. پدې حالت کې هم د هېڅ شي غږ نه اوري او د خوب د اتاق دروازه آهسته خلاصوي او په چېرکت کې انسان ته ورته يوڅه ويني او فکر کوي چه دا يي مېړه دي او په هغه ډزې کوي. وروسته ګوري چه د خپل مېړه په ځاي يي د بڼکو په يوه ډک شوي بالښت باندې ډزې کړې دي اوو مېړه يېخي په اتاق کې نه وو. پدې حالت آيا کولاي شو چه نوموړې مېرمن د جرم په شروع تورنه کړو؟ څرنګه چه معلومېږي هغې په څرګنده د خپل مېړه د وژلو قصد درلود او په تياري سربېره يي د وژنې لپاره عملي اقدامات تر لاس لاندې نيولي  او د ټوپک ډزې هم شوې دي. پدې ترڅ کې تمه شوې پايله چه ددې د مېړه وژل وو مخنيوي وشو ځکه چه هغه آن د ګاونډي په کور کې نه وو.دا ډول قدام ته د جرم ناشوني پيل ويل کېږي.

د جزا قانون دا ډول اقدام د هر يو بل منظم جرمي اقدام په توګه مجازات کوي. ۲۹ ماده وايي:

**د جزا قانون – 29 (3) ماده**

هر عمل چه دداسې جنايت يا جنحې په قصد چه ارتکاب يي په جرم پورې د مربوطو عواملو له امله يا د وسيلو د استعمال له خوا مستحيل وي په جرم شروع ګڼل کېږي، خو پدې شرط چه د ارتکاب کوونکي عقيده د جرمي نتيجې په پيداکېدو کې د اشتباه څخه يا د مطلقې ناپوهي څخه نه وي پيداشوې.

په هر هغه موقعیت کې چه د مجرمانه عمل د نتیجې ناشونتیا د مرتکب له کنترول څخه بهر وي، تورن د جرم د شروع د هڅې په خاطر مجازات کېداي شي.

**د مباحثې پوښتنې**

ایا دا عادلانه ده چه یو شخص پداسې حال کې چه د یو جرم د ترسره کولو لپاره هیڅ امکان وجود و نه لري، مجازات شي؟ دا د هغه اصل برخلاف ده چه وایي بد افکار مجازات نه لري؟ دا سناریو له یوازې بدې مفکورې درلودلو څخه څه توپیر لري؟

## 3. د جرم د شروع مجازات

د منظمو جرمي فعالیتونو په اړه د جرم شروع په بېلابېلو طریقو مجازات کېږي. په جرم د شروع مجازات، د هغه جرم د نوعیت یا ډول سره تړاو لري چه په اړه یي اقدام کېږي: جنایت یا جنحه. لاندنۍ جدول توضیح کوي چه په جرم د شروع بېلابېل ډولونه څرنګه مجازات کېږي:

| د جرم کټګوري | د جرم کامل مجازات | په جرم د شروع مجازات |
|---|---|---|
| جنایت I | د اعدام مجازات | ابدي حبس |
| جنایت II | ابدي حبس | اوږد حبس |
| جنایت III | اوږد حبس | متوسط حبس |
| جنحه | د جنحې جزا | د کامل جرم نیمایي حکم |
| قباحت | د قباحت جزا | د مجازات وړ ندي مګر داچه د جزا قانون په بل ډول د هغه حکم کړي وي. |

په ټولیزه توګه، په جرم شروع د کامل جرم څخه په کمه جزا مجازات کېږي. په ظاهر کې توپیر وجود لري ځکه چه بد اثرات نه رامنځ ته کېږي او مجرم د بشپړو مجازاتو وړ نه ګرځي.

## ۷. ډله ایز مجرمیت

ولې ډله ايز جرم د افرادو او ملکيتونو په وړاندې ځانګړې ننګونې لري؟ د ډېرو نورو پروژو په شان، جرمي اقدامات ډېر ځله په اغېزمنه توګه د افرادو پواسطه د يو بل په مرسته تحقق مومي. ډله ايز جرمونه د ځينو دلايلو له مخې زيات خطروونکي دي. د کار ويش زيات شمېر مرتکبينو ته د لا زيات اغېزمنتوب امکان ورکوي ، په زيات شمېر پېچلو جرمي طرحو کې راښکېل کېږي او په پراخه پيمانه د بالقوه زيانونو باعث کېږي. ډله ايز فعاليت د جرمي فعاليت لپاره د متقابلې هڅونې لپاره مجمع رامنځ ته کوي او ددې احتمال زياتوي چه په نښه شوي جرمونه تر سره شي.

ددې ادعا د توضيح لپاره بايد وويل شي چه دا به د يوه شخص لپاره ناشونې وي چه د نشه اي توکو قاچاق په ماهرانه او اغېزمنه توګه تر سره کړي. د مجرمينو يوه ډله په زيات احتمال او برياليتوب سره کولای شي د داسې لويو عملياتو ټولو لوژستيکي چارو ته رسېدنه وکړي.

د ډله ايز جنايت خطرونو په نظر کې نيولو سره، د جزا قانون د هغه سره د مبارزې لپاره ځينې پياوړې وسيلې په ګوته کوي. بايد وويل شي چه د دولت ځواکمنتيا د اټکل په برخه کې دا پوښتنه پيدا کېږي چه آيا د دولتي مقاماتو لپاره د ډله اينز جرم او جنايت د مخنيوي په هکله د جزا قانون په کافي اندازه وسيلې په نښه کړي؟ او يا داچه هغه د ډله ايز مجرميت په اړوند د ډېر پراخه چلند له لارې  يوازې سوچ او فکر مجازات کوی؟

## 1. په جرم کې مرسته او لمسونه

آن په جرمي موقعيتونو کې چه په ترڅ کې يي يو فرد په ځرګنده سردسته يا اصلي لوبغالي وي، د ډلې نور غړي په جرمي فعاليتوون کې د هغه ملاتړ کوي. په جرم کې مرسته او تحريک چه د هملاسي په نوم هم يادول کېږي، د جزا يوه معموله نظريه ده چه د هغه پر بنسټ جرمي مسؤليت پر هغو افرادو تحميل کېږي چه د جرم په ارتکاب کې د بل فرد له لارې مرسته کوي. ولې دا مرسته د يو مشترک اصل کچه ته نه لوړېږي. په بل عبارت، هغه افراد چه د ناقانونه عمل په سرته رسېدلو کې د بل شخص سره مرسته کوي، هغه جانبي لوازم دي چه د يادشوي جرم سره مرسته کوي او په نتيجه کې د جرم د ارتکاب ځينې مسؤليتونه هغوي ته متوجه کوي. پدې توګه، په جرم کې مرسته او لمسونه په پخپل ماهيت کې د ډله ايز جرم يوه بڼه ده. ددې سره د اتفاق برخلاف چه وروسته به پدې څپرکي کې پرې بحث وشي، په جرم کې د مرسته او لمسونې له امله تور پخپله له جرم نه راپيدا کېږي. د جرم د شريک جزا په مشر يا اصلي مجرم سره چه عملاً د جرم مرتکب دي تړاو لری نه يوازې د هغه په تياري پورې.

په جرم کې مرسته او لمسونه په دوه ډوله تحقق مومي: جسمي مرسته او رواني مرسته. جسمي يا فيزيکي مرسته د جرم په ارتکاب کې مادي او د لمس وړ مرستې په بر کې نيسي. داسې  فرض کړي چه اسد يو بانک لوټوي او د هغه دوست اجازه ورکوي ترڅو له غلا وروسته له پوليسو څخه د هغه په کور کې پټ شي.

پدې حالت کې د هغه دوست د مادي مرستې له امله مسؤلیت لري. ددې خبرې په یاد ساتل مهم دي چه یو شخص هغه مهال په جرم کې د مرستې او لمسون په خاطر مسؤل پېژندل کیږي چه له جرم نه د مخه، د جرم په ترځ او یا د جرم له ارتکاب وروسته مرسته وکړي.

رواني مرسته په هغه مرسته کې راځي چه د جرمي عمل د اجرا لپاره د لارښود لوبغاړي د ارادې د ملاتړ یا هڅونې په برخه کې تر سره کیږي. د مثال په توګه داسې یو وضعیت په پام کې ونیسئ چه په ترځ کې کې یې اسد د ځارویو د غلا په هکله فکر کوي، د هغه دوست ددې نظریې ملاتړ کوي او د ګرفتاري د مخنیوي لپاره وړاندیز ورکوي. که چېرې اسد د ځارویو د غلا په مهال په لومه کې لوېږي، جزایي مسؤلیت د هغه دوست ته هم متوجه کیږي.

د جزا قانون ۳۹ ماده د جرم د شریک یا معاون مسؤلیت په دریو غوره برخو وېشي: "(۱) په هغه حالت کې چه یو شخص د جرم د تشکیلوونکو اعمالو څخه په یوه سره تحریک کړي او د همدې تحریک له امله جرم واقع شي. (۲) په هغه حالت کې چه د بل شخص سره د جرم په ارتکاب موافقه وکړي او د همدې موافقې له امله جرم واقع شي. (۳) په هغه حالت کې چه د جرم د فاعل سره په یو ترتیب د جرم د ارتکاب په تجهیزاتي آسانوونکو او تکمیلي عملونو کې په هغې د علم لرلو سره مرسته وکړي او د همدې مرستي له امله جرم واقع شي". په یاد ولرئ چه د اتحاد خلاف، د جرم د شریک د مسؤلیت دا اشکال د جزا په قانون کې ددې مستلزم دي چه جرم په واقعیت کې صورت موندلي وي.

هرکله چه یو شخص په جرم کې د شراکت له امله د مسؤلیت سره مواجه کیږي، د هغه پایلې کېداې شي شدیدې وي. له عملي نقطې نظره د جرم شریک د جرم د اصلي لوبغالي په توګه مجازات کیږي. د جزا قانون د (۱)٤۱ مادې له مخې، "شریک د هغه جرم په مجازات محکومیږي چه په کښې یې شرکت کړي مګر داچه قانون د هغې په خلاف صراحت کړي وي". او په هغه صورت کې چه اصلي مجرم " په هر قانوني دلیل چه وي" له مجازاتو څخه تېښته وکړي، نوموړي له مسؤلیت څخه نه معاف کیږي. پردې سربېره، د ٤۲ مادې سره سم، د جرم شریک د هغه جرم جزایي مسؤلیت لري کوم چه د اصلي فاعل یې مرتکب شوي وي آن تر دې که د اړونده جرم په هکله مخکني توافق وجود هم ونه لري.

ددې قانون تر شا منطق پدې کې دي چه مرتکب شوي جرم او د هغه احتمالي پایلي د وړاندوینې وړ دي. د مثال په توګه، که چېرې امیر له یوه کور څخه د ارزښت وړ یوه فرش د غلا کولو په پلان کې له فتیح نه مرسته تر لاس کوي خو کله چه هغه کور ته ننوزي، امیر د یوې ګړۍ د غلا کولو تصمیم نیسي. پدې حالت کې د جزا د قانون له مخې سره ددې چه د فرش غلا و نه شوه، فتیح په جرم کې شراکت مسؤلیت لري. ددې منطق پدې کې دي چه فتیح د ارزښت وړ مالونو د غلا لپاره د امیر د نقشې په هکله خبر درلود. داد وړاندوینې وړ وه چه امکان لري امیر کورته له ننوتلو وروسته د غلا یو بل کوم قیمتي څیز خوښ کړي که څه هم هغه د ساعت له غلا کولو څخه خبرتیا نه درلوده.

د جرم د سببیت د ټاکلو په مهال د جزا قانون معمولاً د غیر قانوني عمل انساني اړخ ته نظر لري، ځکه چه سببیت ډېر متغیر مفهوم دي او د وخت سره خوځېږي. جزایي مسؤلیت چه د جزا په قانون کې راغلي دي د جرم سره مرسته او لمسون په هکله توپیر لري، ځکه چه سببیت په مسؤلیت کې نه خلاصه کېږي. د جرم شریک کېداي شي مسؤل تشخیص شي آن که هغه له تشویق پرته د جرم مرتکب شوي وي او یا پدې کار کې یې جزئي مرسته تر لاسه کړې وي. دې مسؤلیت ددې اړخ منطق پدې کې دي چه د جرم شریک د مرتکب رفتار د ځان د رفتار لپاره غوره کوي. البته سره ددې هم د جرم شریک باید قانوني (۳۷ ماده)، (۲۷ او ۲۸ مادې)، او معنوي (۳٤ ماده) عناصر بشپړ کړي.

**بیا کتنه : په جرم کې مرسته او لمسونه**

مخکې لدې چه ورپسنۍ برخې ته واوړو، اجازه راکړي یو حالت فرض کړو چه د مرستې او لمسونې ترمنځ پوله ټاکي. حسن په ځایي موزیم په یوه ټولګه کې د یوې ارزښت وړ مجسمې د درلودلو په لټه کې دي. هغه د موزیم یو ناراضي امنیتي ساتونکي عمران پدې متقاعد کوي چه د شا دروازه پرانېستې پرېږدي تر څو وکولاي شي له رسوایي پرته موزیم ته ورننوزي او مجسمه غلا کړي.عمران د وعدې سره سم دروازه پرانېستې پرېږدي. حسن د بېرته ستندېدو په وخت کې پرانېستي کړکۍ ته متوجه کېږي او له هغه لارې څخه موزیم ته پورته کېږي او د انځورګرۍ منظره غلا کوي. آیا پدې غلا کې عمران د جرم شریک ګڼل کېږي؟ ښایي نه. عمران کېداي شي داسې استدلال وکړي چه د حسن سره د هغه مرسته بېلکل بې اغېزې وه او غلا په هېڅ وجه دده په مادي مرستې سره نه ده تر سره شوي. پدې ډول، هغه نباید د جرم د شریک په توګه محاکمه شي. د پام وړ احتمال شته چه محکمه به دا استدلال ومني. سره ددې هم دولت کولاي شي بله نظریه وړاندې کړي: د مرستې په برخه کې د عمران رضایت کېداي شي د حسن د غلا د تشویق باعث شوي وي. لدې امله امکان لري د افغانستان د جزا قانون سره سم، د عمران وینا په یوازېتوب سره د قانوني عنصر لپاره کافي وي. پردې سربېره، څرنګه چه موږ به په ورپسنۍ برخه کې ولولو، شونې ده چه حکومتي څارنوال د حسن او عمران د اتفاق په اثبات بریالي شي او داچه یو او یا هغوي دواړو د اتحاد په رامنځ ته کولو سره ټاکلي ګامون اوچت کړي وي.[9]

## 2. اتفاق

اتفاق په ساده ډول په راتلونکې کې د دوو یا څو حقیقي افرادو ترمنځ په یو جرمي عمل کې د مشارکت یا د ناقانونه لارې څخه د قانوني عمل ارتکاب په هکله توافق ته ویل کېږي. پرته لدې چه په تدریجي توګه د جرم په پلټنه کې کوم اقدامات تر سره شوي وي، د جرم د ارتکاب لپاره توافق پخپله جرم ګڼل کېږي. اتفاق ځینې مهمې پوښتنې را برسېره کوي. څرنګه یو داسې جرم مجازات شي چه واقعیت یې نه وي موندلي؟

[9] Richard G. Singer & John Q. La Fond, *Criminal Law: Examples and Explanations* (4th edition 2007).

مخکې لدې چه يو عمل مجرمانه و ګڼل شي، د جرم په لوري څومره فعاليت بايد تر سره شي؟ آيا جرمي اتفاق يوازې بيان يا بې ضرره اکت په بالقوه او غيرعادلانه توګه مجازات کوي؟

تر اتفاق اړونده احکامو لاندې د مجرميت وسعت تر هغو احکاموچه د جرم شروع په هکله يې مخکې يادونه وشوه ډېر زيات دي.

**د جزا قانون — ٤٩ ماده**

په جرم کې اتفاق عبارت د دوه يا د هغې څخه د زياتو نفرو د متحد کېدو څخه دټاکل شوي يا غير ټاکل شوي جنايت يا جنحې په ارتکاب يا د ذکر شوو جرمونو په تجهيزاتي، آسانتيا برابرولو يا تکميلي عملونو کې اتفاق پدې شرط چه اتفاق منظم او پرله پسې وي که څه هم د جرمي تشکل د مرحلې په پيل کې يا د لنډې مودې لپاره يې صورت موندلي وي.

د ٥٠ مادې پر بنسټ، ″ که څه هم د اتفاق شوي جنايت د ارتکاب په باره کې شروع نه وي شوي″، د جرم د ارتکاب په قصد د پيوستون عمل پخپله جرم دي. د اتفاق لپاره مجازات د جرم د شدت له امله متفاوت دي. د جزا قانون له مخې که چېرې مجمع د جنايت د ارتکاب لپاره تصميم ونيسي، د هغه مجازات کم ترکمه اوه کاله حبس دي. د جنحې لپاره د اتفاق مجازات د جزا قانون له مخې حبس چه له دوو کلونو څخه زيات نه وي يا ٢٤٠٠٠ افغانۍ نغدي جريمه اټکل شوې ده.

## د مباحثې پوښتنې

آيا د اتفاق په هکله د جزا قانون احکام، د دولت لپاره د نظم او قانون د پايښت په برخه کې په کافي اندازه وسيلې اټکل کړې دي؟ که چېرې چارواکي د جرم له پېښېدو څخه مخکې کون کار نشي تر سره کولای، آيا دولت پدې مجبور دي هغو مجرمانه اعمالو ته چه د افغانانو مصؤنيت او شتمني د خطر سره مخامخ کوي، اجازه ورکړي؟

د يادولو وړ ده چه د جزا قانون د اتفاق د دفاع لپاره د تور محدوديت په نظر کې نيولې دي. په ځانګړې توګه، ٥٢ ماده د هغو چا لپاره مصؤنيت چه د جرم د وا قع کېدو مخکې او د پلټنې او لټونې څخه تر مخه پوليسو ته اطلاع ورکړي په ګوته کړي دي. دا احکام داسې هڅونه ده چه د جرمي فعاليتونو د درولو لپاره د پوليسو سره د افرادو د همکاري د تأمين په منظور تر سره کيږي.

په ټولیزه توګه، سمون شوي اتفاق هغه مهال چه د جرمي عمل پیل ته نژدې کېږي، د یو فرد اناقوانونه اعمالو په اړوند د قانون او ټولنیزنظم لپاره زیانمنېدونکي اثرات لري. پردې بنسټ، د جنایتکاره ډلو جوړېدل خطروونه رامنځ ته کوي او باید د هغه مخنیوي وشي که څه هم په عمل کې د هغوي فعالیت د جرم په ارتکاب منجر نشي. که چېرې یو جرم د مخکني توافق د نتیجې په پایله کې رامنځ ته شي، مجازات کېداي شي په انډولیزه یا متناسب ډول شدید اوسي. مثال، د جزا قانون ۴۳۱(۳) او ۴۳۲(۲) مادې په هغه صورت کې چه مجرمان په ډله کې کار کوي، په پام وړ توګه د شامېلېدو او خارج کېدو لپاره مجازات پورته وړي.

اتفاق اکثراً بې ساري او مدلل چلندونه وړاندې کوي. څکه په زاترو مواردو کې د نظر وړ جرمي پروژه هیڅکله هم په بشپړه توګه سرته نه رسېږي. د نتیجې په توګه، یو قاضي کېداي شي په مستقیه توګه داسې شواهد لکه اقرار، شهادت، او د اتفاق د ثبوت لپاره لیکل شوي لیکونه او همدارنګه ضمني مدارك لاس ته راوړي.

بالآخره دا مهمه ده چه د جرمي اتفاق او همغږي ترمنځ توپیر په ګوته شي. جرمي اتفاق د قانون د نقض لپاره د دوو یا ډېرو افرادو ترمنځ توافق دي. همغږي د دوو مقاصدو شتون ته اشاره لري چه په ورته وخت کې له مخکني توافق پرته د جرم د ارتکاب لپاره عمل کوي. پداسې حال کې چه د جزا قانون له مخې دواړه د جزا وړ دي، اتفاق د زیاتېدونکي مجازاتو موضوع تشکیلوي هماغسې چه مخکې یوازې د جرم ارتکاب د پلان کولو په خاطر ورته اشاره وشوه. البته د جرم مرتکب د هر ډول جرمي اعمالو د سرته رسولو له کبله تر مجازاتو لاندې را ځي.

## بیا کتنه : د اتفاق قانون

مخکې لدې چه ورپسني څپرکي ته ولاړ شو، لاندې سناریو مطالعه کړئ. جاوېد او مومن په یوه ځایي رستورانت کې د ماښام ډوډۍ خوري او له عمر څخه هم ډوډۍ خوړلو ته بلنه ورکوي. د خبرو په ترڅ کې معلومه شوه چه هغوي له یوې محلې څخه دي. له ډوډۍ وروسته، محلې ته د بېرته راستنېدو په مهال جاوېد وړاندیز کوي چه د فرعي کوڅې له لارې خپل تګ ته دوام ورکړي او عمر او مومن هم دا وړاندیز مني. کله چه هغوي فرعي کوڅې ته راګرزي، جاوېد پر عمر برید کوي او هغه لوټوي. بدې ترڅ کې یعنې د برید په مهال مومن کثافت داني د هغوي مخې تهاېردي تر څو لارویان د جاوېد کړنې ونه ویني. آیا پدې پېښه کې جاوېد او مومن د پر عمر باندې د برید او لوټولو لپاره اتفاق کړي دي او که نه؟

ځواب د شك وړ دي. څکه چه اتفاق د مخکني توافق په هکله شواهدو ته اړتیا لري چه د ګډ جرمي مقصد منعکس کوونکي وي. دا سمه ده چه توافق لزوماً د ارتباطاتو څرګند عمل ته اړتیا نه لري، ولې قاضي کولاي شي د مخکنیو سازمان ورکړل شوو فعالیتونو څخه د یو توافق شتون استنباط کړي. پدې حال کې د حقایقو پر بنسټ داسې ښکارې چه د جاوېد برید او د عمر لوټول یو فوري تصمیم وو چه د مومن سره د مخکني توافق

حکايت نه کوي. پردې بنسټ، ليرې ښکاري چه محکمه د يو مخکني توافق شتون تاييد کړي. په نتيجه کې جاوېد او مومن دواړه په زيات احتمال د اتفاق له مجازاتو تبرئه شي. البته داچه مومن په څرګنده د جاوېد ناقانونه عمل سره مرسته کړې، مومن د جزا قانون د احکامو له مخې د جرم د شريک په توګه محکوميږي.

## د بحث راغونډيدا

پدې څپرکي کې د جزا په قانون کې د جرمونو د شننې او تجزيې لپاره د اړتيا ټول اطلاعات تاسو ته وړاندې شوي ترڅو ددې معلوماتو څخه د هغو قضيو لپاره چه تاسو ورسره مخامخ کيږي کار واخلي او جرمونه تر قانوني پلټنې يا تعقيب لاندې ونيسي. دا مهارتونه د ځانګړي اهميت درلودونکي دي ځکه چه تاسو په افغانستان کې غوره جرمونه په پنځم څپرکي کې به په تفصيل سره مطالعه کړي.[10]

[10] Richard G. Singer & John Q. La Fond, *Criminal Law: Examples and Explanations* (4th edition 2007).

## اصطلاحات

- **مستمر جرم – Continuous offense:** هغه جرمدی چه الزاماً د یوې ټکلې زمانی دورې به رتڅ کې رامنځ ته کیږی.
- **جنایت – Felony:** هغه جرم دی چه مجازات یی له پنځه کاله حبس څخه زیات وی.
- **شروع په جرم – Inchoate offense:** هغه جرم دی چه لا په بشپړه توګه نه وی رامنځ ته شوی او په هڅه او دسیسه کې راځی.
- **قانونی عنصر – Legal element:** د جرم یو عنصر دی چه په رسمی توګه د افغانستان په قوانینو کې د جرم په توګه ګڼل کیږی.
- **مادی عنصر – Material element:** د جرم یوعنصر دی چه په کې (مثبتو اعمال او یا انصراف) شامل دی او د مجرم د مجازاتو په خاطر هغه ته ضرورت دی.
- **معنوی عنصر – Mental element:** د جرم یو عنصر دی چه د جرم د ارتکاب لپاره د شخص په قصد پورې اړه لری.
- **جنحه – Misdemeanor:** هغه جرم دی چه جزایی له دریو میاشتو څخه تر پنځو کلونو حبس او یا حد اقل 3000 افغانی نغدی جریمه اټکل کیږی.
- **فوری جرم – Momentary offense:** هغه جرم دی چه په یوه شیبه کې واقع کیږی او پایښت یا تداوم ته اړه نه لری.
- **انصراف یا دفعل ترک – Omission:** د خپلې خوښی یو عمل دی خو صورت نه مومی، د یو عمل په سرته رسولو کې کمزوری چه د قانون له مخې د مجازاتو وړ ده.
- **د قباحت جرم – Petty offense:** داسې جرم دی چه مجازات یی له 24 ساعت څخه تر دریو میشاتو حبس او 3000 افغانی نغدی جریمه اټکل شوې ده.

# اخځليك او معلوماتی سرچينې

Afghanistan Justice Sector Support Program, “Afghanistan’s Criminal Justice System,” May 21, 2007.

Afghanistan Legal Documents Exchange Center (available at http://www.afghanistantranslation.com/).

Official Website of the Ministry of Justice (available at http://www.moj.gov.af/).

Faiz Ahmed, Judicial Reform in Afghanistan, 29 Hastings Int’l & Comp. Law Review 93.

Yahaya Yunusa Bambale, Crime and Punishment under Islamic Law, p.6 (Lagos: Malthouse Books, 2003)

Alexander K. Bernard et al., An Introduction to the Law of Afghanistan, (2008).

Marcus Dubber and Mark Kelman, American Criminal Law, Foundation Press 2005.

Hossein Gholami, Basics of Afghan Law and Criminal Justice, <www.auswaertiges-amt.de/diplo/de/Aussenpolitik/RegionaleSchwerpunkte/AfghanistanZentralasien/Downloads/Polizei-Legal-Manual.pdf>.

Hesham Nasr, “Lectures on Penal Law Part I: Introduction to the Penal Law.”

Nagaty Sanad, The Theory of Crime and Criminal Responsibility in Islamic Law: Shari’a , University of Illinois-Chicago 1991.

Richard G. Singer and John Q La Fond, Criminal Law Examples and Explanation: Fourth Edition, (2007).

Franklin E. Zimring and Gordon J. Hawkins, Incapacitation: Penal Confinement and the Restraint of Crime (1995).

United States Department of State, Afghanistan Justice Sector Support Program, Briefing Report, May 21, 2007.

United States Department of State, Afghanistan Justice Sector Support Program, Briefing Report, Oct. 10, 2007.

USAID, Afghanistan Rule of Law Project, Field Study of Informal and Customary Justice in Afghanistan, April 2005.

The Constitution of Afghanistan, January 3, 2004, < http://www.afghanistantranslation.com/>.

The Penal Code of Afghanistan, October 7, 1976.

## دریم څپرکی

## جزایي مسؤلیت



دا څپرکی د جزایی مسؤلیت په ارزښتونو او غوره اصولو په تمرکز سره د هغو اعمالو پایلې بررسی کوی چه په جزا قانون کې د جرم په توګه پېژندل شوی دی. همدا شانې دا څپرکی د جزایی مسؤیت د محدودیتونو د سریزې په توګه ګڼل کیږی. د محصلینو لپاره ښایی چه د جزا په قانون کې تر حقیقی اشخاصو نه زیات د حکمی شخصیتونو لکه لوی شرکتونه او یا د کارګری اتحادیو جرم اړوند ځانګړی اعمال په نقادانه توګه تر کتنې لاندې ونیسی. د څپرکی له پای ته رسېدو وروسته، محصلین باید پدې وتوننېږی چه د جزا په قانون کې بنسټیز شوی چلندونه توضیح او د جزا د قانون د ښه والی لپاره وړاندیزونه ولری.

دریم څپرکی د جزا په قانون کې د جزایی مسؤلیت په یوې ټولیزې کتنې سره پیل کیږی او ورپسې د جزایی مسؤلیت په اړوند محدودیتونه د جزا قانون توجیه کوونکو احکامو لکه ښښه، د لېونتوب حالت، صغر، نېشه، اجبار او (حقیقی اشخاصو)اضطرار باندې پر ټینګار سره تر یوه بریده په تفصیل سره وړاندې کوی.

## د لوست تمرکز

ددې فصل له پای ته رسېدو وروسته لاندې پوښتنو ته ځواب ووایاست:

د دولت لپاره د هغه د اعمالو په خاطر د یوه شخص نیول په څه معنی دی؟ آیا د جرمونو د یوه داسې لیکل شوی لېست درلودل چه پکې د هر یوه جرم لپاره ځانګړی مجازات ښودل شوی وی مهم دی؟ دا ډول قواعد تر کومې اندازې باید مفصل وی؟ آیا دا ډول قواعد باید د انعطاف او یا نه انعطاف وړ وی؟ د قضایی سیستم له لارې یو واحد چلند څرنګه کولای شی د عدلی پلټنې د را ټیټېدو یا زیاوتېدو سره مرسته وکړی؟
غوره تعریفونه –لومړنی جزایی مسؤلیت څه شی دی؟

پدې څپرکی کې د جزایی مسؤلیت په اړه تمرکز پر اصلی مجرم باندې کیږی. په مخکنی څپرکی کې بحث او خبرې اترې در په یاد کړی. د جرم اصل مرتکب په څه معنا دی؟ د جزا قانون ښیی چه مجرم هغه وخت اصلی مجرم ګڼل کیږی چه: په هغه حالت کې چه په یوازې توګه یا د بل شخص په شرکت د جرم ارتکاب کوونکی و ګرځي، او ۲) په هغه حالت کې چه د جرمي عمل په ارتکاب کې په داسې توګه مداخله وکړي چه د جرم د تشکیلوونکو اعمالو له جملې څخه قصداً د یوه ارتکاب کوونکي و ګرځي.»

آیا د اصلی مجرم او د جرم د شریک ترمنځ توپیر شته؟ آیا د جزا قانون په ټولیزه توګه د اصلی عاملانو او د هغوی د ملاترو رفتار یو شان بولی؟ آیا داسې چلند د توجیه وړ دی؟

## I. د جرم مسؤلیت

د جرمي عمل له امله مسؤلیت په څه معنا دی؟ د جزا د قانون ۳۸ ماده د لومړني مجرمیت لپاره اساسي شرایط په ګوته کوي. ددې مادې له مخې یو فرد هغه وخت د جرم فاعل ګڼل کیږي چه: ۱.) « په هغه حالت کې چه په یوازې توګه یا د بل شخص په شرکت د جرم ارتکاب کوونکی و ګرځي. ۲.) په هغه حالت کې چه د جرمي عمل په ارتکاب کې په داسې توګه مداخله وکړي چه د جرم د تشکیلوونکو اعمالو له جملې څخه قصداً د یوه ارتکاب کوونکي و ګرځي.» وروستنی قید یا شرط داسې انګیري چه جرمي عمل د دوو یا زیاتو افرادو پواسطه تر سره کیږي. پدې توګه، په هغه حالت کې چه یوشخص د جرم د عنصرونو په ارتکاب سره د جرم په تر سره کېدوکې مرسته وکړي، نو هغه که ښځه وي یا نارینه د جرم اصلي فاعل ګڼل کیږي که څه هم نوموړي د جرم د نورو پاتې عنصرونو ارتکاب کوونکی نه وي.

که څه هم چه دا موضوع به وروسته په تفصیل سره بیان شي، که د ۳۸ مادې شرایط تحقق هم ومومي، د غیر قانوني اعمالو په استثناء په ځانګړو شرایطو کې کېدای شي چه یو شخص په بشپړه توګه یا بېلکل مسؤل و نه ګڼل شی. ولې بیا هم مخکې تر دې چه د جرم د مسؤلیت اړونده محدودیتونو په هکله خبرې وکړو، دا مهمه ده تر څو د جرم د مسؤلیت له یو شمېر مهمو اصولو څخه یادونه وشي : لکه د قانون څخه بې خبري عذر نه ګڼل کیږي او د قانون په وړاندې د برابری اصل.

حقوقي نظام پر دې فرض ولاړ دی چه خلک باید له قانون څخه خبر وي او که قانون ماتوي، دوی دا کار د اختیار له مخې تر سره کوي. پدې توګه، له قانون څخه بې خبرې عذر نه ګڼل کیږي. هر څوک په آسانی سره ویلی شي چه له قانون څخه خبر ندي، او که په داسې ویلو سره خپل ځان له جرم څخه تبرئه شي، بیا نو د ټاکلو شواهدو له شتون پرته د یوچا د درواغو یا رښتیا ویلو معلومول نا شوني ښکاري. همدا رنګه داچه د جزا د قانون ډېری بندیزونه د عمومي اخلاقیاتو او ټولنیزو ارزښتونو عام تفسیر دی، ددې تمه کیږي چه زیات شمېر وګړي به د اړونده موضوع په سموالي او غلطي پوهیږي.

ښکاره خبره ده چه د یوې ټاکلې موضوع په هکله د هر اړونده قانون او اصولو په هکله د بشپړو معلوماتو درلودل آن د هغو افرادو لپاره چه د قانون په هکله رسمي تعلیمات هم لري ناشونې ده. هغه اشخاص چه د غیر عمدي جرایمو مسؤلیت په غاړه لري، دا مطلب په ګوته کوي چه د مدعی علیه عمدی ړوندوالی د برأت اساس نشي جوړېدای. پدې ترتیب، اوس دا خبره ښه څرګنده ده هغه اشخاص چه داسې کارونه لکه د فارم جوړول یا سوداګري چه د یو نورمال شخص لپاره غیر عادي ګڼل کیږي، پیل کوي دوی یو لړ قوانینو ته ضرورت لري تر څو له هغو سره سم خپل کار په قانوني توګه پر مخ بوزي. که چېرې داسې و نه کړي، د دوی رفتار د جزایي مسؤلیت موجب ګرځي او پدې حالت کې د مسؤلیت څخه د خلاصون هېڅ دلیل نه لري. همدارنګه، دکترین وایي چه د نظر وړ قوانین باید په مناسب ډول چاپ او خپاره شي، د مثال په توګه اړونده قوانین باید په رسمي جریده کې چاپ شي او د خلکو د کار او بار په ځای کې د لاس رسي وړ وي او یا هم داسې چه په مناسب نرخ یی خلک تر لاسه کړي شي. بالآخره سره ددې چه بې خبري د ګناه د رامنځ ته کیدومخنیوی نشي کولای، دا موضوع کله چه محکمه تورن مجازات کوي په ځانګړي توګه کله

چه قانون مبهم وي یا داچه تورن د عمل له ارتکاب نه مخکې له حکومتي مامورینو څخه  د سلا مشورې د اخیستلو په لټه کې وي د پام او کتنې وړ خبره ده.

د قانون په وړاندې برابري یو بل بنسټیز اصل دی. په واقعیت کې باید کوښښ  وشي تر څو په افغانستان او آن په نړۍ کې قانوني برابري تحقق وومومي. د افغانستان د ۲۰۰۴ کال اساسي قانون ۲۲ ماده وایي: « د افغانستان د اتباعو ترمنځ هر راز تبعیض او امتیاز منع دی. د افغانستان اتباع ښځې او نارینه د قانون په وړاندې مساوي حقوق او وجایب لري.» همدارنګه افغانستان د بشري حقونو د نړیوالې اعلامیی د ۱ او ۲ مادو او د مدنی او سیاسي حقونو د کنوانسیون د ۲ او ۳ مادو لاسلیک کوونکی هېواد دي. دا حکمونه د قانون په وړاندې د برابري په اصل ټینګار کوي. هر حقوقي نظام د قانون په وړاندې د برابري له شتون پرته پخپل ذات کې غیر عادلانه دی. اشخاص هېڅکله پدې ډاډه ندي چه محاکماتي نظام به د دوی سره څه ډول چلند کوي. عین عمل کېدای شي په متفاوت ډول سره مجازات شی چه ټولنیزې منفي پایلې به ولري.

## II. د جزایی مسؤلیت محدودیتونه

د پاس یادشوو دوو مسؤلیتونو په نظر مې نیولو سره وګوری چه آیا هغه رفتار چه په ټولیزه توګه د جزا یه قانون کې ممنوع اټکل شوی د منلو وړ دی. د ۵۰۰۰ کسانو یو کلی په نظر کې ونیسی چه د سېل اوبو ورانېدو له خطر سره مخامخ دی. ددې ښار د ژغورولو لپاره طارق په قصدی توګه د سېل اوبو بهیر د ظاهر د کېښت لوری ته اړوی چه د کېښت ټول محصل له منځه وړی.  په نتیجه کې ویلای شو چه طارق د بی ګناه افرادو د ځان ژغورنې د ستاینې وړ مقصد لپاره د بل چا مال ته زیان رسولی دی. آیا پدې حالت کې طارق د خپل رفتار په خاطر جزایی مسؤلیت په غاړه لری؟

څرنګه چه به وروسته وګورو، په جزایی مسؤلیت کې ځانګړی محدودیتونه شتون لری. دا محدودیتونه که د اجر ا وړ وی، د یو مجرم دجزایی مسؤلیت راکمولای شی او آن تر دې چه له جزایی مسؤلیت څخه د یو مجرم په بشپړې تبریه تمامیږی. پردې بنسټ په افغانستان کې د جزا قانون وایی چه ځینې وختونه افراد نباید د هغوی د رفتار په خاطر که څه هم د نظر وړ رفتار د جزایی مسؤلیت ټول شرایط هم پوره کړی مجرم وپېژندل شی. پدې حالت کې موږ وایو چه اړونده شخص د مثبتې دفاع څخه برخمن دی که نه رفتار جرم ګڼل کیږی.

د جزایی مسؤلیت دا محدودیتونه یا مثبت دفاع په دوو نظری کتګوریو وېشل کیږي. توجیه پدې معنا ده چه اړونده رفتار په ځانګړو شرایطو کې مطلوب دی او د مجازاتو لپاره هېڅ دلیل وجود نه لری. عذر داسې ایده ده چه د هغه پر بنسټ تورن د خپل ناقانون رفتار له امله جزایی مسؤلیت نه لری  ځکه نوموړی د یوې ځانګړی حالت درلودونکی دی چه هغه تبریه کوی.

پدې توګه مهمه ده په یاد ولرو چه د توجیه او عذر له لارې د دفاع د تورن په واک کې یوازنۍ وسیلې ندی. د دفاع نور موارد چه د نفې کوونکی عنصر درلودونکی دفاع په نوم یادېږی، دداسې استدلالاتو درلودونکی دی چه د هغه له مخې څارنوال د محکوم کولو لپاره ټول عناصر نشی ثابت کولای. د تورن دا ډول دفاع کولای شی د تور یو یا زیات شمېر عناصر رد کړی. د نفی کوونکی عنصر درلودونکی دفاع د ډېری واقعی جنبه لری او لدې امله دلته تر بحث لاندې نه نیول کېږی.

## 1. توجیه

د توجیهې پر بنسټ دفاع له مخې یو فرد د جرم مسؤل ندی، که څه هم لدې حالت پرته د نظر وړ عمل جرم ګڼل کېږی. توجیه د ځانګړو جرمونو د ارتکاب د مواردو ټولګه وړاندې کوی. د مثال په توګه، عمدی سړی وژنه قتل ګڼل کېږی. بیا هم که ارتکاب د ځانی دفاع په خاطر وی جرم نه ګڼل کېږی. د توجیهې څلور ډولونه وجود لری: (۱) له قانونی حقونو څه د یو شخص برخمن تیا (۲) د رسمی مقاماتو دستور (۳) له ځانه دفاع او (۴) ضرورت.

### له قانونی حقونو څخه برخمن تیا

په ډېره عامه توګه، ټولنه د جرمی صفت لرونکی عمل د کمزوری کولو په لټه کې ده. که چېرې د یو عمل پایله عادلانه وی، داسې عمل د جزا قانون له مخې جرم نه ګڼل کېږی. د ښوې منظمې او پایښت وړ ټولنې لپاره لازمه ده تر څو یو شمېر ټاکلی حقونه رامنځ ته کړی او په مناسبو قانونی قواعدو سره یی حمایت او عملی کړی که څه دا ډول حقونه په بل حالت کې جرم ګڼل کېږی. دا شانې نشو کولای چه له بېرون تګ څخه د خپلو اطفالو د مخنیوی په خاطر، مور او پلار محکوم کړو. همدارنګه د غاښو ډاکتر د ناروغ د خوښې او بشپړ رضایت په صورت کې د مجازاتو وړ ندی سره ددې چه د عملیاتو په ترڅ کې په خپل عمل سره ډاکتر د ناروغ لپاره د ډېرو دردونو سبب کېږی. د عملی کېدو کوم حقونه د جزا په قانون کې په ګوته شوی دی؟

**د جزا قانون – ۵۴ ماده (لنډیز)**

د حقونو د عملی کېدو په اړه د اعتبار وړ څلور حالتونه:

1. د پلار او مور تأدیب.
2. طبی عملیات.
3. د قانونی فعالیتونو تر سره کول.

4. د جرم له ارتکاب څخه مخکز د مجرمانو نیول.

د جز ا قانون اجازه ورکوی چه مور اوپلار په ځانګړو شرایطو کې د خپل اولاد د تنبیه لپاره د معقول زور څخه د ګټې اخیستلو حق لری. دا ډول مجازات باید د طفل د رفتار د ښه کېدو لپاره وی. مور او پلار له خپلو اطفالو څخه د ناوړه ګټې اخیستنې او یا پر هغوی باندې د بې اندازې درد او رنج تېلو حق نه لری. د قانون پر بنسټ، یوازې د طفل پلار او ښوونکی د قانونی مجازاتو حق لری. مجازات باید د شریعت او قانون په حدودو کې صورت ومومی. پردې بنسټ د مشروع زور څخه ګټه اخیستل، په محدودو شرایطو کې یوه تأدیبې طریقه ده . سره ددې، د جزا قانون د مور او پلار او یا هر بل کس له لوری د ناوړه ګټې اخیستل منع کړی دی.

طبی عملیات د جرم په توګه نه پېژندل کېږی پدې شرط چه پخپله د ناروغ او یا د هغه د وکیل یا استازی په خوښه تر سره شی. سربېره پردی، ډاکتر باید دې عملیاتو په ترڅ کې ټول حرفوی اواخلاقی مقررات او اصول مراعات کړی.

د سپورتی لوبو له کبله رامنځ ته شوی زیان هم د جرم په توګه نه ګڼل کېږی پدې شرط که اړونده سپورت پخپله قانونی وی او د هغه قواعد د کتنې وړ وی. پدې توګه که چېرې په افغانستان کې فوټبال قانونی دی او د فوټبال د لوبې په ترڅ کې یو لوبغالی بل لوبغالی پداسې حال کې چه د لوبې ټول مقررات یې مراعات کړی وی زیانمن کړی، لومړی لوبغالی د رسیدلی زیان له امله جزایی مسؤلیت نه لری. له بلې خوا که چېرې یو لوبغالی د تاوتریخوالی پکاراچولو سره یو بل لوبغالی د لوبې د سیالی په ترڅ کې د منل شوو قواعدو خلاف تر برید لاندې راشی، پدې حالت کې رامنځ ته شوې پېښه د جزا قانون له مخې پلټل کېږی.

په دی انډ، د جرم د ارتکاب په مهال د یو چا نیول یا ګرفتاری د قانونی حقونو د اعمال یو معتبر عمل ګڼل کېږی. په آرمانی توګه ټولې جرمی ګرفتاری د قانونی یو واکمن مقام د مخکنی اجازې پر بسټ تر سره کېږی. په ورته وخت کې کله چه پولیس د مجرمانو سره د جرم د ارتکاب په مهال مخامخ کېږی، د مجرم نیول باید سمدلاسه ترسره شی، پدې شرط چه تورن جنایت او جنحې جرم ته لاس اچولی وی او د اجرا وړ ټول اصول او مقررات په ځانګړې توګه د جزایی اجراآتو قانون د پولیسو قانون او د جزا قانون مراعات شی.

## د مباحثې پوښتنې

۱. آیا تاسو موافق یاستی چه ددې حقونو اعمال د قانون پواسطه حمایت شی؟ آیا د مدون شوو حکمونو خلاف ددې حقونود څخه ناوړه ګټه اخیستل کېږی او یا داچه دا حقونه له اندازې زیات محدود دی؟

**۲. آیا د حقونو اضافی اعمال وجود لری داسې چه د جزا قانون له مخې د جدی دفاع وړ وی؟**

## د رسمی مقاماتو لارښود

څرنګه چه په زیاترو حکومتونو او نورو لویو سازمانونو کې د افغانستان اداری سیستم د مراتبو د سلسلې سره سم عمل کوی. په زیات احتمال سره دولتی بنسټونه او پراخه ټولنیز نظم له اوامرو څخه د سرغړونې په صورت کې سقوط کوی. پدې خاطر دا قانون دی چه د لوړ پوړو چارواکو او تر لاندې مامورینو یا کارمندانو ترمنځ اړیکی تنظیموی البته د هغه څه د اجرا په ګټه چه معتبر اوامر ګڼل کیږی. پدې ډول هر کله چه لوړ پوړی قانونی چارواکی قانونی لارښوونې صادروی او مادون مراجع هغه په سمه سره تطبیق کوی، د هیڅ ډول جزایی مسؤلیت موضوع نه رامنځ ته کیږی. د مثال په توګه، کله چه یو لوړ نظامی افسر د ډزې کولو امر کوی او ترې لاندې افسر د امر سره سم عمل کوی، د جزایی مسؤلیت هیڅ ډول موضوع نه رامنځ ته کیږی پدې شرط چه اوامر او دهغه اجرا له قانون پلوه د توجیه وړ وی.

دا موضوع چه کوم کس مسؤل دی هغه مهال اهمیت تر لاسه کوی چه لوړ مقام امر په څرګنده روښآنه او یا یو څه ناقانونه وی. د جزا قانون ۵۶ ماده څلور مورده په ګوته کوی چه په هغه کې مادون د لوړ مقام د ناقانونه دستور د اجرا په صورت کې تبریه کوی.

**د جزا قانون – ۵۶ ماده (لنډیز)**

د خپل آمر د ناقانونه امر په عملی کولو د مادون مامور عمل جرم نه ګڼل کیږی، که چیرې:

۱. واکمن مقام امر صادر کړی وی.
۲. مامور نیکه اراده ولری او د اوامرو اجرا د نوموړی له قانونی واک څخه وی.
۳. مؤظف مامور مکلف دی ثابته کړی چه د جرمی عمل د مشروعیت په هکله دده باور له معقول اسباب څخه دی او د هغه ارتکاب له لازم احتیاط وروسته تر سره شوې.
۴. مامور د حکم په قانون د واکمنو مقاماتو پر او اوامرو باندې د اعتراض حق و نه لری.

د هغه مواردو په هکله چه د جزا قانون په ۵۶ ماده کې تسجیل شوی دی، لوړ مقام او یا په یوه اداره کې د امر د صادرېدو مرجع، د جرمی او یا ناقانونه عمل مسؤلیت په غاړه لری نه مادون مامور. سره ددې هم دې دا ډول اوامرو څخه د عدول په هکله د مادون مامور لاسونه تړلی نه دی. د جزا قانون ۵۶ (۳) ماده وایی چه مادون مامورین د کتنې په وخت کې باید مطمئن شی چه د لوړو مقاماتو صادر شوی اوامر قانونی دی. کله چه مادون مامورین غیر قانونی هدایت تر لاسه کوی، هغوی د داسې هدایت یا دستور باندې په اعتراض او

اجرا کولو پر مخ نیوی باندې مؤظف دی. سره ددې هم که چېرې هغوی نا قانونه اوامر ته ادامه ورکړی، قانون د هغوی د قانونی پلټنې په هکله هېڅ ډول احکام ندی په ګوته کړی. آیا دا کار عادلانه دی؟ پدې هکله کوم ډول تحقیق او بررسی ته اړتیا ده؟

پدې توګه د جزا قانون رسمی مقاماتو ته د خپلو دندو په اجرا کې د پام وړ تېښتې لار برابره کړې ده. په ورته وخت کې، پردې ټکی ټینګار کول مهم دی چه هېڅ څیز د جزا او یا نورو اړونده قوانینو کې دولتی چارو‌واکو ته اجازه نه ورکیو تر څو د خپل واک څخه ناوړه ګټه واخلی. په واقعیت کې، د جزا قانون خپله لاره پرمخ بیایی تر څو یقینی شی چه د نقض څرګند ټول موارد د مجازاتو وړ دی.

## ځانی دفاع

له ځان څخه دفاع د توجیی وړ ده که نه هغه یو ناقانونه عمل ګڼل کیږی او د یوې ضروری ادعا په تو ګه په ورپسنی برخه کې تر بحث لاندې نیول کیږی. په واقعیت کې دا کار له ځان څخه دفاع د ضرورت په توګه مرسته کوی. د یو ضروت په توګه له ځانه دفاع یو مرستندویه توجیه ده. که نه چېرې ثابته شی چه له ځان څخه د دفاع یو ناقانونه رفتار صورت موندلی د جزا قانون له مخې دا شان رفتار قانونی ګڼل کیږی.

د ضرورت او ځانی دفاع ترمنځ د ورته والی با وجود، د یادولو وړ ده چه د جزا قانون له مخې دځانی دفاع د اوصافو  یادونه وشی. د جزا قانون د ۵۷ مادې سره سم، لدې څخه غیر عمل که چېرې د تورن کس دفاع له ځان څخه وی، د تورن د جزایی مسؤلیت باعث نه کیږی.پداسې حال کې که چېرې د پولیسو یو افسر او یاهم یو بل کوم حکومتی چارواکی د تر خطر لاندې د یوه فرد دفاع نشی کولای، هغه فرد حق لری او آن پر دې مؤظف دی چه له ځانه او همدارنګه  په ورته حالت  کې له نورو څخه دفاع وکړی. ۵۸ ماده لا نور هم له ځان څخه د دفاع نور پارامترونه هم بیانوی:" د مشروع دفاع د تهدید لاندې شخص ته اجازه ورکوی چه د لازمو وسیلو د استعمال څخه ددفاع په منظور د هر جرمی عمل څخه چه ځانی او مالی ضرر یا خطر دفاع کوونکی ته یا بل شخص ته تولید کې استفاده وکړی".

د جزا قانون له ۵۷ تر ۶۴ مادو پورې د ځانی دفاع په هکله دی.  ۵۷ ماده پدې هکله د اساسی موضوع بیانوونکې ده: " د جرمی عمل ارتکاب د مشروعې دفاع د حق د استعمال په منظور جرم نه ګڼل کیږی". سره ددې بېځایه ښکاری چه یو شخص له ځان څخه د دفاع په خاطر مجازات شی. باید ووایو چه له ځان خخه د دفاع ټول موارد د اعتبار وړ نه دی. په ۵۹(۱) ماده کې پدې اړه وی کیږی چه: " د مشروع دفاع حق هغه وخت موجودیږی چه دفاع کوونکی په معقولو سببونو او منطقی دلیلونو یقین وکړی چه دفاع کوونکی یا بل شخص ته په مال، ځان او ناموس د تېری خطر متوجه دی". ددې ټکی په یاد ساتل ضروری دی چه یو شخص کولای شی د دفاع د یواقدام په اړوند د ځان او یا د نورو په دفاع استناد وکړی.

د ۵۹ او ۶۰ مادو کې راغلی قواعد، د له ځان څخه د دفاع معقول عنصر بیانوی.

**د جزا قانون – ۶۰ ماده (لنډيز)**

1. چه دفاع د حملې او تېری په مقابل کې وی
2. چه دفاع د تهديدوونکی د خطر سره متناسبه وی
3. چه دفاع يوازې د خطر د ليرې کېدو وسيله وی
4. چه دفاع د مقابل د حملې سره په يو وخت کې وی
5. چه دفاع د قانون خلاف او غير عادلانه عمل په مقابل کې وی
6. چه دفاع کوونکی عمداً د مقابلې خوا جرمی عمل د پيداکېدلو سبب شوی نه وی.

له ځان څخه د دفاع په هکله د معتبرو ادعاوو لا زيات محدوديتونه، د عمومی امنيت په تأمين کې د دولت بې ساری رول په ګوته کی. مثال، ۶۲ ماده پدې هکله و ايی:"که د عمومی خدمتونو مؤظفينو ته رسېدل د خطر د ليرې کولو په منظور ممکن وی، د مشروع دفاع حق نه پيداکيږی". همداشانی له ځان څخه دفاع، او د عمومی سلطې مؤظفينو په مقابل کې له زور څخه کار اخيستل د توجيه وړ نه دی. " د مشروعه دفاع د عمومی سلطې د مؤظفينو په مقابل کې چه خپله وظيفه په ښه نيت ترسره کوی جواز نه لری که څه هم د وظيفې په جريان کې د خپل قانونی صلاحيت د حدودو څخه تېری وکړی..." (۶۳ ماده)له زور څخه استفاده  مواردو تر شا منطق پدې کې دی چه که چېرې د حکومت کارکوونکو خلاف له زور څخه کار واخيستل شی نتيجه به يی په ټولنه کې پراخه بې نظمی وی.

له ځان څخه د دفاع يوه ادعا کېدای شی د محکمې حکم تر اغېزې لاندې راولی. له ځانه دفاع کولای شی د راکموونکی يو لامل په توګه عمل وکړی آن په هغو حالاتو کې که د مدعی عليه رفتار له ځان خخه د دفاع ټول هغه شرايط چه په ۶۰ ماده کې ياد ونه شوې هم پوره نه کړی. ډېری ليدل شوی دی چه هرکله چه يومجرمانه عمل له ځان څخه د دفاع د يو اقدام په توګه پيل کيږی، خو وروسته پراخه کزږی او په يو مجرمانه عمل بدلېږی څکه تورن له ځان څخه د دفاع لپاره تراندازې زيات زور څخه کار اخلی. ۶۴ ماده د هغو چا د مجازاتو کمښت ته اشاره کوی چه په ښه نيت سره تر اندازې زيات له ځان او يا له بل ]ا څخه دفاع کوی. يو حالت په نظر کې ونيسی چه د هغه په ترڅ کې د سديد په نوم يو سړی د يو بل چا له لوری لوټ کيږی او نوموړی خطروی که پيسې ور نه کړی هغه به ووهی. سديد د چاقو په راکښلو سره غبرګون ښيی اوپه دې شېبه کې بريد کوونکی د تېښتی پرېکړه کوی. سديد له ځان څخه د دفاع په مقصد بريد کوونکی سخت ټپی کوی. پدې حالت کې داسې برېښی، چه سديد به مجازات کيږی. پدی حال کې په زيات احتمال يو عادی شخص ته زيان رسولو په پرتله، هغه به د پام وړ لنډ مهاله جزا سره مجازات شی. لاندې موضوع هم په نظر کې ونيسي.

## بیا کتنه – له ځان څخه د دفاع قانون

داسې و انګیرئ چه خالد بازار ته د تلو په مهال د قادر سره مخامخ کیږي. قادر چاقو را وباسی او په زور خالد کوڅې ته کوی او له هغه څخه د بیسو غوښتنه کوی. خالد ګرمه وسله را وباسی او قادر په ډزو سره وژنی. آیا دا له ځان څخه د دفاع یوه معتبره بېلګه ده؟ په زیات احتمال، تر څو پورې چه د وسلې درلودل قانونی وی. خالد د جدی، زورواکی او بې سببه برید بې ګناه قربانی ده او له هغه څخه د موجه تېښتې هېڅ ډول لاره نشته.

اوس اجازه راکړئ پورتنی حقایق داسې فرض کړو چه خالد ګرمه وسله نه لری. د هغه پرځای، هغه په غېږ نیولو سره له قادر څخه چاقو اخلی او وروسته نوموړی وژنی. آیا د جزا قانون له مخې دا له ځانه څخه د دفاع یوه معتبره بېلګه ده؟ کېدای شی. خالد په ښکاره تر مرګونی برید لاندې وو، خو دا چه بیا خالد چاقو لاس ته راوړی، کم تر کمه بیا دا مورد د بحث وړ دی چه هغه کولای شول په خوندیتوب سره ولاړ شی او یا داچه پکارول شوې ځواک له حده ډېر وو. له بلې خوا شرایطو ته په پام سره، خالد کولای شول داسې یوې منطقی نتیجې ته ورسیږی چه ښایی قادر آن د مرګونې وسلې سره دوام ورکړی، مګر داچه خالد هغه ودروی.[11]

### د مباحثې پوښتنې

۱. یو قضایی سیستم باید څرنګه وی چه په هغه کې جرمی اعمال په بل ډول هیڅکله توجیه او یا د بخښنې لاندې را نه شی، بلکه یوازی کم یا نتزیل ومومی؟ کوم ډول اندېښنې کېدای شی رامنځ ته شی که چېرې د جزایی مسؤلیت د توجیه او معافیت چلند تر اندازې زیات ملایم او یا انعطاف منونکی وی؟ آیا د جزا قانون د تخفیف یا انعطاف او مسؤلیت ترمنځ اغیزمن تعادل یا انډول ته قایل شوی دی؟

۲. آیا د حق د اعمال په هکله د جزا قانون رسمی دستورونه، ځانی دفاع اوسنی امنیتی وضعیت او په هېواد کې د حکومت حالت په نظر کې لری؟ که چېرې نظر ولری، تاسو د جزا په قانون کې د جرمی اعمالو د توجیه په اړوند کوم تغییرات پیشنهاد کوی؟

## ضرورت

د جزا قانون وایی چه یو شخص نه یوازې د وقوع په صورت کې د مجرمیت په منلو مکلف دی بلکه باید په خپل وخت د پېښې د رامنځ ته کېدو په ځای کې د اړونده مسؤلو مقاماتو د حاضرېدو انتظار هم ولری.د کلی د ژغورلو لپاره د طارق پواسطه د کښت د له منځه وړلو مخکنی یاده شوې فرضیه، کېدای شی ستاسو

[11] Richard G. Singer and John Q La Fond, Criminal Law Examples and Explanations: Fourth Edition, (2007).

انګېرنه داسې وی چه طارق باید د جزایی مسؤلیت سره مخامخ نشی ځکه چه د نوموړی رفتار د ځان او مال د ژغورلو لپاره ضروری وو. که چېرې داسې وی، بیا نو تاسو حق په جانب یاستئ – قانون دفاع د ضرورت تر نامه لاندې منی. کله چه یو فرد په بریالیتوب سره ضروری دفاع سرته رسوی، پدې حالت کې هېڅ ډول جزایی مسؤلیت شتون نه لری ځکه چه قانون د ځانګړو شرایطو لاندې د تورن کس رفتار ناقانونه نه بولی. پردې بنسټ د دفاع ضرورت ورستنی توجیه ده.

د جزا قانون ۹۵ ماده حکم کوی: " که یو شخص د خپل ځان یا خپل مال یا د بل چا د ځان یا مال د خلاصون په منظور د داسې لوی اوسملاسی خطر سره مخامخ شی چه بې د جرمی عمل د ارتکاب څخه د هغې په دفع کولو قادر نه وی مسؤل نه ګڼل کېږی. په دې شرط چه عمداً د ذکر شوی خطر د پیدا کېدو سبب شوی نه وی او د کوم ضرر څخه چه ځان ژغوری د هغه ضرر څخه زیات شدید وی چه له جرم څخه پیداکېږی" .

د ضروری دفاع لپاره څلور غوره عنصرونه وجود لری:

لومړی، تورن باید دا وښیی هغه زیان چه نوموړی یی د دفع په لټه کې دی د ناقانونه رفتار له خطر یا خطر څخه زیات دی. زموږ د فرضی قضیی په اړوند د اپدې معنا ده چه طارق باید دا ثابته کړی  چه کلی ته د سېل رسېدلو بالقوه خطر، تر کښت نه زیات دی.

دوهم، تورن باید دا وښیی چه نوموړی تر اوسه پورې هېڅ معقول بدیل ندی پیداکړی. که چېرې طارق کولی شو چه په آسانی سره د سېل اوبه بل لوری ته واړوی، د کښت له منځه تلل د توجیه وړ نه وو.

دریم، تورن باید په ګوته کړی چه د خطر په تېرېدو سره، هغه منع شوی رفتار ژر تر ژره دروی. پدې توګه که چېرې طارق تر سېل لاندې د کښت لاندې کول د ګواښ له منح تللو تر ناوخته پورې دوام ورکړی و، د نوموړی دا ډول غیر ضروری رفتار د توجیه وړ نه وو.

څلورم، تورن باید وښیی چه نوموړی د هغه خطر د رامنځ ته کېدو باعث ندی چه غواړی مخه یی ونیسی. په بل عبارت، طارق  د کلی د ژغورنې په خاطر د کښت د له منځه تلو جزایی مسؤلیت څخه نشی تښتېدلای. د مثال په توګه، که چېرې نوموړی د سېل په وړاندې هغه بند وران کړی وای چه د اوږدې مودې لپاره یی کلی د سېل له بهییر څخه خوندی ساتلی وو، نو پدې حالت کې مسؤل ګڼل کېده.

همداشانې ددې مطلب درک کول کېدای شی ګټور وی چه ضرورت د " شر انتخاب" د ادعا په توګه وی. هغه څوک (ډېری جرمی تورن) چه د جدی ګواښونو سره مخامخه کېږی، بالمقابل (په هغه درجې سره چه هر کس پداسې شرایطو کې "انتخاب" کوی) د ځواب داسې طریقه انتخابوی چه په بل حالت کې جرم ګڼل

کېږي. که چېرې د مدعی علیه پواسطه رسېدلی زیان لږ وي، او یا کم ترکمه د رامنځ ته شوی زیان په پرتله زیات نه وي، پداسې حال کې چه رسېدلی زیان له دې حالت پرته منع کړل شوی وي، تورن کولای شی د ضرورت باور وړ ادعا ولری. پدې حالت کې تورن " کم شر" غوره کړی دی. د یادشوې فرضیې په هکله د کلی د ژغورنې په مقصد د " کم شر" په توګه د طارق پواسطه د کښت له منځه تلل غوره شوی دی.

**د مباحثې پوښتنې**

آیا د جزا قانون د توجیې احکام د قانون د نقض ټولو موقعیتونو لپاره په کافی اندازه انعطاف منونکی دی؟ او یا داچه ددې باعث کېږی تر څو خلک د بل بدیل د نه شتون په دلیل، د توجیه نه وړ جرمی فعالیتونو کې را ښکېل شی؟

## 2. بخښنه

څرنګه چه مخکې وویل شوی، له جزایی مسؤلیت څخه بخښنه پدې معنا ده چه په یوه جرمی عمل کې د تورن د ګډون د احتمال باوجود، قانون دا په ډاګه کوی چه نومړی که نر وی او یا ښځه مسؤل ندی. د جزا قانون ۶۶ ماده پدې اړوند وایی چه: "د جزایی مسئولیت مانع دادراك دیوه عارضی د پیدا کیدو څخه یا ادرادی دورکیدو د یوه اسباب څخه پیدا کیږی ". په بل عبارت، ۶۶ ماده ښیی که چېرې محکمه سمه بخښنه و ټاکی، بیا وروسته که څه هم تورن د یو مجرمانه عمل مرتکب شی، هغه جزایی مسؤلیت په غاړه نه لری. په ورته وخت کې تورن د روانی حالت په دلیل له جزایی مسؤلیت څخه معاف کېږی. پدې ډول، موږ ویلای شو چه په ټولیزه توګه، توجیه د تور په شرایطو یا څرنګوالی پورې تړلی ده، پداسې حال کې چه په ټولیزه توګه بخښنه لزوماً د تورن او د هغه د قصد د راپیداکېدو سره سر او کار لری.

لاندې برخې د بخښنې د دفاع پنځو بېلابېلو ډولونو سره تړاو لری: ۱) لیونتوب او عقلی بېماری، ۲)نیشه ، ۳) کوچنی توب یا د عمر کموالی، ۴) اکراه /اجبار

### <u>لیونتوب او عقلی بېماری</u>

څرنګه چه پاس یی یادونه وشوه، د جزا قانون داسې انګېری چه افراد پردې پوهېږی چه د جرمی فعالیتونو په هکله تصمیم نیونه د آزادې روحیې یا ارادې درلودونکې ده. د جزا ټولې نظریی چه په لومړی څپرکی کې توضیح شوې، پر پوهې او غوراوی ولاړې دی. پداسې حال کې چه په زیاترو مواردو کې د مجرم ظرفیت او د قانون نقض روښانه په نظر راځی، لېونتوب او قانونی عقلی بېماری او یا د آزادې ارادې پکارول تر آزمایښت لاندې نیسی. په ځانګړې توګه د (۱)۶۷ مادې په نظر کې نیولو سره،" که شخص د جرم د ارتکاب

په وخت کې د لېونتوب یا نورو عقلی مرضونو په سبب ادراک او شعور و نه لری، جزایی مسؤلیت نه لری نه مجازات کیږی". پردې اساس، لېونتوب د جزایی مسؤلیت رفع کوونکی دی. البته سره ددې هم په ټولیزه توګه یو لېونی شخص ځان او یا ټولنې ته د زیان رسولو د مخنیوی په خاطر د مدنی محدودیتونو موضع جوړېدای شی.

د ۶۷ مادې پوهېدنه آسانه ده : ټولنه نه غواړی هغه څوک چه د خپل عمل مفهوم نشی درک کولای مجازات کړی.د داسې کار سرته رسول زموږ تصور د وړتیا له سکوندېلو څخه منحرفوی. د مثال په توګه، آیا لازمه ده شخص ملامت وګڼو یا بیماری ملامته شی؟ آیا موږ ته ښایی یو څوک د ناورغی له امله مجازات کړو؟ دا چه طبی جمعیت د مختلفو دماغی ناروغیو یو شمېر ناروغی د شدت له مخې تشخیص کوی، دا ستونزمنه ده چه د دماغی ناروغیو په وړاندی یو واحد چلند تر لاس لاندې ونیول شی.

لېونتوب داسې یوه ناروغی ده چه په هغه کې افراد نشی کولای په وضاحت سره هغه اړیکی چه ټولنیز ژوند پرې ولاړ دی، او دا چه د هغوی دا اقدامات پر نورو څه اغېزه لری، درک کړی. پدې ډول د لیونتوب یوه برخه کلتوری ده. د پوهې ټیټه کچه هم دماغی اختلال مشخص کولای شی. په دماغی اختلای اخته شخص کېدای شی د ټولنیزو نورمونو په یوې برخې او یا هېڅ و نه پوهېږی.

پداسې حال کې چه امکان لری د دوو کسانو د دماغی اختلالاتو ناروغی تشخیص شی، داسې چه لومړی کس په زیاته اندازه او دوهم کس بېلکل له کاره لوېدلی وی. نو بیا پدې صورت کې آیا دا سمه ده چه هغوی دواړو سره د یو شان قانونی سټاندردونو له مخې چلند وشی. اګر چه د جزا قانون د داسې شرایطو وړاندوینه کوی چه د هغه په ترڅ کې دماغی ناروغی د مجازاتو مانع کیږی، دماغی اختلال په زیاترو مواردو کې د جزایی مسؤلیت مطلق مانع نشی جوړېدای بلکه ذهنی ستونزې د جزا قانون د ۶۷ (۳) مادې پر اساس، د مجازاتو د تخفیف کوونکی عنصر په توګه عمل کوی. سره ددې دا حکم بیاهم په ۶۷(۳) ماده کې محدودوونکی موضوع ده، چه بیانوی د مجازاتو وړ ټول اخلاقی جرمونه د قانون پر بنسټ ندی.

د قضایی حوزو په زیاترو حوضو کې محکمې د مجرمانو په توګه د خلاف کارانو د تشخیص لپاره د ذهنی یا دماغی کارپوهانو په موندنو او معایناتو باندی تکیه کوی. په افغانستان کې قاضیان د لېونی څخه د ملاتړ په خاطر د موجودو شواهدو پر بنسټ عمل کوی. اکثراً دا ارزونه د تورن پر ظرفیت پېژندنې ته زیات پام لری تر څو د درست او غلط ترمنځ توپیر وکړی او دې توپیر په درک سره عمل وکړی. که چېرې دا وړتیاوی وجود و نه لری، تورن به په زیات احتمال سره لېونی مجرم پېژندل کیږی او او د خپل ناقانونه رفتار له امله ملامت نه ګڼل کیږی.

همدارنګه د مجرم دماغی حالت کېدای شی د جرم له ارتکاب وروسته د جزایی مسؤلیت د مخنیوی او یا ځنډ سبب شی آن که اړونده شخص د جرم د ارتکاب په مهال ذهنی پرېشانی هم و نه لری. څرنګه چه د

۲۰۰۴ کال جزا یی محکاماتو د لنډ مهاله اصولو  په ۴۴ ماده کې راغلی، که چېرې تورن له کومې دماغی ناروغی څخه رنځ وړی داسې چه د محکمې په مهال د دفاع کولو خنډ ګرځی، قاضی کولای شی محاکمه و ځنډوی ( یا ودروی). پدې حالت کې تورن دماغی حالت معینه کیږی. که چېرې معاینه دا وښیی چه تورن په رښتیا هم د داسې دماغی ناروغی څخه رنځ وړی چه د نوموړی د دفاعیی د وړاندې کولو خنډ ګرځی، محاکمه تر هغه وخت پورې ځنډول کیږی تر څو تورن په محکمه کې له ځان څخه د دفاع وړتیا تر لاسه کړی .

سره ددې باید وویل شی چه د محکمې پرانیستل د تورن د دماغی حالت د بررسی لپاره یو آزمایښت دی. د محاکمې د بهییر د مخ بېولو واک یو ډول څارنه ده چه د هغه له مخې د جرم د ارتکاب په مهال د تورن دماغی حالت معلومېدای شی. پدې توګه، پداسې حال کې چه که یو ځل د تورن کس ناتوانی تشخیص شوې وی، دا شونې ده چه د وخت په تېرېدو سره له ناروغی نجات پیدا کړی او په محاکمه کې د دفاع وړتیا لاس ته راوړی. هغه تورن کس چه د جرم د ارتکاب په مهال لېونی تشخیص شوی وی، هیڅکله هم د جرم په خاطر ملامت نه پېژندل کیږی. پداسې حال کې چه دا دوه بېل حالتونه دی خو یو او بل نه ردوی. کېدای شی چه تورن دواړه حالتونه یعنی د جرم د ارتکاب په مهال لېنوتوب او د محاکمې په مهال د دماغی یا ذهنی ناوړتیا درلودونکی وی.

## د مباحثې پوښتنې

آیا دماغی ناروغان د اخلاقی جرمونو په وړاندې خوندی یا مصؤن دی؟ تر ټولو لوړ لومړیتوب کوم دی: د ټولنې ساتنه، د دماغی ناروغنو درملنه یا نورې کتنې؟ دا لومړیتوبونه څرنګه متوازن یا متعادل کېدای شی؟ آیا د جزا قانون په اوسنی وخت کې د هغوی ترمنځ د انډول په رامنځ ته کولو کې کوم کار تر سره کړی؟

## نېشه

الکل او نور درمل کولای شی د شخص پر رفتار اغېز ولری چه په ټولنیز او اخلاقی زغم فېزیکی کړنو او قضاوت پر څرنګوالی کې راڅرګندیږی. له الکولو او پر ذهن باندې د نورو اثر اچوونکو توکو څخه کار اخیستل، د جزایی عدالت په برخه کې واقعی ستوزې رامنځ ته کوی.

د جزا په قانون کې د راغلو الزاماتو پرته، دا موضوع د پام وړ ده چه آیا کولای شو یو مست یا نېشه فرد کېدای شی د خپل عمل په خاطر مجازات او یا کمه سزا ورکړل شی. په ټولیزه توګه نېشه داسې یو حالت دی چه په ترڅ کې د الکلو یا نېشه ای توکو د کارولو په نتیجه کې د یو فرد د طبعی کړنو وړتیا او یا عقل

اغېزمن کېږي. بې له شکه چه نېشه د فرد پر رواني حالت اغېزه کوی او په نتیجه کې د نورو زیاتو جرمون لپاره د اړین قصد د تشکل لپاره، قابلیت له منځه وړی.
د ډېرو دلایلو پر بنسټ، دا حالت د لېونتوب په هکله د مخکني سوال څخه لا زیات مشکل رامنځ ته کوی، اګر چه نېشه شخص کېدای شی په هماغه اندازه د جزایی مسؤلیت لپاره د قصد په تشکل کې ناتوانه وی. نېشه که له الکلو څخه وی یا نېشه ای توکو تجویز شوو درملو او یا نورو وسیلو څخه – په ارادی او یا غیر ارادی توګه انسان پرې اخته کېږی. پداسې حال کې چه لېنوتب په بشپړه توګه غیر ارادی دی.

د جزا قانون دا توپیر منی. د جزا قانون ۶۸(۱) ماده پدې هکله داسې وایی: ″ که شخص د جرم د ارتکاب په وخت کې د نزشه ای یا مخدره موادو د استعمال په سبب خپل ادراک او شعور د لاسه ورکوی، نو په هغه حالت کې چه استعمال یی په زور یا د ارتکاب کوونکی په بی علمی صورت موندلی وی نه مجازات کېږی″. دا شانې، غیر ارادی نېشه ممکن د جزایی مسؤلیت لپاره مطلق خنډ رامنځ ته کړی پدې شرط چه نېشه په کافی اندازه شدیده وی.

د نېشې غیر ارادی ماهیت د معتبرې دفاع غوره عنصر دی. کله چه د جرمی اعمالو مرتکبین یو فرد یا افراد په خپله خوښه د نېشه ای توکو تر اغیز لاندې وی، د معمول سره سم هغوی د هر ډول جرمی رفتار له امله نه بخښل کېږی. په واقعیت کې، د ځینو درملو او یا الکلو څخه ګټه اخیستل، په زیات احتمال پخپله جرم نه ګڼل کېږی. پدې اړوند د جزا قانون ۳۴۹ ماده حکم کوی: ″ که څوک مخدره یا نېشه ای مواد استعمال کړی د دریو میاشتو څخه تر شپږو میاشتو پورې حبس یا د دری زرو افغانیو څخه تر شپږو زرو افغانیو پورې په نقدی جزا یا په دواړو جزاګانو محکومېږی. مګر داچه په قانون کې بل ډول حکم شوی وی″. همدا ډول پدې هکله ۶۹(۱) ماده زیاتوی: ″که یو شخص نېشه ای یا مخدره مواد پخپله اراده استعمال کړی، د جرم ارتکاب کوونکی وګرځی مسؤل دی او داسې ګڼل کېږی لکه چه د پوره ادراک او شعور په حالت کې د جرم ارتکاب کوونکی وی″. پردې سربېره، له الکلو څخه نمایشی ګټه اخیستل په زیات احتمال د بلې دفاع اثبات لا نور هم مشکل کوی ځکه ډېری دفاع ګانې ثبوت ته اړتیا لری تر څو وښیی چه د نظر وړ شخص د یو عادی فرد په شان رفتار درلود کوم څه چه د د الکلو د استفادې په صورت کې کم احتمال لری.

## د مباحثې پوښتنې

۱. پداسې حال کې چه په تیوری کې یو څه روښانه ده چه غیر ارادی نېشه په عمل کې ځینې ستونزمنې مسلې په عمل کې مطرح کوی. د یو شخص د نېشې حالت باید څرنګه وی تر څو له جزایی مسءلیت خخه خلاص شی؟ آیا د تورن رفتار باید په بشپړه توګه وبخښل شی او یا یوازې د هغه مجازات راکم شی؟

۲. قانون له تورن څخه غواړي چه دا وښيي غیر ارادی نښه د شخص په آګاهانه کړنو کې د اختلال سبب ګرځی. آیا دا یوه عادلانه فرضیه ده چه تورن د نښې په خاطر د هېڅ ډول سزا وړ ندی او په زیات احتما سره چه د خپل لاس قربانی دی؟

۳. تر کومی اندازې باید افراد له هغه حالتونو څخه خبر وی چه په مستی سره منجر کیږی ؟ د مثال په توګه، که چیرې تاسو ته یو دوست د چښلو اوبه در کوی او تاسو د باور له مخې هغه چښی او نښه کیږی، آیا دا یوه غیر ارادی نښه ګڼل کیږی؟ آیا تاسو د تحقیق اوبیا کتنې دنده لری؟ دا ستونزمنې پوښتنې دی چه روښانه ځواب نه لری او په ځانګړو مواردو کې د طرح وړ دی.

## صغر (عمر)

آن د کم عمر درلودونکی اطفال کولای شی مضر او د ټولنې خلاف فتنه اچوونکی اعمل لکه ویجاړتیا او یا کوچنی غلاګانې تر ډېرد جدی جرمونو لکه جنسی تېری او یا قتل پورې تر سره کړی. پدې ترڅ کې، اطفال تل د جزا تر قانون لاندې تر مجازاتو لاندې نه راځی. څرنګه چه مخکې ورته اشاره وشوه، د افغانستان قوانین په یو فرد باندې د جزایی مسؤلیت تر تحمیلولو مخکې د تورن د مضر رفتار په اړوند د لا زیاتو توضیحاتو غوښتونکی دی.

د یو فرد د ناقانونه رفتار د جزایی مسؤلیت د معلومولو لپاره د سم او ناسم تر منځ د توپیر په هکله خبرتیا ډېره مهمه ده. د اطفالو د رفتار په نظر کې نیولو سره ښکاره ده چه هغوی ډېری د هوښیاری، قضاوت، عاطفی بلوغ او د پرېکړو کولو لپاره د اخلاقی لازمې وړتیا څخه بې برخې وی چه دا بیا پخپل وار سره د سم او ناسم څخه د کامل مفهوم د جوړېدو سره تړاو لری. د جزا قانون دا واقعیت درک کړی او پردې اساس زیات شمېر احکام یی د اطفالو، نوو ځوانانو او ځوانانو سره د جزایی عدالت په سیستم کې تسجیل کړی دی. بیا هم، دا احکام د اطفالو د سرغړونې په قانون سره عوض شول. دا قانون په ۲۰۰۵ کال کې په ۸۴۶ ګڼه رسمی جریده کې خپور شوی دی. لدې امله زموږ بحث پدې برخه کې د دې قانون په ډېرو مهمو احکامو باندې تمرکز کوی.

په ځینو مواردو کې فرد باید خپل ټول قانونی مسؤلیتونه و منی. د اطفالو د سرغړونو د رسیدګی قانون په نظر کې نیولو سره، بلوغ په ۱۸ کلنی کې پیل کیږی. پر دې اساس هر فرد چه ۱۸ کلنی ته نه وی رسېدلای، د قانون له نظره طفل ګڼل کیږی او د هغه هر ډول مجرمانه اعمال د جزا قانون پر ځای باید د اطفالود سرغړونو د رسیدګی دقانون له مخې بررسی شی. د اطفالود سرغړونو د رسیدګی قانون د اطفالو دری کتګوری بېلوی: ۱) غیر ممیز طفل (تر اوه کلنی کم عمره طفل) ، ۲) ممیز طفل (د ۷ او ۱۲ کلونو ترمنځ طفل)، ۳)نوی ځوان (د دوولس او اته لس کلونو ترمنځ طفل). د اطفالو د هرې کتګوری په نظر کې نیلو سره، د هغوی مجازات هم یو تر بله توپیر لری.

د اطفالود سرغړونو د رسیدګۍ قانون د ۵(۱) مادې پر بنسټ، ″ هغه شخص چه د دولس کلنۍ سن یی نه وی بشپړ کړی، د جرم ارتکاب په صورت کې ورته جزایی مسؤلیت نه راجع کېږی ″. پدې ترڅ کې دا ماده زیاتوی که چېرې د طفل رفتار د مور او پلار د غفلت له امله وی او د مالی زیان سبب ګرځی، مور او پلار د هغه په جبران مکلف دی. دا بالقوه مکلفیت پر دې ایده باندې ولاړ دی چه پلار او مور د خپلو اولادونو ځینې مسؤلیتونه په غاړه لری او افرادو ته د هغوی له لوری په رسېدلی زیان په جبران کولو مکلف دی.

په ځینو مواردو کې په ځانګړې توګه د ځوانو اطفالو لپاره جزایی مسؤلیت د یو مطلق خنډ په توګه مطرح کېدای شی. تر ۱۲ کلنی پورته نوی ځوانان د خپلو اعمالو په وړاندې جزایی مسؤلیت لری، خو د بالغ مجرمانو په پرتله زیات حقوقی ملاتړ د ځان سره لری. د اطفالود سرغړونو د رسیدګی قانون ۸ ماده داسې وایی: ″ د طفل حجز د هغه د اصلاح او روزنې د حل د وروستنۍ لارې په توګه ګڼل کېږي، محکمه د حجز د مودې په ټاکلو کې ددې قانون د حکمونو مطابق د هغه د شونی (ممکنه) حد اقل موده په پام کې نیسی″ . پردې بنسټ د یو نوی ځوان مجرم سره د چلند په مهال آن د ځینو جدی جرمونو څخه ډډه کېږی، مګر داچه په کامل صورت سره ضروری وی. د لزوم په وخت کې ″ ″. په لنډه ویلای شو چه د اطفالود سرغړونو د رسیدګۍ قانون د مجرم اصلاح په ښکاره غوره ګڼی او د عامه ټولنیزو خدماتو مرکزونو له لارې د نویو ځوانانو لپاره د زده کړې زمینه برابروی. ۷ ماده په ښکاره وایی : ″ د طفل مجازات حتی د اصلاح او روزنی په منظور په شدید ډول او له سپکاوی سره جواز نه لری″.

د نویو ځوانانو د حبس جزا باید په پام وړ ډول له هغې جزا څخه کمه وی چه د لوړ عمر لرونکی شخص ته د عین جرم په خاطر ورکول کېږی. د اطفالو د سرغړونو د رسیدګۍ قانون په ۳۹ ماده کې ویل کېږی چه د د ۱۲ او ۱۶ کلونو ترمنځ د نویو ځوانانو د حبس حکم صادرېدل نه باید د جزا په قانون کې د مقررې جزا د حد اکثر یو په دریو څخه زیات وی. د ۱۶ او ۱۸ کلونو ترمنځ د تورنو د مجازاتو حکم نه باید حد اکثر د جزا قانون له نیمایی څخه زیات وی. سربېره پردې، د اطفالو د سرغړونو د رسیدګی قانون له مخې هیڅ طفل په اوږد (ابدی) حبس او یا اعدام نه محکومیږی.

پداسې حال کې چه د محاکماتو اصول ددې درسی کتاب له بحث څخه بهر دی، دا د یادولو وړ ده چه د اطفالو د سرغړونو د رسیدګی قانون دوهم او دریم څپرکی د اطفالو د قضیواړوند محاکماتی اصولو لپاره د تحقیق ، ګرفتاری او محاکمی پړاوونو په بهیر کې د اطفالو د ملاتړ لپاره ځانګړی قواعد په نظر کې نیولی دی.

بې له شکه، د اطفالو د سرغړونو د رسیدګی قانون یو مترقی تقنینی سند دی. خو د قانون د نورو ډېرو عرصو په شان، پدې قانون کې هم د قانون د متن او د ځوانانو په اړوند د هغه د پلې کولو د څرنګوالی ترمنځ د پام وړ توپیر شته. د ″ د اطفالو لپاره عدالت : د اطفالو وضعیت په افغانستان د قانون سره په تضاد کې ″ تر سریک لاندې د افغانستان بشری حقونو د خپلواک کمیسیون او د ملګرو ملتو د اطفالو بسپنې صندوق د ۲۰۰۸ کال

ګڼه د راپور وايي چه داطفالو د عدالت د ادارې په برخه کې جدی ستونزې شته. دا راپور زياتوی چه "د بشری حقونو د خپلواک کميسيون څارنه په ګوته کوی چه په قانون کې راغلی ډېری حکمونه نه پلی کېږی او دا چه له تصويب څخه دوه کاله وروسته، د اطفالو د سرغړونو د رسيدګی قانون د پلی کولو مسؤل چارواکی آن ددې قانون له احکامو څخه پوره خبرتيا نه لری". پردې سربېره، دا راپور ښيی چه په جزا محکوم شوو اطفالو څخه فېزيکی او کاری ناوړه ګټه اخيستنه يو عادی کار ګڼل کېږی. " د مثال په توګه، د وهلو ټکولو ٪۴۸ ، د ناوړه کاری ګټه اخيستنې ٪۸ راپور ورکړ شوی دی". د نويو ځوانانو قضايی سکتور همغږی کمزورې ده او د اطفالو د سرغړونو د قانونی رسيدګی محدوديتونو باوجود د حبس څخه پراخه ګټه اخيستنه لا هم دوام لری. په افغانستان کې د بشری سرچينو د شديدو محدوديتونو او ماتېدونکی امنيتی وضعيت ته په پام سره، د اطفالو او نويو ځوانانو عدالت ادارې ښه والی لپاره بايد څه وشی؟

## د مباحثې پوښتنې

**۱.** آيا د اطفالو د سرغړونو د رسيدګی په قانون کې د عمر دری مقولې معقوليت لری؟ آيا ۱۲ کلن طفل د ۱۷ کلن مجرم مجازاتو سره د يو شان سزا وړ دی؟ آيا د اور لګونې يو ۱۷ کلن مرتکب واقعاً له ۱۸ کلن څخه لږ ملامت دی؟

## اجبار

کېدای شی چه د دفاع يا تبريی لپاره اجبار تر ټولو ساده عذر وی. د جزا قانون په ټولو شرايطو کې د اتلوالی غوښتنه نه کوی. د مثال په توګه، آيا کولای شو يو شخص چه يو چا د هغه د سر د پاسه ټوپک نيولی وی او هغه غلا ته اړ باسی، د مجرم په توګه محکوم کړو؟ په زيات احتمال سره نه. د جزا قانون حکم کوی چه افراد کېدای شی د خپلې ارادې خلاف د جرم په ارتکاب مجبور شی. ددې تمه نه کېږی چه خلک پخله خوښه ځان مړ کړی او يا د ژغورنې وړ رنځ و زغمی آن که دا ژغورنه د جرم د ارتکاب په معنا هم وی. د جزا قانون **۹۴**په ماده کې راغلی دی:" که شخص د مادی يا معنوی قوې د تاثير لاندې چه دفع کول يی په بل ډول ممکن نه وی د جرم په ارتکاب مجبور وګرځی مسؤل نه ګڼل کېږی". په واقعيت کې، د جزا قانون له مخې مجرم هغه شخص دی چه په اغېزمنه توګه فرد د خپلې ارادې خلاف يوه مجرمانه عمل ته اړ باسی نه پخپله لوبغالی.

په ټوليزه توګه، په محکمه کې د اجبار پر بنسټ د بريالی دفاع لپاره، شخص هغو عناصرو ته ورته چه مخکنی برخه د ضرورت په اړوند پرې بحث وشو ثابت کړی. په واقعيت کې، ځينې قانون پوهان پدې باور دی چه دوې دفاع ګانی په اصل کې برابرې دی، يوازې د هغوی ترمنځ توپير پدې کې دیچه اجبار داسې يو حالت تر پوښښ لاندې نيسی چه په هغه کې بيرونی ځواک منبع بل انسان (او يا د هغه د اقدام پايله) وی، پداسې

حال کې چه ضرورت داسې شرایط په بر کې نیسی چه په هغه بیرونی ځواک، فزیکی ځواک او د انسان له کنترول څخه بهر دی.آیا تاسو ددې نظر لید سره چه هغوی د ماهیت له لحاظه یو شان دی موافق یاستي؟

محصلین باید ددې فورمول سره یو څه په احتیاط چلند وکړی ځکه چه د توجیې څخه د دفاع او بخښنې ترمنځ نظری توپیر موضوع مغشوش کوی – د معمول سره سم ضرورت د موجه دفاع په توګه تعریف شوی پداسې حال کې چه اجبار د بخښنې د دفاع په توګه تعریف کېږی – اما د هغو په باره کې پدې طریقه فکر کول امکان لری ګټور وی په هغه صورت کې چه تاسو د ضرورت او اجبار ترمنځ د توپیر ستونزه ولری. له کومه ځایه چه اجبار د بخښنې عمل پرته جزایی عمل ګڼل کېږی، ګواښ باید: ۱.ښکاره او یا قریب الوقوع، ۲.غیر قانونی، ۳. له روانی لحاظه د روغ شخص پواسطه رامنځ ته شی. پردې سربېره د جرم له ارتکاب پرته د ګواښ سره د مقابلې بل هېڅ لاره موجوده نه وی.

## بیا کتنه: د اجبار او ضرورت ترمنځ توپیر

د اجبار او ضرورت ترمنځ دوه توپیره شتون لری: لومړی د ضرورت په اړه، د وژلو او جسمی زیان رسولو ګواښ ته جدی اړتیا نشته.که په واقعیت کې تورن کس تر تمه شوی زیان څخه کم رامنځ ته کړی، د ضرورت ادعا رامنځ ته کېږی. پردې بنسټ که چېرې جاهد په سخت طوفان کې خپله وزه په یوه کوټه کې تړلی وی او وزه کوټې ته تاوان ورسوی ( که نه، د وزې مړینه د زیات ارزښت د له منځ تلو سبب کېده)، نوموړی د ملکیت د عمدی و بجاړتیا لپاره ضروری دفاع لری. په یاد ولری دا چه جاهد پدې حالت کې له ضرورت څخه سېوا د خپلې شخصی ګټې لپاره عمل کوی، هغه د رامنځ ته شوی تاوان په ورکولو مکلف دی. بیا هم داچه د هغه اقدامات د توجیې وړ وو، جزایی مسؤلیت نه ورته متوجه کېږی. که چېرې جاهد په بېړنیو حالاتو کې له ضرورت څخه سېوا عمل کړی وای، د تاوان له ورکولو څخه هم معاف کېده.

دوهم، که څه هم ضرورت د ګواښ تاوان او رامنځ ته شوی تاوان ترمنځ پرتله ایز یا مقایسوی تجزیې او تحلیل ته اړتیا لری، یوازې د ژوند او یا شخص په ګواښ پورې د ضرورت محدود کولو لپاره هېڅ دلیل نشته. پدې ډول ضرورت کېدای شی په هغه مواردو کې چه فشار مناسب بربښی، د حقوقی ادعا د مخکنۍ فرضیې په توګه کار ورکړی. د مثال په توګه، که چېرې آرین د حفیظ سره مرسته وکړی چه د موزیم د یو لرغونی قیمتی اثر د خرابولو په ځای پیسې غلا کړی، آرین د اجبار له ادعا څخه بې برخې کېږی ځکه چه هغه هیڅکله هم د ګواښ سره مخامخ نه وو. بیا هم آرین له مزیم څخه د پیسو د غلا کولو په برتله د هنری اثر د تاون په هکله د محکمې د ارزونی د څرنګوالی په نظر کې نیولو سره، بیا هم د ضرورت معتبره ادعا لاس ته راوړلای شی.[12]

[12] Richard G. Singer and John Q La Fond, Criminal Law Examples and Explanation: Fourth Edition, (2007).

### 3. د عدلی اداري په وړاندې ننګونې – د سرچینو محدودیتونه

د نویو ځوانانو عدالت په برخه کې وویل شول چه د سرچینو محدودیت د اطفالو د ۲۰۰۵ کال په قانون کې د اطفالو د اغېزمنی عدلی اداري په برخه کې یوه غوره خنډ دی. خو ستونزه یوازې د نویو ځوانانو سره اړه نه لري. د سرچینو کموالی په ټولیزه توګه د جزایی عدالت نظام لپاره یوه ستره ستونزه ده. پداسې حال کې چه د حکومت ډېرې برخې د سرچینو د ورته کموالی سره فعالیت کوی، ستونزه هغه مهال څرګندہ تر نظر راځی چه موضوع په مستقیمه توګه د آزادی او عدالت موضوع ګانو سره اړه پیداکوی. د مثال په توګه د شکمنو کسانو یوازې کم شمېر چه د کال په اوږدو کې نیول کېږی، د سلام او مشوری هغه مرسته چه اساسی قانون یی یادونه کړې تر لاس کوی. د مسلکی مدافع وکیلانو نشتوالی د حقوق پوهانو د کمښت سره تړاو لری. موجود شواهد ښیی چه دا موضوع د مدافع وکیلانو لپاره یو جدی پرابلم ګڼل کېږی. پدې څېرکی او نورو ځایونو کې د قانونی توجیی او حقونو په هکله بحث خپل ارزښت راکموی که چېرې تورن په محکمه کې د مسلکی مدافع وکیل خدماتو ته لاس رسی و نه لری.

د سرچینو نشتوالی د مدافع وکیلانو څخه سېوا مطرح دی. قضایه قوه د تحقیقاتو لپاره اړونده حقوقی موادو ته د لاس رسی جدی اړتیا لری. د مثال په توګه ددې درسی کتاب په اوږدو کې د جزا قانون بحث چه تر دیرش کاله ډېره سابقه لری، د ټولنې په اوسنیو شرایطو کې د جزایی عدلی سیستم د کړنو د څرنګوالی په هکله د مهمو بدلونو په اړوند د حکومت او ټولنېز نظر د منعکس کولو په برخه کې د ستونزو سره مخامخ دی. لیکل شوو موادو ته د لاس رسی نشتوالی قاضیان دې ته اړ باسی چه پخوانیو قوانینو ته (که چېرې موجود وی چه نشته) مراجعه او یا یوازې پخپلو تجربو استناد وکړی. په مدون قانون کې بدلون لزوماً د عدالت د پلی کېدو څرنګولی په تغییر نه ختمېږی. په واقعیت کې دا کار کابو ناشونی دی چه قانونی اصلاحات د نوی عدلی سیستم د مسؤلینو پواسطه چه له قوانینو څخه خبر ندی، په اغېزمنه توګه عملی شی.

اګر چه د بین المللی سازمانونو د مرستې هڅې په زیات شمېر هېوادونو کې امنیتی ما تېدونکو شرایطو کې د خنډونو سره مخامخ شوی دی، خو بیا هم هغوی په قضایی اصلاحاتو کې مهم رول لوبوی. د قاضیانو زیات شمېر له بین المللی سازمانونو څخه زده کړه او ښوونه تر لاسه کړی. بهرنی مرستندویانو په ټول افغانستان کې د محکمو په جوړولو کې مرسته کړې ده. په ورته موخت کې، په افغانستان کې قانونی او عملی بنسټونه باید پدې اصلاحاتو کې غوره رول و لوبوی. د عامه پوهاوی د کچه لوړول او د اساسی قانون له احکامو څخه درست درک د اصلاحاتو د پآیښت سره مرسته کوی. سربېره پردې، د فساد سره د حکومت هر اړخیزه مبارزه پر قضایی سیستم باندې د باور زیاتولو په برخه کې مهم رول لری. که چېرې وګړی په قضایی سیستم باندې باور و نه لری، له هغه څخه تر لاسه شوی نتیجې پوښتنې رامنځ ته کوی.

## III. د حکمی اشخاصو جزایی مسؤلیت

آیا حکمی اشخص لکه حکومت یا شرکت جزایی مسؤلیت لری؟ که چېرې حکمی اشخاص جزایی مسؤلیت لری، هغوی ته څه ډول مجازات ورکول کېږی؟

د حقوق پوهانو یو شمېر داسې فرض کوی چه د جرمی عمل ارتکاب انسانی وصف دی، لدې امله غیر انسانان او حکمی اشخاص په جرم نه محکومېږی. پردې سربېره که اصلاحات د مجازاتو غوره موخې په توگه عمل کوی، دا کار له فنی لحاظه ناشونی دی چه حکمی شخص اسلاح شی، یوازې افراد د هغه په کنترول مکلف دی. باید وویل شی د هغو دلایلو له مخې چه لاندې یی یادونه شوی، دا نظر لید یوازې د یو کم شمېر افرادو له لوری منل شوی.

د ناقانونه کړنو په وړاندې د حکمی اشخاصو مسؤل گڼل پر قوی دلایلو ولاړ دی. حکمی اشخاص پخپله نا اصلاح کېږی. خو بیا هم که چېرې یو شرکت تخلف مرتکب شی، یقینی ښکاری چه سخت مجازات به په راتلونکې کې به د جرم له رامنځ ته کېدو څخه مخنیوی وکړی. حکمی اشخاص د معاصر ژوندانه کابو په تولو برخو کې مهم رول لوبوی. په هغه صورت کې چه حکومت د حکمی اشخاصو د شرارت د مجازاتو کولو لپاره اړین ځواك و نه لری، د سازمانی جرم پراخېدو لپاره د تېښتې لویه لار پرانستل کېږی. سره ددې چه د مجازاتو ځانگړی ډولونه لکه حبس او اعدام په حکمی اشخاصو نه اعمال کېږی، د مجازاتو نور ډولونه لکه مصادّ، جریمه، او اجباری تعطیل په آسانۍ سره پر هغوی اعمال کېدای شی.

د جزا قانون د حکمی اشخاصو لپاره د جزایی مسؤلیت احکام برابروی. د ۹۶ (۱) مادې د حکم په پام سره: ″ حکمی اشخاص د دولتی مؤسسو، دوایرو او تصدی گانو په استثنې د هغه جرمونو څخه چه د هغوی ممثلین، رییسان او وکیلان یی د وظیفې د اجراء کولو په وخت کی د حکمی اشخاصو په نامه او حساب ارتکاب کوونکی گرځی، مسؤل گڼل کېږی″. سربېره پر دې، د دهمدې مادې دوهم جز زیاتوی چه″ محکمه نشی کولای چه حکمی شخص په ارتکاب شوی جرم کې بز له نقدی جزاء، مصادرې او امنیتی تدبیرونو چه پدې قانون کې ټلك شوی محکوم کړی″. د جزا قانون په څرگنده قاضیانو ته دا صلاحیت ورکوی چه د حکمی شخص په فعلیتونو بندیز ولگوی ( او هر ځای ناستی اداره) او آن تر دې چه اړونده اداره منحل کېدو ته اړ کړی ( د جزا قانون ۱۳۵ او ۱۳۶ مادې).

د جزا قانون د حکمی اشخاصو د تخلفاتو په خاطر مخنیوی د نه ورکولو په اجازه او یا د جزا په تخفیف باندې ټینگار کوی. ۹۶(۴) ماده زیاتوی چه: ″په پورتنی ترتیب د حکمی شخص محکومیت د حقیقی ضخص چه د جرم ارتکاب کوونکی دی د هغه جزاگانو د تطبیق مانع نه گرځی چه پدې قانون کې ورته ټاکل شوی″. پردې بنسټ که چېرې یو پلورونکی چه د غذایی توکو خدماتو د شرکت جواز لری او په آگاهانه توگه غیر صحی غذایی توکی چه د ناروغۍ سبب گرځی و پلوری، د نوموړی شرکت په نغده جریمه محکومېږی. پخپله پلورونکی هم محبوس او د اړونده عمل په خاطر د هر ډول قانونی مجازاتو موضوع و گرځی.

## د مباحثې پوښتنې

۱.آیا جزایی مسؤلیت حکمی اشخاصو ته هم متوجه کېدای شی آن تر دې که د مجرمانه عمل مسؤلین ټول حقیقی اشخاص هم مجازات شی؟ د حکمی اشخاصو د فعلیت د سمون لپاره تر تولو ښه چلند څه دی؟

۲.د هغه قانون ښېګڼې او نیمګړتیاوې چه د حکمی اشخاصو د تشکیل اجازه ورکوی څه دی؟

### د بحث راغونډیدا

ددې څپرکی په ترڅ کې په افغنستان کې مو د جزایی عدالت په سیستم کې د جزایی مسؤلیت د ماهیت او محدودیت په هکله توضیحات وړاندې شول. تاسو په انتقادی توګه: (۱) هغه شرایط چه تر هغو لاندې فرد د یو مجرمانه عمل مسؤل ګڼل کیږی، او (۲) هغه حالت چه د هغه له مخې مسؤل نه ګڼل کیږی او یا یی په جزا کې تخفیف راځی ځکه چه لدې پرته عمل جرم ګڼل کیږی، تر کتنې لاندې ونیول. بالآخره پدې څپرکی کې، د افغنستان د جزا قانون د حکمونو پر بنسټ د ″حکمی اشخاصو″ تخلفاتو ته د رسیدګی په څرنګوالی بحث وشو. په ټولیزه توګه، وړاندې شوی اطلاعات داسې ابزار دی چه د هغو څخه په استفادې تاسو د جزایی مسؤلیت ټول اړخونه او همدارنګه د هغو د ښه کېدو لارې چارې په انتقادی ډول فکر وکړی.

# اخځلیک او معلوماتی سرچینې


Afghanistan Justice Sector Support Program, “Afghanistan’s Criminal Justice System,” May 21, 2007

Afghanistan Legal Documents Exchange Center (*available a* http://www.afghanistantranslation.com/)

Official Website of the Ministry of Justice (*available at* http://www.moj.gov.af/).

Faiz Ahmed, *Judicial Reform in Afghanistan*, 29 Hastings Int’l & Comp. Law Review 93.

Alexander K. Bernard et al, *An Introduction to the Law of Afghanistan*, (2008).

Marcus Dubber and Mark Kelman, American Criminal Law, Foundation Press 2005.

Hossein Gholami, *Basics of Afghan Law and Criminal Justice*, <www.auswaertiges-amt.de/diplo/de/Aussenpolitik/RegionaleSchwerpunkte/AfghanistanZentralasien/Downloads/Polizei-Legal-Manual.pdf>.

Hesham Nasr, “Lectures on Penal Law Part I: Introduction to the Penal Law,”

Nagaty Sanad, The Theory of Crime and Criminal Responsibility in Islamic Law: Shari’a, University of Illinois-Chicago 1991.

Richard G. Singer and John Q La Fond, *Criminal Law Examples and Explanation: Fourth Edition*, (2007).

Franklin E. Zimring and Gordon J. Hawkins, Incapacitation: Penal Confinement and the Restraint of Crime (1995).

United States Department of State, Afghanistan Justice Sector Support Program, *Briefing Report*, May 21, 2007.

United States Department of State, Afghanistan Justice Sector Support Program, *Briefing Report*, Oct. 10, 2007.

USAID, Afghanistan Rule of Law Project, *Field Study of Informal and Customary Justice in Afghanistan*, April 2005.

The Constitution of Afghanistan, January 3, 2004, <http://www.afghanistantranslation.com/>.

The Penal Code of Afghanistan, October 7, 1976.

ځلورم څپرکی : مجازات



د دولت لپاره د هغو افرادو مجازات کول چه د جرم مرتکب ګیږي، په څه معنا ده؟ آیا د ټولو مجرمینو سره چه د ورته عمل لکه اور لګونې مرتکب کیږی، باید یو شان چلند وشی؟ آیا د اورلګونې ځینې ډولونه له نورو څخه ډېر بد دی؟ د فرد م پخوانی رفتار او یا د هغه ذهنی حالت د مجرمانه عمل د ارتکاب په مهال، د مجازاتو په څرنګوالی باندې اغېز لری؟ تاسو ددې مسئلو په هکله چه هرڅه فکر کوی، په زیات احتمال داسې حقوق پوهان شته چه چه ستاسو سره به توافق لری. د مجازاتو د منطق په هکله هېڅ ″درست″ یو واحد ځواب شتون نه لری بلکه پدې هکله بېلا بېل فکری مکاتب مطرح دی.

پدې څپرکې کې هڅه شوې ده تر څو د هغه له موادو څخه په ګټه اخیستلو محصلین و توانېږی مختلف مجازات په انتقادی توګه بررسی کړی. هماشانې دا څپرکی د سریزې په توګه د افغاسنتان د جزا په قانون کې په مندرجو غوره مجازاتو رڼا اچوی. سره ددې چه دا څپرکی د افغانستان د محاکماتو جزایی اصولو ته بېل شوی دی، خو بیا هم په بشپړه توګه هر اړخیز یا جامع نه دی او نه بنایی چه د جزا قاونو د بشپړې مطالعې او یا خاصو جرمونو چه په شپږم څپرکی کې پرې بحث شوی دی ځای ونیسی. دا څپرکی د معالج داکتر لارښود نه دی. د هغه پرځای، محصلین او پدې برخه کې راښکېل کسان هم باید د جزا قانون او نور اړونده مواد په خاصو شرایطو کې د جزا د اټکل په برخه کې په پام کې ونیسی. د مجازاتو بهیر چه پدې ځای کې مشخص شوی دی کېدای شی په پام وړ توګه د جرم او مجازاتو له واقعیتونو څخه توپیر ولری. خو ټینګار پر هغه څه دی چه د قانون غوښتنه ده  که څه هم چه د قانون نص یا حکم همیش نه مراعات کیږی.

د جزایی تېروتنو مجازات ډېرې مهمې حقوقی، ټولنیزې او اخلاقی مسلې په پام کې نیسی. دا برخه د مجازاتو مختلفو بڼو سره  چه د جزا په قانون کې راغلی دی پیل کیږی او له هغه وروسته د نتیجو اومتناسبو مجازاتو په هکله د اطمېنان حاصلولو لپاره د جزا قانون د رسیدګی څرنګوالی بیانوی.

پدې څپرکی کې، لومړی د اصلی مجازاتو د عملی کولو او وروسته د تبعی او تکمیل مجازاتو په هکله بحث کیږی. بالآخره، پدې څپرکی کې په جرمی فعالیتونو کې د عدالت د غیر رسمی سیستم رول بررسی شوی دی.

## د لوست تمرکز

امکان لری د افغانستان حکومت په راتلونکې کلونو کې د جزا قانون تعدیل او اصلاح کړی ځکه چهه اوسنی قانون له دیرشو کلونو زیات عمر لری. ستاسو په نظر د جزا قانون کومې برخې ډېرې مهمې دی؟ د جزا قانون تر کومې اندازې د جزا حقوقو د موخو په تحقق یعنې وېرونې، امنیتی تدبیرونو، سزا او د مجرم په اصلاح کې اغېزمن دی؟ کوم مجازات باید اصلاح او یا بېخی لیرې شی؟

## I. اصلی مجازات

مجازات په دری ډولونو: اصلی، تبعی او تکمیلی باندې وېشل کېږی. اصلی مجازات اصلی ځواب ا و یا د جرم په وړاندې د قانون غبرګون دی. د مثال په توګه، کېدای شی چه د عمدی قتل اصلی مجازات اعدام وی(له یو شمېر غوره جرمونو څخه د رامنځ ته شوو پایلو زیات جزیات په VI برخه کې بیان شوی) . هغه کره یا دقیق مجازات چه تورن په هغو محکوم کېږی، د ارتکاب شوی جرم د ځانګړتیاوو په نظر کې نیولو سره، متفاوت دی. د افغانستان جزا په قانون کې د پلی کېدو وړ مجازات د پراخو کتګوریو په ترڅ کې په لاندې ډول یادې شوی دی:

| |
|---|
| **د جزا قانون – ۹۷ ماده (لنډیز)** |
| ۱. اعدام |
| ۲. دوام لرونکی حبس ( له ۱۶ – ۲۰ کاله ) |
| ۳. اوږد حبس ( له ۵ – ۱۵ کاله ) |
| ۴. متوسط حبس ( له ۱ – ۵ کاله ) |
| ۵. لنډ حبس ( له ۲۴ – ۱ کاله ) |
| ۶. نغدی جزا |

د جز قنون له ۹۷ذڅخه تر ۱۲۰ مادو پورې ۶ اصلی جزاګانې په زیاتو جزیاتو سره بیان کوی. پداسې حال کې چه د هغهو د هرې یوې یادول ضروری ندی، باید ووایو چه د ۱–، ۱۰۱، او ۱۰۲ مادو پر بنسټ په اوږد یا متوسط حبس باندی یو محکوم شوی شخص له بندی کېدو څخه وروسته اجباری کار تر سره کړی پداسې حال کې چه په لنډ حبس محکوم شوی افراد، دا کار نه تر سره کوی. د ۶۰ کلونو خخه د زیات عمر للرونکی محبوسین هم د کار د اجبار څخه معاف دی.

### 1. د حکمونو/لارښودونو د تنظیم واک

قانون د هر جرم د عملی کېدو وړ مجازات بیانوی. د یادولو وړ ده چه محکمه د معمول سره سم د یو درزی د ځانګړی تېروتنې په هکله د احتیاط او ځیرتیا څخه کار اخلی. د دوو جرمونو د چاپېر ماحول چه له فنی نظره د جرم په یوه طبقه بندی کې قرار نیسی، دمثال په توګه، کېدای شی چه بېلکل متفاوت وی. شونې ده چه د جزا قانون متوسط مجازات د یو ځانګړی جرم لپاره تجویز کړی.دا یوازې د محکمې لپاره یوه یادونه ده چه اړونده فرد باید له ۱– کلونو پورې محکوم شی. محکمه پدې هکله د دقیق امر د صادرېدو مسؤلیت لری. په ورته توګه، د جزا قانون د معمول مطابق باید د جریمې حد اقل او یاد حد اکثر اندازه وټاکی او د جریمې د مقدار دقیقه اندازه چه د محکمې له لوری ټاکل کېږی، پر ېږدی.

د جزا قانون، په ټولیزه توګه د مجازاتو حدود تجویز کوی، اما نور زیات مجازات د قاضی اختیار ته پرېږدی. څرنګه محکمه دا ستونزمنه پرېکړه نیسی؟ پدې هکله د جزایی قانون دوې نظریی شتون لری: ۱) د شدت او خفت لاملونو نظریه، او ۲) قانونی اصل چې مجازات بیاد د جرم سره متناسب وی. پداسې حال کې چه دا نظریی د قضیو ترمنځ د ورته والی د شتون باوجود په بېلابېلو قضیو کې د عدول پام وړ زمینه برابروی. ددې اصولو په پام کې نیول له دې څخه د اطمېنان حاصلول چې نتیجه د انصاف د لومړنیو ستاندارډونو سره سمون لری مرسته کوی.

## 2. احتیاط

حقوقو کارپوهان او متخصصینو په برابره توګه د پراخ منل شوی باور په هکله چه د دولت له لوری تجویز شوی مجازات باید د جرم سره متناسب وی، توافق لری. د مثال په توګه، تورن نباید د غلا یو کوچنی مورد په دلیل په اعدام محکوم شی او همدارنګه نباید یو مجرم چه د دوو قتلونو په خاطر محکوم کېږی، د لږ نغدی جریم په ورکولو مجازات شی. حکم باید په کافی اندازه د مجازاتو د هدف د تحقق لپاره وی، ولې نباید له حده زیات وی. دا په تیوری یو ساده وړاندیز دی، خو په عمل کې د هغه تحقق ستونزمن دی.

د ځانګړو جرمونو لپاره د مناسب حکم د محدودې په تجویز او یوازې د شدت او خفت لاملونو د شتون په صورت کې د انعطاف په اجازې سره، د جزا قانون هڅه کوی ترڅو د جرم سره د مجازاتو تناسب له امله اطمینان تر لاسه شی. د قانونی حکم د صادرېدو محدودې یوه بله ښېګڼه د مجازاتو ستاندارد کېدل دی. دا دواړه حکمونه د هغه قانون له مخې چه د تېر څېرکی په ترڅ کې پرې بحث وشو، د برابری د لا لوی مفهوم د خپراوی لپارهڅه کوی. د مثال په توګه، که چېرې محکمه د جزا قانون غوښتنې مراعات کوی، د لزوم په صورت کې په هرات کې د اور لګونې په تور محکوم شوی مجرم په کابل کې د اورلګونې په تور محکوم شوی تورن ته ورته (نابرابر) مجازات تر لاس کوی. البته دا پدې معنی نده چې مطلقه برابری خوندی یا تأمین شی. د تورن د موقعیت او حالت توپیر د اړونده محکمې اختیارات، د تورن د مدافع وکیل اغېزمنتیا او نور زیات شمېر لاملونه پدې هکله شتون لری. بیاهم د جزا قانون ټول حکمونه باید د ورته جرم په هکله تقریبی برابری ولری.

## 3. دشدت شرایط

د شدت او خفت د لاملونو نظریه پر دې نظریی باندې ولاړه ده چه د جرم په چاپېر کې ځانګړی حقایق باید د مجرم په مجازاتو اغیزه وکړی. په بل عبارت ټولنه او د جزا قانون داسې انګېری چه د یو ټاکلی ډول، ټول جرمونه د یوشان مجازاتو وړ ندی. د غلا موضوع مثال راوړو. د پیداګل له لوری د یوې بوجی وریجو غلا د جانګل له خوا د څو غواپانو له غلا څخه ډېر توپیر لری او پدې ترتیب دا به عادلانه نه وی چه دواړو ته یوشان جزا ورکړل شی. ددې پر ځای مجازات باید پداسې ډول بررسی شی چه په هغه کې مرتکب شوی

جرم، په هغه کې د راښکېل شوو افرادو تاریخچه او سوابق په نظر کې ونیول شی. هغه فاکتونه چې د شدت د زیاتېدو باعث کیږی، د مشدده لاملونو په نوم یادیږی، پداسې حال کې چه هغه لاملونه چه د مجازاتو د لږېدو سبب کیږی د مخففه (تخفیف) په نوم یادیږی.

**د جزا قانون – ۱۴۸ ماده (لنډیز)**

... عمومی مشدده حالونه عبارت دی له :

۱. په هغه صورت کی چې د جرم د ارتکاب انګېزه ټيټه او او سپکه وی.

۲. په هغه صورت کې چه د جرم ارتکاب د مجنی علیه ا ادراک د ضعف د درک او یا د دفاع څخه د ناتوانی په وخت کې شوی وی.

۳. په هغه صورت کې چه د جرم په وحشی توګه ارتکاب شوی وی یا مجنی علیه مثله شوی وی.

۴. په هغه صورت کې چه د عمومی خدمتونو مؤظف د درمی حیثیت او نفوذ څخه په استفدې سره د جرم مرتکب شی.

۵. په هغه صورت کې چه د اقتصادی اضطرار د حالت څخه په استفادې سره د جرم ارتکاب وشی.

ددې لاملونو هر یو قاضی ته واک ورکوی چه د مرتکب مجازات په پام وړ توګه زیات کړی. ۱۴۹ ۱۵۱- مادې پداسې شرایطو کې مجازات روښانه کوی.

عادتی یا متکرر مجرم د خپل رفتار د اصلاح په اړوند د څرګند هوډ د نشتوالی په صورت کې، ټولنې ته یو مشخص ګواښ ګڼل ګیږی. پدې توګه ، د جزا قانون په ټولیزه توګه دهغو مجرمانو په پرتله چه د لومړی ځل لپاره د جرم مرتکب وی، په ډېر شدت سره چلند کوی. د جزا قانون ۱۵۲ ماده د جرم متکرر داسې تعریف کوی:" ۱) هغه شخص چه د جنایت د ارتکاب په اثر په جزا محکوم شوی وی د قطعی حکم د صادرېدو وروسته او د هغه مودز د تېرېدو ترمخه چه قانون د حیثیت د اعادې لپاره ټاکلی، د جنایت یا جنحې ارتکاب کوونکی شی،۲) هغه شخص چه د جنحې ا ارتکاب په اثر په جزا محکوم شی د قطعی حکم د صادرېدو وروسته او د هغه مودې د تېرېدو تر مخه چه قانون د حیثیت د اعادې لپاره ټاکلی، د جنایت یا د لومړنۍ جنحې د مماثلې جنحې ارتکاب کوونکی شی". پداسې حال کې چه د جرم متکرر د زیاتېدونکې جزا موضوع ده، د جزا قانون هم باید د زمانی چارچوب لپاره چې په هغه کې دا کار د شدت لامل ګڼل کیږی – په پیل کې دواړه ( جرم باید د وروستنی امر د له صدور وروسته رامنځ ته شی) او په پای کې (جرم باید مخکې د حیثیت له اعادې رامنځ ته شی) محدودیتونه اټکل کړی دی.

د جزا قانون ۱۵۹ ماده د مکررو جرمی زیاتېدونکو فعالیتونو اړونده جزا تنوع په ګوته کړی دی. قانون وایی چه: " که یو شخص د جرم د ارتکاب په اثر محکوم شوی وی بیا د بل جرم د ارتکاب په اثر په جزا محکوم شی، دواړه جزاګانې یوه پر بله پسې وربانديې تنفیذیږی که څه هم د حبس موده د شلو کلو څخه زیاتی وکړی". دا ماده د نا اړونده او مکررو جرمونو لپاره د شلو کلونو محدوده چه په ۱۵۸ ماده کې یادونه شوی ده

حذف کوی. په لنډه ویلای شو چه د اضافی جزا اصل پدې دلیل د اعمال کېدو وړ دی چه د جرم متکرر مرتکب شوو جرمونو له مخې د ټولواضافی مجازاتو مسؤلیت په غاړه لری.

همداشانې مشدده حالت په توګه زیات شمیر مادی جرمونه په دوو طریقو عمل کوی: مادی او اخلاقی تعدد. اخلاقی تعدد یو واحد مجرمانه عمل په زیات شمیرجزایی عنوانو سره په بر کې نیسی. مثال، په یوه غوره ښری باندې برید کولای شی هم یو سپکاوی او هم برید وګڼل شی، د ۱۵۵ د حکم په نظر کې نیولو سره″ که د یوه فعل د ارتکاب څخه متعدد جرمونه پیداشی ارتکاب کوونکی د هغه جرم په جزا محکومیږی چه جزایی ډیره شدیده وی. په هغه صورت کې چه ټاکل شوی جزاګانې یو د بل مماثل وی د هغوی څخه په یوې حکم کیږی″.

مادی تعدد د جرمونو د ډول له ارتکاب سره تړلی. ځینې وخت ممکن داسې وشی چه ټول متعدد جرمونه په ذهن کې د یوې موخې یا هداف لپاره تر سره شی. پداسې حالت کې د ۱۶۵ مادې له مخې: ″... محکمه به د هر جرم په ټاکلې جزا حکم کوی او یواځې به د ډیرې شدیدی جزا په تنفیذ تصریح کوی...″. پدې ترڅ کې یو د بل سره تړلی تکمیلی او تبعث مجازات لاهم د اعمال وړ دی. ″ که شخص د متعددو جرمونو ارتکاب کوونکی شی او داجرممونه یو د بل سره ارتباط و نه لری او د حکم د صادېدرېدلو ترمخه د هدف یووالی چه ذکر شوی جرمونه سره یوځای کړی موجود نه وی، محکمه به د هر جرم په ټاکلې جزا حکم کوی ...″. (۱۵۸ماده)

په حبس د مجازاتو وړ ناقانونو اعمالو لپاره د حبس ټوله دوره له ۲۰ کلونو څخه تېری نه کوی مګر داچې د جرم د تکرار شرایطو وړ مجرم تر ۱۵۹ مادې لاندې وی. په نورو مادو کې د جزا قانون د شدن نورو لاملونو لکه د جرم په مهال له وسلې څخه کار اخیستل، د لمر ختو او لمر لوېدو ترمنځ ترمنځ د جرم ارتکاب او په ډله ایز جرم کې ښکېل کېدلو ته اشاره لری (۴۳۱ – ۴۳۲ مادې).

## 4. مخففه شرایط

د جزا په قانون کې راغلی دی چه د تخفیف ورکوونکو لاملونو ځینې د مجرم د مجازات راکمول توجیه کولای شی. د جزا قانون د ۱۴۱ تر ۱۴۷ مادو په ترڅ کې دې موضوع ته رسیدګې کوی. د مثال په توګه په ۱۴۱ ماده کې وایی چه د ″ شریفی انګیزې″ ، ″ د مجنی علیه د ناحقه تحریک په اثر د جرم ارتکاب ته اقدام کړی وی″ او د شرایطو د کلیت پر بنسټ قضایی استنباط د تخفیف دری  غوره لاملونه تشکیلوی. نور تخفیف ورکوونکی لاملونه د جرم اثراتو د محدود کولو لپاره د تورن کوښښ څخه عبارت دی: آیا تورن د زیان رسېدونکی شخص له لوری بخښل کیږ او که نه، آیا جرم د تورن لومړی تېروتنه ده او همدارنګه داچې آیا تورن کس پخوا تردې د ښو خدموتونو د ترسره کولو او یه په وسله والو ځوکونو کې د خدمت کولو سابقه لری او که نه. ۱۴۳ ماده یادونه کوی په هغه مواردو کې چه د جرم مرتکب د اعدام د بالقوه حکم سره

مخامخ دی، دا حکم په حبس سره بدلېدای شی. په هغه حالت کې چه د اعدام وړ مجازاتو جرمونه د محکومیت دوام په پام وړ توگه را کمېدلای شی.

که چېرې یو فرد د مثال په توگه خپل گاونډی چې کلونه مخکې یی هغه وهلی، ټکولی، سپکاوی یی کړی، ووهی، کېدای شی چې قاضی د قربانی پخوانی رفتار د مجازاتو د تخفیف ورکوونکی لامل په توگه په پام کې ونیسی. په بل عبارت، دا برید له حقوقی نظره توجیه او یا عذر نه گڼل کېږی. سره ددی د عدالت او سره سوی په موخه امکان لری چه قاضی د جرم په مجازاتو حکم و نه کړی.

## د مباحثې پوښتنې

۱. دمجازاتو د یوې واضح قانونی او معتبرې نظریی شېگڼې او نیمگړتیاوی څه دی؟
۲. لکه چه پدې برخه کې پرې بحث وشو، د الزامی احکامو د محدودې له نتیجو څخه یوه هم د مجازاتو ستاندارد کېدل ید. آیا د تورنو لپاره دا کار عادلانه دی؟ په بل عبارت، آیا دا سمه ده چه تر څو قاضیانو ته اجازه ورکړل شی چه ددوی له نظره په تجویز شوو مجازاتو کې تغییر یعنې کمښت او یا زیاتوالی راولی؟ آیا د شدت او خفت لامل سیستم د قاضیانو لپاره د انعطاف پذیرې امکان برابروی؟ او یا برعکس، آیا دا کار قاضیانو ته له حد زیات واک ورکوی؟

## 5. د استیناف بیا کتنه

د محکمو قضایی حکم لزوماً قطعی نمیباشد. د جزا قانون داسې وایی چه د جزایی محکمز په جریان کې مختلفې اشتباه گانې رامنځ ته کېدای شی. پردې اساس، د استیناف محکمې د بررسی په وخت کې ضروری ده تر څو ډاډه من شو چې د جزایی عدالت سیستم تر ممکن حده عادلانه دی. د مدنی او سیاسی حقونو بین المللی کنوانیسون چه افغانستان یی د لاسلیك کوونکو له جملې څخه دی، استیناف غوښتنې ته د یوه بشری په توگه قایل دی. په لنډه توگه ددې کنوانسیون په ۱۴ (۵) ماده کې راغلی دی: ″ هر څوك چه د جرم مرتکب و پېژندل شی، حق لری چه مجرمیت او محکومیت یی د قانون سره سم د یوې عالی محکمې له لارې غور او بررسی شی ″. پدې اړوند د افغانستان له لوری د ژمنو له تطبیق څخه د ډاډ او د قضاوت عالانه نتیجو د تأمین لپاره د افغانستان حکومت د ټیټې کچې محکمو د پرېکړو د بیا کتنې لپاره د استیناف محکمو سیستم رامنځ ته کړی دی. دا کار کولای شی په پام وړ ډول لگښت پورته وړی او په کار کې د پایښت وړ قطعیت کېږی. سربېره پردی، د بیاکتنې محکمه په ډېری مواردو کې د قضیی تنکی توپیرونه په سمه نه شی درك کولای. سره ددې، په ټولیزه توگه د بیا کتنې بهییر یا استیناف غوښتنه د جزایی عدالت د هر عادلانه نظام لپاره ضروری گڼل کېږی.

د محکمې د حکم له صادرېدو وروسته، دواړه هم حکومت او هم د تورن وکیب د استیناف غوښتنې لپاره ۲۰ ورځې وخت لری تر څو د دوسیې او محکمې بیا کتنه تر پوښتنې لاندې ونیسی. که چېرې تورن په توقیف کې وی، محکمه د لومړۍ محکمې له لوری د حکم د صادرېدو له نېټې څخه وروسته د دوو میاشتو په اوږدو کې اړونده موضوع د استیناف محکمې د غوښتنې پر بنسټ تر غور او څېړنې لاندې نیسی. که چېرې محکمه د خپلې کتنې په ترڅ کې په ۲۰ ورځو کې فیصله صادره نه کړی. تورن باید آزاد شی. په هغه حالت کې چه تورن په توقیف کې نه وی، د استناف محکمه له ۲۰ څخه پر زیات وخت کې جوړېدای شی.

## د مباحثې پوښتنې

۱. آیا دا عادلانه ده چې تورن او حکومت د محکمې پر حکم د بیا کتنې د غوښتلو حق لری؟ ددې کار لګښت او ښېګڼې کومې دی؟

۲. ولې د استیناف غوښتنې په بهییر کې د استیناف غوښتنې محدودیت مهم دی؟

د هېواد ستره محکمه وروستنی قضایی مرجع ده. څارنوال، تورن او د جرم مدعی حق لری چه د محکمې د حکم صادرېدو له نېټې څخه وروسته د ۳۰ ورځو په اوږدو کې سترې محکمې ته د بیا کتنې غوښتنه وړاندې کړی. البته، تر اوسه پورې په ډېرو کمو مواردو کې د هېواد له سترې محکمې څخه دداسې بیاکتنې غوښتې تر سره شوې ده. د هېواد ستره محکمه قانونی اشتباهاتو ته محدوده شوې ده. پهې ډول، د هېواد ستره محکمه یوازې کولای شی د لومړۍ محکمې پرېکړه بیا وګوری، اړونده قانون او یا نورې حقوقی بې نظمی لکه د شواهدو د منل څرنګوالی، د حکومت له خوا د جزایی محاکماتی اصولو د غوښتنو د نقض مسلې تفسیر کړی. ستره محکمه نشی کولای لانجمن فاکتونه له هغه جملې د حقایقو ارزونه او یا د شهودو د اطمینان قابلیت بررسی کاندی. ستره محکمه دری بنسټیزه انتخابونه لری: ۱) ستره محکمه کولای شی د بیا کتنې  غوښتنونکې محکمې حکم په کلیت کې تأیید کړی. ۲) شونې ده چې حکم په استدلال کې د ځینو تغییراتو سره ومنل او یا ۳) شونې دهچه اړونده حکم لغو او یا د هغه یوه برخه ومنل شی او دوسیه هماغه یا مماثلې محکمې ته د سترې محکمې د تصمیم سره سم د زیاتې رسیدګی لپاره مستره کړی.

### 6. د دودیزو مجازاتو لپاره بدیل – د اختلافونو د حل او فصل بدیل

آن په ډېر ښه حالت کې  د جزایی عدالت بهییر ګران، نامشخص او وقت نیوونکی و اوسی. د اختلافونو د حل او فصل بدیل(ADR)  د لانجو د حل او فصل بهییر او هغه تکنیکونه په بر کې نیسی چه د دولت د قضایی بهییر څخه بیرون قرار لری. پداسې حال کې چه دا بدیل زیاتره د مدنی اختلافونو لپاره پکارول کیږی، د جرمی مسایلو په ځانګړی توګه د هغو مسلو چه د جدیت کچه یی ټیټه وی او بالقوه توان ولری. منځګړیتوب او قضاوت کولای شی د شخړې لورو ته ګرندی، عادلانه او په پرتله ایزه توګه د لږ لګښت حل

او فصل وړاندې کړي او پدې توګه د محکمو د کارپه حجم کې کمی راولي او هغوی ته اجازه ورکړي تر ځو خپل وخت نورو دېرو جدي او مهمو موضوعګانو ته وقف کړي. مخکنیو تجربو ښودلې ده چه د رسمی محاکمو او د غیر رسمی منځګړیتوب سیستمونو تر منځ یو د بل سره ګټور ارتباط په ټولو پرمخ ودې هېوادونو کې شتون لري. همدارنګه، مشارکت کولای شی د افرادو د بیا ځواکمنتیا او د پراخوا ټولنیزو بدلونونو لپاره ښې لارې چارې په ګوته او وړاندې کړي.

د ADR په وړاندې په ډېری هېوادونو کې د عام وکړو غبرګون نه یوازې پراخ او مثبت دی بلکه قاضیانو هم د برابر صلاحیت د منځګړیتوب په تأیید سره په زیاتره مواردو کې جماعتی منځګړیتوب ته د محاکماتی قضایاوو حواله کول ځواب ویلی دی. د افغانستان په شان ټولنو کې چه په هغه کې ټولنیز ترکیب په شدت سره سوړوالی ته ښوییدلی، د اختلافونو ګړندی، مشروع، ارزانه او اغیزمن حل او فصل د اړیکو د ترمیم کولو او ټولنیز عدالت عام کولو لپاره، په خاصه توګه د بې برخې شوو افرادو لپاره چه کابو د ټولو لپاره د رسمی محاکمتو سیستم د لاس رسی وړ نه دی او یا ورته دوستانه نه ښکاری ډېر اهمیت لري.

د ADR لپاره د آسیا پرمختیایی بانک له خوا د هر اړخیزې څېړنې مطالعې څخه تر لاسه شوی نتیجې د زیات شمېر مخ پر ودې هېوادونو کې امید لرونکی دی. د بنګلدېش په هېواد کې د لاندې مورد څخه تر لاس شوې نتیجې ښیی. پام ولری چه د DRA دا مدنی نتیجې، د یوی جزایی دوسیی په توګه نژدې همېش د محاکماتی سیستم له لارې حل او فصل شوې دی. د افغانستان په ځانګړی مورد کې چېرته چه سرچینې لږ او د حکومت بنسټیز جوړښتونه د محدود کېدو په حال کې دی، مهمه ده ترڅو په رسمی جزایی سیستم کې د ADR په بالقوه رول باندې ټینګار وشی.

**په بنګلدېش کې د اختلافونو د حل او فصل بدیل**

بنګلدیش د مدنی ټولنې د مجرم د اصلاح لپاره یو مورد وړاندې کوی چه د تکمیلی رول درلودونکی محاکمو او عدالت غوښتنی یو بدیل دی. د بنګلدیش زیات شمېر غیر حکومتی سازمانونه په جدی ډول پر ځایی منځګړیتوب تکیه لري. هغوی د شالیش (shalish) چې د دودیزمنځګړیتوب یو ډول دی، کورنیو لانجو، ځمکې اړوند مسلو، او نورو ځایی ستونزو ته د رسیدګی لپاره پکارول کېږی. په بنګلدېش کې تر سره شوو مطالعاتو ددې چلند منطق لنډېز په ځان کې را نغښتی: د اختلافونو د حل ااو فصل د لارو چارو د ښه والی لپاره، دولت د عدالت دستګاه او پارامترونو له پراخولو څخه چه د لاس رسی کیفیت تضمین کړی، کار اخلی. رسمی محکمو په اړه د بېلابېلو ستونزو سره د مخامخ کېدو په صورت کې، بدیل میکانزمونه رامنځ ته شوی دی. د اختلافونو د حل او فصل نوی لارې چارې، ډېرې ښېګڼې لری چه تر ټولو مهمې یی له غیر رسمی والی، ګړندیتوب، د پشتوانې نشتوالی، سپما، محرمیت، همغږی او آسانه لاس رسی څخه عبارت دی.

اوس مهال، داسې معلومېږي چه غیر حکومتی سازمانونه د اختلافونو د حل او فصل لپاره تر ټوله اغېزمنه وسیله شمېرل ګېږي چه د ځایي منځګړیتوب سره مرسته کوي او له قضایي بهییر او شالیش څخه د قطعي وآتږ نیولو په معنا ده. دا بهییر د ګوندونو ترمنځ اړیکي هڅوي، د لانجو او اختلافونو سیمې معلومول آسان کوي او د دواړو خواوو سره د لانجې په حل او فصل کې مرسته کوي. پدې ډول منځګړیتوب اجباري نه بلکه داوطلبانه وسیله ده چه د هغه پواسطه دواړه لوري کولای شي هوکړې ته ورسېږي. د خپل منځي ستونزو د بحث او روغې جوړې ته د رسېدو لپاره د دواړو لورو په تشویق سره ، منځګړیتوب د حل له ناشونیا او یو اړخیزتوب څخه چه په حقوقي اقداماتو کې معمول دي، ډډه کوي.[13]

**7. د مضاعفو مجازاتو ممنوعیت**

اوس راشی داسې و انګېري آصف چه د قیمتي جواهراتو په غلا تورن شوی دی. هغه یې محکمې ته راوستی دی. د محکمې له یو هر اړخییز او عادلانه بهییر وروسته، نوموړی د کافي شواهدو د نه شتون له امله خوشی کېږي. د " بې ګناهی" حکم نهایي شوی دی او د استیناف غوښتنې کار هم په جریان کې دی، یوه میاشت وروسته د آصف د جرم چې مخکې تر تبریه شوی وو د اثبات ډېر څرګند شواهد پیدا کېږي. پدې وضعیت کې څه باید وشي؟ آصف په څرګنده د یوه داسې عمل مرتکب شوی دی چې د سختو مجازاتو وړ دی. په همدې ترڅ کې د حکمې قضایي مرحله پای ته رسېدلې او حکم هم نهایي شوی دی.

پداسې حال کې شونې ده ستاسو لپاره نتیجه د قناعت وړ نه وي، آصف په زیات احتمال سره کېدای شي له مجازاتو وتښتي – کم ترکمه له هغه جرم څخه چې هغه لومړی پرې تورن او بیا تبریه شو. ولې؟ له کومه ځایه د افغنستان دولت لکه د نړۍ د نورو ډېرو هېوادونو په شان د دوه ګوني قانوني خطر په وړاندې ممنوعیت په رسمیت پېژني. د دوه ګواني خطر په وړاندې ممنوعیت پر دې فرضیې ولاړ دی چه هېڅ یو کس نه باید د عین یو جرم په خاطر له یو ځل څخه زیات تورن او مجازات شي. همدارنګه دا ممنوعیت انګېري چه قضایي بهییر باید په ځینو برخو کې پای ته ورسېږي، آن تر دې که د هغه نتیجه په تمه شوې اندازه بشپړه یا کامله هم نه وي.

ددې ممنوعیت تر شا منطق ساده دی: که چېرې تورن محاکمه او تبریه شي او د استیناف بهییر هم پای ته رسېدلی وي، دولت د هغه د تورن کولو او محاکمې حق نه لري. په جرم باندې د یو چا تورن کول کېدای شي د هغه ژوند مختل کړي او ډېرو سختو اقتصادي او شخصي ستونزو سبب شي او د شخص ژوند او ملکیت د ګواښ سره مخامخ کړي. پدې اساس، مناسب دی چه دولت یوازې یو ځل د تورن د محاکمې حق ولري. لدې سېوا اقدام، د محاکمې بهییر ناعادلانه کوي، د هېڅ یوې قضیې موضوع نه نهایي کېږي او هغه

[13] Asian Development Bank, Law and Policy Reform at the Asian Development Bank, Legal Empowerment: Advancing Good Governance and Poverty Reduction, (2000).

افراد چه مخکې په جرم تورن شوی دی، تر څو پورې چه د هماغه جرم له مخې د بیا بیا تور لګولو له امله مصؤنیت تر لاسه نه کړی په همېشنۍ وېره کې به ژوند کوی.

د یادولو وړ ده چه دا اصل یعنې د افغانستان د اسلامی دولت له لوری د د مضاعف مجازاتو په وړاندې ممنوعیت په اساسی قانون کې په واضح ډول سره ندی بیان شوی. دې اصل ته د افغانستان ژمنتیا د مدنی او سیاسی حقونو د بین المللی کنوانسیون (CCPRI) له مخې الزامی ده. د مدنی او سیاسی حقونو د بین المللی کنوانسیون ۱۴(۷) په ښکاره ډول د د مضاعف مجازاتوپه وړاندې قرار موندل منع کوی او زیاتوی: ″ هیڅوک نشو کولای د هغه جرم په خاطر چه د هغه د تور له کبله د قطعی صادر شوی حکم سره سم د یو هېواد د جزایی اجراآتو د قانون له مخې محکوم او یا تبریه شوی وی، دوهم ځل تر پلټنې او مجازاتو لاندې راولو″.

د جزا قانون همدارنګه د ۱۹ او ۲۰ مادو په ترڅ کې د پېرلو او پلورلو اړوند د ممنوعیتونو د ځینې ځاګړتیاوو په هکله د بهرنیو محاکمو قضاوت بیانوی.د یادولو وړ ده چه ۶ ماده وایی چه محکمه بیا هم که چېرې یو فرد ″ د جرم له لارې مال لاس ته راوړی وی″ نو د مال مالک ته د مال په ورکولو (که عین مال موجود نه وی، مجرم باید مثل او یا د هغه معادل قیمت) محکوموی. د جزا قانون همدا شانې څرګندوی : ″ [الف] هغه شخص چه د جرم د ارتکاب په اثر یی تاوان رسولی وی د واردشوی تاوان په جبیره هم محکومېږی″. د دقت وړ ده چه آیا د جزا ددې قانون حکمونه د بهرنیو محکمو پواسطه د عدالت د تطبیق کمزورۍ مخنیوی کوی او یا د بهرنیو محکمو د حکمونو قطعیت کمزوری کوی؟ آیا د ټولو بهرنیو محکمو حکمونه باید یو شان وی؟ د اختلاف مواردو په سر د افغانستان د محکمو احکامو سره د بهرنیو محکمو اختلاف باید څرنګه وی؟

د احتیاط یوه وروستی یادونه: آن په پورتنی طرح شوې سناریو کې آصف نشی کولی په بشپړه توګه له مجازاتو څخه وتښتی. هر ډول جرمونه چه له هغه وروسته رامنځ ته کېږی او یا په لومړیو کې محکوم شوی نه وی، په زیات احتمال سره لا هم د محکمې او بالقوه مجازاتو موضوع پاته کېږی. پدې اساس که چېرې آصف په پیل کې په تخلف نه وای تورن شوی او وروسته بیا څارنوال د هغه د تور لګول پرېکړه کوی، مجرم په قوی احتمال لا هم د هماغه جرم په خاطر مجازات کېدای شی. (که څه هم نه د هغه غلا په خاطر چه نوموړی په پیل کې پرې تورن شوی وو).

## د مباحثې پوښتنې

۱.آیا دا سمه ده چه مجرم فرد باید له مجازاتو څخه یوازې لدې امله وبخښل شی چه د هغه په خاطر په مخکنی محکمه کې تبریه شوی وو؟
۲.ولې د دوه ګونې خطر په وړاندې ممنوعیت مهم دی؟ د هغه اړوند لګښت او ګټه په څه کې ده؟

## II. تبعی/ اصلی جزاګانې

آیا دا منصفانه ده چه د قانون ځانګړی احکام یوازې د محکمې د غیابی حکم پر بنسټ پی شی؟ پداسې حال کې چه په قانون کې راغلی اصلی مجازات (که څه هم جزا یا دقیق حکم هماغسې چه مخې تر یادونه وشوه، کېدای شی متفاوت وی)، محکوم شوی مجرمان هم کېدای شی په تبعی جزاګانو کې راشی. د جزا قانون د ۱۱۲ مادې په پام سره، ″ تبعی جزاګانې د هغه مجازات څخه عبارت دی چه په محکوم علیه د قانون په حکم بې له دې چه د محکمې په حکم کې تصریح شی تطبیقیږی ″. د یاد شوی حکم منطق پدې کې دی چه هر څوک چه د ځانګړی عمل مرتکب شی د اړونده تبعی جزاګانو وړ هم ګرځی. ولې د جزا قانون  تدوین کوونکی غواړی له ځینو حقونو څخه بې برخې کېدل اجباری کړی؟

ښایی تر ټولو مهم تبعی مجازات ددې غوښتونکی وی هغه افراد ″ چه له لسو کلونو  څخه زیات په دوام لرونکی یا اوږد حبس باندې محکوم کیږی...د جزا په قانون کې د راغلو نورو ډېرو مهمو حقونو څخه هم بې برخې کیږی. تر ۱۱۳ مادې لاندې تعلیقی حقونه عبارت دی له :

۱. ددولت ماموریت
۲. په اردو کې خدمت
۳. د پارلمان، ښاروالیو، د ولایتی او محلی جرګو د غړیتوب
۴. په انتخاباتو کې د رای ورکوونکی په حیث برخه اخیستل
۵. د دولتی عنوانونو د استعمال او د نښانونو د ځوړندولو څخه که کورنی وی او یا بهرنی
۶. د شرکتونو او بانکونو په مدیره هیت کې غړیتوب
۷. وصایت او قیمومت او په معاملو او دعواوو کې وکالت
۸. د محکومیت په موده کې په قراردادونو او معاملو کې شهادت
۹. د دولتی دوایرو سره  د قرارداد کول یا د دولت له خوا امتیاز تر لاسه کول
۱۰. د مجلو او ورځپاڼو د تامتیاز خاون، مسؤل مدیر او د تحریر هیت رییس
۱۱. د محکومیت په موده کې د مالونو او املاکو اداره کول، وقف او وصیت استثنی دی.

که چېرې حکم د کافی مدې (لس کاله) لپاره دوام ومومی، دا مقررات د تورن له فردی حالت پرته پلی کیږی. سره ددې د قاضی په اجازه :″ په مالونو کې د ادارې او د تصرف محرومیت د ضرورت په حالت کې په مؤقتی توګه د محکمې په اجازه مرفوع کېدای شی″ (۱/۱۱۴ ماده) . آیا دا حکمونه له حقونو څخه د بې برخه کېدو د خطر اجباری ماهیت را کموی؟یا آیا دا یو معقول قرار دی چه د جزا قانون د تدوین کوونکو پر درک ولاړ دی یعنې داچه هغو په دقت سره وړاند وینه نشی کولای چه تخفیف ورکوونکی شرایط ممنوعیت لیرې کولای شی او که نه؟ آیا دا دېدې معنا ده چه یوازې د مالونو اړوند محدودیت، په سملاسی توګه لیری یا مرفوع کېدای شی.

## III. تکمیل جزاګانې

د فرد لپاره تکمیلي مجازات د جزا قانون له مخې تجویز کېږي. د جزا قانون ۱۱۷ ماده توضیح ورکوي چه " تکمیلي جزاګانې عبارت دي له: ۱) د ځینو حقونو او امتیازونو څخه محرومیت، ۲) مصادره، ۳)د حکم خپرول". د اصلي او تبعي مجازاتو برعکس، قاضي د تکمیلي مجازاتو د تجویز او یا نه تجویز واک لري.

پردې سربېره، تکمیلي جزاګانی د محدودې مودې درلودونکی دي. د ۱۱۸ مادې تر شرایطو لاندې چه د ممنوعیت پراختیا په پاسنی ۱۱۳ ماده کې بیانوي، زیاتوي چه تر حبس لاندې راغلی شخص موده د پام وړ وي، د ۱۱۸ مادې ړ ۱– ۱۱ فقرو کې له راغلو ځینو حقونو او امتیازونو څخه حد اقل یو کال او حد اکثر دری کلونو لپاره د اړونده محکمې له لورې بې برخې کېدای شي.

دا ټول رولونه د عمومي او یا خصوصي اعتماد په مهمو موقعیتونو او اقتدار کې راځي. ممنوعیتونو د جزا قانون له مخې  پردې فرض ولاړ دی هغه فرد چه جدی مجرمیت یی ښودلی دی، حد اقل خپل اعتماد د لږ وخت لپاره له لاسه ورکوي. په ځینو ټاکلو رولونوو کې آن که نوموړی شخص که نر وي او یا ښځه خپل ټول حبس یی په بشپړ ډول تېر کړی هم وي.

۱۱۹ ماده د یوی تکمیل جزا په توګه د مصادرې په هکله نور ډېر معلومات وړاندې کوي. "... د هغو شیانو مصادره چه د جرم د ارتکاب څخه لاس ته راغلي وي او یا د هغې په ارتکاب کې استعمال شوي وي"، مجاز دی آن که د جزا قانون په اصلي متن یا بل کوم ځای کې تصریح شوي هم نه وي پدې شرط چه مصادره " په هېڅ صورت بل چا حقوق چه د ښه نیت لرونکی وی نه اخلالوی". د جزا قانون هڅه کوي تر څو یقیني شي چه مجرمانو مال له نا قانونه لارې لاس ته نه وي راوړی او یا یی د جزا قانون د کمزورو ټکیو له امله په نورو جرمي اعمالو کې له هغه څخه ناوړه ګټه نه وي اخیستی.

بالآخره، خپرول ممن دی د تکمیلي مجازاتو په تو ګه عمل وکړي. د وروستني حکم له صادرېدو وروسته، امکان لری قاضي یا و کیل د حکم د خپرېدو حکم وکړي (۱۲۰ ماده). د خپرولو حق محدود دی. پداسې جرمونو لکه سپکاوی، ناوړه ګټه اخیستنه، او افتراء، محکوم باید د جرم د مخنیوی په خاطر چه د لا زیات زیان باعث کېږی د حکم د خپرولو سره موافقت وکړي، د حکم خپراوی د جرمي فعالیتونو څخه د وېرونې د لامل په توګه عمل کوي. سربېره پردې، خپراوی کېدای شی د افرادو د جرمي رفتار په هکله  د عامه خبر رسونې له لارې په عمومي امنیت کې مهم رول ولوبوي.

په ټولو مواردو کې، اړونده محکمه د جرم د ماهیت په نظر کې نیولو سره د تکمیلي مجازاتو په ټاکلو کې د پام وړ اختیاراتو درلودونکې ده. پردې بنسټ، ټول تکمیلي مجازات اختیاری دی او د فردی شرایطو په نظر کې نیولو سره یو تری توپیر لری پداسې حال کې چه اصلي او تبعي مجازات الزامي وي.

## د مباحثې پوښتنې

۱. د زرګونو هغو لارو چارو په هکله چه مجرمان پرې محکوم کیږی فکر وکړی. څه به رامنځ ته شی که چېرې محکمه د ټولو افرادو په وړاندې د یوشان قوانینو څخه کار واخلی؟ څه به وشی که چېرې قاضیان د جزا قانون له الزاماتو پرته یوازې د خپل اټکل پر بنسټ تورن کسان مجازات کړی؟ څرنګه د اساسی حقوقو دا شان نا انډول چلند په تورنو افرادو اغېزه کوی؟ څرنګه کولای شو یو کاری انډول د یو شان والی او قضایی واک ترمنځ خوندی یا تأمین کړو؟
۲. د کومو پړاوونو په پکارولو سره دا یقینی کېدای شی چه وکیلان او قاضیان د جزا قانونو او نورو اړونده قوانینو ته درناوی او له هغه څخه اطاعت وکړی او پدې ترڅ کې د جرم او مجازاتو ترمنځ د اړینې خپلواکی اطمینان تر لاسه شی ؟

## IV. غیر رسمی قانونی سیستم

پداسې حال کې چه دا څېرکی تر رسمی حقوق لاندې مجازاتو باندې تمرکز لری، افغانستان د حقوقی پلورالیزم له مخې یوه تعریف شوی ټولنه ده. پر لیکل شوو رسمی قوانینو سربېره، افغانستان همدارنګه د غیر رسمی (عرفی) او اسلامی قوانینو د لړۍ درلودونکی هېواد دی. غیر رسمی بنسټونه په ځانګړې توګه شورا او جرګه، په عدلی اداره کې خورا مهم رول لوبوی. د غیر رسمی سرچینو د اټکل له مخې په سلو کې تر ۹۰ پورې اختلافونه د دولت د قضایی سیستم پر ځای په نورو لارو چارو حل او فصل کېږی. د دولت رسمی سیستم د څو لسیزو جګړو په اوږدو کې له منځه تللی او غیر رسمی سیستم د لانجو په برخه کې د وګړو بېړنیو اړتیاوو ته رسیدګی کوی. د ډېرو افغانانو لپاره، په ډېری مواردو کې غیر رسمی سیستم د اختلافونو د حل او فصل لپاره د لاس رسی وړ یوازنی لاره ده. ځایی عرف، دود او په دینی شعایرو عمل کول، هغه غیر رسمی بنسټونه دی چه له رسمی سیستم څخه ډېر پخوا په افغانستان کې موجود وو.

شوراګانې ( چه په عربی کې د مشورې په معنا ده)، مذهبی او یا سکولار ځایی شوراګانې دی چه معمولاً د اختلافونو د حل او فصل یا د حکومتداری اړونده مسلو د تصمیم نیونې په هکله یا د ټاکلو سرچینو د مدېریت په مقصد د لنډ مهال لپاره جوړېږی. د شورا دری غوره ډولونه عبارت دی له : د عالمانو شورا (اسلامی عالمان)، د مخورو شورا، او یا د ځایی قوماندانانو شورا. جرګې شوراګانو ته ورته دی او د پښتنی قبیلو په منځ کې زیات عمومیت لری. جرګه د مشرانو او مخورو غونډه ده چه د اختلافونو د حل او فصل او یا د یوی مهمې موضوع په هکله د پرېکړې نیونې لپاره د یوې لوی دایرې په بڼه جوړېږی. دا غیر رسمی بنسټونه د افغانستان مدنی او یا جزایی قوانین نه پلی کوی بلکه د اسلامی قوانینو، د قبیلې عرفی قانون او د لویانو جمعی عقل او پوهې ترکیب ته عملی بڼه ورکوی.

"غیر رسمی" نباید د "ساده" او یا "غبر اصولی او یا بې مسلک" مفاهیمو سره ګډ شی.پداسې حال کې چه ځایی عدلی سیستم پر نالیکلی عرف نه مدونو قوانینو باندی تکیه کوی، ځایی بهیرونه زیاتره د پرمختګ د لوړې درجی منعکس کوونکی دی. دا جوړوالی په ځایی سیستمونو کې د تصمیم نیونې بهیر او همدارنګه ددې سیستم جوړښت د کتو وړ دی. په معمولی جرګو کې د مثال په توګه پریکړې له اخلاق او عدالت څخه په ښه درک (لکه پښتونولی) پراختیا موندلې ده. په ځینو مواردو کې بنسټیز شوی سیستم شتون لری چه د هغه پر بنسټ تر جرګې یوې لوړې ډلې څخه د جرګې د پریکړو بیا کتنې او یا استیناف غوښتل کېدای شی. پدې ډول د افغانستان ځایی فتوا ورکوونکی سیستم د مدون حقوقی سیستم ډېر "تشریفات" په ځان کې رانغښتی دی او د عرفی قانون د پلی کوونکی بنسټ په توګه ګڼل کېږی. او که چېرې قانون پوهان د فتوا صادرېدو ځایی سیستمونو څخه د لاس ته راغلو نتیجو سره موافق نه وی — په هغه باندې یو کره نیوکه لکه د ښځو سره د چلند په شان ده — د وروسته پاته او ناسمو سیستمونو په توګه ددې ځایی سیستمونو پرېښودل، زیان رسوونکی دی. لدې پرته دا ډول قانون لا اوس هم د ډېری افغانانو په ځانګړې توګه له ښارونو څخه بهر سیمو کې حاکم دی. د رسمی قانونی سیستم د پلی کېدو په وړاندې ننګونې او د عدلې دندې ځانګړتیا په نظر کې نیولو سره، داسې ښکاری چه غیر رسمی سیستم د اختلافونو د حل او فصل او آن د هغه جزایی چارو لپاره یوه داسې ټولګه ده چه په هغه کې دولت د څو پرله پسې لسیزو لپاره د خیب اقتدار د ځای په ځای کېدو په لټه کې دی.[14]

غیر رسمی سیستم د ډېرو واقعی ښېګڼو ځینې برابروی. په هغو سیمو کې جه په هغو کې لومړۍ محکمه د قضیو یو دروند پېټی لری او هلته د قاضیانو اړین شمېر شتون نه لری، دا بدیل حالتونه کولای شی د اختلافونو د حل او فصل څرنګوالی داسې تر سره کړی چه د دواړو لپاره د منلو وړ وی، ټولنیزه هممغږی خوندی وساتی او ګړندۍ یی کړی. په یو شمېر کوچنیو ښارونو کې ابتدایه محکمه لا هم فعاله نده، پدې توګه د افرادو لپاره بدیل بهییر د دوامدار حل او فصل یوازنۍ لار ده. د افغانستان یو زیات شمېر وګړی په ځانګړی توګه په کلیوالی سیمو کې، د خپلو اختلافونو د حل او فصل لپاره شورا او یا جرګې ته مراجعه کوی ځکه د هغوی له نظره د دولتی سیستم په پرتله دا بنسټ ډېر عادلانه، اغېزمن او د لاس رسی وړ او د ځایی ارزښتونو څخه خبر دی. فساد، د لاس رسی نشتوالی، او ورو غبرګون د رسمی قضایی نظام په هکله دری معمول شکایتونه دی. بالآخره دا بهیرونه ځایی محوره دی او په جمعی ډول د اختلافونو په حل او فصل کې مرسته کوی. د څو لسیزو په اوږدو کې په یوه جنګ ځپلی هېواد په خاصه توګه په کلیوالی سیمو کې چېرې چې افراد د ورځنی ژوند کولو په خاطر په شدت په ګاونډیو هېوادونو پورې تړلی دی، د جمعی هارمونی یا هماهنګی د ارزښت په هکله مبالغه کول ستونزمن دی.

همدا ډول په غیر رسمی سیستم باندې تکیه د پام وړ ځینې جانبی منفث اثرات هم د ځان سره لری. په دودیزه محکمو کې غیررسمی بنسټونه د کړندود له مصؤنیت، د څارنې د یو خپلوالی او څرنګوالی ( کم تر کمه له

[14]. پښتونولی دعرفی نا مدونه قوانینو کود یا ټولګه ده چه له اسلام د مخه یی شتون درلود او په افغانستان او پاکستان کې دېری قبیلې هغه مراعات او پیروی یی کوی.

نظری پلوه) بې برخې دی. هغوی همداشانې کله هم د روښتیا له نشتوالی څخه رنځ وړی. آن تر ټولو د اندېښنې وړ خو داده چه په ۲۰۰۴ کال کې د تافتز پوهنتون د یوې مطالعې په ترڅ کې داسې وایی چه " د افغانستان په یو شمېر کلیوالی سیمو کې سیاسی وسله والې ډلې، قوماندانان او ملېشې په ستراتیژیکی ډول د عدالت عرفی سیستمونه په نښه کړی دی او په ځایی وګړو باندی خپل کنترل ټپی" — چه دا ډول کړنې په ډېرې حالاتو کې د بریالی سره مل وی. پداسې حال کې چه موږ د تېرو پنځو کلونو په اوږدو کې د غیر رسمی سیستم د فعال والی په هکله هر اړخیزه نظر سنجی په واک کې نه لرو، د تېرو پنځو کلونو په اوږدو کې د امنیتی وضعې د خرابېدو سره سم د وسله والو ډلو د کنترول د راټیټېدو لږ دلیلیونه وجود لری. په واقعیت کې د هغه د زیاتوالی د خطر دلیلونه شته.

پداسې حال کې چه غیر رسمی سیستم د جګړې د څو لسیزو په اوږدو کې د افغانستان د ټولنیز ظریف ترکیب په پایښت کې مهم رول لوبولی دی، تاوتریخوالی په رسمی سیستم کې یوه عارضه ګڼل کېږی. په بل عبارت، د غیر رسمی سیستم د توافق لپاره د وسله والو ډلو کوښښ کومه نوی موضوع نده. طالبانو د جرګی د استایتوب دودیز بنسټ (حد اقل د نارینه افغانانو لپاره) له شورا څخه د خپلې انګېرنې له مخې په نښه کړ. دا تغییر د یو پرله پسی تغییر یوه برخه وه چه په هغه کې د عرفی  قانون تطبیق د محافظه کاره روحانیونو له لوری چه زیاترو یی په پاکستان کې زده کړی کړې وی، محدود شو او مخکې له عرفی قانون څخه طالبانو یو شان ممنوعیت تر اجرا لاندې نیولی وو.

د بین المللی قوانینو له لوری دظاهری ملاتړ  اساسی قانون، اسلامی قانون او د افغانستان د جزایی قوانینو مختلف حکمونو د شتون باوجود، لاهم ډېری ځایی سیستمونه ښځې له برابر قانونی ملاتړ څخه بې برخې کړې دی. پداسې حال کې چه د طالبانو تر رژیم لاندې تاوتریخوالی او له ښځو څخه ناوړه ګټه اخیستنه خپل لوړ حد ته رسیدلی وو، ښځې زیاتره د افغانستان په وروتی تاریخ کې د ناوړه ګټې اخیستنې قربانیان وو. د مداوم نقض باوجود، د ښځو حقونو اوسنی وضعیت کابو په ټول هېواد کې ښه والی موندلی. څرنګه چه د ملګرو ملتو د بشری حقونو شورا وایی، " ښځو د ښوونې روزنی، کارموندنی، او سیاسی مشارکت په برخو کې مهم پرمختګونه کړی دی".سره ددې هم، هغوی همدا ډول د تبعیض وړ قوانینو، انګېرنو، چلندونو په وړاندی مقابلی ته دوام ورکوی". ښځې د عرفی قوانینو له نظره د سیستماتیکې ناوړه ګټې اخیستنې څخه رنځ وړی او دا کار د رسمی محکمې په ګټه تر ټولو قوی دلیلونو څخه ګڼل کېږی. په عین حال کې، شواهد ښیی چه همدا شانې ښځې په سیستماتیک ډول په رسمی قضایی نظام کې هم( که څه هم څو ځلې لږ) د قانونی تبعیض سره مخامخ دی.

په ډېره عامه کچه، د غیر رسمی قضایی نظام خپراوی او محبوبیت په افغانستان کې د دولت جوړونې لپاره  تر اوسه پورې بېلکل منفی پایلې درلودلې دی. په غیر رسمی سیستم باندې د تکیه کولو ځواکمنتیا د هغه د ډېرو څرګندو ښېګڼو باوجود، د ګڼ میشتو سیمو له مرکزونو څخه د باندی د دولت جوړونې بهییر خنډ دی. څرنګه چه توماس بارفېلد وایی: " د افغانستان وګړی د دولت عدلی سیستم په وړاندې مخالف پاته شوی، چه

د هغوی له نظره د قانون حاکمیت لوری ته یی کمه پراختیا موندلې  او تر ډېره د دولت د اعمالو تحمیل دی″. پدې ډول د دولت جوړونی هلې ځلې تر ډېره ددې خنډونو سره مخامخ دی چه ډېری افغانان دولت او حقوقی نظام د پراخ فساد او له قدرت څخه د ناوړه ګټه اخیستنې سره یو ګڼی.

ددې مسلې جاج اخیستل پداسې ډول چه د دواړو یعنې دولتی او ځایی سیستمونو اندېښنوته ځواب ووایی، یوه ستونزه ده. د حل او فصل د ممکنو لارو څخه یوه دا کېدای شی چه د بدیل سیستم اصولو، منځګړیتوب او په دولتی سیستمونو کې همکاری وی. د حل یوه بله ممکنه لار په وضعی قوانینو کې دهغوی د تصریح، د ښځو په وړاندې د هغوی په چلند کې اصلاحات راوستل او د ټاکلو اختلافونو د حل او فصل له لارې د واک ورکولو  له لاری د ځایی سیستمونو ″ په رسمیت پېژندل″ کېدای شی.

ددې دوو سیستمونو د ادغام لپاره نورې ډېرې لارې چارې وړاندې شوی دی، خو د ټولو طرحو په برخه کې، د یادشوو سیستمونو د یو کلو په لوری کم پرمختګ تر لاسه شوی دی. د دوو یادشوو موازی سیستمونو د موجودیت پایښت او د له دولتی سیستم څخه د اسلامی محکمو بېلوالی، د دریو سیستمونو موجودیت یو جاری پرابلم جوړوی او یوه ستونزه ده چه د ټولو اړخونو له جدی ژمنتیا پرته حل کېدای نشی. په ټولیزه توګه، د مختلفو سیستمونو ترمنځ اختلافات داسې رسوی چه په افغانستان کې قضایی سیستم په نوسان او ابهام کې قرار لری.

## د مباحثې پوښتنې

۱. آیا د عدلی دوه ګونی سیستم ښېګڼې لګښت زیاتوی؟ د یوځای کېدو وړ سیستمونو د پخلاینې لپره کومې معقولې لارې چارې شتون لری؟

۲. آیا د داسې کړندود د حمایت لپاره لارې چارې شته چه د ګډون کوونکو په ګټه وی او اطمېنان تر لاسه شی چه په غیر رسمی سیستم کې د ټولو افرادو سره یو شان چلند کېږی او ځایی اصولو او قواعدو ته هم درناوی خوندی پاته کېږی؟ تاسو د غیر رسمی قضایی سیستم د ښه والی لپاره د ضرورت په صورت کې کوم اصلاحات پشنهاد کوی؟

## د بحث راغونډېدا

پدې څپرکی کې موږ په افغانستان کې د جزایی عدالت په سیستم کې د مجازاتو مختلف اړخونه تر بحث لاندې ونیول. په ځانګړې توګه، موږ دری ډوله مجازات تر پوښښ لاندې ونیول: اصلی، تبعی او تکمیلی. تاسو د مهمو مشدده او مخففه شرایطو ځینې او دا نظر چه مجازات باید د مرتکب شوی جرم سره متناسب او یا اندول ولری آشنایی تر لاسه کړه. سر بېره پردې ، دا څپرکی د استیناف غوښتنې سریزه وړاندې کړه. له دې

عرصو څخه معلومات لري، د خاصو جرمونو په هکله د راتلونکو بحثونو لپاره ښه مخینه برابروي. تر ټولو مهمه داچې، تاسو په افغانستان کې د قانوني سرغړونو د مجازاتو انتقادي بررسي او همدارنګه د سیستم د بالقوه ښه کولو لپاره د اړتیا وړ وسیلې او معلومات تر لاسه کړل.

# اخځليك او معلوماتی سرچينې


Afghanistan Independent Human Rights Commission & the United Nations Children's Fund, "Justice for Children: The Situation of Children in Conflict with the Law in Afghanistan," 2008, <www.aihrc.org.ac/juvenile_ detention_eng.pdf.<

Afghanistan Justice Sector Support Program, "Afghanistan Case System Management," (2009).

Afghanistan Justice Sector Support Program, "Afghanistan's Criminal Justice System," May 21, 2007.

Afghanistan Legal Documents Exchange Center (available a http://www.afghanistantranslation.com/).

Official Website of the Ministry of Justice (available at http://www.moj.gov.af/).

Faiz Ahmed, Judicial Reform in Afghanistan, 29 Hastings Int'l & Comp. Law Review 93.

Asian Development Bank. "Law and Policy Reform at the Asian Development Bank, Legal Empowerment: Advancing Good Governance and Poverty Reduction. Manila: Asian Development Bank," (2000).

Thomas Barfield, Neamat Nojumi, and J Alexander Their, The Clash of Two Goods: State and Non-State Dispute Resolution in Afghanistan, United States Institute of Peace, November 2006.

Thomas Barfield, "Culture and Custom in Nation-Building: Law in Afghanistan," Maine Law Review, Vol. 60, 2008, 351.

Alexander K. Bernard et al, An Introduction to the Law of Afghanistan, (2008).

The Customary Laws of Afghanistan, The International Legal Foundation (available at http:// www.theilf.org/Customary%20Laws.pdf).

Nusrat Chowdury, "Constrained Spaces for Islamic Feminism: Women's Rights and the 2004 Constitution of Afghanistan," Yale Journal of Law and Feminism; vol. 19, 2007, 155 .

Mark A. Drumbi, "Rights, Culture, and Crime: The Role of Rule of Law for the Women of Afghanistan," Columbia Journal of Transnational Law, vol. 42, 2004, 354.

Marcus Dubber and Mark Kelman, American Criminal Law, Foundation Press 2005.

Hossein Gholami, Basics of Afghan Law and Criminal Justice, <www.auswaertiges-amt.de/diplo/de/Aussenpolitik/RegionaleSchwerpunkte/AfghanistanZentralasien/Downloads/Polizei-Legal-Manual.pdf.<

Hesham Nasr, "Lectures on Penal Law Part I: Introduction to the Penal Law"،

Neamat Nojumi, Dyan Mazurana, and Elizabeth Stites, Afghanistan’s Systems of Justice: Formal Traditional, and Customary, 2004.

Nagaty Sanad, The Theory of Crime and Criminal Responsibility in Islamic Law: Shari’a, University of Illinois-Chicago 1991.

Richard G. Singer and John Q La Fond, Criminal Law Examples and Explanation: Fourth Edition, (2007).

United Nations Human Rights Council, Annual Report of the United Nations High Commissioner for Human Rights and Reports of the Office of the High Commissioner and Secretary General, Jan. 16, 2009.

United States Department of State, Afghanistan Justice Sector Support Program, Briefing Report, May 21, 2007.

United States Department of State, Afghanistan Justice Sector Support Program, Briefing Report, Oct. 10, 2007.

USAID, Afghanistan Rule of Law Project, Field Study of Informal and Customary Justice in Afghanistan, April 2005.

Wilson, et al., Restorative Justice Innovations in Canada, Behav. Sci. Law 20: 363–380 (2002.(

Franklin E. Zimring and Gordon J. Hawkins, Incapacitation: Penal Confinement and the Restraint of Crime (1995.(

The Constitution of Afghanistan, January 3, 2004, < http://www.afghanistantranslation.com.</

The Juvenile Code of Afghanistan, April 11, 2005, <http://www.juvenilejusticepanel.org/resources/?act=res&id=AfghJuvenileCodeUnoffTrans11Apr05.<

The Penal Code of Afghanistan, October 7, 1976.

# پنځم څپرکی

## د افغانستان جزا په حقوقو کې اصلي جرمونه



Goran Tomasevic/Reuters

## ا. سریزه

فرض کړی چه تاسو لکچر ته د غوږ نیولو په ترڅ کې پخپله کتابچه کې د یادښت په نیولو مشغول یاستی. پدې وخت کې نابېره پروفیسور خپلې خبرې قطع کوی او له تاسو څخه غواړی چه له صنف څخه ووزی. ددې په ځواب کې تاسو له استاد څخه پوښتنه کوی چه د صنف څخه د وتلو دلیل څه دی. په ځواب کې استاد وایی چه هغه خپلو شاګردانو ته د لکچر ورکولو په مهال خپلو شاګردانو ته د یادښت نیولو اجازه نه ورکوی او ددې کار مجازات له صنف څخه د شاګرد ایستل دی. پدې ترڅ کې تاسو وایی چه یوه اونۍ کېږی تاسو د استاد د لکچر یادښت اخلی، خو استاد وایی چه نوموړی دا قانون نوی اعلام کړی او ستاسو مجازات به د نورو لپاره د عبرت درس شی. آیا پدې حالت کې د استاد عمل منصفانه دی؟

اوس فرض کړی چه ستاسو د جمعیت له افرادو څخه یو د لوړې کچې وحشیانه قتل مرتکب کېږی. طبعی ده چه د تورن د محاکمې لپاره د عامه وګړو پاملرنه خورا زیاته وی. د اجرا وړ قوانینو پر بنسټ د کره بررسی یوه برخه حل او فصل شوی ده چه د عام وګړو له نظره تر حد زیاته ملایمه ده. د یوې نتیجې په توګه، هغوی د یوه نوی قانون د تصویب لپاره په مقننه قوه کې لابی کوی چه د هغه پر بنسټ باید د حبس موده د جرم د ارتکاب په مهال د مدعی علیه د حبس اټکل شوې جزا څخه اوږده وی. آیا داسې یوقانون به مشروع دی؟

د جزا حقوقو لومړنی اصل ته په پام سره، نه د استاد عمل او رویه او نه هم مقننه قوه عادلانه دی. په ځانګړې توګه، هغوی دواړه د قانونیت اصل نقض کوی. دا څپرکی له قانونیت او د هغه شرایطو او همدارنګه قانونی تفسیر اړوند مفهوم څخه په یوه لنډ بحث پیل کېږی. په ګډه سره، د اعتبار وړ قانون منشاء (هغه چا رامنځ ته کړی؟ څوک هغه تعریف او تفسیر کوی؟) او په افغانستان کې ددې مسلو بررسی تر مطالعې لاندې نیسو.

لدې سریزې وروسته دا څپرکی د جزا حقوقو سرچینو ته راګرځی. په افغانستان کې د جزا حقوق دوې غوره سرچینې لری. لومړۍ سرچینه د اسلام کلاسیک حقوق دی. دوهمه سرچینه د افغانستان د جزا وضعی حقوق دی چه د جزا په قانون او نورو اړونده قوانینو کې تسجیل شوی دی. دا دوې رشتې په یوه مهم او پېفریبکاریی تعامل کې قرار لری او د هغوی ترمنځ اړیکه یو پر بل اغېز لری ځکه چه د هغو هر یو ډېر جرمونه تعریف او مجازات کوی چه په اړه یی موږ وروسته بحث کوو.

ورپسنی برخې د اساسی جرمونو کره بررسی ته بېلې شوی دی. په پیل کې موږ د اسلامی حقوقو د اغیز بررسی او هغه جرمونه چه د هغه د حکمونو لکه حدود، قصاص، او تعزیر پواسطه تعریف او تشخیص شوی دی تر بحث لاندې نیسو. له هغه وروسته ددې څپرکې ډېره برخه حقوقو ته هغسې نظر کوی څرنګه چه د جزا قانون او نوراړونده قوانینو یی اټکل کړی دی. موږ د نظام خلاف جرمونه (بدې او فساد، د کوکنارو کښت/قاچاق، د تروریزم مالی تمویل، د پیسو سپینول)، د شخص خلاف جنایت (قتل، وهل او زخم، غلاو سړی تښتونه او جنسی تیری)، او د ملکیت یا مال خلاف جرمونه (اختلاص، غلا، تقلب) به بررسی کړو. په

پای کې، موږ په لنډ ډول  د مدافع وکیل له لوري د تخلف په وړاندې د مدعی علیه د مقابلې څرنګوالی تر څېړنې لاندې نیسو.

ددې څېړکی موخه د ډېرو مهمو مدونو یا موضوعه قوانینو د هغوی د عناصرو او په افغانستان کې د هغوی کارول دی. ددې څېړکی په پای ته رسېدو سره تاسو باید په افغانستان کې د جزایي عدالت سیستم له غوره ستونزو څخه خبر شی او د غوره جرمونو په پیژندلو وتوانېږی او د ټاکلو قوانینو د مسودې لیکلو او ګټې اخیستلو په هکله پوښتنو ته ځوابونه پیدا کړی.

## 1. قانونیت

په دواړو یادشوو حالتونو کې د قانونیت اصل یا د یادشوی عمل قانونیت یعنې له صنف څخه ایستل او یا د ماقبل مجازاتو زیاتول دی. قانونیت پدې اړوند د ډاډ تر لاسه کول دی چه ټول قوانین د وضاحت او د تحقیق وړ دی او د مجازاتو زیاتوالی ماقبل ته نه ارجاع کوی. په ځانګړی توګه، قانونیت د اساسی قانون خلاف موخو رسېدو ته د دولت خپل سری عمل قدرت پورې محدود کوی. سره ددې چه په لومړی څېړکی کې پرې بحث وشو، مهم ښکاری تر څو د قانونیت له مفهوم چه زموږ بحث د اصلی جرمونو هره یوی ته رهنمایی کوی، یادونه وکړو.

د جزا قانون اړوند د قانونیت اصل څو مختلف عنصرونه لری. په ګډه سره دا عنصرونه یقینی کوی چه هیڅ فرد په جرم تورن او مجازات کېدای نشی تر څو یو قانونی متن په مشخص ډول اړونده جرم او مجازات نه وی په ګوته کړی، همداشانې قانونیت پدې معنا هم دی چه یو قاضی یو تورن تر هغه پورې نشی مجازات کولای ترڅو اړین قانونی شواهد شتون و نه لری.

مختلف عنصرونه عادلانه پوهاوی باندې د وګړو د حق تأمین په معنا هم دی. د خبرتیا او اطلاع سره افراد کولای شی د جرم له ارتکاب څخه ډډه وکړی، پداسې حال کې چه دولت کولای شی هغوی چه له قانون څخه یی خلاف لار غوره کړی او له قانون څخه سرغړوی مجازات کړی.

### د افغانستان په حقوقوکې قانونیت

د قانونیت موضوع د اساسی قانون په ۲۷ ماده کې تسجیل شوی ده. پدې ماده کې راغلی دی چه: ″ هېڅ یو عمل جرم نه ګڼل کېږی خو د هغه قانون له مخې چه د جرم تر ارتکاب د مخه نافذ شوی وی. هیڅوک د قانون له حکم پرته تعقیبیدای، نیول کېدای او یا توقیفېدای نه شی. هېچاته سزا نه شی ورکول کېدای مګر د باصلاحیته محکمې په حکم او د هغه قانون له احکامو سره سم چه د اتهام وړ فعل تر ارتکابه مخکې نافذ شوی وی″.

اسلام هم د قانونیت له اصل څخه ملاتړ کوی. د اسلامی حقوقو خپل سری او ناعادلانه قوانین ممنوع کړی دی. په اسلامی حکومت کې پرېکړې او اقدامات د کلاسیك اسلامی حقوقو له دستورونو او د هغی تفسیر څخه رامنځ ته کیږی نه له فکری تمایلاتو څخه. عالمان د رایو په اتفاق پدې نظر دی چه دولتونو مشران د خپلو عملونو ځواب ورکوونکی دی. هغوی د قضایی محکمې په قانون او پرېکړو ملزم دی او هغو قانون نشی جوړولای.

دا څپرکی د قانونیت د اصل څرنګوالی د اسلامی حقوقو او موضوعه قوانینو له لارې بررسی کوی. دا څپرکی نه یوازی موضوعه قوانین چه له تاسو سره به په عمل کې مرسته وکړی، معرفی کوی بلکه همدارنګه د مهمو او غوره جرمونو په هکله به تاسو ته ښوونه کوی. پدې کار سره لازمه ده د چه دواړه یعنې هم د اسلام جزایی حقوق او هم سکولار جزایی حقوق  په هر اړخیزه توګه وڅیړل شی.اګرچه د افغانستان په غوره جزایی حقوقو باندې اساسی او جامع نظر نه اچول کیږی.

## 2. قانونی تفسیر

ورپسنی څپرکی د افغانستان جزا حقوقو کې د قانونیت د غوښتنو د تحقق څرنګوال څیړلو ته بېل شوی دی. ددې غوښتنو یوه له اساسی لارو څخه د قوانینو د مسودې برابرول دی. خو د جزا قانون او د هغه سره نور تړلی قوانین همېش په بشپړه توګه روښانه ندی. هغوی اکثراً د زیاتو تفسیرونو او کارونې پروګرامونو لپاره پرانیستی وی.

لدې امله قاضیان او مدافع وکیلان باید د قوانینو معنا او د هغو د تفسیر څرنګوالی او کارولو باندې وپوهیږی. دا بهیر د قانونی تفسیر په نوم یادیږی. په ساده عبارت، قانونی تفسیر د قانون د تفسیر عمل او د قانون له اعمال څخه عبارت دی. د مثال په توګه څه به وشی که قانون وړاندوینه وکړی چه: " پدې ځمکه د لیږد هیڅ وسیلې ته اجازه نشته". آیا په بایسکل سور یو هلك دا قانون نقض کوی؟ باید وویل شی چه موضوع د "لیږد وسیلې" د معنا د څرنګوالی سره تړاو لری.

لومړی ګام په قانونی تفسیر کې، د متن په مفهوم کې د مبهمې ژبې نغښتل دی. د پورتنی پوښتنې قانونی ځواب به څه وی؟ که چېرې داسې قانون تصویب شی چه پرځمکه باندی د پیکاپ لاری ګرځېدل لیرې کړی، پدې صورت کې داسې پرېښنی چه " د لیږد وسیله" یوازې تیزرفتار موټر په برک ې نیسی. سره ددې که دا قانون د بایسکل سواری فعالیت محدود او په ټولو لارو باندې کروندګرو تګ راتګ په نظر کې ونیسی، پدې صورت کې داسې نظر ته رسیږی چه د نظر وړ کلمه ښایی په بشپړه توګه متفاوته معنا ورکړی. ددې مفهوم د مشخص کولو لپاره باید د قانونګذاری تاریخچه په نظر کې ونیول شی. آیا د جزا د مخکنی قانون دا ماده او یا هغه قانون چه په واضح توګه په ګوته کوی :" هیڅ یو موټر او یا لاری پر ځمکه حرکت نشی کولای؟" که داسې وی، د هغه سابقه د " لیږد وسیلې" د څرګندې معنا نښانه کېدای شی.

که بیا هم، د قانون سابقه په سمه نه وی پېژندل شوی، د قاضی او یا وکیل دنده ده ترڅو په هغه کې نغښتل شوی موخه ثابت کړی. له فرضی بېلګو څخه ګټه اخیستل اوله استدلال څخه د ملاتړ ورته والی ګټور وی. په واقعیت کې مدافع وکیل، (همدارنګه قاضی) باید د کلماتو د معنا کولو لپاره چه په ښه توګه د ټولنیزو موخو تحقق تأمین کاندی کوښښ وکړی. که چېرې تاسو پر بایسکل سواره طفل استازی یاستی، د قانع کوونکی استدلال پر اسای ویلای شی چه د مجازاتو قانون اطفال په نظر کې نه لری.

## لومړی برخه : اسلامی حقوق د افغانستان جزا حقوقو د سرچینې په توګه

اسلامی حقوق د افغانستان جزا حقوقو د ټولو اړخونو لارښوونه کوی، له اساسی قانون څخه د جزا تر قانون پوری او د هغه نور ټول اړونده قوانین. پدې بنسټ، دا درسی کتاب د اسلامی حقوقو او د افغانستان د جزایی قوانینو په منځ که د هغه ځای په هکله له بحث کولو پرته به بشپړ نه وی. ددې درسی کتب په اړه، موږ په هېڅ وجه قصد نه لرو چه د اسلام دینی عالمانو په منځ کې له مهمو بحثونو په اړوند ″ لوری یا طرف″ واقع شو. په واقعیت کې، ددې کتاب هېڅ یوه برخه د یوه با ایمانه شخص د نه درناوی په معنا نده.

لوستونکی باید خبر وی چه تر اسلامی قوانینو لاندې د جرمونو او مجازاتو د تفسیر او څرنګوالی په هکله د اسلامی عالمانو ترمنځ د نظر پام وړ اختلاف شته. په واقعیت کې، پخپله د قرآن ژباړه کېدای شی د مشاجرې یوه پیاوړې سرچینه و اوسی. ددې مناظرې په ترڅ کې د لوری د واقع کېدو پرځای، پدې کتاب کې کوښښ شوی دی تر څو د اسلامی حقوقو او د افغانستان جزا حقوقو باندې د هغه یو تر ټولو بنسټیز او کلی انځور وړاندې کړی. موږ هېله لرو چه لوستونکی به زموږ منندوی وی او د زیاتو تفسیرونو په مطالعې سره به ددې پېفریبکارېې اړیکې څېړنه تر سره کړی.

پداسې حال کې چه تدوین د جزا قانون  په تعریف او خپراوی کې مهم رول لوبوی، په افغانستان کې ټول قوانین له هغه جملې د جزا قانون، د اسلامی حقوقو سره د جوړښت په هڅه کې دی. هماغسې چه د لاندې پرې بحث شوی دی، په افغانستان کې تر ۱۹۳۰ کلونو پورې د مدنی قوانینو څخه بحث شتون نه درلود. او تر ۱۹۶۰ کلونو پورې وو چه د افغانستان حکومت په هېواد کې د جزاقانون د تدوین لپاره پرله پسې هلې ځلې پیل کړې. پدې موده کې ټول دا کوښښونه د اسلامی حقوقو تر اغېز اوهدایت لاندې قرار درلود.

آن په معاصره قانونګذاری کې اسلامی حقوق له پېژندل شوی مقام څخه برخمن دی. د جزا قانون په ۱ ماده کې راغلی دی: ″ دا قانون تعزیری جرمونه او جزاګانې تنظیموی، د حدودو، قصاص اودیت د جرمونو ارتکاب کوونکی د اسلامی شریعت د حنفی فقهې د حکمونو سره سم مجازات کېږی″.

اساسی قانون په جزایی عدالت کې د اسلامی فقهې لپاره  ورته رول په نظر کې نیولی دی. د اساسی قانون دریمه ماده وایی:″ په افغانستان کې هېڅ قانون نشی کولای چه د اسلام د سپېڅلی دین د معتقداتو او احکامو

مخالف وی". په ټولیز ډول، دا باورونه او معتقدات د اسلام له پنځه بناوو څخه عبارت دی: کلمه (ایمان راوړل)، لمونځ، روژه، زکات او حج.

اسلامی حقوق څلور غوره سرچینې لری: د بیلوالی په ترڅ کې هغوی په عین حال کې یو د بل سره تړلی عنصرونه او د الله (ج) د ارادې ښکارندوی او د فقهی د ریښو څرګندوی دی. هغوی عبارت دی له : (۱) قرآن، (۲) د پیغمبر (ص) حدیث، (۳) قیاس او (۴) اجماع.

طبیعی ده چه اسلام د جزا حقوقو کره او مفصله شننه او تجزیه غواړی چه موضوع د یو بېل کتاب په ترڅ کې بیان شی. پردې بنسټ پداسې حال کې چه د اسلامی حقوقو جامع څېړن او شننه ددې څپرکی له محدودې څخه بهر ده، دا مهمه ده چه د اسلامی حقوقو رول او د افغانستان د جزا قانون سره د هغه تړاو باندې و پوهېږو. پردې بنسټ، لاندې راتلونکې بحث پدې اړه د یوې سریزې حیثیت لری.

## د اسلامی حقوقو منشاء

شریعت د کلمې په دقیقه معنا د " معدنی اوبو سرچینې ته لار" او یا " د نیک مرغی او خلاصون لارې" مفهوم لری. دا کلمه یوازی یو ځل په قرآن کې یاده شوې ده. په آیت کې راغلی دی: " ثم جعلناک علی شریعة من الامر فاتبعها و لاتتبع اهوآء الذین لایعلمون. ژباړه: بیا مونږ کړلې ته په یوه خاصه طریقه د دین نو پیروی کوه ته د هغې او پیروی مه کوه د خواهشونو د هغو خلکو چه نه پوهېږی". (45 سوره، 18آیه)

له کومه ځایه چه د جزا هېڅ یو اسلامی قانون د وحی د نازېلېدو په وخت کې نه وو، قرآن د کلمی په واقعی معنا په اسلام کې عقیدې ته اشاره لری. د قرآن اصول او احکام د لارښوونې یا هدایت ترټولو لوړه سرچینه وه او د اسلام لپاره د شرعی حقوقو یوه بنه ده چه پکې د خدای (ج) ټول احکام راځی. د اسلام د تعلیماتو پر اساس، د قوانینو د وضع کولو نور ټول اختیارات او حقوقی نظر وړاندې کول  د قرآن او د هغه له اصولو څخه منشاء اخلی.

د حضرت محمد (ص) له رحلت څخه وروسته، د فقهې مختلف مکتبونه رامنځ ته شول چه هر یو اسلامی حقوق په مهم توپیر سره تفسیر کوی. نن ورځ د افغانستان اساسی قانون حنفی فقهی مذهب په رسمیت پېژنی. دا مکتب د ابو حنیفه په قرآنی قوانینو او تفسیرونو باندې ولاړ دی، حنفی مکتب اوس مهال تر ټولو لوی فقهی مکتب دی چه ډېر پیروان لری چه د یوه تخمین له مخې په نړۍ کې د هغوی شمېر د ټولو مسلمانانو یو بر دریمه برخه جوړوی.

پداسې حال کې چه د ابو حنیفه د ژوند حالاتو په هکله جزی توپیرونه شته، د نوموړی د قانونی لید له مخې ویل کېږی چه په کوفه (عراق) کې زیږېدلی او په ۷۰۲ — ۷۶۷ م کلونو کې یی ژوند کاوه. د خپل شخصیت د تشکل په کلونو کې، نوموړی د حماد بن زید  د احادیثو د نامتو څېړونکی څخه درس ویلی دی. د

ښوونکی په توګه امام ابو حنیفه د خپلې زمانې د ډېرو منلو عالمانو څخه وو او د قانونی ستونزو د حل او فصل لپاره یی د سلا مشورې، بحث او نقادانه تجزیی او شننې پر بهییر باندې ټینګار کاوه. د نتیجې په توګه ویلای شو چه حنفی مکتب د ټولو فقهی مکتبونو په منځ کې د بشر پالنې تر ټولو لوی مکتب دی ځکه چه دا مکتب د جزا په حقوقو کې انعطاف منونکی دی غیر مسلمانان هم تر پوښښ لاندې نیسی.

د اسلامی حقوقو مظاهر په ورپسنی برخو کې تر بحث لاندې نیول کیږی چې د هغو په ترڅ کې د مجازاتو غوره اسلامی قوانین په ځانګړې توګه هغه چه د حدود او قصاص په توګه طبقه بندی شوی دی بررسی کیږی.

## د اسلام جزایی حقوق

د حنفی مکتب پر اساس اسلامی حقوق، جرمونو په دریو طریقو طبقه بندی کیږی: حدود، قصاص او تعزیر. په ټولیزه توګه، د اسلام جزایی حقوق د هغو د مجازاتو او اجرا په شرایطو کې د پام وړ انعطاف مننې وړ دی. پدې لړ کې یوازنی استثناء حدود تشکیلوی. د حدود جرمونه د اسلام جزایی حقوقو تر ټولو جدی تېروتنې ګڼل کیږی او پدې ډول د هغه اجرا او مجازات په بشپړه توګه انعطاف نه منونکی دی.

سره ددې، د اسلام جزایی حقوق تر ډېره د سیاسی کتنو د اعمال لپاره پرنېستی پاته کیږی او د تعزیر جرمونو په شان، آن د اختیاری اجرا د امکان سره مل دی. د بشپړو مذهبی مسلو خلاف چه د قرآن متن هغه رهنمایی کوی، عامه ګټو او قانونی استدلال په پرتله، مجازات تر ډېره پرانیستی دی. په واقعیت کې، اسلامی حقوق ددې لپاره تفسیر شوی دی تر څو غوره اصول طرح کړی او د ژوندانه نورو اړخونو تنظیم سکولار قانون جوړونې ته پرېږدی. دا شانې، اسلامی حقوق د دولتی ګټو، ټولنیزو اړتیاوو او د دولت د عرف پر بنسټ د قوانینو ودې او پراختیا ته زمینه برابروی.

### I. دحدود جرمونه

د اسلام په جزایی حقوقو کې حدود تر ټولو جدی جرمونه دی.[15] ځکه دا جرمونه په ځانګړی توګه په قرآن کې ذکر شوی دی، جرمی ارتکاب له حدودو څخه تجاوز دی چه خدای پاک د انسان رفتار لپاره مقرر کړی دی. معاصر حقوق پوهان حد د عامه ګټو خلاف جرم او د دولت د اساسی بنسټونو خلاف جرم په توګه تفسیر کوی. له کومه ځایه چه د حد مجازات په قرآن او د پیغمبر (ص) په سنتو کې اټکل شوی دی، بیا هم تحقیق پدې اړوند الزامی دی او مجازات باید په دقیق ډول ددې اټکل له مخې پلی شیږ کله چه ګناه ثابته شی، د حد مجرم تر عفو یا بخښنې لاندې نه راځی. مسلمان حقوق پوهان او اسلامی عالمان د حدود اړوند

[15]. د حدود مفرد حالت حد دی.

پنځو جرمونه په سر د نظر یووالی لری: (1) غلا (2) زنا، (3) لارې وهل، (4) د الکلو څښل ، و (5) افترا، په ځانګړې توګه د بې عفتی په اړه تور د حدود اړوند دوه نورجرمونه ارتداد او بغاوت په بر کې نیسی.

د اجباری مجازاتو باوجود، د حدودو په مواردو کې د اثبات ستاندارد په جدی توګه اړین دی. د ډېرو جرمونو له هغه جملې زنا لپاره  شاهدان باید هره ادعا د ګناه له ارتکاب مخکې تأیید کړی. د شاهدانو سموالی د جنس، ټولنیز موقف، د وینا منځپانګی، او د حاضرو شاهدانو د شمېر په پام سره بررسی او ارزول کیږی.

د حد د یو جرم لپاره مجازات یوازې هغه مهال انعطاف پذیر دی چه تورن مخکی له نیولو څخه توبه وکاږی. د مثال په توګه، که چېرې غل توبه وکاږی او غلا شوی مالونه د حکم له تطبیق مخکې مسترد کړی حد ساقط کیږی.

**اسلامی حقوق او د حدود جرمونه : تبصره**

" ډېری مفسرین، اسلامی حقوق د سخت، بې رحمه او زاړه شوو حقوقو په توګه نقد کوی چه په منظم ډول د ټولنیزو ستونزو سره د مقابلې لپاره د جسمی تنبیه کوونکې جزا څخه استفاده کوی. د معمول سره سم، په اسلامی حقوقو برید، د هغه د ډېرو سختو مجازاتو سره د جرم د اظهار بڼه ځانته خپلوی.

دا ډول نیوکې د میتود له مخې شتون نه لری. د مجازاتو منطق د زیان پېژندل شوی عرصه او د مجازاتو محدودیت ډېر کم ځلې د معمولی نیوکې په توګه راڅرګندیږی. د مثال په توګه، اسلامی حقوق د وېرې له یوه فریبکاریند څخه د جرمونو لپاره د سختو مجازاتو د تجویز له لارې د هغه په بشپړه معنا کار اخلی، ولې د مجازاتو پلی کول د یو شمېر کره شرایطو سره چه برابرول یې آسانه نه دی تړاو لری. که چېرې دا سخت شرایط برابر نه شی، په مجازاتو کې باید کمښت راشی. پردې سربېره، هر ډول شک کافی دی تر څو د نورو ډېرو سختو او اصلی مجازاتو مخه ونیسی.

له بلې خوا، اسلامی قانون جوړونه د زیان یوه عرصه چه د نورو قانون جوړونو څخه متفاوته ده، معلوموی. د غلا جرمونه له دې ډول جرمونو څخه دی. طبیعی ده چه رامنځ ته شوی زیان ته په پام سره، مقننه قوه یو زیاتوونکی مقیاس په کار اچوی. تر ټولو لوی ټولنیز زیان هغه مهال منځ ته راځی چه د جرم فاعلان د غلا په ترڅ کې د قتل مرتکب کیږی. پدې هکله ګواښ نه یوازی قربانی (یانو) کیږی بلکه ټولې ټولنې ته متوجه کیږی. کله چه زیان په لوبغالی او قربانی پورې...محدود وی، شدید مجازات مناسب نه ښکاری او د غلا

جسمي تنبیه لړو مجازاتو ته تخفیف ورکول کیږي. دا شننه یا تحلیل داسې ښېلګه ده چه د اسلامي حقوقو د منتقدانو له لوري له نظره غورځول کیږي..."[16]

**د مباحثې پوښتنې**

۱.آیا تاسو ددې شننې سره موافق یاستې؟ آیا د درنو مجازاتو تطبیق د وېرې (بازدارندګي) ارزښت لري؟ د داډول سختو مجازاتو پایلې څه شی دي؟ آیا هغه مهم دي؟

۲.آیا نورې لارې چارې شته چه دهغه پواسطه د جزایي عدالت یو سیستم له جرم څخه مخنیوی وکړي؟ ښوونه او روزنه؟ د ټولنیزې سوکالۍ پروګرامونه؟ د مجرم اصلاح؟ ددې هر یو څه شی وړاندې کوي؟ د هغو هر یو د کومو نیمګړتیاوو درلودونکی دی؟

په لاندې بحثونو کې د حدود اوه بېې، د هغوی عنصرونه او اجباری مجازات تر څېړنې او ارزونې لاندې نیول کیږي. مهمه ده تر څو د حدودو په هکله یا د جرمونو د هر یوه د پراختیا او د زیانمن شوو افرادو د مسؤلیت لوی بار په هکله په ځیر فکر وکړو.

## 1. غلا

غلا له قانوني ادعا پرته د بل چا د ملکیت تر لاسه کول دي. د غلا حدود جرم، په لاندې شرطونو پورې تړلی دی:

**عنصرونه**

د حد د مجازاتو وړ توب، غل باید یو بالغ او روغ فرد وي. که هغه بالغ نه وي، د حد مجازات نه عملي کیږي او د تعزیر مجازات رامنځ ته کیږي.[17] مهمه ده په یاد ولرو چه غل باید پخپله خوښه مجرمانه عمل مرتکب شوی وي. که چیرې د غلا عمل تر فشار لاندې یا د لوږي یا بېړنې وضعیت په دلیل تر سره شي، د حد مجازات نه تر سره کیږي. په ورته ډول، غلا شوي مالونه باید قانوني او خپل وي. که چیرې غلا شوي مالونه ناقانونه او یا حرام وي لکه شراب یا د خوګ غوښه، بیا نه د حد مجازات او نه تعزیري مجازات جاري کیږي. په هغه صورت کې چه د یو نامسلمان شخص مال تصرف شي، د هغه مال ورګرځول کیږي او یا په بشپړ ډول جبران کیږي. آن که هغه شراب او یا د خوګ غوښه هم وي.

---

[16] . Hisham M. Ramadan, Larceny Offenses in Islamic Law, Michigan State Law Review (2006).

[17]. د تعزیر جرمونه ددې څېرکې په وروستی برخه کې په تفصیل سره بیان شوی دی.

نور عنصرونه عبارت دی له : (۱) غلا شوی مالونه باید په یوه فرد پورې تړلی وی. که غلا شوی مالونه عام ملکیت او یا د حکومت شتمنی وی، د حد مجازت د عملی کېدو وړ نه دی. (۲) غلا شوی توکی باید په داسې یوه ځای (مکان) کې قرار ولری چه هلته وګړی په عادی ډول خپل مالونه ساتی. د قانونی مالك بې پروایی او یا غفلت د حد مجازت منتفی کوی او (۳) د غلا کولو په مهال غلا شوی مالونه باید د حد اقل ارزښت درلودونکی وی.د حنفی مکتب له نظره، د غلا مجازات نه اعمال کېږی مګر داچه ارزښت یی لس درهمه وی. د ناڅیز مبلغ غلا له هغه جملې خوراکی توکی د حد مجازاتو په ډله کې نه راځی.

## د اثبات بار

مخکې له دې چه د غلا مجرم مجازات شی، هغه باید د دوو نارینه د باور وړ شاهدانو په شهادت او یا د تورن د خپلې خوښې اعتراف سره ثابت شی. اعتراف باید پخپله، دواطلبانه او دوه ځله د محکمې په وړاندې تر سره شی. ددې خبرې په یاد ساتل مهم دی چه د غلا جرم باید د قربانی لوری له خوا اړونده مسؤلو مقاماتو ته راپور شی. تر هغه چه قربانی په رسم توګه شکایت نه وی کړی، مجرم نشی محاکمه کېدای.

## مجازات

د غلا لپاره مقرر مجازات په قرآن کې بیان شوی دی، آیت ژباړه: ″ دوی پوښتنه کوی له تانه چه څه څیز حلال دی دوی لپاره ووایه حلال دی تاسو لپاره پاکیزه څیزونه او څه چه تاسو ښودلی دی ښکاری ځناورته ښکارباندې وراچولول لپاره (چه) تاسو ښایی دوی ته له هغې څخه چه ښودلی تاسو ته الله نو خوری له هغه نه کوم چه دوی ونیسی تاسو لپاره او یاد کړی (د پرې ښودو په وخت) نوم د الله په هغې باندې او ووېرېږی له الله نه بې له شکه الله ژر حساب اخیستونکی دی ″ (5سورة ، 4آية). حنفی مکتب په دې آند دی چه په لومړی ځل غل باید ښی لاس له لاسه ورکوی، دوهم ځل مجرم کینه پښه له لاسه ورکوی او که تردې نور هم د غلا مجرمانه عمل ته دوام ورکړی باید حبس شی تر څو توبه وباسی. د بدن د غړی د پرې کېدو پر تنبیهی زیان سربېره اصلی څښتن د لاس رسی په شتون کې، غلا شوی مالونه هغه ته مسترد کېږی.

### د مباحثې پوښتنې

۱.آیا د مالونو ″ارزښت″ په ذهنی او یا عینی طریقه ټاکل کېږی؟

۲.یو نظر دادی چه د بدن د غړی پرې کېدلو مجازات د ″ د بدن غړی پرې کېدلو سره شباهت لری چه د سرطان ناروغی څخه د خلاصون په موخه ″تر سره کېږی... چې د هدف د ترلاسه کولو لپاره اړین دی.آیا

تاسو ددې تحلیل یا شننې سره موافق یاستی؟ د مجرم د اصلاح لپاره ټولنه نورکوم کارونه تر سره کولای شی؟[18]

## 2. زنا

د زنا جرم اکثراً د نر او ښځې ترمنځ د واده قانونی اړیکې پرته جنسی اړیکې د درلودلو په توګه تفسیر کیږی. پدې حال کې جرم په زنا او په ناموس تیری ګڼل کیږی. د اسلامی حقوقو د نورو مکتبونو خلاف، حنفی مذهب لواط د حدودو په احکامو کې نه راولی.

زنا د مجرم د مدنی حالت د څرنګوالی په نظر کې نیولو سره، دوه یو تربله متفاوت حالتونه لری. که چیرې دواړه لوری متاهل وی، دی عمل ته محصنه زنا (Adultery) وایی. که بیا دواړه لوری مجرد وی، هغه د فحاشی زنا (Fornication) په نوم یادوی. د زنا طبقه بندی تر زیاتې اندازی پر مجازاتو باندې اغیزه لری یعنې د متاهلو افرادو د اعدام مجازات د تیږې ویشتلو یا سنګسار په طریقه او د مجردو افرادو مجازات د دُرو وهلو له لاری تر سره کیږی.

### عنصرونه

د زنا مجرمان یوازې په هغه صورت کې مجازات کیږی چه د پوره عمر درلودونکی او روغ وی او عمل یی په اختیاری توګه تر سره کړی وی. که چیرې یوه ښځه د جنسی اړیکو په لرلو باندې اړ ایستل شی، هغه ته جنسی تیری وایی، که څه هم د اثبات بار هماغه څیز پاته کیږی (لاندې پرې بحث شوی دی). د زنا جرمی عمل په اړه باید وویل شی چه دواړه لوری باید مسلمانان وی. د حنفی فقهی مذهب د حدود موضوع یوازې مسلمانانو ته نسبت ورکوی. د غیر مسلمانانو لپاره د داسې جرمونو لکه محصنه زنا او فحاشی زنا مجازات د دُرو وهل تجویز کوی. بالآخره د محصنه زنا د شرایطو د معلومولو لپاره مجرمان نه یوازې قانونی واده نه لری بلکه د خپلو جوړو (همسر) سره هم زیاتی کوی.

### د اثبات بار

په زنا د تورن فرد د محکوم کولو لپاره تورن لوری باید (۱) ۴ باور وړ، نارینه او مسلمانو کسانو شهادت (د مثال په توګه، بی عیب او نقص شخصیت درلودونکی)، (۲) هر شاهد باید د جرم د ارتکاب په مهال حاضر پاته شوی وی، او (۳) شاهدانو باید په عینی توګه د جنسی عمل یو ځای کېدل لیدلی وی. پدې هکله د شاهدانو د شهادت په اړه نباید ډیر کم شک وجود ولری.

[18] . Hisham M. Ramadan, Larceny Offenses in Islamic Law, Michigan State Law Review (2006).

همدا ډول زنا د اعتراف په ذريعه هم اثبات کېداى شى که څه هم اعترافات هم د سختو ستاندارډونو تابع دى. د زنا اعتراف بايد په داوطلبانه توګه په څلور ځله د محکمې په وړاندې صورت ومومى. فرد بايد د مقرره جرم او مجازاتو له ماهيت څخه خبر وى. د مجردې ښځې حاملګى ضمنى ثبوت ګڼل کېږى او د اعتراف په توګه نه منل کېږى.

## مجازات

لکه چه پاس يې يادونه وشوه، مجازات د محصنه زنا او فحاشى زنا ترمنځ د طبقه بندى په نظر کې نيولو سره يو تربله توپير لرى. که چېرې اړونده عمل د فحاشى زنا په شرايطو برابر وى، د هغه مجازات د ۱۰۰ دُرو وهل دى. پداسې حال کې چه ځينې فقها دې دا ډول مجازاتو د مجرم لپاره يو کال تبعيد هم پيشنهاد کوى، خو حنفى مذهب د معتبرو آيتونو د حکم پر بنسټ، د تبعيد لپاره اړتيا نه وينى.[19] که جرم محصنه زنا وى، مجرم د تيږويشتنې يا سنګسار په مرګ محکومېږى. توپير له دې باور څخه راپورته کېږى چه متاهل افراد د زنا ارتکاب لپاره هيڅ دليل نه لرى ځکه چه هغوى د خپلو جوړو سره د قانونى جنسى اړيکو لاس رسى لرى. له کومه ځايه چه ورته فرصت د مجرد فرد په اختيار کې نشته لدې امله د هغوى مجازات يو څه خفيف دى.

متاهل زانى (rapist) يا هغه چه مخکې يې واده کړى وى، د مرګ تر بريده د په تيږويشتنه محکوم کېږى. که د جرم مرتکب مجرد وى، د هغه مجازات ۱۰۰ دُرې وهل او يو کال حبس (په اصل کې تبعيد) دى. د جنسى تېرى قربانى هم د زيان په خاطر د غرامت په توګه يو څه تر لاسه کوى. که جنسى تېرى نه وى تر سره شوى، جبران زياتره د واده د قېمت په توګه ګڼل کېږى.

## 3. لارې وهل

موږ لارې وهل د ځينو جزئياتو سره د اشخاصو خلاف جرم برخه کې تر بحث لاندې ونيول، خو په ټوليزه توګه لارې وهل د زور، ګوت ځنډنې، وېرې، ګواښ او يا اخاذى له لارې د پيسو، مالونو او يا نورو شخصى شتمنيو ناقانونه لاس ته راوستل دى. پدې هکله چه آيا يوازې په لويو لارو کې لوټول په لارې وهل کې راځى او که په کليوالى سيمو کې لوټول هم پدې کې شامل دى، د حقوق پوهانو په منځ کې د نظر يووالى نشته .

## عنصرونه

د مجازاتو د شرايطو اقامه کولو په اړه، شوکمارمجرم بايد بالغ او روغ وى. په حنفى مذهب کې مجرم هم بايد يو نارينه وى ځکه چه ښځې يوازې د لويو لارو لارې وهل تعزيرى جرمونو د شرايطو وړ دى. پردې

[19] . زناکاره ښځه او زناکار سړى پس وهى هر يو له دوى نه سل دُرې او نه دې راځى ستاسو په دواړو باندې رحم د الله په دين کښې که چېرې تاسو ايمان لرى په الله باندې او په ورځ د آخرت او په کار ده چه حاضر وى عذاب د دوى ته يوه ډله د مسلمانانو. ۲۴ سورة، ۲ آية

سربېره، غلا باید د لویو لارو په اوږدو یا له ښارونو څخه باندې او کلیو کې صورت ونیسی. لارې وهل د ښارونو او کلیو په د ننه کې په دودیزه توګه د حد جرم نه ګڼل کیږی ځکه چه د "خلاصون" دلیل وجود لری. په نهایت کې، لارې وهل باید د زور او یا د زور د ګواښ له لاری سرته ورسیږی.

## د اثبات بار

په لویو لارو کې لارې وهل یا د تورن په اقرار او یا د دوو باور وړ شاهدانو په شهادت سره ثابت کېدای شی. تر کومه ځایه چه په لویو لارو کې غلا داسې یو جرم دی چه نژدې اولزوماً په داسې شرایطو کې پېښیږی چېرته چه هېڅ شاهد وجود نه لری، داشانې په دې حالت کې خپله قربانیان د شاهدانو په توګه عمل کوی.

## مجازات

هغه مجرمان چه د لویو لارو په اوږدو کې د غلا د جرم په خاطر محکوم کیږی، د څو جزاګانو څخه د یوې تابع ګرځی. د ځانګړو مواردو حقایقو ته په پام سره، قاضیان د دوی له نظره د مناسبومجازاتو په ټاکلو کې د واک درلودونکی دی. اوسنی مجازات عبارت دی له: (۱) مصلوب کېدل – په هغه صورت کې چه مجرم قربانی وژنی او مالونه یی ترې وړی، (۲) وژل ـ په هغه صورت کې چه مجرم قربانی شوی وژنی خو د هغه مالونه نه وړی، (۳) د یوې پښې او یوه لاس پرې کول – په هغه صورت کې چه مجرم مالونه په زور سره اخلې اما متضرر نه وژنی، او (۴) تبعید – که چېرې مال نه بې ځایه کیږی او متضرر نه وژل کیږی خو جادهناامنه کیږی.

حنفی مذهب نور ځانګړی جزئیات هم بیان کوی. د مثال په توګه، اصلی مجازات د تورې یا ټوپک پواسطه تحمیل کېدای شی. حنفی مذهب پدې آند دی چه مصلوب کېدل د ژوندی مجرم سره واقع کیږی او له مصلوب کېدو وروسته، مجرم باید غرغره شی.

دا مجازات سخت دی ځکه چه په لویو لارو کې لارې وهل د تصور وړ یو تر ټولو بې رحمه جرمونه څخه ده. باور پدې دی چه لارې وهل د خدای او د هغه د رسول په وړاندې جګړه ده. دا ډول جګړه فساد، ډار، د عامه امنیت ګډوډی، اړدوړ فتنه او بې نظمی په نړۍ کې خپروی.

## 4. د الکولو چښل

اسلامی فقهې په لومړیو کې د الکلو منځتی لګښت ته اجازه ورکړې وه او پدې هکله یی ممنوعیت یوازې په ځانګړو حالاتو لکه د عبادت د ترسره کوو په وخت کې وضع کړی وو.[20] د وخت په تېرېدو سره دا

[20]. ژباړه: ای مؤمنانو! چه په نېشه کې یی نو لمنځه ته مه نژدې کیږی، تارڅو چه تاسو ته معلومه نو ی چه تاسو (په لمانځه کښې) څه وایی ... ۴ سورة، ۴۳ آیة

ممنوعیت مطلق او عام شو. نن ورځ اسلامی فقها دا ممنوعیت د نشه ای توکو د استعمال سره برابر دا ممنوعیت مقرر کړی دی.[21]

د شراب چښلو ممنوعیت ته په پام سره د هغه دودیز دلایل عبارت دی له: (۱) د الکلو چښل د انسان جسمی او روحی حالت ته زیان رسوی، (۲) د ټولنیزو ډلو ترمنځ د دوامداره سیالیو او نښتو او په پای کې د یو بل د نابودی سبب ګرځی، (۳) له دین، کار او کورنۍ څخه د غفلت سبب کیږی او (۴) زیات لګښت، اسراف او پرتمین ژوند هڅوی.

## عنصرونه

د الکلی مشروباتو په خاطر د حدود په مجازاتو د محکومیت لپاره، مجرم باید مسلمان، بالغ او عاقل وی. که چیرې مجرم غیر مسلمان وی، هیڅ جرم نه واقع کیږی او د ملکیت په توګه د الکلو درلودل ورته مجاز دی. په نهایت کې، د الکلو مصرف باید داوطلبانه وی. غیر ارادی یا غیرداوطلبانه لګښت، مجرم له هر ډول مسؤلیت څخه معاف کوی.

## د اثبات بار

د الکلو چښلو لګښت د باور وړ د دوو شاهدانو په شهادت سره چه د الکلو چښل یی لیدلی وی او یا له تورن څخه د الکلو د بوی له مخې ثابت کیدای شی. همداشانې اعتراف هم د الکلی مشروباتو د مصرف ثبوت کیدای شی.

## مجازات

د الکلی مشروباتو د مجازاتو لپاره ۸۰ دُرو وهل دی. هر ځل د دی جرم مرتکب د ۸۰ دُرو وهلو مستوجب کیږی.

### تبصره: د الکلو لګښت یا مصرف د یوې ټولنیزې ستونزې په توګه

" بشری ټولنې له هغه ناورین څخه لوی چه الکلی مشروباتو لګښت رامنځ ته کړی نه دی لیدلی. **که** چیرې په ټوله نړۍ کې د الکلی مشروباتو د لګښت له امله د ناروغانو په هکله ارقام راټول کړو چه په روانی ستونزو، نیشې بدګویی، د اعصابو کمزوری او هاضمې جهاز ناروغیو اخته دی او په هغه باندې د ځان وژنې، ناهیلی، د

[21]. ژباړه: شیطان خو غواړی چه ستاسو په منځ کې د شرابو او جواری په ذریعه دښمنی او بغض پیدا کړی او تاسو د الله تعالی له ذکر نه او لمونځ نه منع کړی نو آیا اوس به هم تاسو (ددې بدیو نه) منع شی؟ او د الله تعالی حکم منی، او د رسول حکم منی او اواحتیاط ساتی، په دې هم که چیرې تاسو مخ واړولو نو پوه شی چه زموږ د رسول کار خو واضحه حکمونه، ۵ سورة ، آیة های۹۰- ۹۲

الکولو په خاطر د ملکیتونو پلورل او کورونو ورانېدل ورزیات کړو، د هغه په پرتله به د پېښو شمېره ډېره شی، نو دا به معلومه شی او د الکلو د څښلو مخنیوی په برخه کې ټینګار او موعظې به ډېرې ناکافی تر نظره شی". [22]

**د مباحثې پوښتنې**

۱.آیا دا استدلال قانع کوونکی دی؟ د هغه ښېګڼې او ښه والی په څه کې دی؟

۲.باید ټول هېوادونه (آن غیر مسلمان) د الکلی مشروباتو لګښت د یوی جدی ټولنیزې ستونزې په توګه وګڼی؟ ولې هو او ولې نه؟

۳.آیا دولتونه هم مکلف دی تر څو د هغو کسانو سره چه الکل مصرفوی د بیا ځواکمنتیا پروګرامونه تر لاس لاندې ونیسی؟

## 5. افترا

د افترا جرم د بدلمنې تورونو نژدې جرمونو څخه دی. هغه فرد چه د نامشروع جنسی اړیکې تور لګوی باید ددې تور د اثبات لپاره څلور عینی شاهدان ولری.[23] د غلا، الکول څښلو یا نورو جرمونو اړوند درواغجن تورونهد د افترا تر حد لاندې نه راځی خو تر تعزیر لاندې د تعقیب وړ دی. هم نارینه او ښځینه د یو پاك لمنی فرد خلاف نادرست تورونو په خاطر مجازات کیږی.

د افترا جرم مقصد د شرافتمندو اشخاصو د نیك شهرت او کمال خوندی توب او د درواغجنو تورونو بې باکه یو شان کولو څخه مخنیوی دی. ممنوعیت اوږد مهاله موخې لری او لدې امله د کورنۍ د دودیز مفهوم څخه ساتنه کوی.

### عنصرونه – مجرم، قربانی، څرګندونې یا اظهارات

د حدود د زیاترو جرمونو خلاف، افترا د تورن، تور لګوونکې او تور لپاره د ډېرو عنصرونو درلودونکې ده. لومړی، تورن باید یو بالغ او روغ شخص وی او پخپله خوښه د افترا خبرې په ژبه راوړی. د ممنوعیت د محدودې په چوکات کې تورلګوونکی د افترا قربانی شخص پلار، بابا یا نیکه نشی کېدای. په نهایت کې،

---

[22] . Al-Qaradawi, Yusuf, The Lawful and the Prohibited in Islam, 70 (1984; I.I.F.S.O., Kuwait).

[23]. ژباړه: او هغه خلك چه په پاك لمنو ښځو باندې تهمتونه و لګوی، بیا څلور ګواهان (پرې باندې) پیش نه کړی شی ، نو هغوی اتیا دُرې ووهی، او بیا هېچېرې د هغوی هېڅ ګواهی مه قبلوی او هم دغه خلك فاسقان دی. ۲۴ سورة، ۴ آیة.

هغه مجرم چه د نښې په حالت کې د سپکاوی څرګندونې کوی ددې کار په خاطر د حدود مجازاتو سره نه مخامخ کېږی که څه هم د الکلو چښل د حدودو له مخې د مجازاتو وړ دی.

دوهم د سپکاوی څخه ډکو څرګندونو قربانی باید عاقل، مسلمان او " پاک منی" فرد وی. عفت له ګناه څخه د پاک او سپوا شخصیت درلودلو منجمله له کورنۍ څخه د باندې او له واده څخه مخکې د مخالف جنس سره نه ژوند کولو ته اشاره لری. د سپکاوی قربانی همداشانې باید خپل تناسلی عضو په خپل اختیار کې ولری. که توهین شوی شخص د ځینو دلیلونو له مخې ، خپل تناسلی عضو له لاسه ورکوی، مجرم یوازې په تعزیر سره مجازات کېږی. بالآخر، باید په ښاره وپېژندل شی او مشخص شی، مګر داکه مجرم د خلکو یو جمیعیت ته مخاطب شی ( مثلاً ووای چه "تاسو ټول زنا کار یاستی"). حدود په هرو دواړو موارود کې اعمال کېږی.

دریم، واقعی تور باید د ځانګړو عنصورونو پواسطه تأمین شی. د مثال په توګه، تور باید له عینی ابهام پرته، د اړونده ښکاره شرایطو، او په مستقیمه توګه وړاندې شی. که چېرې د سپکاوی څرګندونې ضمنی وی، د حد مجازات د تحمیل وړ نه دی او د هغه پر ځای تعزیری مجازات پلی کېږی. پردې سربېره، دا څرګندونې باید په داسې یوه ژبه بیان شی چه په هغه ځای کې د درک وړ وی که څه هم مهمه نه ده چه څرګندونې په عامه انظار یا محرمانه وړاندې شی. په پای کې که چېرې د سپکاوی څرګندونې د مېړه او یا زیانمن شوې ښځې له خوا وړاندې شی، تور د شاهدانو له موجودیت پرته د اثبات وړ دی. جوړه (همسر) کولای شی له دوه ګونی شهادت څخه کار واخلی چه د هغه له طریقه، شهادت څو ځلې شمېرل کېږی. د دوه ګونی شهادت څخه استفادې لپاره، جوړه (همسر) باید پر درواغجن دې د خدای لعنت وی قسم یاد کړی.

## د اثبات بار

د افترا جرم د دوو نارینه وو شاهدانو په شهادت سره ثابت کېږی. هر دواړه نارنه باید عاقل، بالغ او مسلمانان وی. د مجرم اعتراف هم د جرم ارتکاب ثابتوی. یو ځلې چه تورن پخپل جرم باندې اعتراف وکړی، بیا نو په ګناه باندې اعتراف بېرته نشی اخیستلای.

## مجازات

هغه فردچه جنسی مقاربت درواغجن تور لګوی، د ۸۰ دُرو په وهلومجازات کېږی. بردې سربېره هغه څوک چه د افترا جرم په ارتکاب محکوم کېږی، نور نشی کولای د حدودو په مواردو کې د باور وړ شاهد په توګه ومنل شی – په راتلونکې کې د هغه شواهد له اعتبار نه لوېږی.

# 6. ارتداد

ارتداد د بل دین په ګته د اسلام ردول او یا بی دینی ته وایی. لدې ممنوعیت څخه مقصد د اسلامی عقیدې د کمال او د هغه د مرکزی تولنې د پیروانو خوندی ساتل دی. د ارتداد مجرم د سختو مجازاتو وړ دی. د اسلامی حقوقو له نظره، دا ډول عمل د الهی حوزې څخه په بشپړه توګه په شا کېدل دی. په ځانګړې توګه، د اسلام پرېښودل د کفر، الحاد او د اسلامی ټولنې د مسخره کولو د یو ترکیب په توګه ګڼل کیږی. داچې یو زیات شمیر عالمان اسلام هم د یو دین او عقیدې او هم د دولت د یوې بڼې په توګه بولی، د اسلام دین پرېښودل د مسلمانانو سره د جګړې په معنا پېژندل کیږی.

## ارتداد : په افغانستان کې یوه ژوندی بېلګه

۱."د مثال په توګه د موضوع په اړوند تر ټولو تازه پیښه پرویز کامبخش دی چه د ۲۰۰۸ کال د جنوری په میاشت کې د اسلامی مقدساتو د سپکاوی په خاطر د هېواد په شمالی ولایت بلخ کې د یو سند د وېشلو له امله چه پکې د ښځو د حقوقنو په برخه کې د اسلام د تعلیماتو سره مخافت شوی وو، په مرګ محکوم شو. د قاضیانو دری کسیز هیات حکم ورکړ له کومه ځایه چه د نوموړی مقاله " له کفر ډکه وه"، هغه باید په اعدام محکوم شی...د رپوټونو له مخې، کامبخش مدافع وکیل نه درلود او د نوموړی محکمه هم پرانیستې نه وه. اګر چه د دینی عالمانو یوې بانفوذې شورا د اعدام په عملی کولو باندې ټینګار کاوه، نورې خواوې له هغه جملې د بشری حقونو څو سازمانونو، د مدنی ټولنې بنسټونو او د ورځپاڼ لیکونکو ډلې – د هغه څخه د ملاتړ په موخه اعتراضونه په لاره وچول". په ۲۰۰۹ کال کې کامبخش د بیاکتنې خپله غوښتنه سترې محکمې ته وړاندې کړه خو د ولسمشری د عفو فرمان په بنسټ آزاد شو.[24]

۲." د ۲۰۰۶ کال د مارچ په میاشت کې، د عبدالرحمن په نوم یو افغان تبعه ونیول شو او د خپل دین د بدلولو په خاطر په اعدام وګواښول شو. د هغه جرم په افغانستان د څارنوال د څرګندونو له مخې، " نوموړی له اسلام څخه مخ ګرځولی وو". که چیرې د عبدالرحمن د ارتداد جرم ثابت شوی وای، هغه د اعدام د مجازات له ګواښ سره مخامخ کېده. دې موضوع په اړونه دوسیه کې څارنوال لیکلی دی چه رحمان" داسې یو مکروب دی (چه) باید لیرې او له پاته اسلامی ټولنې څخه ګوښه او ووژل شی". هغه قاضی چه د محاکمی د غونډی مشری په غاړه درلوده په عام محضر کې یی اعلام وکړ چه که عبدالرحمن اسلام ته را ونه ګرځی" پر هغه به مجازات" تطبیق شی او دا دمجازات وژل دی. " د څو اونیو په اوږدو کې د دې دوسیې په اړه د پراخه بین المللی اعتراضونو سره د مواجه کېدو وروسته، محکمې د شواهدو د نه شتون له امله او د نوموړی د روانی وضعیت په هکله د ناوړه شک په دلیل، له عنوان شوو تورونو څخه ډډه وشوه خو د شخصی خوندیتوب په هکله اندېښنې هغه له هېواد څخه په بهر کې پناه غوښتنې ته اړ کړ".

---

[24] http://www.cpj.org/blog/2009/09/amid-afghan-woes-kambakhsh-release-a-moment-to-cel.php

۳. ″ د ۲۰۰۵ کال په اکتوبر کې په افغانستان کې یو خبريال ورځپاڼ لیکونکی او مسؤل مدیر علی محقق نسب ″اسلام ته د سپکاوی″ د کفر د جرم له اثبات وروسته زندانی شو. پر نسب د حقوق زن مجلې مسؤل مدیر باندې د ″جرم″ ادعا پر دې ولاړه وه چه نوموړی د ښځو په وړاندې تبعیض او د اسلام تر سنتی قانون لاندې د سختو مجازاتو کارول له هغه جملې څخه د غږو پرې کول او په عام محضر کې د تیږویشتنه تر پوښتنې لاندې راوستی وو. اگر چه نسب چه د اسلام یو څېړونکی دی، په سر کې په دوو کلونو شاقه کار محکوم شو، مسؤل څارنوال د هغه د اعدام مجازاتو په لټه کې وو. د دسمبر په میاشت کې، د نسب د حبس موده شپږو میاشتو ته تعلیق ته را ټیټ شو، خو یوازې هغه مهال نوموړی له محکمې څخه بښنه وغوښتله″.[25]

## د مباحثې پوښتنې

۱.تاسو ددې مثالونو په هکله څه فکر کوی؟ آیا دې مثالونو ته ورته موارد استثناآت دی، او یا هغه په افغانستان کې د قاعدو حیثیت لری؟

۲.آیا د محکمې لپاره دا مناسبه ده چه د دولتی یا بین المللی فشارونو ته غبرگون وښودل شی؟ ولی هو او ولې نه؟

۳.دا بیلگې په رتلونکې مخ کې د سلمان رشدی د پیښې سره پرتله کړی. د هغوی ترمنځ کوم مشترکات او توپیرونه شته؟ آیا ټول تورن په یوه اندازه مقصر دی؟

مهمه ده پام وکړی چه سره ددې سختو تفسیرونو، اسلامی سنت هیڅکله څوك د خپلې ارادې خلاف د اسلام منلو ته نه اړ باسی. سره ددې کله چه یو فرد پخپله خوښه او په آزاد ډول د اسلام دین ته ورننوزی، اسلامی حقوق د قوانینو او د عقیدتې مقرراتو په رعایت حکم کوی. یو قاون دادی چه هیڅ یو مسلمان د ایمان پرېښودلو اجازه نه لری. هر څوك چه دا کار تر سره کړی، د ارتداد دجرم مرتکب دی.

د ارتداد دجرم عمل د کلمو په ویلو، کړو، او یا د ځینو فرضو شوو اعمالو په ترک سره واقع شی. دا اقدامات عبارت دی له: (۱) تضاد او یا د اسلام د پنځو بناوو څخه ښکاره انکار، (۲) په چټلی کې د قرآن غورځول، (۳) ددې اعلام چه حضرت محمد (ص) وروستنې پیغمبر ندی، (۴) د حضرت محمد (ص) او نورو پیغمبرانو له میراث څخه ناوړه گټه پورته کول، (۵) د حدود جرایمو قانونی والی اعلانول، (۶) خپل ځان د خدای د رسول اعلانول او یا د خدای له لوری د وحی نازېلېدل.

---

[25] United Nations High Commissioner on Human Rights, Annual Report 2008 – Afghanistan, *available at* http://www.unhcr.org/refworld/country,,USCIRF,,AFG,4562d8cf2,4855699b46,0.html.

**ارتداد : د یو بین المللی مورد مطالعه**

″په ۱۹۸۹ کې سلمان رشدی یو بدنام رمان [شیطانی آیتونه] چاپ کړل چه په هغه کې د اسلام او د حضرت محمد (ص) انځورپه پست مدرن سبک اوطنزی شکل وړاندې شوی دی. دا کتاب په ټوله اسلامی نړۍ او په بریتانیا د کتاب د نشر ځای کې د کډوالو مسلمانانو په منځ کې د کفر ډک او د اسلام مقدساتو د سپکاوی په توګه وپېژندل شو. د مسلمانانو غصه د هرڅه مخکې د پراخه مظاهرو پواسطه څرګند شو او ددې غوښتنه وشوه چه د پنګوین خپرندویه مؤسسه ددې رمان چاپ شوې نسخې بېرته را ولې کړی. په ورته وخت کې یو شمېر تعلیم لېدلو مسلمانانو دا بحث تر پوښتنې لاندې راوست چه آیا رشدی مرتد شوی او که نه — او که چېرې داسې وی، که چېرې داسې وی هغه ته څه ډول جزا مناسب ده. آیت الله خمینی د رشدی ارتداد د فتوا یا قانونی نظریی په ترڅ کې اعلان کړه چه په نتیجه کې د هغه مجازات وژل دی، هغه قضاوت چه نوموړی یی تر اوسه پټ ساتلی دی″.

## د مباحثې پوښتنې

۱. له کتاب خپرولو وروسته د رشدی لپاره کوم ډول مجازات مناسب ښکاری؟ آیا آیت الله خمینی د رشدی د محاکمې لپاره د فتوا صادرولو صلاحیت درلود؟

۲.آیا دې واقعیت ته په پام سره چه رشدی د لګول شوی تور په اړه د اسلامی غوښتنو سره سم د عادلانه محاکمې فرصت تر لاس نه کړ، دا فتوا د اهمیت درلودونکې ده؟

۳.آیا دا واقعیت چه دا کتاب په هند، پاکستان، سعودی عربستان ، مصر، سومالی، بنګلدیش، سودان، مالیزیا، اندونیزیا، قطر او سویلی افریقا کې منع اعلان شو، ستاسو نظر یی متأثر او یا تغییر کړی؟

## عنصرونه

د حدود جرمونو په شان چه پاس یی یادونه وشوه، د ارتداد جرم ددې غوښتونکې دی چه شخص باید مسلمان، بالغ او عاقل وی. پردې سربېره ، تسېروتونکی شخص باید دا عمل پخپله خوښه تر سره کړی. د ارتداد دجرم په اړه، د مجرم روانی حالت څرنګوالی او ذهن مرکزی موضوع ګڼل کېږی. تورن نباید نور خپل ځان مسلمان وبولی.

## د اثبات بار

د ارتداد جرم د دوو شاهدانو په شهادت او مدرکونو سره ثابت کیږی. شاهدان د خپلې شادی په ترځ کې د تورن کس د مشخص عمل او یا اعلامی عمل په هکله باید دقیق او صریح وی. اعتراف هم عمل ثابت کولی شی.

## مجازات

په زیاترو مواردو کې د ارتداد مجازات مرګ دی. ددې سره د هر ډول مجازاتو له عملی کېدو مخکې، تورن ته فرصت ورکول کیږی تر څو پخپله پریکړه بیا کتنه وکړی او د خدای ته توبه وباسی. د توبې ایستلو موده دری ورځې دوام مومی. د اسلامی حقوقو پوهان چه د مرګ له مجازاتو څخه ملاتړ کوی او د خپلې موضع د پیاوړتیا لپاره سنتو ته مراجعه کوی چه په هغه کې حضرت محمد (ص) فرمایلی دی: (۱) هر هغه څوک چه خپل دین پرېږدی باید ووژل شی، (۲) د مسلمان وژل روا نه دی مګر په دریو مشخصو دلیلونو چه یو یی ارتداد دی. حنفی مذهب لدې چه د مرتدو ښځو له اعدام څخه ملاتړ نه کوی، بلکه د هغوی بندی کولو طرفدار دی ، د متمایز مقام درلودونکی دی.

د اسلام ځینی معاصر حقوق پوهان ټینګار کوی چه مرتدان نباید په مرګ مجازت شی، د هغوی استدلال پدې واقعیت ولاړ دی چه په قرآن کې ددې ډول اجبار په هکله هېڅ دول څرګند احکام شتون نه لری. په واقعیت کې په قرآن کې راغلی دی چه: ″ نشته ده زبردستی په دین کښې ″ (2سورة ، 256آیة). سربېره پردې، قرآن د ارتداد د هېڅ ډول مجازاتو وړاندو ینه نده کړې. هغه کسان چه د اعدام مخالف دی هم استدلال کوی چه د پیغمبر (ص) سنت چه د ټاکلو مرتدانو د وژلو حکم یی کړی عام حکمونه ندی. د هغه پر ځای، هغه د هغو کسانو په ځواب کې وو چه د اسلامی حکومت خلاف د جګړې کولو د قصد او ځواک درلودونکی وو.

د دوو لیدلورو تر منځ د تو پیر په پام سره، د تورن په مدنی حالت باندې د اغېزښندلو په منظو ر نور مجازات تجویز شوی دی. د مثال په توګه، مرتد کولای شی واده لغو کړی. هر هغه څوک چه پدې ډول مجازات کیږی، په خطا باندې له اعتراف او اسلام ته له بېرته راګرځېدو وروسته کولای شی د خپلې جوړې سره بیا یوځای شی. همداشانې مرتد شخص نشی کولای د خپلې لور د واده کولو د ولی په توګه عمل وکړی، مګر داچه بېرته اسلام ته راوګرځی. دریم، مرتد له خپلوانو او خپلوان له مرتد څخه د میراث وړلو حق له لاسه ورکوی. حنفی مذهب د مرتد مال د ټولنې لپاره غنیمت ګڼی. دا غنیمت د بیت المال د یوې برخې په توګه ساتل کیږی.

په پای کی د خپل مور او پلار د ارتداد د عمل باوجود، اطفال لا هم وفادار مسلمانان ګڼل کیږی. پدې ترځ کې، که چېرې هغوی غیر اسلامی عقایدو ته میلان پیداکوی، په زور سره اسلام ته راګرځول کیږی. که چېرې اطفال د بلوغ عمر ته رسیږی او له اسلام څخه مخ اړوی، هغوی په مرګ محکومیږی.

**د سلمان رشدی د موضوع په هکله نور معلومات**

"[ له آیت الله خمینی پرته] نور مسلمان روحانیون په ځانګړي توګه هغه چه په قاهره کې د الازهر پوهنتون څخه فارغ شوی دی، د قانونی نتیجه اخیستنې او د فتوا د صادرېدو په ترځ کې یی د خمینی د حکم سره مخالفت وکړ. رشدی د بریتانیا پولیسو له خوا د حفاظت په خاطر ونیول شو او پدې ډول د هغه د پټېدو زر ورځنی دوره پیل شوه ... د [۱۹۸۹] مارچ په پای کې، عبدالله آل اهدال، یو وتلی بلطیکی امام چه له رشدی څخه یی ملاتړ کړی وو، د یو شخص له لوری چه ویل کیږی یو ایرانی سخت دریځی وو ووژل شو. پدې جریان کې آیت الله خمینی مړ شو او د هغه د فتوا د لغو کېدو لپاره هم موقع برابره شوه.

د **۱۹۹۰** کال د کرېسمس په ورځ، معاصرو مسلمان مشرانو په لندن کې اعلان وکړ چه د هغوی په وړاندې رشدی د لااله الاالله محمد الرسول لله کلمه ویلې ده او هغه دا هم ویلی دی چه هغه په خپل رمان کې د محمد (ص) د سپکاوی  او یا د اسلام او مقدسو مصحفو[قرآن] سپکاوی یا د الهی وحدانیت د نفی کولو د هېڅ  یو مورد سره موافق نه دی. د ښه نیت د ښبانې په توګه هغه موافقه وکړه چې د کاغذی قایی په بڼه (چه ډېر زیات ګټور دی) د خپل کتاب چاپول او یا د خپل اثر ورپسنی ژباړې اجازه نه ورکوی.رشدی وویل: د اسلام اساسی بناوې منی خو ژمنه نه کوی چه په ورځ کې به پنځه ځله لمونځ کوی او نه هم د الکلو د چښلو څخه ډډه کوی...

[پدې حال کې]  د **۱۹۹۱** کال د جولای تر میاشتې د [کتاب] جاپانی ژباړونکې ووژل شو... او د کتاب ایتالوی ژباړونکی په ژوند باندې ناوړه قصد تر سره شو. رشدې له هغه وخت راهیسې د منځلارې سره د خپلی پخلاینی څخه انکار وکړ او د کاغذی قایی په بڼه په **۱۹۹۲** کال کې یی اثر چاپ شو.[26]

**د مباحثې پوښتنې**

۱.آیا دا اضافی معلومات د رشدی او د هغه د ارتداد په هکله ستاسو د نظر د تغییر سبب کېدای شی؟ د پراخ تاوتریخوالی په ځانګړې توګه د غیر مسلمانانو په وړاندس ستاسو نظر څه دی؟

[26] M.M. Slaughter, The Salman Rushdie Affair: Apostasy, Honor, and Freedom of Speech, Virginia Law Review, Vol. 79, No. 1 (Feb., 1993), pp. 153-204.

۲.د رشدی د عذر غوښتنې په هکله ستاسو نظر څه دی؟ که چېرې نوموړی له خپلې پخلاینې څخه انکار نه وی کړی، آیا د نوموړی لومړی عذر غوښتنه، مناسبه پښېمانی ګڼل کیږی؟ له لمونځ کولو او الکلو نه چښلو څخه د نومړی انکار تاسو څه نظر لری؟

## 7. بغاوت

حنفی فقهه بغاوت د دولت له وفاداری څخه د مخ ګرځولو په توګه تعریف کوی. د ممنوعیت څخه مقصد د دولت په ټولنیز – سیاسی سیستم له بې ثباتی او تخریب څخه مخنیوی او دهغه یووالی، پرمختګ او د موجودیت دی. د بغاوت ممنوعیت د قران په ۱۶ سورة ، ۹۰ آیة کې راغلی چه فرمایی، ژباړه: " بې له شکه الله حکم کوی د انصاف او د نیکئ او د امداد ورکولو خپلوانو ته او منع کوی له بې حیایی نه او له بدی او ظلم نه هغه نصیحت کوی تاسو ته چه تاسو نصیحت حاصل کړی".[27]

### عنصرونه

د بغاوت جرم حد پر دې دی چه مجرم د هېواد د مشر یا د دولت رییس د را چپه کولو لپاره له زور څخه کار واخلی.

### د اثبات بار

بغاوت د حدود د نورو جرمونو خلاف چه مخکې یی یادونه وشوه، د اثبات لپاره صریح او ښه تعریف شوی احکام نه لری. توپیر کېدای شی د جرم د پرانیستی توب او تاوتریخوالی ماهیت نتیجه وی. په پایله کې، د اثبات د غوښتنې شواهدو ته په جدی توګه اړتیا نشته.

### مجازات

په پیل کې له بلواګرو څخه غوښتنه کیږی چه له خپلو اعمالو څخه توبه وباسی او د ټولنې سره یوځای شی. که چېری دوی دا کار وکړی اعمال یی د توجیه وړ او له مسؤلیت څخه خلاصیږی. د نرمښت او آسانتیا څخه مقصد پخلاینې ته د دوو مخالفو ډلو هڅول دی. یوازې په هغه صورت کې چه دواړه لوری پخلاینه رد کړی، هغو په جویزی مجازاتو لکه مرګ محکوم کیږی.

[27]. همدارنګه وګوری: ژباړه: هغه (خدای) چه ځمکه یی فرش درته جوړه کړې ده او پدې کښې یی درته لارې جوړې کړې دی چه تاسو مطلب ته ورسېږس ، او (الله) هغه ذات دی چه د بره نه یی په اندازه اوبه را وورولې نو بیا موږ په هغه باندې مړه ځمکه را ژوندی کړه ، همدغسې به تاسو (له قبرونو نه) را وایستلی شی. سورة ۴۳، ۹ – ۱۰ آیتونه.

نور موارد چه پدې بحث کې راځي. لومړی، فرض پر دې دی چه د دولت یو رییس د مقابلې حق لری، که څه هم نوموړی نشی کولای د بلواګرو د له منځه وړلو په لټه کې و اوسی. دهغه پرځای مشر باید د بلواګرو هغه ډله چه د دولتی ځواکونو په وړاندې مقاومت کوې په ګونډو کړی. هر بغاوت چه د فتنې اچوونکو اقداماتو څخه لاس اخلی، باید په امن کې وی. سربېره پردې، بلواګر باید له خپل مال او ملکیت څخه بې برخې نشی او نه هم د هغوی کورنۍ ونیول شی یا د ځورونې او اذیت لاندې راشی.

دوهم، هر هغه څوک چه د بغاوت په وخت کې ملاونه له منځه وړی، باید د هغه زیان جبران کړی. بیا هم، بلواګر د تخریب شوو مالونو د پولی جبران مسؤلیت په غاړه نه لری که چېرې د هغوی بغاوت د مذهب د مشروعیت تفسیر پر بنسټ رامنځ ته شی.

## II. د قصاص جرمونه

په اسلام کې د جرمونه دوهم ډله قصاص دی. د قصاص جرمونه د ناقانون تخلفاتو په اقدام سره د بل شخص د جسمانی بشپړتیا لکه قتل، عمدی فزیکی جراحت، معیوب کولو، غیر عمدی فزیکی زیانونو سره سر او کار لری.

د قصاص مؤثق سرچینه د قرآن په مختلفو آیاتونو کې پیداکېږی [28] او د کورنۍ خونی دښمنی چه له اسلام مخکې عربستان ځانګړنه وه او په هغه کې له یو نسل څخه بل ته اختلافونه لېږدېدل محدود شی. قصاص دې ناوړه عمل ته د قصاص جرم قربانی ته په اجازه ورکولو سره چه عین زیان متخلف ته، خونه له هغه زیات، واړوی د پای ټکی کېښود. پدې اساس، قصاص د کلمې په واقعی معنا "په جبران کې برابری" مفوم لری. د مثال په توګه، که چېری عبدل د هاشم ښی لاس معیوب کاندی، هاشم ممکن په ورته انتخاب سره د عبدل ښی لاس معیوب کړی. پدې توګه، هاشم نشی کولای د عبدل لپاره د مرګ جزا وغواړی ځکه چه دا ډول مجازات له اصلی جرم څخه زیات دی.

دری شرطونه شته چه د قصاص بدل اخیستونکی غچ اخیستلو څرنګوالی تنظیموی. لومړی، زیان باید په عممد سره واړول شی. دوهم، د قصاص هر ډول جبرانېدونکی اقدام د بدن هماغه برخې ته محدود وی چه د مجرم پواسطه زیانمن شوی دی. دریم، د قصاص د غچ اخیستلو اعمال د پلی کېدو وړ وی.

د حدود جرمونو خلاف، د قصاص مجازات په قرآن کې ندی یاد شوی. په نتیجه کې، د مرګ اړوند غچ اخیستنې په هکله د قربانیانو یا د هغوی د وارثانو یو پیاوړی دود شتون لری. د بدن د یو غړی د پرې کولو په

28. ژباړه: او (ای پیغمبره) موږ ستا طرف ته رښتینی کتاب در ولیږلو چه د هغو کتابونو تصدیق کوونکی دی چه د وړاندې نه وو او دهغو محافظ هم دی ، نو ته د هغو احکامو مطابق د خلکو ترمنځ فیصله کوه کوم چه الله تعالی نازل کړی دی او د دوی په خواهشاتو پسې مه ځه د هغې حقې لارې په مقابله کښې چه تا راغلې ده موږ تاسو کې هر یو (ټول) له یو خاص شریعت او خاص لار مقرر کړې ده- او که الله تعلی ته منظوره وی نو تاسو ټول به یې یو ټولی کړی وای ، خو هغه دا غواړی چه پخپلو حکمونو کښې ستاسو آزمیښت وکړی نو د نیکۍ کارونو ته وروړاندې شی، آخر ستاسو د ټولو الله تعالی طرف ته واپس تلل دی، بیا به هغه تاسو ته د هغه حقیقت و ښیی په کوم کې چه تاسو پخپل منځ کې اختلاف کولو. ۵ سورة، ۴۸ آیة

ځای یا د سرغړوونکی د مرګ غوښتنه، قرباني کولای شي پولي غرامت وغواړي ( د کلمې په دقيقه معنا "خون بها" يا ديه). ستاندارد جدولونه شته چې له  مخې یې د اړول شوی زیان د مختلفو ډولونو لپاره مناسب جبران ټاکل شوی. که چېرې متخلف د هغه په ورکولو قادر نه وی، د هغه خپلوان په دغه برخه کې مرسته کولای شي. همدارنګه له دیه څخه د یو غیر عمدی قصاص جرم لپاره هم کار اخیستلای شو.

قصاص قربانیانو او د هغوی کرنیو ته اجازه ورکوی چه د مجازاتو په هکله د پرېکړې کولو په مهال له بې ساری موقعیت څخه استفاده وکړی. د متخلف د جزای کېدو په صورت کې، هغوی کولای شي د مجازات جبران و ټاکی. همدا رنګه قربانیان کولای شي مجرم په بښخی معاف کاندی. په هغه شرایطو کې چه قربانی مجرم د دیهٔ په اخیستلو یا بښخی معاف کوی،  متخلف باید د خپلو ګناهونو کفاره ورکړی. په دودیزه توګه پخوا به کفاره د مسلمان له لوری د مریه په آزادلو سره تر سره کېده خو نن سبا کفاره په دوومیاشتو روژه نیولو سره تر سره کیږي.

## 1. قتل

څرنګه چه تاسو به په ورپسنی برخه کې ولولی، د جزا قانون قتل د ځینو ژورو تفصیلاتو سره تر بررسی لاندې نیسی. د ويلو وړ ده چه د جزا او مجازاتو د قانون مقررات، یوازې په هغه صورت کې اعمال کیږی چه قصاص اړونده موارد تر پوښښ لاندې نه وی نیولی، یا د مسلی د لغو کېدو په دلیل او یا د هغه د عنصرونو د کمښت په وجه. په نتیجه کې، د قتلونو ډېری په انحصاری توګه د قصاص مجازاتو لاندې قرار نیسی او تاسو په راتلونکې کې د مدافع وکیلانو په توګه، باید پدې و پوهیږی چه قتل  څرنګه او څه وخت د اسلامی حقوقو تر قلمرو لاندې راځی.

قتل د ډېرو جدی جرمونو په منځ کې تر حدود لاندې نه طبقه بندی کیږی. کله چه قتل تر قصاص لاندې قرار مومی حتمی نده چه مجرم مجازات شی ځکه بخښنه یا پولی جبران  د مجازاتو بدله کېدای شی. پداسې مواردو کې د قتل بېلابېل ډولونه د پولی جبران مختلفو کچو سره اړدول پېداکوی.

### عمدی قتل

اسلامی فقهه د عمدی قتل تعریف د وسلی لکه ټوپک، تورې، نېزې، اور، د لرګې تېرې څوکې او هغه ته ورته وسلو پکارولو سره د بل شخص د پلان شوی وژنې په توګه تعریف کړې ده. د دا ډول اقداماتو لپاره مجازات، د قاتل لپاره د پښېمانی له فرصت پرته د مجرم مرګ دی. حنفی مذهب ددې غوښتونکی دی چه قاتل د تورې په واسط ووژل شی، نه په هغه طریقه چه قربانی وژل شوی دی.

که چېرې د مقتول ورثه د غچ اخیستنې له اقدامات څخه تېرېږی، دیة د هغه بدله کېږی او ګناهکار باید کفاره ترسره یا ورکړی. همدارنګه دیة د صغیر یا د بې دفاع معلول د قتل/قربانی او یا په هغه صورت کې چه قتل له وسلې کارولو څخه پرته تر سره شوی وی بدله کېدای شی.

که چېرې دیة په هر دلیل چه وی د قربانی بدله شی، پولی جبران له عادی حد څخه شدیدتردی او مقصد یی د ورته جرم له ارتکاب څخه د نورو لپاره د عبرت اخیستل دی. د خون بها دروند شکل په اصل کې د د ۱۰۰ اوښانو سره برابر دی چه له هغه جملې څخه ۴۰ حاملګی ولری. ورپسې د غرامت شکل پرمختګ کړی او نورې بڼې یی خپلې کړی لکه د طلا ۱۰۰۰ دیناره، د سپینو زرو ۱۲۰۰۰ درهم، ۲۰۰ غوایی، ۲۰۰۰ مېږی او ۲۰۰ جوړې جامې .

## غیر عمدی قتلونه

غیر عمدی قتلونه یوه اشتباه (خطا)، تصادف، یا د جرم د عامل یو غیر مستقیم اقدام دی چه د زیانمن شوی په مرګ ختمېږی. دا ډول جرمونه په مرګ نه محکوم کېږی، خو د پولی غرامت ورکولو ته اړتیا لری.[29] دا ډول جبران په اصل کې ۱۰۰ اوښان او یا د ترکیب یو ډول، د طلا ۸۰۰ دیناره ، ۸۰۰ د سپینو زرو درهم، ۲۰۰ غوایی او ۲۰۰۰ مېږی اټکل شوی دی.

## د یوې ډلې پواسطه قتل

فقها پدې هکله د نظر اختلاف لری چه آیا د یوې ډلې افرادو له خوا قتل د قصاص په شرایطو باندې برابر دی که نه. د موضوع په اړه تر ټولو مهمه دا چه حنفی مذهب وایی چه د متخلفې ډلې د پېژندلو وړ ټول غړی د قصاص مجازاتو لاندې راځی. پدې حال کې، د زوهاری ابن سیرین مکتب او د حبیب ابی ثابت مکتب پدې نظر دی چه دا ډول قتل تر قصاص لاندې نه راځی او مجازات یی د سکولار حقوقو پر بنسټ صورت نیسی.

د پام وړ ده چه، که چېرې د یو ټاکلی قتل د مرتکب پېژندنه ناممکنه وی، جمعی مسؤلیت ټولې ډلې ته راجع کېږی. د مثال په توګه، که چېرې د مقتول جسد د ښار په یوه سیمه او یا په یوې جالې کې کشف شی، اوسېدونکی، مسافران یا عمله باید د بې ګناهی ۵۰ قسمونه او له قتل څخه بی خبری په ځای کړی. که د افرادو شمېر له ۵۰ څخه کم وی، اوسېدونکی اجازه لری تر څو له یو ځل څخه زیات قسم تر سره کړی. هغه کسان چې له قسم خوړلو څخه ډډه کوی تر څو پورې چه د قسم خوړلو لپاره چمتو کېږی حبس کېږی. هغه افراد چه په صداقت سره په بې ګناهی باندې اعتراف کوی، تر قصاص لاندې له هر ډول مسؤلیت څخه تبریه کېږی، او د مړی ورثې ته په غرامت باندی ملزم دی.

[29]. ژباړه: او د یو مسلمان دا کار نه دی چه بل مسلمان د ووژنی مګر په غلطی سره ، او چاچه یو مؤمن مسلمان په غلطی سره مړ کړ نو (کفاره یی داده چه) یو مؤمن غلام دې آزاد کړی او د مړی وارثانو ته دې خون بها ورکړی، مګر که هغوی خون بها وبخښی (نو روادی) او که چېرې دغه مؤمن بنده د داسې قوم نه وو چه ستاسو ورسره دښمنی وه، نو یو مسلمان غلام دې آزاد کړی او که دې داسې قوم بنده وو چه ستاسو ورسره معاهده وه نو د هغه وارثانو ته دې خون بها هم ورکړی او یو مسلمان غلام دې هم آزاد کړی ، او څوک چه غلام موندلی نشی، نو پرله پسې دوه میاشتې روژه دې ونیسی، په طور د توبې چه د الله د طرف نه مقرره ده ، او الله په هر څه پوه او دحکمت خاوند دی. ۴ سورة، ۹۲ آیة.

## د پلار له لوري د زوی قتل

په حنفي مذهب کې که چېرې پلار خپل زوی وژني، نوموړی د قصاص مجازاتو ته نه حواله کېږي. دا نظر د دریو پارامترو په واسطه حمایت کېږي: اول، په حدیث شریف کې راغلی دی: " د پلار پواسطه د زوی قتل په صورت کې د غچ اخیستنې [هېڅ] اقدامات نشته". [30] دوهم، د قصاص ټولیز مقصد د قتل مخنیوی دی، هغه عمل چه د پلار د محبت مخه نیسي. پردې بنسټ، فرض پدې دی چه د زوی قتل د معتبرې توجیه درلودونکی دی. دریم، داسې باور شته، دا چه پلار د وینې له لارې خپل زوی ته ژوند ورکړ، زوی نباید د پلار د مرګ علت شي.

## 2. نور زخمونه (جراحات)

د له قتل پرته د نورو ټولو جرمونو لپاره منجمله عمدی فزیکی زیان، معیوب کول یا د بدن غړی نقص، غیر عمدی زیان، د غچ اخیستنې اقدامات تر ځانګړو شرایطو لاندې مجاز دی. لومړی، اړول شوی زیان باید عمدی وی.دوهم، هر ډول د غچ اخیستنې هر ډول اقدام باید د بدن هماغه برخې پورې محدود وی چه د مجرم له لوری ټپ ورته رسېدلی دی. دریم، د قصاص جبران باید د پلی کېدو وړ وی.

کله چه د قصاص جرمونه تر سره شی، د غچ اخیستنې مجاز اقدامات باید د اړول شوی اصلی زیان سره برابر وی. که چېری د غچ اخیستنې له اقداماتو څخه ډډه کېږی، قربانی کولای شی اړول شوی زیان له نورو لارو څخه تر لاسه کړی. د مثال په توګه، په هغه صورت کې چه زیانمن شوی شخص پوزه، ټول غاښونه، دواړه لاسونه یا پښې یا ژبه له لاسه ورکوی، په ۱۰۰ اوښانو سره جبران کېږی. ددې جبران نیمای هغه وخت مجاز دی چه قربانی یوه پښه، یو لاس او یا یوه سترګه له لاسه ورکوی. آن د خونبها ډېره لږ اندازه (۱/۲۰) د یو مقدار زیان مجاز دی لکه د یو غاښ له لاسه ورکول یا فزیکی ټپ چه د امېدواره ښځې لپاره د جنین د سقط سبب کېږی.

### قصاص: یوه موردی مطالعه

"د ۱۹۹۶ کال په دسمبر کې، د سعودی عربستان د دامان په ښار کې د بریتانیا دوه نرسان د یوه استرالیایی نرس په قتل تورن شول. یو ان ګیلفورد چه قربانی وو، پخپله خونه کې پداسې حالت کې مړ پیدا شو چه څلور چاقوګان وهل شوی وو او وروسته په سوټک ضربه او خفه شوی وو. له پلټونو وروسته، لوسی مکلاو کلان او دبی پاری په قتل اعتراف وکړ، د همجنس بازی ځینی چارې سمې پرمخ نه وې تللی.

[30] Karim, A.M.F., Mishkat-ul-Masabih, Vol. 11, Law Publishing Co., pp. 496-97.

د اعترافاتو پر بنسټ، مکلاوکلان په اتو کلونو تعزیری حبس او ۵۰۰ دُرو وهلو باندې محکوم شو. پاری په اعدام محکوم شو. د اسلامی قوانینو پر اساس د قصاص د رول په نظر کې نیولوی سره، د ګیلفورد خپلوانو ته وویل شوی چه ترڅو تصمیم ونیسی چه د مرګ مجازات عملی شی او یا داچې د مجازاتو د خسارت مالی جبران غواړی. اګر چه نوموړی په پیل کې د اعدام د مجازات د پلی کېدو طرفدار وو، د مقتول ورور فرانک ګیلفورد بالآخره د بریتانیایی نرسانو سره توافق وکړ چه د مرګ په ځای کې مالی غرامت منی.

نرسان تر ۱۹۹۸ کال کله چه د سعودی عربستان پاچا هغوی عفو او بریتانیا ته یی د ستنېدو اجازه ورکړه، بندیان وو. د جبران ډېره اندازه د ایوان په یاد د آدلاید په روغتون کې د اطفالو د برخې پراختیا ته اهدا شوه.[31]

## د مباحثې پوښتنې

۱.آیا آسترالیایی یا هر بل بهرنی په اسلامی دولت کې د اعدام مجازاتو دحکم صادرولو صلاحیت درلودای شې ؟ که یو بهرنی هېواد د اعدام مجازات غیر قانونی اعلان کړی څه به پیښ شی؟

۲.څه ستونزې به رامنځ ته شی که چېرې د یوې کورنۍ غړو نه منصفه بې طرفه هیئت او یا دولتی مقام ته، د مناسبو مجازاتو د پرېکړې واک ورکړ شی؟ آیا تاسو پدې هکله د فرانک ګیلفورد د پرېکړې سره موافق یاستی؟ آیا دا اهمیت لری که دواړه تورن کسان ادعا وکړی چه د روانی او جنسی اجبار په واسطه یی اعتراف کړی دی او په واقعیت کې هغوی بی ګناه دی؟

۳.آیا دا د اهمیت وړ ده چه که قصاص د یوه غابښ قربانی او هغه قربانی چه یو نه زیږېدلی ماشوم له لاسه ورکوی، د یو شان غرامت ورکول تجویز کړی؟

۴. آیا تاسو ددې سره موافق یاستی چه دزوی قاتل یو پلار د قصاص جزا تابع نه اوسی؟ د هغو میندو په هکله څه فکر کوی چه خپل زوی وژنی؟ څنګه که چېرې یوه نجلۍ وژل کېږی؟

## III. تعزیری جرمونه

تعزیر شامل په ټولو هغو جرمونو کېږی چه د حدود او قصاص د جرمونو نه کېږی. تعزیر د "مخنیوی کول"، "درناوی کول" او "اصلاح کولو" په معنا دی. د دا ډول جرمونو عنصرونه او مجازات، د دولت پواسطه تعیین او د هر ډول تعزیری مجازاتو اعمال د قاضی په اختیار کې دی. د پام وړ ده چه تعزیری مجازات د حدودو او یا قصاص ځای نشی نیولای، اما په حنفی مذهب کې په هغه حالت کې چه د حدود لازم عنصرونه د قناعت

[31] Belinda Wells and Michael Burnett, When Cultures Collide: An Australian Citizen's Power to Demand the Death Penalty Under Islamic Law, *Sydney Law Review*, vol. 22, no. 1, March 2000.

وړ نه وی، له هغه څخه د بدیلو او یا اضافی مجازاتو په توګه ګټه اخیستل کېدای شی . په مجموع کې له هغه وروسته، تعزیری مجازات د جرم د مخنیوی او د مجرمانو د اصلاح لپاره اعمال کېږی.

که څه هم دولت د تعزیری جرمونو په تشخیص او د مجازاتو په ټاکلو کې تر زیاد بریده له آزادۍ څخه برخمن دی، خو صلاحیت یا واک باید د اسلام د کلی قوانین د روحیی او عامه ګټو په چوکات کې وکارول شی. په ورته توګه، قضاوت هم د بېلو جرمونو لپاره د متعددو مجازاتو په اعمال کې صلاحیت لری. د تعزیر تر مجازاتو لاندې : یادونه، ګوت څنډنه، ګواښ، تحریم، عامه رسوایی،جریمه، د مالونو ضبط کول، زندان، دُره وهل او په ځینو مواردو کې مرګ هم راځی.

د جزا قانون پر بنسټ، د تعزیر جرمونه د جرم د جدیت په پام کې نیولو سره، د دریو څخه په یوه کټګوری کې قرار نیسی. تر ټولو جدی جرمونه د جنایت په توګه، د منځنی کچې جرمونه لکه جنحه او تر ټولو د ټیټې کچې جرم یعنی قباحت باندې ویشل کېږی. څرنګه چه مخکې یې یادونه وشوه، جنایت هغه جرم دی چه د مرګ، دوام لرونکی حبس (له ۱۶ – ۲۰ کلونو)، او یا اوږد حبس (له ۵ – ۱۵ کلونو) مجازات لری. د جنحه جرم مجازات له ۳ میاشتو تر پنځو کلونو او یا له ۳۰۰۰ افغانیو زیات په نغدی جریمه مجازات کېږی. قباحت په هغو جرمونو باندی شامل کېږی چه د هغه مجازات ۲۴ ساعتونو څخه تر دری میاشتو پورې او یا تر ۳۰۰۰ افغانیو نغدی جریمه وی.

## دوهمه برخه : د افغانستان د جزایی حقوقو د مدنی قانون سرچینې

څرنګه چه تاسو په یاد لری د قانونیت اصل ددې غوښتونکی دی چه جرمونه په صراحت بیان او په آسانی سره د تطبیق وړ وی. په افغانستان کې دا شرط کابو په یو شان د غوره جزایی قوانینو د تصویب او خپراوی له لارې (مثال، مدون قوانین چه جرمونه تشخیص او د مجازاتو وړاند وینه کوی) عملی شوی دی. د قوانینو تدوین په افغانستان کې په نسبی ډول نوی پدیده ده. پداسې حال کې چه په افغانستان کې د جزایی عدالت اړوند قوانین د لومړی ځل لپاره په ۱۹۳۰ کلونو کې را څرګند شول، د افغانستان د جزا قانون لپاره دوامداره همغږی کوښښ تر ۱۹۶۰ کلونو شتون نه درلود.

د تدوین په لومړنی خوځښت کې پرمختګ د جزایی محاکماتو د اصولو جامع قانون تصویب وو. دې قانون د جزایی عدالت سیستم د تحقیق او قضاوت په تنظیم له هغه جملې : نیول، توقیف، کشف او نیول، د شواهدو راټولول او محاکمه، د شاهدی ادا کول، له کارپوهانو څخه ګټه اخیستل او د استیناف غوښتنې حق، معیاری اوستاندارد کړل. د ۱۹۶۰ کلونو نور بدلونونه د جزا حقوقو نو موضوعه قوانین (لکه د ۱۹۶۷ کال د احتکار څخه د مخنیو قانون) او بنسټیز اصلاحات (لکه د ۱۹۶۷ کال د څارنوالی قانون) په بر کې نیسی.

د افغانستان حکومت په ۱۹۷۶ کال کې، د قانونیت دکترین ډېرې غوښتنې د جزا د لومړني (یوازني) قانون په تأیید سره پر ځای کړ. د جزا قانون چه په ۳۴۷ ګڼه رسمی جریده کې خپور شو، د دوو کتابونو، اته بابونو، ۵۲۳ مادو درلودونکی دی او تر نن ورځې په افغانستان کې د جزا حقوقو د یوې هر اړخیزې سرچینې په توګه پاته دی. دا قانون جرمونه مشخص مجازات له اختلاس نیولې د عامه ودانیو تر ورانولو او بیا تر افترا پورې تنظیموی.

په ۲۰۰۱ کال کې د طالبانو د حکومت له ړنګېدو وروسته، افغانستان د تدونی د یوه نوی پړاو شاهد دی. وروستنی اصلاحات په دواړو لورو یعنی د جزایی محاکماتو اصول او غوره جزایی قوانین د داسې حقوقی اسنادو په ترڅ کې لکه د پیسو د تطهیر او له جرمونو څخه د راپیداشوو عوایدو پرخلاف د مبارزې قانون په ۲۰۰۴، د ترووریز د تمویل پر خلاف د مبارزې قانون په ۲۰۰۴ او د مخدره موادو پر ضد  د مبارزې قانون په ۲۰۰۶  تدوین شوی دی. وروستی بدلونونه په ننی افغانستان کې د جزا مدون قانون یوه غوره برخه ده چه د دې څپرکی د پاتې برخې په اوږدو کې به تر بررسی لاندې ونیول شی.

د څپرکی دا برخه په خاصو جرمونو لکه چه په افغانستان کې وجود لری نظر اچوی. دا شننه پر دری ډوله متمایزو جرمونو تمرکز کوی: د دولت خلاف جرم، د اشخاصو خلاف جرمونه، او د ملکیت خلاف جرمونه. ددې طبقه بندی تر هرې کتګوری لاندې یو تر بله څو متمایز جرمونه قرار لری چه ورته به نظر وشی. ددې بحثونو څخه په هر یوه کې، قانون د هغه منطق، د هغه په وړاندې ستونزې او د هغه د ښه کولو لارې چارې، به تر بحث لاندې ونیول شی.

## I.  د اشخاصو خلاف جرمونه

### 1. سړی وژنه – قتل

سړی وژنه په عموم توګه له توجیه یا عذر پرته د یو انسان وژلو ته ویل کېږی. دا د ماهوی نتیجې درلودونکی یو جرم دی. د هغه مرکزی او متمایز عنصر مشخصه نتیجه – یعنې د یو بل انسان وژنه ده. په زیاترو مواردو کې د قتل په هکله قوانین کوم خاص رفتار ته چه د مرګ سبب کېږی اشاره نه لری. د هغه پر ځای، قوانین په سادګې سره وایی چه د بل شخص د مرګ سبب کېږی.

"سړی وژنه" یوه بې طرفه قانونی اصطلاح ده . په واقعیت کې، هغه بې ګناه یا جرمی کېدای شی. مثال، په هغه صورت کې چه حکومت د محکوم شوی جنایت کار تجویزی اعدام اعمال کوی، په حقیقت کې دا هم قتل دی، که څه هم په اصل کې جرم نه دی. جنایی قتل له حده زیاد یو واحد مفهوم افاده کوی. د جزا قانون سړی وژنه په قتل، د مختلفو اعمالو لپاره د مجازاتو د بېلو بېلو درجو سره، او د نفس قتل (تصادفی قتل) ویشی. عمدی او تصادفی قتل د مجرم د قصد پر بنسټ تفکیک کېږی چه په حقوقی متنونو کې په " د عمل ارتکاب لپاره له موجه قاونی علت پرته مخکنی قصد" یادېږی.

د کرکې مخکنی موجودیت په ټولیزه توګه له دې څخه استنباط کیږی چه که چېرې یو څوک بل شخص وژنی، نو د لاندنیو ذهنی حالاتو څخه به یو حالت لری: (۱) د انسان د وژلو قصد، (۲)بل چا ته د شدید زیان د رسولو قصد،(۳) د انسان د ژوند په وړاندې له حده زیات بې پروایی،(۴) د جنایت ارتکاب قص چه په مرګ منجر کیږی. ددې ذهنی حالاتو هر یو، د توجیه د نشتوالی په صورت کې (لکه له ځان څخه دفاع)، عذر (لکه لېونتوب) او یا تخفیف ورکوونکی شرایط (لکه کافی لمسون)، د انسان ژوند د ارزښت په اړوه له ځانه د بې حده بې پروایی ښودل دی. په لومړی حالت کې، د وژلو قصد، کرکه کول دی چه په ښکاره راڅرګندېږی.

ددې مطلب درک کول مهم دی چه د قتل هر ډول موضوع په پیل کې د اسلامی حقوقو له مخې رسیدګی کیږی. د جزا قانون ۳۹۴ ماده څرګندوی چه د عمدی قتل تور لومړی د قصاص مجازاتو تابع دی او یوازې هغه وخت چه د مقتول د خپلوانو له لوری تور تخفیف موندلی وی او یا په کومه طریقه رد صلاحیت شوی وی، تورن د جزاقانون د احکامو سره سم محکوم کیږی.

که څه هم د جزا په قانون کې دا نه ده معلومه شوې خو په ټولیزه توګه قتل له توجیه یا عذر پرته د بل انسان عمدی وژنه ده . د عمدی قتل د تور د اثبات لپاره باید وښودل شی چه تورن د بل شخص د وژلو واقعی قصد درلود. دا کار په لاندې ترتیب سره وښودل شی: (۱) مدعی علیه مکلفیت درلود چه د هغه له اجرا څخه په آګاهانه توګه ډډه وکړی خو ددې کار د نه ترسره کولو مستقیمه نتیجه مرګ رامنځ ته کوییا (۲) دا چه تورن یا مدعی علیه د خپل عمل نتیجی درک کولای شو خو ددې سره عمل یی تر سره کړ (جزا قانون ۳۵ ماده وګوری)

د جزا قانون د قتل دوه یو له بله متمایزې ډلې په ګوته کوی. لوړۍ ډله چه په ۳۹۵ ماده کې معرفی شوې ده، په هغو اعمالو باندې شامل ده چه د یو بل جرم په ترځ کې د پخوانی اصرار سره تر سره کیږی او تر دې اندازې فجیع وی چه د مرګ د مجازاتو وړ وی. دوهمه ډله د مرګ مجازات لازم نه بولی، اګر چه قاضی د مجازاتو د اعمال  یا دوام لرونکی یا اوږد حبس (پنځه تر پنځلسو کلونو) اختیار لری. څرنګه چه په ۳۹۶ ماده کې بیان شوې ده، دا دوه اړخه قتل په هغو مواردو باندې شامل دی چه په هغه کې (۱) قاتل یوازې د یو نفر د قتل قصد درلود خو عمل یی له یو نفر څخه د زیاتو کسانو په مرګ باندې منجر کیږی، (۲) قاتل د مقتول جسد مثله یا ټوټې ټوټې کوی، (۳) قاتل پداسې شرایطو کې د قتل مرتکب کیږی چه د ۳۹۵ مادې په ۱ او ۲ جزو کې ندی مشخص شوی (لاندې وګوری).

**د جزا قانون ۳۹۵ ماده — د اعدام مجازاتو مشدده لاملونه**

د عمدی قتل ارتکاب کوونکی په یوه راتلونکی حالت کې په اعدام محکومیږی:

1. په هغه حالت کې چه قتل د پخوانی اصرار او ترصد سره یوځای وی.
2. که قتل د زهرناکو بې هوښه کوونکو یا چاودېدونکو موادو د استعمال په وسیله صورت موندلی وی.
3. که قتل په ټیټه انګېزه یا د اجورې په مقابل کې یا په وحشی توګه صورت موندلی وی.
4. که مقتول د قاتل له اصولو څخه وی.
5. که د قتل عمل د عمومی خدمتونو په مؤظف د وظیفی د اجراء کولو په وخت کې یا د هغې په سبب صورت موندلی وی.
6. که قاتل د یوه نفر څخه د زیاتو د قتل قصد لرلی وی او د یوه فعل په اثر د ټولو قتل صورت موندلی وی.
7. که قتل د بل جنایت یا جنحی سره یوځای صورت موندلی وی.
8. که قتل د بل جنایت یا جنحې د تمهید، آسانتیا، تنفیذ، قادرېدلو د ارتکاب په منظور چه جزا یی د یوه کال څخه کمه نه وی ټاکل شوی یا د جزا څخه د فرار یا خلاصون په منظور صورت موندلی وی.
9. که د عمدی قتل ارتکاب کوونکی په دوام لرونکی حبس محکوم وی او د حکم د تنفیذ د مودې په اوږدو کې د بل عمدی قتل ارتکاب کوونکی یا په هغه کې شروع کوونکی شی.

## عمد

څرنګه چه **۳۹۵** ماده ښیی، د عمدی قتل لپاره ستاندارد مجازات اعدام دی. ″ قصد کول″ له ارتکاب څخه د مخه د یوه عمل فکر کولو په معنا دی.معلومه نده مخکې له دې چه یو قتل پروګرام شی، د هغه په هکله څومره فکر کول په کار دی. د فکری مکتبونو څخه یو پدې آند دی چه یو فرد کافی وقت ته اړتیا لری تر څو په بشپړه توګه عمل بررسی او وژنې وسیله انتخاب کړی. دا کېدای شی په لنډه شېبه کې رامنځ ته شی ځکه د وژلو د قصد د تشکل او د قتل ترمنځ واټن شتون لری. پدې ترتیب، له پخوا د یوه شی فکر کول او یا د هغه په هکله مطالعه کول کولای شی د ذهن د فعال حالت سره سم سملاسی یا نابېره وی.

## د بل جرم په ترڅ کې قتل

**۳۹۵** ماده د هغه قتل په خاطر چه د جنایت د ارتکاب په جریان یا له قانون څخه د تېروتنې په صورت کې تر سره کېږی د اعدام مجازات مجاز بولی. دا قاعده د هغه تورن په هکله د تطبیق وړ دی چه د عمد، بې پروایی،

غفلت او یا سهل انګاری په وجه  او یا په تصادفی ډول د قتل مرتکب کیږی. د جنایت –قتل (یا د جنحې – قتل قاعده) له یوې قاعدې څخه ګټه اخیستل دېره د بحث بګنوونکې ده. له یې خوا، داسې ښکاری چه دا قاعده د عمدې کرکې کولو د انګېزی  د له منځ وړلو لپاره ده.خو له بلې خوا، د جنایت (یا جنحې) د ارتکاب قصد کېدای شی په قانون کې د یادشوې ضمنی کرکې دلالت وکړی.

د خپل بحث پاروونکی ماهیت باوجود، حقوق د یوې ټاکلې موخې درلودونکی دی. د بل جرم په ترڅ کې د قتل لپاره شدید مجازات، د جنایت او جنحې د ارتکاب په جریان کې له مسامحی او تصادفی قتل څخه مخنیوی کوی. د پرمختللو مجازاتو موخه د جنایتکارانو متوجه او محتاط کول دی. د مثال په توګه، مجرمان ممکن دی لا هم د جرم مرتکب شی، خو ددې هیل کیږی چه هغوی به دا عمل په داسې توګه ترسره کړی چه د هغه په ترڅ کې د مرګ مجازات احتمال لږ وی. همداشانې، شدید مجازات مجرمان د ټولنې په وړاندې د دین اداکولو ته از باسی. هغه شخص چه د یو بل جرم په ترڅ کې د قتل مرتکب کیږی، د هغه فرد په پرتله چه نور ژوندی نه دی، ډېر مسؤلیت په غاړه لری.

## د حیثیت څخه د دفاع په خاطر قتل

عمدی قتل چه ″د لوړو احساساتو په ترڅ کې″ نابېره واقع کیږی او د هغه مقصد د ځان د حیثیت دفاع وی، عمدی کرکه کول نفی کوی. دا ډول دفاع په یو زیات شمېر هېوادونو کې د څلورو لاندنیو عنصورنو په شتون کې د قتل په واک کې قرار نیسی: (۱) تورن باید د لوړو احساساتو په ترڅ کې عمل کړی وی، (۲) شدید احساسات باید له کافی لمسون څخه را منځ ته شوی وی، (۳) لوبغالی د نرمښت لپاره یو مناسب فرصت و نه لری او (۴) باید د لمسون، شدیدو احساساتو او قتل ترمنځ یو علیتی تړاو شتون ولری.

۳۹۸ ماده ددې اصولو څخه د هر یوه څرګندویه ده. د جزا قانون ته په پام سره، هغه سړی چه خپله مېرمن یا د کورنی کوم یوبل نژدې غړی د زنا د ارتکاب په حالت یا د یو بل شخص سره په یوه بستره کې ووینی که چېر هغه سملاسی خپله جوړه (همسر) او دریم شخص ووژنی یا ټپی کړی له مجازاتو څخه معاف دی. که څه هم تورن د منظم قتل او جرح له مجازاتو څخه دمعاف دی، خو د تعزیری مجازاتو په توګه بیاهم د دوو کلو یا تر هغه کم لنډ حبس تابع ګڼل کیږی.

### د بل جرم په ترڅ کې قتل: د مباحثې پوښتنې

۱.هغه قتلونه چه د بل جرم په ترڅ کې پیښیږی، په آلمان او فرانسه کې هېڅکله د شدیدو مجازاتو سره نه مخامخ کیږی. انګلستان د ۱۹۵۷ کال ۳۹۵ مادې ته ورته قاعده لغو کړې ده. پداسې حال کې چه د ″جنایت – قتل″ قاعده د امریکی په متحده ایالاتو کې شته چه د زیات خشن والی په خاطر په منظمه توګه تر نیوکو لاندې راځی.

ددې قاعدې ښېګڼې په څه کې دي؟ آيا دا سمه ده چه په مرګ منجر شوی د جنحې د جرم تورن بايد د مرګ مجازات ووينی؟ آيا له غير عمدی قتل مخنيوی شونی دی؟ آيا د اعدام مجازات بايد په هغو جرمونو پورې محدود شی چه د ماهيت له مخې د انسان ژوند ته خطرناک دی او د ساده جنحې جرمونه تر پوښښ لاندې و نه نيسی؟

۲.آيا عماد يو غل د يوې ځايی مغازې څښتن کمال د قتل مسؤل پېژندل کېږی؟ کمال له زورزياتی پرته غلا د وېرې له امله مړ کېږی. که چېرې کمال د زړه تکليف ولری، بيا څنګه؟

۳.داسې فرض کړی چه عماد يو غل، د تصادف له مخې کمال د ځايی يوې مغازې خاوند په سينه باندې ضربه کوی. عماد نيول کېږی او په غلا او وهلو ټکولو باندې تورن کېږی او د هغه متناسب مجازات کېږی. لس کاله وروسته د د مالونو د وروستی پيټی د ښکته کولو په مهال د زړه درېدو له امله مړ کېږی. ډاکتران وروسته د مړينې علت هغه ټپ تشخيص کوی چه د کمال په زړه باندې د ضربې په نتيجه کې رامنځ ته شوی.

آيا عماد ددې مرګ مسؤل دی؟ که چېرې داسې وی، آيا هغه بايد د مرګ په مجازاتو محکوم شی؟ که چېرې عماد د جرم شريک وی، آيا د نوموړی شريک د قتل د جرم په خاطر په مرګ محکوم کېږی؟

۴.دوه جيب وهونکی، رفيع او طارق په پام کې ونيسی. رفيع خپل لاس د يوه قربانی په جيب کې د ننه کوی او د پيسو يوه بټوه د دوو سوو افغانيو سره راوباسی. طارق خپل لاس د يو بل قربانی جيب ته وردننه کوی او د هماغه اندازی پيسو سره يوه بټوه راوباسی، خو قربانی يی ددې کار له شوکه مړ کېږی. لکه چه ګوری د ملکيت خساره يو شان يعنې دوه سوه افغانۍ دی.د غلا په اړوند د رفيع او طارق مجرميت يو شان دی؟

آيا طارق زيات ګناهکار دی، ځکه نوموړی د مرګ سبب دی؟ که چېرې داسې وی، هغه ولې تر هغه بل ډېر ګناهکار وی ځکه چه د نومړی نا مشروع قصد د رفيع سره يو شان دی يعنی يوه قصدی غلا؟ آيا دا د طارق په اړه د متناسبې جزا عادی مفهوم نه نقض کوی ځکه چه طارق يو ناکام جيب وهونکی د قتل قصد نه درلود.

## په انتحار کې مرسته

د جزا قانون انتحار د يو جرم په توګه نه تشخيص کوی. ۳۹۷(۳) ماده په صراحت سره بيانوی چه "په انتحار شروع کوونکی نه مجازات کېږی". که دريم شخص د د انتحار د لمسون يا مرستې موجب کېږی، پدې حالت کې دريم شخص د جرم په خاطر د مجازاتو وړ دی.

د قتل او ځان وژنې ترمنځ کرښه نری او روښانه نده. پدې اړوند وېش اکثراً پدې بنسټ تر سره کېږی چه آيا تورن عملاً په وروستنې عمل کې ګډون کړی دی او که نه. د مثال په توګه، که چېرې ضمير د نديم سره

هغه په غرغره کولو کې مرسته وکړی، ضمیر د ځان وژنې سره د مرستی په جرم تورن کېږی. (پدې فرض سره چه نوموړی ندیم ته د ځان وژنې د آسانتیا په خاطر رسی ورکړی ده) بیاهم که چېرې ضمیر د بېلانس کولو په خاطر د ندیم په غاړه کې رسی وراچولې وی، بنایی هغه د قتل په جرم تورن شی.

د ۳۹۷ (۱) مادې له مخې ″ که شخص بل څوک انتحارته تحریک کړی یا په یو قسم د اقسامو د هغه په انتحار کې کمک وکړی دحبس په جزا محکومېږی چه د اوو کلونو څخه زیاته نه وی. که مدعی علیه یو بل شخص انتحار ته و لمسوی اما د انتحار عمل یوازې ″ پیل″ شی (عمل فقې پیل کېږی او تر بشپړ کړنې د مخه درېږی، بیا نو تورن یوازی په لنډ مهاله حبس محکومېږی.

<u>**قتل د یو ضرب د نتیجې په توګه**</u>

د ۳۹۹(۱) مادې پر بنسټ :″ که څوک بې له دې چه د قتل قصد ولری په بل چا په وهلو، زخمی کولو، مضره موادو په ورکولو یا د هر نوع فعل په ارتکاب چه د قانون نه مخالف وی، تېری وکړی په داسې توګه چه فعل یی د مجنی علیه په مرګ منجر شی د حالونو سره سم په اوږده حبس محکومېږی″. دا جرمونه د شدت د شرایطو تابع دی چه زیاتېدونکی (″دوام لرونکی″) حبس په لار اچوی: (۱) که چېرې وهل د عامه خدماتو د مؤظف خلاف د دندې د اجرا په مهال او یا د هغه په سبب صورت موندلی وی، او (۲) وهل د کورنی غړی په ځانګړې توګه د طفل خلاف صورت ومومی.

**د مباحثې پوښتنه**

ولې ۳۹۹ ماده وجود لری؟ آیا وهل (څیرل یا ټپی کول، وهل اوټکول) جنایت نه دی؟ که چېرې د جنایت په ترڅ کې وهل او ټکول صورت ومومی ، آیا مجرم باید په هر حالت د مرګ د مجازاتو تابع وګرځی او که نه (د ۳۹۵ مطابق او د یو بل جرم په ترڅ کې قتل)؟ تاسو په حقوقو کې دا ډول تناقض څرنګه ارزوی او یا داچې دا طرح ګڼه وړه ده؟

## 2. قتل – د نفس قتل

زیاترهغیر عمدی قتلونه د نفس غیر ارادی قتل په توګه پېژندل کېږی، که څه هم دا عبارت د جزا په قانون کې نه دی راغلی. غیر ارادی وژنه د غفلت او بې پروایی انځور دی. د غفلت او بې پروایی توپیر د مجرم په ذهن کې متصور دی. یو بې پروا فرد د پام وړ خطر څخه خبر لری، خو د عمل انتخاب ته دوام ورکوی. غافل شخص باید د پام وړ خطر څخه خبر وی، خو داسې نه ده. د مثال په توګه، که چېرې یو فرد د ټوپک د اور سره شوخی کوی (پداسې حال کې چه پوهېږی په ټوپک کې کارتوس شته) او یو بل شخص په نښه کوی، نوموړی بې پروایی کوی. همدارنګه که هماغه شخص عین عمل تر سره کړی (په مقابل لوری باندې

ډزې) پداسې حال کې چه پوهېږی چه په وسله کې کارتوس شته، د نوموړی دا عمل غفلت دی. څرنګه چه تاسو له مخکنی بحث څخه په یاد لری، کم داسې پېښیږی چه یو غیر ارادی عمل مجازات شی.

دا مفهوم د جزا قانون په ۴۰۰ (۱) ماده کې په لاندې ډول بیان شوی دی." که څوک د خطا په اثر چه د اهمال، غفلت، بې احتیاطی، د بې مهارتی، د قانون، مقرراتو لایحو، امرونو د نه مراعات کولو څخه یی نشأت کړی وی د بل شخص د قتل ارتکاب کوونکی وګرځی یا یی له عمده د قتل سبب شی په حبس تر دری کلونو او نقدی جزاء چه شپږ دیرش زرو افغانیو څخه زیات نه وی یا ددې دواړو جزاګانو څخه په یوې محکومیږی".

که یو فرد د امنیتی وظیفوی تدبیرونو د نقض په ترځ کې بل شخص په غیر عمدی توګه، او یا د نېشه ای توکو او یا الکلو څخه د استفادې په نتیجه کې ووژنی، مرتکب په متوسط جزا چه له دوو کلونو څخه کمه نه وی او نغدی جزا چه پنځوس زرو څخه زیاته نه وی، محکومیږی. په ورته توګه، په هغه صورت کې چه تورن یوازې غفلت کوی ( د بې پروایی یا اهمال په وړاندې)، اما د عمل نتیجه له یوه څخه زیات کسان وی، تورن په متوسط حبس چه دری کلونو څخه کم نه وی محکومیږی. که چېرې تورن هم امنیتی وظیفوی تدابیر نقض کوی او د تصادف له مخې له یوه نه زیات کسان وژنی، نوموړی په حبس محکومیږی چه له اوو کلونو څخه کم نهوی.

په پای کی، ۴۰۰ ماده تصریح کوی چه که یوشخص د حادثې د واقع کېدو په وخت کې د مجنی علیه د مرستی څخه سره ددې چه پرې قدرت لری ډډه وکړی، ارتکاب کوونکی په متوسط حبس چه له دووکلونو څخه کم نه وی او په نقدی جزا محکومیږی چه تر پنځوس زرو افغاینو زیاته نه وی.

## مقایسه او تناقض : له مکلفیت پرته د عمل تر سوه کول – تصادف مرګ

"د یوې کلی قضیې په توګه [ د کمان لاو حقوقی سیستم په هېوادونو لکه انګلستان کې]، پاته راتلل او یا د عمل نه ترسره کول جزایی مسؤلیت نه ګڼل کیږی. ددې ډول بې مسؤلیتی یو مصور او کلاسیک مثال د لامیو یو شپږ فوټه ونې کار پوه دی چه په عمد سره د ۵ فوټه[ژور سیند] لور ته ناست دی او ۴ فوټه ونې یوهلک سیل کوی چه د ډوبېدو په حال کې دی. یو له دلایلو څخه چه معمولاً ددې اصل لپاره مدنظر وی دا چه د خطر د ټاکلو ټکی یا حد چه له مخې یی مرسته کوونکی ته جزایی مسؤلیت متوجه کیږی، مشکل دی. بل دلیل دادی هغه څوک باید مجازات شی چه بشری بدمرغی رامنځ ته کوی نه هغوی چه یوازې د هغه په وړاندې بې طرفه دی. زموږ پدې فرضیه کې د مثال په توګه، د لمیو وهلو کارپوه د هلک ګرفتاری یا موقعیت خراب کړی نه دی، بلکه یوازې د هغه په ښه کولو ندې بریالی شوی".[32]

## د مباحثې پوښتنې

[32] .Arnold Loewy, *Criminal Law in a Nut Shell*, pp. 157-162 (West Group, 2003).

۱.آیا دا استدلال د قناعت وړ دی؟ آیا ددې تعیین کول چه کله مرسته کوونکی ته خطر متوجه کېږی ډېر ستونزمن دی تر دې چه هغه جزایی مسؤل وپېژندل شی؟ آیا ناظر یوازې بې طرفه وو؟

۲.که چېرې سیل کوونکی پلار وای، څه به پېښ شوی وو؟ آیا پدې حالت کې هغه ته هم جزایی مسؤلیت متوجه کېده؟ او یا څه به شوی وای که هلك له ښکاری څخه په پاته شوی تخته باندې ځان اچولی او وتلی وای؟ آیا سیل کوونکی د نه کمك له امله مسؤل پېژندل کېږی؟

۳.آیا د قربانی سره دسیل کوونکی د مرستې په هکله د ۴۰۰ مادې د حکم په اړه کوم پرابلم شتون لری؟ دا کوم پرابلمونه دی؟

## 3. وهل او زخم

وهل یو عمدی تلاش دی چه د زور د اعمال له لارې د نورو د نقصان سبب کېږی. پداسې حال کې چه فزیکی تماس د جرم اساسی عنصر نه دی، حد اقل باید په زور سره ګواښ یا د تېری کوونکی تماس باید وجو ولری. که چېرې جرم د ګواښ له لرې رامنځ ته کېږی، دا ګواښ باید سملاسی نه په راتلونکې کې زیان ولری.

پدې ځای کې جرم د زخم سره اړه لری. زخم هر ډول غیر قانوی یا تېرې کوونکی فزیکی تماس د بل شخص سره دی. د معمول سره سم، زخم ددې مستلزم دی چه تورن په عمد او د قربانی له رضایت پرته عمل کوی. په ځینو قضایی حوزو کې له زور څخه هر ډول غیر قانونی استفاده کولای شی زخم تشکیل کړی. مثال، په عمد سره په بل چا باندې د لاړو توف کول کولی شی زخم رامنځ ته کړی.[33] په ورته ډول، په ځینو هېوادونو کې هغه ډاکتر په زخم محکومېږی چه د ناروغ له رضایت پرته عملیات تر سره کړی. د جزا قانون ۴۱۲ ماده وایی: " که یو شخص د یوې خطا په اثر چه اهمال، بې احتیاطی او بی مهارتی څخه نشأت کړی وی بل شخص زخمی یا ووهې د خسارې د جبران څخه علاوه په حبس چه د دری میاشتو کم او د دوه کلنو څخه زیات یا نقدی جزا محکومېږی چه د دری زرو افغانیو کمه او د څلور ویشت زرو افغانیو څخه زیاته نه وی." . د مثال په توګه داسې و انګیری چه یو بې مهارته شخص په جاده کې پر بیسکل سور دی. سره ددې چه نوموړی کس لازم مهارت نه لری، خو بیا هم احتیاط کوی . پدې ضمن کې هغه یو بل کس په بایسکل وهی او دریم کس د زیان سبب کېږی. د ۴۱۲ مادې له مخې، د بیسکل سوارلی سره ددې چه د زیان رسولو قصد یې نه درلود، د زخم مجازت وړ پېژندل کېږی.

33. United States v. Masel, 563 F.2d 322 (7th Cir. 1977).

وهل او زخم یو تر بله نژدې اړیکه لری که څه هم په نهایت کې دا دوه بېل مفهومونه دی. وهل د یو عمل پیل دی چه په پای ته رسېد سره په زخم بدلیږی. په بل عبارت، وهل له نقصان څخه ډار او یا نژدې واقع کېدونکی تماس را منځ ته کوی. زخم واقعی تماس دی. پدې موضوع ځان پوهول ممکن تسو لپاره ګټوره وی چه وهل د زخم ګواښ یا د زخم تلاش دی. مثال، یو څوک په سوک وهل خو د هغه د ضربې کولو څخه ډډه کول، وهل دی. څکه د سوک وهلو له لارې عمل کول او د فرد د صورت سره تماس د زخم حیثیت لری.

د نورو هېوادونو خلاف، چه په هغو کې هر ډول غیر مجاز تماس، فزیکی زیان ګڼل کیږی، په افغانستان کې د جزایی مسؤلیت لپاره، د زخم څخه ناشی د یو ډول ملموس بدنی نقصان شتون ته اړتیا شته. په واقعیت کې د جزا قانون زخم د " زخم او وهل" په توګه چه د پرې کېدو یا نقصان یا ماتېدو یا د بدن د اعضاوو څخه د یوې عضوې له کار لوېدو په توګه تعریف کړی دی (۴۰۷ ماده).

## د تطبیق وړ مجازات

هغه شخص چه د بل چا د بدن د غړو د پرېکېدو، یا نقصان، دایمی معلولیت او یا د غړی له لاس ورکېدو باعث شی، په متوسط حبس مجازات کیږی چه له دریو کلونو څخه کم نه وی. که چېرې همدا عمل له "عقل" څخه د قربانی د بز برخه کېدو لامل شی او یا داچه د پخوانی اصرار او ترصد سره یوځای وی، مجرم په اوږده حبس چه له لسو کلونو څخه زیات نه وی، محکومیږی (۴۰۷ ماده).

د کم شدت صدمې چه د عضو د عطالت یا د کار څخه د شلو ورځو څخه زیات د بې وسی موجب وګرځی، مرتکب په لنډ خبس چه د دریو میاشتو څخه کم او یا نقدی جزا چه د دریو زرو افغانیو څخه کمه او تر دولس زرو افغانیو زیاته نه وی محکومیږی (۴۰۸ماده). ۴۰۹ (۱) ماده پدې اړوند زیاتوی چه :"که وهل یا زخم د عضوې د معلولیت او عطالت مو جب نه شی یا د کاره څخه د شلو ورځو څخه کم د بې وسی موجب و ګرځی ارتکاب کوونکی په لنډ حبس چه د شپږو میاشتو څخه نه وی یا نقدی جریمه چه د شپږو زرو افغانیو څخه تجاوز ونه کړی محکومیږی" .

همدارنګه زخم په هغه صورت کې هم رامنځ ته کیږی چه یو شخص بل چا ته "ضررناکه مواد" ورکړی. ۴۱۱ ماده وایی: " که یو شخص بل چاته ضررناکه مواد چه وژونکی نه وی ورکړی چه د هغه د دوام لرویکی معلولیت، د عضوی د عطالت، یا له کاره څخه د هغه د لوېدلو یا دهغه د یوی حاسې د فقدان سبب وګرځی، د خسارې په جبران علاوه په متوسط حبس چه له دریو کلونو څخه کم نه وی محکومیږی".

ددې په دوام ۴۱۲ ماده نوره رڼا اچوی او بیانوی چه: " که یو شخص د یوې خپا به اثر چه اهمال، بې احتیاطی او بی مهارتی څخه نشأت کړی وی بل شخص زخمی یا ووهی د خسارې د جبران څخه علاوه په حبس چه

د دریو میاشتو څخه کم او د دوه کلونو څخه زیات یا نقدی جزا چه له دریو زرو افغانیو څخه کمه او د څلورویشت زرو افغانیو څخه زیاته نه وی محکومیږی".

مشدده شرایط او مجازات هغه مهال رامنځ ته کیږی چه زخم له یوه نفر څخه زیات کسان تر سره کړی او یا پدې ترڅ کې وسله وکارول شی. دا ډول اقدامات هغوی د " حد اکثر اټکل شوې مجازاتو" سره مخامخ کوی (۴۱۰ ماده). ورته مجازات، د زخم د مخکنی قصد سره په تړاو کې په نظر کې نیول کیږی. در قانون جزا تصریح شده که چېرې د زخم او وهلو عمل د پخوانی اصرار یا ترصد سره یو ځای وی، ارتکاب کوونکی د ټاکل شوی جزا په اکثراه اندازه محکومیږی (۴۰۷ – ۴۰۹ مادې). بالآخره، په (۱)۴۱۳ ماده کې راغلی دی چه: " که د مغلوبه جنگ په اثر قتل یا شدید زخم واقع شی هر یو شخص ته چه په جنگ کې یی گډون کړی وی پدې سبب چه په جنگ کې یی گډون کړی په متوسط حبس یا نقدی جزا چه د شپږتو زرو افغانیو څخه زیاته نه وی محکومیږی مگر داچه د هغه عدم مسؤلیت ثابت شی".

## د مباحث پوښتنې

۱.په هر صورت، آیا د جزا قانون د قربانی وضعیت په نظر کې نیسی؟ آیا دا اهمیت لری چی د عمل سره د شخص موافقت چه په بدنی صدمه منجر کیږی ؟ که طبی طریقه په ځینو دایم معلولیتونو او یا د هوښ له لاس ورکولو باندې منتج شی، آیا داکتران به د جرمی تورونو سره مواجه شی؟

۲.آیا له منطقی لحاظه دا سمه ده هغه افراد چه د زخم او وهلو عمدی عمل مرتکب کیږی او همدارنگه هغه کسان چه د غفلت، بې احتیاطی او یا د مهارتد نشتوالی لهامله دداسې اعمالو مرتکب کیږی باید مجازات شی؟ آیا تاسو د هغو لپاره د کوم ډول توجیه فکر کولای شی؟ آیا لازمه ده تر څو افغانستان د نورو هېوادونو بېلگه تعقیب کړی او یو عمدی زخم ته اړتیا لری؟

۳.په هر صورت، آیا قانون وهل جرم گڼی؟ آیا داسې دلایل شته چه ولې حکومت یوازې غوارړی واقعی زخم مجازات کړی؟

## وروستی پرمختیاوې

د ۲۰۰۷ کال په اوږدو کې، وهل او زخم په افغنستان کې د قانون جوړونېمرکزی موضوع وه. د ۲۰۰۷ کال له لومړیو څخه، د افغانستان د ملی شورا استازو او بین المللی سازمانونو د رسنیو د قانون یوه مسوده چه پدې هېواد کې آزاده او خپلواکې رسنی تضمین کړی چمتو کړه. د همدې کال د می په میاشت کې، ولسی جرگی د پارلمان لاندې مجلس یاده مسوده تصویب کړه. دا قانون د خبریالانو مصؤنیت تأمینوی.[34]

[34] BBC World Service, Afghan MPs Pass New Mass Media Law (21 June 2007).

دا قانون تر ډېره بریده د خبریالانو د زخم او وهلو ته ځواب وو چه زورواکو افرادو ته لاس رسی، پخپلو ریپوټونو کې اشتباه ګانې او یا د غیر مجاز تصویرونو اخیستلو ته تلواله دی. عبدالحمید مبارز د اطلاعاتو او کلتور وزارت پخوای مرستیال پدې اړوند داسې وایی: " که چېرې خبریال د یوې تېروتنې مرتکب کېږی، دا ډول مسایل باید د رسنیو د شکایتونو کمیسیون ته ګزارش شی که چېرې دا ثابته شی چه په رښتیا سره خبریال د اشتباه مترکب شوی دی، نوموړی باید څارنوالی ته معرفی شی، نه داچه هغه په مستقیمه تر وهلو او زخم لاندې ونیول شی". [35]

## 4. د لارې وهل

د لارې وهل، زور، ګوت څنډنې، ډار، ګواښ او یا اخاذی له لارې د پیسو، مالونو او یا د نورو شخصی شتمنیو ناقانونه لاس راوړلو ته وایی. مجرم د غلا مرتکب کېږی. مجرم هغه مها د غلا مرتکب کېږی کله چه د د بل چا د مال یا ملکیت په لاس ته راوړلو کې( د نوموړی د ارادې خلاف) له کوم ډول زور څخه کار واخلی. مجرم باید د قصد، پوهاوی یا اهمال روانی وضعیت درلودونک وی. په دودیز ډول، د لاروهلو عمل تر څو چه لوټمار مؤقت مصؤنیت لاس ته را نه وړیکامل نه ګڼل کېږی.

مهمه ده په یاد ولری چه د لارې وهل د وهلو یو شکل دی نه د غلا کومه بڼه ( لاندې پرې بحث شوی). په نتیجه کې ویلای شو چه د لارې وهل د شخص خلاف جرم دی نه د ملکیت. د لارې وهل د زور له لارې د غلا کولو څخه توپیر کېږی. د نورو ورته جرمونو لکه اختلاس خلاف، د لارې وهل له رضایت پرته د نور چا د مال خپلول دی. لکه چه د لاندې به تاسو ولولی، اختلاس د ملکیت تخصیص دی چه د قانونی لارو څخه صورت مومی.

په ډېرو قضایی حوزو کې، وسله وال لار وهنه، د لاروهنې یو شدید شکل دی چه د ملکیت تر لاس کول د مالک د ارادې خلاف د زور یا وژونکې وسلې په واسطه تر سره کېږی. پدې قضایی حوزو کې د وسله والې لاروهنې اثبات د دریو عنصرونو د موجودیت غوښتونکې ده: (۱) د وهلو واقع کېدل، (۲) له قربانی څخه د مال یا ملکیت اخیستل، (۳) په وسله د تورن سمبالښت. د توجه وړ ده چه د افغانستا د جزا په قانون کې د لار و هلو جرم یوازې د وسله والې لاروهنې په قالب کې تعریف شوی دی. لکه څرنګه چه په ۴۴۷ ماده کې راغلی دی د لار وهلو جرم یوازې هغه مهال رامنځ ته کېږی چه یو فرد د بل چا ملکیت د وسلې او یا وسلې ته ورته وسیلې په زور لاس ته راوړی.

د لاروهلو د درک لپاره، په عام ډول وسله په هغو وسیلو شاملېږی چه د خپل ماهیت له نظره د جدی صدمې په اړولو یا د افرادو څخه د یو فرد په وژلو قادر وی. اګر چه پدې هکله د جزا قانون تعریف نه دی وړاندې کړی، په نورو هېوادونو کې محکمې پدې باور دی چه وسله په هغو وسیلو باندې شاملېږی چه د هغوی

[35] Media Watch Report 29, Nai: Supporting Open Media in Afghanistan, *available at* http://www.nai.org.af/spip.php?article30

خرګندوب داسې تصور رامنځ ته کوی چه د جدی زخم یا مرګ سبب ګرځی، آن که دا وسیل دې دا ډول زیانونو سبب هم نشی ( لکه بې له کارتوسه ټوپک او آن د لوبو یوه تمانچه).[36]

## ستونزه

له ۲۰۰۷ کال څخه، افغانستان د وسله والې لار وهنې یو زیاتېدونکی بهییر تجربه کړی. د هرات په ولایت کې د مثال په توګه، یوازې د ۲۰۰۷ کال په سپټمبر کې ۱۲ وسله والې لاروهنې ترسره شویو چه د ۲۰۰۶ کال د ورته مودې په پرتله ٪۵۰ زیاتوالی ښیی.[37] لاروهنه تر یوې اندازې د بې وزګاره افرادو د زیاتوالی سره تړاو لری چه د افغانستان د بشری حقونو د خپلواک کمیسیون (AIHRC) د رپوټ له مخې د جرم مظنونین دی. ددې افرادو ډېری له ایران څخه خارج شوی دی چه د د ۲۰۰۶ – ۲۰۰۷ کلونو په ترڅ کې د هغوی حد اقل شمېر ۲۰۰۰۰۰ تنو ته رسېده.[38]

### په افغانستان کې د لارې وهل: ژوندۍ بېلګی

د ۲۰۰۶ کال فبروری: د پولیسو په یونیفورم کې د وسله والو کسانو یوې ډلې د بین المللی بانک د پیسو یو لېږدونکی موټر لوټ کړ او د موټر ساتونکی یې ټپی کړ. د لوټماری له ځایه د تېښتې په مهال وسله والو کسانو دوه پولیس ووژل.[39]

د ۲۰۰۶ اګست: وسله والو کسانو چه د پولیسو یونیفورم یې اغوستی وو د پیسو یوه زرهېداره لیږدوونکی وسیله لوټ کړه او په روښانه ورځ یې د بانك کارمند سخت ټپی کړ. دا پېښه په کابل کې د لوړې کچې امنیتی یوه سیمه کې رامنځ ته شوه.[40]

د ۲۰۰۷ کال اګست: ریچارد آدمسون د بریتانیا یو امنیتی کارپوه په کابل کې د موټر فریبکاریولو په مهال در لاروهنې په ترڅ کې ووژل شو، نوموړی ۲۰۰۰۰۰ امریکایی ډالر د ځان سره لېږدول.[41]

### د مباحثې پوښتنې

۱.آیا د ۲۰۰۶ فبروری مپاشتې د لاروهنې مړینې، د لاروهنې جرمونه یوه برخه ده؟

[36] Commonwealth v. Powell, 433 Mass. 399 (2001).
[37] United Nations Office for the Coordination of Humanitarian Affairs, Afghanistan: Increasing armed robberies, abductions in Heart (25 September 2007).
[38] United Nations Office for the Coordination of Humanitarian Affairs, Afghanistan: Increasing armed robberies, abductions in Heart (25 September 2007).
[39] http://news.bbc.co.uk/2/hi/south_asia/4729382.stm
[40] http://paktribune.com/news/Robbers-strike-again-in-high-security-zone-of-Kabul-152452.html
[41] http://news.bbc.co.uk/2/hi/uk_news/6948128.stm

۲. آیا د پولیسو د یونیفورم څخه پراخه استفاده د دولت د لاس لرلو نښه ده؟ که نه، څرنګه لوټماران د پولیسو موادو (لباس) ته لاس رسی پیداکوی؟ څرنګه دا کار محدود کېدای شی؟

۳.آیا د جزا قانون ۴۴۷ ماده له لاروهنې څخه د مفهوم جوړولو په اړه ډېره محدود نه ده(د لارو په اوږدو کې د وسلی څخه د استفادی غوښتونکې)؟ آیا لاروهنه له وسلې پرته او یا د عامه لارو څخه بهر ترسره کیږی؟

لاروهنه ډېرو ولایتونو اقتصاد ته مهمی پایلی لری. د مثال په توګه، په هرات کې په ټولیزهتوګه د جرم د زیاتېدو بهییر په ځانګړی توګه د لاروهنې په برخه کې زیات شوی دی او په نتیجه کې یی د ۲۰۰۶ – ۲۰۰۷ کلونو په اوږدو کې د ۱۴ میلیون ډالرو په اندازه عواید کم شوی دی. د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کمیسیون وایی چه ″ ناامنی وګړی ژورې بې وزلی او زیانمنکېدو ته وړی...[او ممکن هغوی ] د ایران او پاکستان هېوادونو کډوالی ته اړ باسی ، که امنیت ښه والی و نه مومی.[42]

## قانون

**د جزا قانون ۴۴۷ ماده(۱)**

۱.که څوک د مغالبې د لارې د مال د اخیستلو په قصد په عمومی لار کې یا په بل هر محجور ځای کې د وسلی سره یا دداسې آلې سره چه د وسلې سره مشابه وی ځای ونیسی او د یوه راتلونکی فعل ارتکاب کوونکی شی لاروهونکی شمارل کیږی.

1. .د لارروی وېرول
2. د تهدید یا اکراه سره د غیر مال اخیستل
3. د انسان قتل
4. د انسان د قتل او د غیر د مال اخیستل

څرنګه چه پاس پرې بحث وشو، لاروهنه د جزا قانون په ۴۴۷ ماده کې تعریف شوې ده. ددې مادې په نظر کې نیولو سره، د لاروهنې جرم د دوو شرایطو غوښتونکی دی. لومړی، مجرم باید د غیر مال د وسلې یا وسلې ته ورته وسیلې په واسطه د ″ په عمومی لار کی یا په بل هر محجور ځای کې″ تر لاسه کړی.د ″ بل هر محجور ځای ″ عبارت کېدای شی لیرې او د عامه نورو ملکیتونو څخه جلا ځایونه، په بر کې ونیسی. څرنګه چه د جزا په قانون کې تصریح شوی دی دا فزیکی محدودیت په اسلامی حقوقو کې منشأ لری چه په شدت

[42] United Nations Office for the Coordination of Humanitarian Affairs, Afghanistan: Increasing armed robberies, abductions in Heart (25 September 2007).

سره په لویو لارو کې وسله والې غلاګانې ناقانون کوی او کله چه د حد مجازات د پلی کېدو وړ نه وی، پر هغه باندی د بدیل په شان عمل کوی (۴۴۷(۲) ماده).

دوهم، لوټمار یا لاروهونکی هم باید په لویو لارو کې د اخاذی یو عمل مرتکب شی، غلا شوی مالونه د ګواښ یا اجبار یا د لاروهنی د قربانی د قتل له لاری په لاس راوړی (۴۴۷(۱) ماده). د ۴۴۷ مادې د مسودې متن فوق العاده کمزوری دی او که په ځیر سره مطالعه نشی، ګېچ کوونکی به وی. د یوې عملی موضوع په توګه، دا ماده اجبار نه مشخص کوی – آیا د تدوین کوونکو له نظره په وسلې سره مجبورول د اجبار له بڼو څخه دی؟ همداشانې، (۴) جز تکراری او غیر ضروری ښکاری. دواړه قتل او د بل شخص د مالونو لاس ته راوړل چه مخکې د ت غندل شوو اعمالو په توګه لیست شوی، فرد په شرایطو برابر یو لوټمار په توګه تشخیص کولای شی.

پدې فرض سره چه که یو فرد د جزا قانون په حوزه کې قرار مومی، نوموړی د ګڼو جزاګانو لاندې راځی. یوازې د لاروهنې له لارې د مال لاس ته راوړل، مجرم په اوږد حبس محکومېږی (۴۵۱ ماده). که د لاروهنې په جریان کې قتل پېښ شی، مجرم کېدای شی په مرګ محکوم شی او څارنوال د قتل له امله د عمدیت اثبات ته اړتیا نه لری (۴۴۸ – ۴۴۹ مادې). بالآخره، که د لاروهنې په جریان کې د جرم هر بل کوم ډول پېښ شی، تورن په بشپړه توګه د دوهم جرم په خاطر د جزا قانون د ۴۵۳ مادې د حکم په اساس مجازات کېږی.

**تمرین**

۴۴۷ ماده نقد او د مادې بیا کتل شوی نسخه (تجدید شده) وښیی.. پورته یاد شوی وړاندیزونه او همدارنګه له نورو قضایی حوزو لارې چارې په پام کې ونیسی.

## 5. اختطاف

اختطاف له قانونی مجوز پرته د بل فرد عمدی توقیف کولو، بندی کولو عمل ته ویل کېږی. په عمل کې د یو فرد لیری وړل او یا لېږدول، د اختطاف جرم د اړتیا وړ عنصر نه تشکیلوی. په واقعیت کی، د یو فرد غیر ارادی پورته کول د جرم واقعی تمرکز دی چه د قربانی له هېڅ ډول لېږد پرته محقق کېږی.

په ټولیزه توګه، د اختطاف په هکله د مدونو قوانینو موخه  د افغانستان د وګړو فردی آزادیو تضمینول دی او د قوانینو تدوین دی چه د هغه په مرسته له غیرقانونی محدودیتونو څخه خلاصېږی. پدې ترتیب اختطاف د کاذب حبس د جزا مشابه ده.

په ډېرو قضایی حوزو کې د اختطاف او سړی تښتونې ترمنځ توپیر وجود لری. له تاریخی نظره، سړی تښتونه د یوی کورنی په چارو کې دخالت لکه د مور او پلار څخه یی د اولاد تښتولو په توګه پېژندل کېږی.

برعکس، اختطاف یوازې د ارادې خلاف او له قانونی مجوز پرته، د شخص په نیولو او پورته کولو باندې دلالت کوی او مهمه نه ده چه دا اړیکه څنګه د ه.

د جزا قانون په صراحت سره د سړی تښتونې ترمنځ او اختطاف ترمنځ توپیر نه په ګوته کوی. د هغه پرځای، د جزا قانون ت سړی تښتونې جرمونه په ضمنی توګه څرنګه چه له ۴۱۸ تر ۴۲۱ او ۴۲۴ مادو کې لیدل کیږی، د اختطاف په کړندود کې راولی چه په هغو ټولو کې د کورنی په چارو کې د دخالت بحث ( پلار او مور، هلك یا واده) د اختطاف د یو عمل په توګه ښودل شوی دی. د حیرانتیا ځای نه دی، چه د سړی تښتونې او اختطاف جرمونه یو او بل نه نفی کوی، آن په هغو قضایی حوزو کې چه د هغوی ترمنځ توپیر ته قایل دی. پخپل ډېر ساده مفهوم کې، سړې تښتونه او اختطاف د بل شخص ناقانونه نیول او پورته کول دی.

که څه هم ځینې هېوادونه تخفیف ورکوونکی لاملونه لکه دا چه آیا قربانی په دواطلبانه ډول د امن په یوه ځای کې آزادی شوی وو په نظر کې نیسی، د افغانستان د جزا قانون د اختطاف ورته مقررات نه وړاندې کوی. دا دبحث وړ ده چه آیا دا د حذف مورد مصلحتی دی او که نه. د تخفیف ورکوونکو لاملونو په شمول، د جزا قانون اختطاف کوونکی دې ته هڅه وی ترڅو د قربانیانو په آزادولو سره د ځان لپاره له شدیدو مجازاتو څخه مخنیوی وکړی. له کومه ځایه چه د افغانستان قانون لږ پخوا تدوین شوی دی، په هغه کې د مجرمینو لپاره هېڅ انګېزه نه لیدل کیږی تر څو قربانیان د پولیسو د نجات عملیاتو د قربانی فرار او د بشپړ باج اخیستنې نه مخکې په داوطلبانه ډول آزاد کړی.

## ستونزه

په ټول افغانستان کې هم په ښارونو او هم په کلیو کې اختطاف د مجرمانه اعمالو په یوه غوره سرچینه بدله شوې ده. په منځنی توګه حد اقل په هره اونی کې د هېواد په ولایتونو کې یو سوداګر برمته کیږی. پدې وجه د افغانستان د سوداګری بین المللی خونې د رپوټ په اساس ، د ۲۰۰۵ څخه تر ۲۰۰۸ کلونو پورې په ټول افغانستان کې ۱۷۳ سوداګر اختطاف شوی چه ځینې یی وژل شوی هم دی.[43]

د زیاترو اختطافونو انګېزه پیسې دی. په افغانستان کې اختطاف چیان معمولاً د برمته شوو کسانو د خلاصون په خاطر د پیسو غوښتنه کوی، ځینې وختونه ددې غوښته کوی چه د نظر وړ پیسې په یوه بهرنی ملك کې ورکړل شی. ښایی دا کار ددې نښانه وی چه اختطاف چیان د نړی په نورو برخو آسیا او او اورپا کې د سازمانی جنایی ډلو سره پیاوړې اړیکې لری. سعید انصاری د افغانستان د ملی امنیت اداری ویاند مجرمان د" جنایت کارانو د ډلې په توګه توصیف کړی دی [چه] د تروریستانو او ملیشو سره اړیکی لری او موخه یی د کابل او ولایتونو بې ثباته کول دی ځکه چه اختطاف سوداګر وېروی او له هېواد څخه د هغوی د تېښتې لامل

[43] Martin Patience, Afghanistan's Kidnapping Industry, BBC News (16 September 2008), *available at* http://news.bbc.co.uk/2/hi/south_asia/7596224.stm

کېږي او پدې ترتیب اقتصاد ته زیان اړوي".[44] داسې ښکاري چه کسب کار، سوداګر او نور افراد چه د پیسو د پام وړ اندازه لري، تر نورو زیات د اختطاف د ګواښ سره مخامخ دي. مثال د ۲۰۰۶ او ۲۰۰۸ کلونو ترمنځ موده کې له ۱۵ زیاتو معامله لرونکی د شاهزاده له بازار څخه تښتول شوي دي چه په افغانستان کې د اسعارو د تبادلې د غوره مرکز دی.[45]

د اختطاف کولو په نتیجه کې، سوکاله افغانان خصوصی امنیتی ګارد ګماری او یا له بریالی لابی کولو وروسته، د افغانستان د کورنیو چارو وزارت د خصوصی وسلې د ګرځولو اجازه ورکړه چه دا کار د تودې وسلې د زیاتوالی او د وضعیت د ماتېدو موجب شو. په افغانستان کې د کار او کسب وتلو څېرو هېواد پرېښود او خپل موقعیت نورو هېوادونو لکه عرب متحده اماراتو ته بدل کړ. په مجموع کې، دې څېرو په لسګونه میلیون امریکایی ډالره چه په هېواد کې پانګه اچونې ورته اړتیا درلوده د ځان سره یوړل پرته له دې چه د هغوی د ارزښت وړ تجربو او کاری شغل خبره یاده کړو.

هغه څه چه د افغانستان لپاره د زیاتې اندېښنې وړ ده داچه دواړه یعنی هم سوداګر او هم د اختطاف قربانیان پدې باور دی چه دولتی مقامات او افغان امنیتی اداره په دې جرمونو کې لاس لری.[46] پدې اړوند د شواهدو بېلګه داده چه عادی وګړی وایی د پولیسو د یونیفورم څخه پراخه استفاده ددې ادعا ثبوت دی. یو شمېر نور بیا د اختطاف کوونکو د ګرفتارولو د کمزوری څخه یادونه کوی. د کابل د سوداګری بین الملل خونو څخه حمیدالله فاروقی وایی چه: "البته چه پدې کار کې امنیت ځواکونه دخیل دی. حد اقل د پولیسو او جنایتکارانو تر منځ همکاری شتون لری. په ډېر بد حالت کې پولیس اختطاف کوونکی دی".[47]

| |
|---|
| **د اختطاف له ورستیو پېښو څخه یوه بېلګه: طالبانو په افغانستان کې ۲۳ کوریایان له موټر څخه یرغمل ونیول.**<br><br>"طالب جنګیالی... ۲۳ مسیحی کوریایان په افغانستان کې له یوه موټر څخه یرغمل ونیول... دا د بهرنیو تر ټولو لویه ډله ده [چه] اختطاف کېږی. طالبان په زیاتېدونکې توګه داسې فعالیتونو ته چه افغان مقامات هغه د " د ترور د تاکتیک " په نوم یادوی او اختطاف، ځانوژونکی بریدونه او د جادو په اوږدو کې د بمونو خښول په برکې نیسی. پدې کارونو سره طالبان غواړی دا وښیی چه افغان حکومت د امنیت د خوندی کولو توان نه لری... دا پېښه د غزنی ولایت اړوند، قره باغ ولسوالی کې رامنځ ته شوه چه له کابل څخه ۱۷۵ سویل لوری ته کیلومتره واټن لری."[48] |

[44] Jason Burke, Crime in Afghanistan: The Kabul police chief, the plague of kidnapping, and the meaning of fear, The Guardian (3 September 2008), *available at* http://www.guardian.co.uk/world/2008/sep/03/afghanistan
[45] *Id*
[46] Martin Patience, Afghanistan's Kidnapping Industry, BBC News (16 September 2008).
[47] Jason Burke, Crime in Afghanistan, The Guardian (3 September 2008).
[48] Taliban kidnap 23 Koreans from Afghan Bus, Reuters (20 July 2007), *available at* http://www.reuters.com/article/topNews/idUSISL13294820070720.

په افغانستان کې په کار بوخت بهرنی اتباع هم د اختطاف د خطر سره مخاخ دی. د مثال په توګه، د سویلی کوریا۲۳ اتباع (دوه تنه وژل شوی) د ۲۰۰۷ کال په جنوری کې وتښتول شول. د ۲۰۰۸ کال په جنوری کې په قندهار کې یوه امریکایی ښځه پداسې حال کې چه له امنیتی افرادو پرته یی سفر کاوه وتښتول شوه.[49] په افغانستان کې د پاکستان سفیر، طارق عزیزالدین د ۲۰۰۸ کال په فبروری کې د طالب ځواکونو له خوا وتښتول شوو او د ۲۰۰۸ کال په نوامبر کې د کمک رسونې یو فرانسوې کارګر په کابل کې وتښتول شو. نور بهرنیان چه د نادولتی ادارو لپاره کار کوی په ډېر احتیاط سره خپل ژوند ته ادامه ورکوی. له هغو کلونو راوروسته، نور ډېر اختطافونه تر سره شوی دی.

## قانون

د افغانستان د جزا قانون د هغو افرادو لپاره چه د اختطاف په جرم کې دخیل دی لیست وړاندې کوی، که څه هم د جزا قانون په بشپړه توګه د اختطاف واقعی عمل نه مشخص کوی. مثال، یو متخلف چه له اوه کلونو څخه د کم عمر ماشوم اختطاف کوی، له دریو کلونو څخه په کم متوسط حبس محکومېږی (۴۱۸ ماده). که د اختطاف قربانی عمر له اوه کلونو څخه زیات او له ۱۸ کلونو کم وی، مجرم د اوږد حبس په مجازاتو باندې چه له اوه کلونو زیات نه وی محکومېږی. پدی ترخ کې، که چېرې اختطاف شوی ماشوم نجلۍ وی، مجرم په اوږد حبس چه لسو کلونو زیات نه وی محکومېږی (۴۲۰ ماده).

که د اختطاف عمل د اجبار یا فریبکاری نه په استفاد ی سره تر سره شی، دهغه مجوز حکم اوږد حبس دی. که یوه ښځه په اجبار یا فریب یرغمل شی، مجرم په حداکثر اوږده حبس مجازاتو محکومېږی (۴۲۱ماده). که یو طفل د اوه او ۱۸ کلونو ترمنځ عمر د دریم شخص له لوری اختطاف شی چه ″ ...مجنی علیه د هغه د نفوذ او اختیار یابی د تبربیی او ساتنې لاندې واقع وی یا ذکر شوی جرم د جنی علیه د متسخدم له خوا یا د څو نفرو په مرسته صورت وومومی، ارتکاب کوونکی په اوږد حبس چه د لسو کلونو څخه کم نه وی محکومېږی ″ (۴۲۳ ماده).

د هغه نارینه د یرغمل کولو مجازات چه عمر یی د ۱۸ کلونو څخه زیات، متوسط حبس له دریو تر پنځو کلونو پورې دی (۴۲۲ ماده). که د اختطاف قربانی یوه د لوړ عمر ښځه وی، مجرم په اوږده حبس باندې محکومېږی. پدې ترخ کې، په هغه صورت کې چه قربانی متاهل وی او یا په یو ډل سره په زنا مرتکب شی، حداکثر مجازات باید اعمال شی (۴۲۴ ماده). لاندې جدول د اختطاف د مختلفو جرمونو او دهغو لپاره مجازات بیانوی.

| د اختطاف جرم ډول | اختطاف کوونکی | قربانی یا متضرر | مجازات |
|---|---|---|---|

[49] Carlotta Gall and Taimoor Shah, American Woman is Kidnapped in Afghanistan, New York Times (27 January 2008), *available at* http://www.nytimes.com/2008/01/27/world/asia/27afghan.html

| | | | |
|---|---|---|---|
| 418 ماده | هر څوک چه وی | له 7 کلونو څخه د کم عمر طفل ا و یا هر فرد چه د خپل ځان ځارنه نشی کولای | اوسط حبس چه له دریو کلون زیات نه وی |
| 420(1) ماده | هر شخص چه له اجبار او فریبکاری پرته عمل وکړی | تر اتلسو کلونو د کم عمر ځوان | اوږد حبس چه له ۷ کلونو زیات نه وی |
| 420(2) ماده | هر شخص چه له اجبار او فریبکاری پرته عمل وکړی | له اتلسو کلونو د کم عمر نجلۍ | اوږد حبس چه له لسو کلونو کم نه وی |
| 421 (1) ماده | هر شخص چه له اجبار او فریبکاری پرته عمل وکړی | تر اتلسو کلونو د کم عمر ځوان | اوږد حبس |
| 420(2) ماده | هر شخص چه له اجبار او فریبکاری پرته عمل وکړی | له اتلسو کلونو د کم عمر نجلۍ | د اوږد حبس حد اکثر |
| 422 ماده | هر شخص چه وی | هغه شخص چه عمر یی له ۱۸ کلونو زیات وی | له ۳ – ۵ کلونو متوسط حبس |
| 423 ماده | که د اوو او اتلسو کلونو ترمنځ یو طفل دداسې یو شخص پواسطه اختطاف شی چه مجنی علیه د هغه د نفوذ او اختیار یا یی د تربیی او ساتنې لاندې واقع وی یا ذکر شوی جرم د مجنی علیه د مستخدم له خوا یا د څو نفرو په مرسته صورت ومومی | له ۱۸ کلونو کم عمر ځوان | اوږد حبس حد اقل 10 کاله |
| 424 ماده | هر فردی چه وی | ښځه چه عمر یی له 18کلونو زیات وی | اوږد حبس ؛ که ښځّ متاهل وی او یا د زنا مرتکب شوی وی د اټکل شوی مجازاتو حد اکثر |
| 25ماده | هر نارینه چه د قربانی سره د قانون واده قصد ولری | نجلۍ چه عمر یی له ۱۶ کلونو زیات وی او د واده سره رضایت | مجازات نه لری |

| | ولری | | |
|---|---|---|---|

په ټولو حالتونو کې که د اختطاف قرباني له فزيکي نظره صدمه ويني، داسې چه معيوب او يا د بدن کوم غړی له لاسه ورکوی، پدې حالت کې مجرم د قانون مطابق مجازاتو تابع کيږی چه اړول شوی عمدی صدمه په برکې ونيسی (وګوری ۴۰۷ – ۴۲۳مادې). په ورت توګه، که چيرې قربانی د اختطاف د عمل په جريان کې او د نيول کيدو په موده کې ناقانون ډول ووژل شو، مجرم د عمدی قتل په تور محکوميدای شی (۴۱۹ ماده).

د جزا قانون د تورنو کسانو لپاره د نوو اطلاعاتو درلودونکې دفاع نامه برابروی چه د مدعی دعوا باطلوی. که شخص يوه ښځه چه ۱۶ عمر يی پوره کړی وی اختطاف کړی، په هغه صورت کې چه ثابته کړی، د ″ بولو″ عمل د نجلی په (۱) رضايت تر سره شوی او (۲) د هغې سره د قانونی واده په موخه تر سره شوی، له مجازاتو څخه معف کيږی (۴۲۵ ماده).

همداشانې د موضوع په اړوند ۴۱۴ ماد ه وايی : ″ که شخص په غير قانونی تصريح شوو حالونو يا د صلاحيت لرونکو مقامونو د امر څخه غير بل شخص ونيسی، توقيف يی کړی يا يی له کاره منع کړی، د حالون سره سم په متوسې حبس محکوميږی″. ۴۱۵ ماده زياتوی :″ که نيول، توقيف او منع کول دداسې شخص په وسيله تر سره شی چه رسمی لباس يی پرته له دې چه حق يی ولری استعمال کړی يا خپل ځا په درواغجن صفت متصف يا يو جعلی امر د دولتی مقامونو د امر په عنوان خلکو ته ښکاره کړی، د احوالونو سره سم په اوږده حبس چه له لسو کلونو څخه زيات نه وی محکوميږی″. نور مشدده شرايط چه تر لسو کلونو په اوږده حبس منجر کيږی عبارت دی له : د زور له اعمل څخه استفاده، ګواښ يا بدنی اذيت، او يا داچې د دولتی مؤظفينو له جملې څخه وی (۴۱۶ماده).

## د مباحثې پوښتنې

**۱**.ولې د ښځو تښتولو لپاره زياتيدونکی مجازاو شتون لری؟ آيا دادې انديښنې وړ نه ده چه جنسی تيری د اختطاف انګيزه تشکيلوی؟ آيا د جنسی تيری يو قربانی د تيری د اثبات لپاره بايد ځان هغو ستنوزو ته تسليم کړی چه اسلامی حقوقو يی اټکل کړی؟ آيا دا د مسؤليت يو ښه پيټی دی چه د اختطاف او جنسی تيری قربانيانو څخه پر يوه فرد تحميليږی؟

**۲**.آيا د اوه کلونو کم اطفالو او هغو چه د اوه او اتلس کلونو ترمنځ عمر لری، د يرغمل مجازاتو ترمنځ توپير شته؟ آيا ستاسو له نظره دا ډول توپير لازم دی؟

۳.آیا لازم دی چه تشدیدی مجازات د دولتی یرغمل کوونکو مقاماتو او بهرنیو اتباعو لپاره شتون ولری؟ ولې هو؟ او ولې نه؟

۴.د جزا قانون د اختطاف په خاطر دغرامت دورکولو هیڅ مشدده مجازات نه یادوی. آیا دا یو عمدی حذف یا نظری اشتباه ده؟ آیا هغه مجرم چه د غرامت د پرداخت په لټه کې دی، باید شدید مجازات ووینی؟

۵.آیا لازم دی ترڅو د جزا قانون عخفیف کوونکی لاملونه د خوندی ژغورلو لپاره په نظر کې ونیسی؟ ولې هو؟ او ولې نه؟

## 6. جنسی تېری او دښځو خلاف تاوتریخوالی

جنسی تېری، د قربانی د اردای خلاف جنسی مقاربت دی. دا جرم په زور، وېرولو یا ګواښ سره تر سره کېږی. مهمه ده په یاد ولرو چه د تورن روانی حالت په فعل د آګاهی دلالت ولری. پردې اساس، په ناموس باندې د تېری تور، د قربانی په روانی وضعیت باندې تمرکز لری. د جنسی تېری د قربانی له نظره نه د جنسی تېری کوونکی، د اجبار موجدیت ټاکونکی دی. دا یو ذهنی آزماینه ده او د چاپیر شرایطو څخه د قربانی درک په نظر کې نیسی. لنډه داچه په واقعی عزت د تېری یو مورد په افغانستان کې په لاندې ډول په نظر کې ونیسی.

### د لوست تمرکز

" سویتا ... د خپل داستان ویلو په جریان کې په ځان ښورول پیل وکړ. د رامنځ ته شوې پېښې جزئیات یوخېل وو او د نومړز څېره ویونکی. تېر ژمی هغه د افغانستان د شمال په یوه ولایت یعنې جوزجان کې د ځاه څخه د اوبو راوړل لپاره له کوره راووته چه پدې ترڅ کې ګاونډی هغې ته ورنژدې شو او ورته یی وویل چه پلار یی ناروغ وو او روغتون ته یی وړی وو. نومړی سری نجلی ته وړانديز وکړ چه یو ځای په موټر کې ورسره چکر ووهی. کله چه نجلی د ګاونډی له دې وړانیز څخه ډډه وکړه، هغه یی په زور په موټر کې واچوله او خوله یی ورته په لاس پټه کړه ترڅو هېڅوک یی غږ وانه اوری. وروسې یی نوموړی یوه نژدې نظامی ګارنیزون ته یوړه. پدې ترڅ کې ګاونډی پتلون وکیښ او په ما یی تېری وکړ، سویتا یوازې د ۱۱ کلونو ده".[50]

د جزا قانون په هر اړخیزه توګه جنسی تېری نه تعریفوی (آن د کلمې یادونه نه کوی). پدې حال کې، **۴۲۹** ماده، هغه زنا چه د زور، ګواښ او یا فریبکاری له لارې تر سره شی، جرم ګڼی. په ډېرو هېوادونو کې د

[50] Aryn Baker, Afghanistan's Epidemic of Child Rape, Time (17 August 2008), *available at* http://www.time.com/time/world/article/0,8599,1833517,00.html.

تاوتریخوالی شرط په ″زور″ سره عوض کیږی. داسې زور کېدای شی فزیکی اجبار وی، خو همداشانې ممکن ده چه له ډار څخه ناشی د جوړوونکی نیرو شامل وی. فریبکاری زیاتره د جوړې د هویت جعل ته اشاره لری، او دا ډول اعمال د ناموس هتک تشکیلوی.

په ټولیزه توګه، د تاوتریخوالی پواسط تېری خلاف قوانین د فرد د درنښت او کمال سره تړاو لری. د دا ډول درنښت او منزل ضروری عنصر، د یوه ځانګړی عمل د ترسره کولو لپاره د رضایت تر لاسه کولو وړتیا ده. رضایت ددې په اساس قضاوت کیږی چه آیا فرد د وړاندیز شوی عمل ماهیت او پایلې درک او موافقت کوی. په ځینو هېوادونو کې، رضایت باید له هېڅ لالهاندی پرته د اوضاع د حقایقو په هکله په آزادانه ډول عملاً څرګند شی- د مثال په توګه، نېشه شخص د رضایت په ورکولو قادر نه دی آن که نېشه کېدل پخپل ذات کې یو مجرمانه عمل هم وی . د رضایت قانون وضعیت په عینی توګه ګوری تر څو وښیی چه آیا د واقعی رضایت تر لاسه کول د مرتکب لپاره ممکن دی او که نه. که نه، مرتکب په جنسی تېری تورن دی.

د کلمې په واقعی معنا، ۴۲۹ ماده له قربانی غواړی تر څو د زور جنسی تېری په شفاهی ډول رد کړی. د مثال په توکه ووایی : ″نه″ یا ″تم شی″ او یا په فزیکی توګه د هر ډول د ارادې خلاف جنسی فعالیت په وړاندې مقاومت وکړی. ګواښ یا فریبکاری د مرتکب پواسطه د رضایت هر ډول ادعا نفی کوی. په واقیت کې، هغه فرد چه د ګواښ له ډار پرته رضایت ښیی، په واقعیت کې رضایت نه لری. د فزیکی اجبار د نشتوالی باوجود، هغه ګواښ جنسی عمل ته مشروعیت ورکول نه دی چه د مقاومت په وړاندې د قربانی اراده فلج کوی.

## ستونزه

د بین المللی قوانینو د ملاتړ سره سره، د افغانستان د ۲۰۰۴ کال اساسی قانون او د جزا قانون متعدد احکام، په افغانستان کې د ښځو په وړاندې تاوتریخوالی دوام لری. که څه هم د رسمی شمېرو لاس ته راوستل ستونزمن دی، د کورنی تاوتریخوالی په هکله د پام وړ غیر رسمی اطلاعات په ځانګړې توګه د ښځو په پاك لمنی باندې تېری شتون لری. په لا لویه کچه، د ځان سوځونې او دنجونو په ښوونځیو کې بمب اېښودل د ښځو د ښوونې او روزنې سره د مخالفت په معنا دی. د رپوټونو له مخې، جنسی تېری عمومیت لری او په کورنیو کې د ننه وهل او ټکول کیږی، ځان سوزونه او آن د ښځو مرګ د کورنی د غړو پواسطه تر سره کیږی.[51]

ښایي تر ټولو لویه اندېښنه دا وی چه د افغانستان په شمالی ولایتونو کې د اطفالو په عنف تېری د زیاتېدو په حال کې دی. مغفرت صمیمی په جوزجان کې د افغانستان د بشری حقونو د خپلواك کمیسیون دفتر مشر وایی چه د ۲۰۰۸ کال په یوه دوه میاشتنی دوره کې، نوموړی د شمالی دریو ولایتون څخه ۱۹ مرکې ثبت کړی دی چه د هغوی په منځ کې تر ټول ځوان قربانی عمر دوه نیم کال وو.[52]

---

[51] Dilip Das (ed.), World Police Encyclopedia, 4

[52] Aryn Baker, Afghanistan's Epidemic of Child Rape, Time (17 August 2008), *available at* http://www.time.com/time/world/article/0,8599,1833517,00.html.

پداسې حال کې چه ارقام د لاس رسی وړ نه دی، داسې شواهد شته چه کله د جنسی تېری قربانیان له رسمی عدلی سکتور څخه د مرستې په لټه کې وی، هغوی زیاتره پخپله د عدلی سیستم قربانی کېږی. مثال، هغه ښځې چه په جنسی تېری تورنې دی ددې پرځای چه ددې جرم مرتکب محکوم شی، ډېری په زنا (د جزا قانون له مخې جر) باندې تورن کېږی. مثال، د لښکرګاه په ښار د هلمند ولایت مرکز کس د ټولو ښځینه بندیانو دوه پر دریمه برخه د غیر قانونی جنسی اړیکو په خاطر محبوس دی، خو د هغوی ډیر شمېرد جنسی تېری قربانیان دی[53]. هغو ښځو چه له فاحشه خانو څخه تښتېدلی دی او د پولیسو د مرستې په لټه کې دی، هم له " کور څخه د تېښتې" د تور سره مخامخ دی.

په ډېرو مواردو کې د جنسې تېری قربانیان نه غواړی خپلی قضیې د حکومتی مقاماتو پاملرنی ته ورسوی. پردې تصمیم د اثر ښندلو له لاملونو څخه د سپکاوی ډک ژوند څخه د قربانی ویره یا د تېری کوونکو د افشا په خاطر د مرګ ګواښ دی.[54] دا مقامات لکه د ښځو د حقونو د دفاع ډلې، پدې نظر دی چه د رپوټ ورکړی شوی ارقام د جنسی تېری له واقعیت څخه ډېر کم دی. پردې سربېره، د جنسی تاوتریخوالی قربانیان زیاتره د وژل کېدو له وېری او یا د کورنی د بې عزته کېدو په خاطر د خپلوانو له خوا د رټل کېدو او په غیر اخلاقی رفتار د ککړېدو له ډاره په ښکاره اعتراض نه کوی.[55]

په واقعیت کې، ښځې همدارنګه د " ناموس د وژنو" قربانی دی او ددې قتلونو قانونی پلټنه کم واقع کېږی. داسې اټکل کېږی چه په سلو کې له ۶۰ تر ۸۰ پوری اجباری وادونه، او په سلو کې ۵۷ قانونی ۱۶ کلنی عمر ته له رسېدو مخکې ، وادونه کوی. ددې وادونو یوازی په سلو کې ۵ ثبت شوی دی او ډېری ناقانونه اعمال د رسمی قانونی قلمرو نه لیری ساتل کېږی.[56]

ددې پرابلمونو پیچلتیا یو واقعیت د ی ځکه چه قاضیان، څارنوالان او پولیس اکثراً د بشری حقونو له قوانینو څخه اړین معلومات نه لری او ممکن دی د پخوانیو ټولنیزو انګیرنو له مخې چه ښځې باید څرنګه ژوند وکړی، د هغوی اجرا ته لیواله هم نه وی. داسې ښکاری چه پولیس، څارنوال او محکمې " په مجرمانو باندې د قوانینو د تطبیق پر ځای، منځګړیتوب"[57] ته زیات لېواله دی. اکثراً غیر قضایی وسیلی او لارې چاری د ښځو خلاف تاوتریخوالی د لیری کولو لپاره کارول کېږی. مثال، د ښځو چارو ریاست اړوند د پولیسو د کورنیو چارو د رسیدګی شعبه او د لویانو دودیزه شوراګانی په راتلونکې کې د سپکاوی فریبکارینو څخه د ډډې کولو په هکله له مجرم څخه د لیکل شوی ژمنې اخیستلو وروسته، ډېری قربانیان یی خپلو کورونو ته ستانه کړی دی.[58]

[53] Terri Judd, The Afghan women jailed for being victims of rape, The Independent (18 August 2008).
[54] The Associated Press, Rape becomes a topic in Afghanistan, International Herald Tribune (12 August 2008).
[55] Amnesty International, Abduction and Rape at the Point of a Gun (13 November 2004).
[56] United Nations Economic and Social Council, Mission to Afghanistan, Integration of Human Rights of Women and a Gender Perspective: Violence Against Women, pp. 7-8 (15 February 2006).
[57] *Id.* at 13
[58] *Id.* at 7.

البته دا کار مرسته نه کوی چه ښځې یوازی په سلو کی ۵ د ټولو څارنوالانو او قاضیانو، او یوازی ۰،۴ په سلو کې د پولیسو ځواک تشکیلوی. دا دیو اوږده بهییر یوه برخه ده چه دهغه په ترڅ کې د ښځو تجربه ″ په رسمی او غیر رسمی سیاست او تصمیم نیونه کې له پام غورځول کیږی د ښځو[ په توګه] هغوی یوازې په سلو کې ۹ رسمی مقامات اشغالوی چه دا رقم د بین المللی معیار په سلو کې ۳۰ څخه کم دی ″.[59]

ددې ستونزو هره یوه، دودیزه او فرهنګی اړخونه لری چه د اسلامی حقوقو څخه یو محدود تفسیر په ګوته کوی. د ملګرو ملتو د بشری حقونو عالی کمیسیون وایی چه ستونزه ″ د فرهنګی تثبیت له انګېرنو او طریقو، د ښځینه قاضیانو او مدافع وکیلانو د نه شتون، او د ډېرو ښځو ناتوانی چه په فزیکی توګه د نارینه وو پرته قضایی سیستم ته لاس رسی پیداکړی، سرچینه اخلی″.[60]

پداسې حال کې چه د جنسی تیری قربانیان د خپلو قضیو په رسمی کولو کې د باور نه وړ ننګونو او ټولنیز داغ او ننګ سره مواجه دی، دولت د جنسی تېری سره مبارزه یوه اړتیا بولی. د ۲۰۰۸ کال په پیل سره د کورنیوچارو وزیر د جنسی تیری مخنیوی اعلان کړ، چه دا لومړی ځل وو حکومت ددې معضلې شتون ومانه. ځکه تردې مهاله یا په پاک لمنۍ تېری یوه شخص مسله ګڼل کېده. ولسمشر کرزی هم د زیاتو اقداماتو غوښتونکی شو اوټینګار یی کاوه چه جنسی تیری کوونکی باید د ″ ددې هېواد د تر ټولو شدیدو مجازاتو سره″ [61]مواجه شی.

د ۲۰۰۸ کال په اګست کې د ښځو یوې شورا او یا مشورتی شورا د هلمند په ولایت کې د هغو ښځو د محبوس کولو سره د مبارزی لپاره جوړه شوه چه د جنسی تیری قربانیان وو. شورا د ۲۰ مخورو ښځو تشکیل شوه چی له هر څه د مخه ښوونکی چه د اساسی حقوقو په هکله یی د ښځو په ښوونه او روزنه بوخت وی. دا پروژه د افغانستان د بشری حقوقنو د کمیټې لپاره د سلاکارنو، د ښځو چارو د ریاست، او د دولت د حقوق سلاکار له لوری ملاتړ کېده.

د افغانستان دډېرو قوانینو د انفاذ په شان، دولت د پام وړ ستونزو سره مواجه شو. د ولسمشر حامد کرزی حکومت اوس مهال له پایتحت څخه باندې لږ نفوذ لری. جګړه ماران اغلب خصوص وسله والې ډلې لری – مجرمان د ښو اړیکو په درلودلو سره په ځانګړی توګه جنسی تیری کوونکی په بلهې ورکولو سره ځانونه له زندان او مجازاتو خلاصولای شی. ددې واقعیت سره مبارزه، د ملګرو ملتو سازمان ولسمشر کرزی تشویق کړی دی تر څو په افغانستان کې د ښځو لپاره یو عملی ملی پلان (NAPWA) [62] ترتیب او تصویب کړی. ددې تمه کیږی چه د دولت په جدی ملاتړ، د برابری نوی فرهنګ او عدالت ته لاس رسی شونی شی.

---

[59] *Id.* at 6.

[60] High Commissioner for Human Rights, Report on the situation of human rights in Afghanistan on the achievements of technical assistance in the field of human rights, United Nations, 7 (21 February 2008).

[61] The Associated Press, Rape becomes a topic in Afghanistan, International Herald Tribune (12 August 2008).

[62] High Commissioner for Human Rights, Report on the situation of human rights in Afghanistan on the achievements of technical assistance in the field of human rights, United Nations, 7 (21 February 2008).

## تاوتریخوالی او ښځې

هغوی د افغانستان په سویل ښار قندهار کې ښوونځی ته په لار وو. دا د نجونو –نویو ځوانون یوه ډله وه او د راتلونکی آزموینی په هکله یی خبری کولې. پدې وخت کې په موتر سکیل دوه سواره سړی پر هغوی باندی یوه عجیب اوغریب مایع و پاشله چه له څو ثانیو وروسته یی یو دردوونکی سوی پیل کړ، او نامعمول بوی د ۱۶ کلنی عاطفه بی بی پوستکی په سوزیدو پیل وکړ. د هغی دوستې په منډه د هغې مرستې ته ورودانګل او هڅه یی وکړه تر څو له هغې څخه مایع پاک کړی خو هغه هم په مایعو ککړه شوه.هغې خپل مخ پټ کړ او د مرستې لپاره یی په چیغو پیل وکړ خو موترسوارو بیا ځل په نجلې باندی تیزاب وپاشل او هڅه یی وکړه چه د هغې مخ په تیزابو ککړ کړی. د مجرمانو وسله د اوبو یو بوتل وو چه د تطری تیزآب پکې وو. ددې عمل په نتیجه کې حد اقل یوه نجل ړنده او دوو نورو د تل لپاره د مخ ښکلتیا له لاس ورکړه. یوازی د هغوی جرم دا وو چه مدرسی ته تلل. دا یوازنی واقعیت نه دی. په ټول افغانستان کې د ښځو او نجونو لپاره، شرایط مخ په خرابېدو دی – او د ښځو هغه ډله چه په ښکاره یی د ډودیز نظام سره مخالفت کړی دی، اوس مهال هغوی په وېره او ډار کې ژوند کوی". [63]

## د مباحثې پوښتنې

۱.کوم مدون قوانین پدی عمل سره نقض شوی دی؟

۲.کوم اقدامات د ښځو خلاف تاوتریخوالی مواردو کموالی مقابلې لپاره باید تر لاس لاندې ونیول شی؟

۳.به کومه طریقه، حکومت کولای شی په ښونه او روزنه اوپه سیاسی – مدنی ژوند کې د ښځو مشارکت تأمین کړی؟

## قانون

څرنګه چه مخکې یی یادونه وشوه، د جزا قانون په عنف د تیری له کلمې څخه ګټه نه اخلی. په ځای یی، د جنسی ماهیت جرمونه په کوچنی ځپرکی کې د څلورو مادو په ترڅ کې د زنا، لواطت او د ناموس هتک استعمالوی. د لومړنی مادې په توګه، دا تصریح کوی چه په هغه صورت کې چه د حدود شرایط موجود نه شی او یا تورونه د اسلامی حقوقو پر بنسټ ساقط شی، زنا یوازی د جزا قانون له مخې مجازات کېږی (۴۲۶ ماده). تاسو ممکن د زنا په هکله له مخکنیو بحثونو څخه په یاد ولری چه زنا د کلمې په واقعی معنا د دوو

[63] Clancy Chassay, Acid attacks and rape: growing threat to women who oppose traditional order, The Guardian (22 November 2008).

متاهل نفرو ترمنځ جنسي اړیکه درلودل تعریف کېږي. د حدود د الزاماتو لاندې، هغه کسان چه د زنا په جرم محکومیږي، د هغوی مجازات د تیږویشتنې مرګ دی.

که د مجازاتو حد اجرا نشي، د جزا قانون د هیڅ مشدده شرایط پرته د دواړو زناکارو لپاره او هغو کسانو لپاره چه د لواطت په جرم محکوم شوی دی، په مجاز مجازاتو یعنی اوږد حبس حکم کوی. ۴۲۷ ماده د مشدده شرایطو یو اوږد لېست چه د اعمال وړ مجازات حد اکثر ته لاوړوی وړاندې کوی. مشدده شرایط هغه وخت مطرح دی چه : (۱) د قربانیانو څخه یو له ۱۸ کلونو کم عمر ولری، (۲) قربانی تر دریم درجی پورې د مجنی علیه له خپلوانو څخه وی، (۳) مجنی علیه تربیه کوونکی ښوونکی، مستخدم یا په یو قسم د اقسامو په هغه نفوذ او اختیار ولری، (۴) مجنی علیه مړوخه ښځه ویو (۵) مجنی علیه باکره وی، (۶) مجنی علیه له یو نفر څخه زیات وی، (۷) تناسیل ناروغی انتقال شي، (۸) مجنی علیها حامله شوی وی (۴۲۷ ماده). که د زنا یا لواطت عمل د قربانی په مرګ منجر شي، پدې حالت کې مجرم په دوام لرونکی حبس یا مرګ محکومیږی. کره مجازات په اختیاری ډول د حالونو سره سم ټول اړونده شرایط تجویز کېږی (۴۲۸ ماده).

څرنګه چه مخکې یی یادونه وشوه، د جزا قانون د هتك ناموس مفهوم د ممنوعیت تر ټولو نژدې معادل مفهوم تشکیلوی. پدې اړه د جزا قانون په 429 (1) ماده کې راغلي: ″ که شخص په عنف یا تهدید یا حیلی د چا په ناموس عام له دی چه مذکر وی یا مؤنث تیری وکړی او یا پری شروع وکړی په اوږده حبس چه له اوو کلونو څخه زیات نه وی محکومیږی″. که چېرې قربانی له ۱۸ کلونو څخه کم عمر ولری او یا د مشدده تعریف شوو شرایطو طبقه بندی تر هر یو بند لاندې قرار ومومي، مجنی علیه په اوږد حبس چه له ۱۰ کلونوزیات نه وی، محکومیږی.

## II. د ملکیت خلاف جرمونه

### 1. غلا

د جزا قانون د ۴۵۴(۲) مادې پر بنسټ : ″ ددې قانون په مقصد که شخص د غیر د ملکیت منقول او متقوم مال په پټه توګه واخلی غل شمارل کېږی″. د غلا جرمونه هغه وخت د جزا قانون په حوزه کې قرار مومی چه د حد د غلا شرایط لکه چه مخکې یی یادونه وشوه بشپړ نه وی. داچه قرآن د موضوع شرایط په تفصیل نه دی بیان کړی، د مجازات د تطبیق په هکله شك وجود لری او یا داچه مجازات په یو ډول کم شوی دی. یوازې هغه وخت چه د حدود مجازات صدق نه کوی، افراد د ۴۵۴ (۱) مادې سره سم مجازات کېږی.

د غلا د کړندود غوره برخه د جزا په قانون کې مجازاتو ته بېله شوی ده او په هغه کې د غلا جرم عنصرونوته چندان پاملرنه نه ده شوی. په ډېر قضایی حوزو کې د غلا دوه غوره بڼې وجود لری: (۱) خفا سرقت ، او (۲) د فریبکاری له لاری غلا. څرنګه چه په ۴۵۴ ماده کې ویل شوی دی، د جزا قانون د خفا غلا تر پوښښ لاندې نیسی. په لویه پیمانه، د خفا غلا مجرم غوړی چه د بل چا ملکیت د غلا په مقصد واخلی او

ویی لیږدوی. مهمه ده په یاد ولرو چه په زیاترو قضایی حوزو کې غلا د تصرفی ګټو څخه د حمایت په معنا ده نه مالکانه.[64] په نتیجه کې، یو غل کولای شی د غلا قربانی شی. په واقعیت کې، د غلا ملکیت چه د غله په تصرف کې قرار لری، هم غلا کېدای شی. مثال، که هارون له طارق نه مالونه غلا کوی او همداشانز هشام دا مالونه له هارونه غلا کوی، هارون کولای شی د غلا په خاطر د هشام خلاف اقامه د عوا وکړی.

غلا همداشانی د غصب په جرم هم شامله ده (۴۶۴ ماده). د یو شخص د مالونو په اخیستلو کې، غصب، وسله وال ګواښ، او د اجبار نورې بڼې په بر کې لری. داچه غصب د اجبار د ځینو بڼو سره مل دی، د غلا د نورو ډولونو څخه توپیر لری، آن که دا اجبار یوازی ګواښ وی نه د زیان رښتنی صدمه. اجبار په داسې رفتار کې مشارکت ته د یو بل فرد اړ ایستل دی چه هغه قانونی حق لری تر څو د ډار د الق څخه چه د فزیکی یا اقتصادی زیان سبب کیږی، ځان وژغوری. پدې ترتیب، اخاذی، غلا جمع اجبار دی.

په ځینو قضایی حوزو کې، تورن کسان د ټاکلی جرم په دفاع کې چه د حقوقو د ادعا په نوم یادیږی لاس رسی لری. دفاع هغه مهال مثبت ده چه تورن (۱) د مال له تعلق څخه د بل شخص څخه بې اطلاع وی یا (۲) په ملکیت باندی د حق د صادقانه ادعا له مخې یی عمل کړی وی. مثال، که چیرې تاسو یو کتاب له کتابتون څخه اخلی او فکر کوی چه دا کتاب ستاسو مال دی پدې دلیل چه څو ورځې مخکې تاسو ددې کتاب یو ټوک په کتابتون کې هېر کړی وو، تاسو به د ورپسنی غلا لپاره د حق ادعا ولری.

د حقوقو ادعا، د غلا په ټولو بڼو باندې صدق نه کوی. مثال، غصب د غلا له بڼو څخه دی خو ډېرې قضایی حوزې د داسې جرمونو دفاع مجاز نه بولی. استثناء د پام وړ ده ځکه چه غصب په زور سره د ګواښ مستلزم یا د اجبار دځینو نورو بڼو څخه دی او د صادقانه اشتباه په حیث په ساده ګی سره ثابت کېدای شی، په همدې ترتیب، ځینې هېوادونه د غلا لپاره د حقوقو ادعا چه د اجباری غلا په نوم یادیږی قایل نه دی. له کومه ځایه چه دا ډول اجباری رفتار، د مالونو خلاف رفتار او جسمی یا روانی خطر د ځان سره لری، په ندرت سره د حقوقو په ادعا سره معافیږی.

## ستونزه

ټول هېوادونه د غلا د واقعیت سره مواجه دی. مثال، په ۲۰۰۷ کال کې د مریکې په متحده ایالاتو کې ۶،۶ ملیونو غلاګانو وجود درلود. دا غلاګانې د ۵،۸ میلیارده امریکایی دالرو په ارزښت قربانیانو ته تاوان واړاوه.[65] په افغانستان کې د غلا په شان جرمونه هم یوه ستره ستونزه ده. په واقعیت کې ″ د افغانستان د وګړو لویه

[64] 2 Frederick Pollock & Frederic William Maitland, The History of English Law Before the Time of Edward I, at 498 (2d ed. 1898) ("larceny involves a violation of possession; it is an offense against a possessor").
[65] United States Federal Bureau of Investigation, Crime in the United States (2007), *available at* http://www.fbi.gov/ucr/cius2007/offenses/property_crime/larceny-theft.html.

برخه بې وزګاره ده، او د بې وزګارانو له منځ څخه یې ډېری ښاری سیمو ته نقل مکان کوی. خدمات په ډېره ابتدایی کچه او یا هم هیڅ وجود نه لری. دا لاملونه په مستقیمه توګه د جرم سره مرسته کوی".[66]

## قانون

د جزا قانون سره سم، د غلا تورن افراد د یو شمېر احتمالی مجازاتو تابع کېږی چه د جرم د وقوع د شرایطو سره تړاو لری. د مثال په توګه، ۴۵۵ ماده د مشده لامولونو یوشمېر لیست کوی چه لاندې موارد پکې شامل دی: (۱) د غلا د جرم ارتکاب له " لمر ختو نه تر لمر لوېدو"، (۲) په جرم کې د ښکیلو کسانو شمریر له یوه نه زیات وی، (۳) دغلا جزم هغه وخت تر سره شی چه د مجرم سره وسله وی، او (۴) د غلا عمل د استوګنې په ځای کې په دیوال باندې ختل، د هغه سوروی کول، د دروازې ماتول او دا ډول نور مثالونه ، د ساختګی کونجی ګانو استعمالول ، د عسکری، پولیسو یونیوفورم، یا د نورو عامه خدماتو د مؤظفینو له لباس څخه ناوړه ګټه اخیستل.

د غلا د جرم لپاره منجمله هغه چه مخکې یې یادونه وشوه، دقیق مجازات یو تر بله توپیر کوی او د جرم د ماحول او مشدده لامل سره تړاو لری. د مشدده له ډېرو شدیدو لاملونو څخه د وسلې څخه په استفدې ګواښ یا د غلا په جریان کې د "فشار" اعمال، د اوږد حبس مجازاتو سره ملګری دی. که چېرې د اکراه په اثر په قربانی باندې فزیکی جرح وارد شی، دا ډول جرم په دوام لرونکی حبس محومېږی ( ۴۵۶ ماده). په ورته ۴۵۷ ماده کې ویل کېږی چه که شخص د لمر لوېدو او لمر ختو ترمنځ د غلا د جرم مرتکب شی پداسې حال کې چه وسله ورسره وی (او یا که د غلا شریک وسله ولری) په اوږد حبس محکومېږی.

نور د کم شدت لاملونه، متوسط مجازات تحمیلوی چه له دریو کلونو څخه د کم متوسط حبس غوښتونکی دی. دا مشدده شرایط عبارت دی له: (۱) د عبادت، هستوګنې او یا د هغو سره اړونده ځایونو کې غلا، (۲) د هغو وسیلو غلا چه په تیلیفونی او یا تلګرافی وسیلک کې کارول کېږی، (۳) د دیلو یه نړولو او د جعلی کنجی ګانو په استعمالولو سره غلا، (۴) د خدمې یا کار فرما ته د زیان رسولو په موخه د غلا ارتکاب، (۵) د غلا ارتکاب پداسې حال کې چه شخص د جوالی، باروړونکی، او یا فریبکاریوونکی دنده ولری (۴۵۸ — ۴۵۹ مادې).

په هغو مواردو کې چه هېڅ یو د مشدده شرایطو څخه موجود نشی، او یا په هغو مواردو کې چه په هغو کې غلا ته مختص شوی ملکیت " ناڅیز وی"، مجرم د دریو تر دوو کلونو پورې مجازات کېږی. د مجازاتو دقیق حکم د غلا شوو مالونو سره په تړاو کې د قاضی په اختیار او میل پورې تړلی دی. (۴۶۰ ماده). په ورته حال کې، د غلا شوی مال ارزښت مهم نه دی او غل باید غلا شوی مال مسترد کړی او که د نظر وړ مال د لاس رسی وړ نه وی، تورن د مال په نقدی جبران مکلف دی (۴۶۳ ماده).

[66] United States State Department, Afghanistan Country Specific Information (16 June 1008), *available at* http://travel.state.gov/travel/cis_pa_tw/cis/cis_1056.html.

که تورن د غلا عمل په تشویق او یا پیل باندې متهم شوی وی، نومړی د هغو مجازاتو تابع کیږی چه د غلا ارتکاب لپاره د اټکل شوی حد اکثرجزا نیمایی څخه زیاته نه وی. که تورن د غلا په جرم کې د شریک په توګه عمل کړی وی، نوموړی د اصلی لوبغړی په عین جزا باندې محکومیږی (۴۵۹ او ۴۶۲ مادې).

بالآخره، ۴۶۴ ماده د غصب مجازت تصریح کوی. هغه شخص چه د لاسلیک، سند، مهر او موم او د بل چا د ګوتی نشان د لاس ته راوړولو په خاطر تاوتریخوالی، ګواښ یا اجبار باندې متوصل شی، په اوږد حبس محکومیږی. (۴۹۴ ماده). په هغه صورت کې چه غصب له یوه قربانی څخه د پیسو یا نورو څیزونو لاس ته راوړلو په منظور تر سره شی، مجرم باید په اوږد حبس چه له اوو کلونو زیات نه وی محکومیږی (۴۶۵ ماده).

## 2. اختلاس

اختلاس هغه وخت واقع کیږی چه د اتماد وړ یو فرد ور سپارل شوی مالونه د خپل مال په توګه تسعیر(تبدیل)او یا یی ادعا وکړی. د اختلس جرم هغه وخت مطرح دی چه ملکیت زیاتره د اشتغال، اعتماد، او ماموریت په شرایطو کې په قانونی توګه تصاحب شی.

تسعیر هغه مهال رامنځ ته کیږی چه یو فرد هغه مالونه چه ورته شپارل شوی دی، په ناوړه نیت د ځان یا د یو بل شخص په ګټه استعمال کړی. هرکله چه د تحقیق په نتیجه کې د فریب کاری او یا مجرمانه قصد په هکله قوی شواهد تر لاسه شی، د تسعیر عنصر د اثبات لپاره د مسؤلیت بار وجود لری.  بیا هم، د مجرمانه قصد د پیاوړی مظاهرو څخه پرته، باید ځینې میٖاهر شتون ولری چه مجرم په واسطه د غیر له مالونو څخه د ګټه اخیستنې څرنګوالیو وښیی.

د اختلاس جرم په ټولیزه توګه د مجرمانه قصد مستلزم دی، آن که د جرم مدون تعریف کوونکی قانون په څرګنده د هغه غوښتونکی هم نه وی. په ځینو هېوادونو کې، د فریبکاری موخې په معنا قصد له خپل مال څخه د قربانی بې برخې کول دی. دا ضمنی شرط مهم  دی، ځکه د اختلاس قوانین په ندرت سره د قصد اثبات ته ضرورت لری. په ډېرو مواردو کې، هغوی د عمدی عمل د ښودلو غوښتونکی دی، چه منجر په اختلاس کیږی.

د یادولو وړ ده چه اختلاس د مجرم پواسط په فزیکی توګه د مالونو تر لاس کولو ته ضرورت نه لری. د تسعیر عمل کولای شی د ځواب ورکونې د نشتوالی او پیسو ورکولو څخه ناشی شی. څارنوالان باید وټاکی چه ولې پیسې د اختلس له تور نه مخکې ندې ورکول شوی. که د پرداخت نشتون یا له عادی تأخیر څخه ناش شوې ځواب ویل، بد چانسی یا یو شمېر نور دلایل وی، د نیٖر وړ عمل جرم نه دی.

**قانون**

د جزا په قانون کې د دېرو مقرراتو په شان، د اختلاس تعریف او یا د هغه عنصرونو ته کمه پاملرنه شوې ده.د اختلاس اړونده زیاتره مادې یوازې د محکومو اختلاس کوونکو د مجازاتو سره محدود دی.

مثال، د عامه خدماتو هر مؤظف چه د دولت یا د اتباعو خصوصی مالونه اختلاس کړی، د اوږد حبس په مجازاتو چه لسو کلونو زیات نه وی محکومیږی (۲۶۸ ماده (۱)). که د دولت مؤظف مامور خزانه دار، د تحصیلی مامور، صراف، د پیرولومامور، د بورې مامور، د ارزاقو مؤظفین یا نور اشخاص وی، په اوږد حبس محکومیږی. که یو دولتی مقام محکوم شی او بیا له خپلې دندې ګوښه شی، (لاندې وګوری) د حیثیت له اعادې کولو وروسته د جزایی اجراآتو قانون د حکمونو سره سم بیا د دولت په ماموریت او یا خدمت منل کیږی (268 (2) – (3) ماده).

د عامه خدماتو د مؤظفینو لپاره چه پیسې (نه په مستقیمه د خصوصی افرادو پیسې)، قیمتی پاڼې، یا د دولت د ملکیت نور مالونه د خپلو ګټو لپاره تسعیر کړی سپک یا خفیف مجازات اټکل شوی دی. د دا ډول اعمالو مرتکبین په متوسط حبس محکومیږی (۲۶۹ ماده). په ورته توګه، که د عوایدو، بین المللی سوداګرۍ او یا نورو حکومتی چار لپاره د عامه خد ماتو مامورین په څارنه مؤظف وی او د هغه په وجه د ځان لپاره مفاد حاصل کړی او یا د هغه د حاصلولو په خاطر کوښښ وکړی، په متوسط حبس چه له دریو کلونو کم نه وی محکومیږی (۲۷۱ ماده).

کله چه په قراردادونو او د دولت د ګټو په ساتلو باندې د څارنې یو رسمی مامور مؤظف وی، په ورسپارل شوی دنده کې هدفمنده نیمګړتیاوی، د مجازاتو وړ عمل ګڼل کیږی او په اوږد بنید چه له لسو کلونو زیات نه وی، محکومیږیږ که جرمی تخلف یوازې په ناڅیز خسارت منجر شی، مجرم په متوسط یا لنډ حبس محکومیږی (۲۷۰ ماده).

د مواردو په هر یوه کې، محکوم شوی مجرم باید ټول اختلاس شوی مالونه رد کړی او د اختلاس شوو مالون د ارزښت برابره نقدی جریمه ورکړی او که حبس له دریو کلونو زیات وی، مرتکب د مسلک په طرد یا له دندې په ګوښه کېدو هم محکومیږی (۲۷۳ ماده).

## 3. دشپې غلا

فرد هغه وخت د شپې غلا مرتکب کیږی چه په ناقانونه توګه یوی ودانۍ یا د هستوګنې ځا ته د جرم د ترسره رسولو په مقصد داخل شی. د هستوګنې ځتیونه هر ډول ودانۍ ، ځای یا ولیږدودونکې وسیل ې باندې دلالت کوی چه د یوس ښپې اوسېدو او یا د کار او کسب د ترسره کولو لپاره درست شوی وی. څو ټاکونکی لاملونه له هغه جملې دا چه آیا یو ځای د افرادو د او سېدو د ځای په توګه د شپې له خوا تصرف کیږی ، آیا هغه د هستوګنځی په توګه پکاورل کیږی او څوموره موده له اوسېدونکو پرته یا خالی وو، د هستوګنځی

په معلومولو کې رول لري. که نظر وړ ځای په هر نوم یاد شي، د ښېې غلا د محکومولو لپاره تورن باید ودانۍ ته د ننوتو په مهال د جرم د واقعي قصد درلودونکی وي.

په ځینو هېوادونو کې، د ″شپې ناقانونه ننوتل″، د شپې غلا د ارتکاب مجرم نه محکومیږي. ودانۍ ته ″ واقعي ناقانونه ننوتل″ د یوڅه فزیکي زور سره ملګردی دی. ددې ټکي پوهېدل لازم دی چه ″ د شپې ناقانونه ننوتل″ د کړکیو او یا دروازې واقعي ماتولو ته نه لري. د هغه پر ځای، یوازې د کوم څیز سوې خواته کول لکه دروازه چه په معمولي توګه د ځای امنیت تأمینوي، د واقعي ناقانونه عمل د تشخیص لپاره بسنه نه کوي. که ننوتل د ځینو وسیلو او نورو طریقو لکه ګواښ، فریبکاري، توطیې سره ترسره شي، بیا هم تورن د غلا په جرم په تورن محکوم کېدای شي، ځکه چه په زور سره ودانۍ ته ″ننوزي″. دا مهمه نه ده چه آیا ننوتل واقعي وو او یه په زور، بلکه ساختمان ته ننوتل باید په هغه کې د هستوګن فرد د غوښتنې خلاف وي.

د شپې غلا سره اړونده قوانین په ځانګړې توګه د خصوصي حریم او د کور د حرمت او حرفي د اهمیت او ارزښت له نظره، پراخه شوي دي. د ناقانونه ننوتلو په جرم ګڼلو سره، د جزا قانون د خپلو مالونو په هکله د افغان اتباعو د حمایت او ملاتړ لپاره، د ودانیو او د شخصي حریم (لکه کور) خوندي ساتلو کوښښ کوي.

سربېره پردې، د شپې غلا قوانین د شخصي مصؤنیت خطرات ودانۍ ته د ناقانونه ننوتلو په مهال درک کوي – یعني هغه خطر چه متجاوز یې د هستوګنو په حریم یې د جرم د ارتکاب یا فرار په وخت کې واردیږي او هغه خطر چه د ودانۍ هستوګن د شدید تیري د عکس العمل په وړاندې ښیي. د رفتار په جرم انګېرنې سره، د جزا قانون د تېري او په ودانۍ کې د ننه د نورو جرمونو د مخنیوی په لټه کې دی.

## قانون

د جزا په قانون کې غلا د ۴۳۱ – ۴۳۲ مادو به ترڅ کې بررسي شوي دهږ د څېرکې عنوان د اوسېدلو ځای او د نورو مسلك د حرمت هتك د ی. د اوسېدلو ځای یا د اوسېدو د پاره تیار محل ته د ″ د محل د خاوند د قوې په زورحیازت منع کېدل″ او یا د ځینې نورو جرمونو ارتکاب وي، په متوسط حبس چه له دوو کلونو زیات نه وي او نغدي جریمه چه له ۱۰۰۰۰ افغانیو تجاوز و نه کړي محکومیږي (۴۳۱ (۲)ماده).

که (۱) جرم د لمر لېودو او لمر ختو ترمنځ واقع شي، (۲) مجر په ښکاره یا پټه وسل د ځان سره حمل کړي، (۳) جرم د دوو یازیاتو افرادو پواسطه تر سره شي، (۴) مجرم ″ د عمومي خدمتونو د مؤظف صفت ځان ته نیولی وي او یا د عمومي خدمتونو د مؤظف ادعا وکړي، (۵) د ناقانونه ننوتلو لپاره مجرم ځان په نورو درواغجنو صفتونو متصف کړي، او یا (۶) ودانۍ ته د لاس رسي په موخه د فزیکي ړنګولو او یا دیوال څخه د پورته کېدو له لارې شوني شي، (۴۳۱ (۳) ماده)، اټکل شوي مجازات تر متوسط حبس پوري چه له دوو کلونو کم نه وي، لوړیږي.

که چېرې د شپې غلا په داسې ځای کې چه " دد مال ساتلو په مختص ځای کې او په عقار کې غیر له هغه چه ذکر شو" تر سره شي، مجرم په قصیر یا لنډ حبس چه له دریو میاشتو کم نه وی یا د ۳۰۰۰ او ۱۲۰۰۰ افغانیو نغدی جریمه باندې محکومیږی. که چېرې دا جرم د دوو یا زیاتو کسانو پواسطه تر سره شوی وی او یا د وسل د حمل په مهال ارتکاب شوی وی، اټکل شوی مجازات یې تر دوو کلونو متوسط حبس او یا تر ۱۰۰۰۰ افغانیو نغدی جریمې پورې لوړېدای شی (۴۳۲ ماده).

## 4. فریبکاری

فریبکاری د ناقانونه لارې څخه د مال او یا خدماتو د لاس ته راوړلو لپاره کارول کیږی. دا عمل هغه وخت رامنځ ته کیږی چه فرد قصداً ځینې حقایق چه د هغو په نادرست ماهیت باندې علم لری د ځان خلاف یو بل شخص یوه زیانمن کېدونکی عمل اړ ایستلو په مقصد تحریف کوی. داسې انګېرل کیږی چه د امریکی په متحده ایالتونو کې حکومت په سلو کې اوه د خبلو عایدو د فریبکاری له کبله له لاس ورکویږ بریتانیا د فریبکاری له امله هرکال د ۱۳ میلیارد پوندسترلینګ په حدودو کې له لاسه ورکوی.[67]

په ځانګړې توګه فریبکاری په هغو سیمو کې ډېر عمومیت لری چه د اقتصادی رکود او یا راکدې ودې سره مامخ وی. مختلف فشارونه له هغه جملې د بې وزګاری لوړ نرخ ، د سون موادو لګښت، عامه سوکالی او خوراکی توکی او د عامه خدماتو محدودیتونه د فریب کاری د راپیداکېدو او پراختیا سره مرسته کوی. د هغو صنایعو په منځ کې چه د فریبکاری په منځ کې قرار نیسی، ساختمان چارې او د عامه خدماتو شرکتونه (اومه مواد د دغلو پواسطه غلا کیږی)، د بیمې شرکتونه، بانکونه ( جعلی چکونه او رهنی پورونه)، او پرچون پلورنځی دی .

### قانون

څرنګه چه د جزا قانون په ۴۶۹(۱) ماده کې تعریف شوی دی، فریبکاری هغه وخت رامنځ ته کیږی چه فرد د " فریبکارانه وسیلو" نوم، صفت یا غلط اطلاعاتو په استعمال سره، یو فرد د رفتار تغییر ته اړ باسی. د یاد ولو وړ ده چه د جزا قانون په دواړو موردو (په خاص ډول " فریبکارانه وسیلو") او روانی عنصر د غوښتنې په اړوند، بې اندزې زیات مبهم دی.

د مثال په توګه، د جزا قانون د فریبکاری په هکله د پنځو مادو څخه هره یوه (۱۸ څپرکی) په سرغړوونکو" اشخاصو" باندې استناد صراحت لری. د مبهمې مسودې د چمتو کولو باوجود، د فریبکاری روانی عنصر له متن څخه استنباې کولای شو. په واقعیت کې، مجرم باید د یو ټاکلی عمل خبر او قصد ولری . پدې ترتیب هغه عمل چه د سهوې یا تصادف په نتیجه کې رامنځ ته کیږی، فریکاری نه ګڼل کیږی. تورن باید د خپل

[67] Jim Marasco, Economic Hard Times: The Impact on Fraud, Fraud Matters Newsletter (Fall 2008).

عمل له نادرست ماهیت څخه خبر وی (یا په منطقی تګه په هغه وپ،هیږی). پلټنه او تحقیق هم باید دا وښیی چه تورن قصد درلود تر څو قربانی د حقایقو په تحریف استناد وکړی او دا چه قربانی پخپل زیان داسې عمل کړی چه د خسارت او یا د مالونو د انتقال باعث ګرځېدلی دی.

د حقایقو جعل یا تحریف کولای شی ببلابېلې بڼې ولری. د هغو تر ټولو معمول دځینې داسې دی: (۱) د وقوع په مهال د واقعیت غلط ښودل یا وړاندې کول، (۲) له هېڅ منطقی بنسټ پرته د یوې پېښې بیان، (۳) د راتلونکې کړنې په اړون داسې  ژمنه چه هغه به پخپل وخت نه اجرا کوی، (۴) د نظر اظهار چه درواغجن پېژندل شوی وی، (۵) د یو فرد پواسط چه د یوې موضوع په هکله د ځانګړې پوهې درلودلو ادعا کوی، درواغجنې څرګندونې.

## د فریبکاری بڼې

یو شمېر وسیلې شتون لری چه له هغو نه په ګټې سره افراد د خپلو شخصی ګټو لپاره کولای شی خلکو ته فریب ورکړی او حقایق  جعل وکړی.  لومړی، فریبکاری کولای شی د قربانی سره د یوې قراردادی رابطې له لارې رامنځ ته شی. کله چه فریبکاری په یوه قراردادی رابط کې رامنځ ته کېږی، څارنوال باید وښیی چه د ناسمو اظهاراتو پرته، قربانی په قرارداد کې نشې داخلېدلای. ″ قرارداد ″ په پراخ مفهوم سره په ۴۶۹ (۲-۳) کارول شوی دی او هر ډول لاسلیك، مهر، او یا د مال د مالکیت یا پور په یوه سند باندې د ګوتې نښه په بر کې نیسی. د داسې عمل مرتکب په لنډ حبس چه له دریو میاشتو کم نه وی محکومېږی.

دوهم، فریبکاری د غلطو معلوماتو له لارې پېښېږی. غلط معلومات هغه وخت رامنځ ته کېږی چه ناسم اظهارات یا څرګندونې یا لار غولووونکی وی او یا د نورو له خوا د عمل پرېښودل بې لارې کوی. د حقایقو جعل یا تحریف اهمیت لری نه کوچنی او بې اهمیته جزئیات. د غلطو معلوماتو وړاندې کول باید د منفعت په مقصد او یا قربانی ته د زیان اړولو (۴۶۹ ماده) په موخه صورت موندلی وی.

د غلطو معلوماتو وړاندې کولو تر ټولو عامې بېلګې د اعتباری کارت او یا د بانك کارت څخه عبارت دی یعنې هغه وخت چه یو شخص پدې پوهېږی چه د کارت د استعما قانونی حق نه لری، او یا د شخصی معلوماتو تر لاس کولو طرحې د فریبکارانه مجراګانو (phishing ) له لارې چه د هغه په ترڅ کې مراسلات د ناسمو اطلاعاتو سره له یوه مشروع مالی بنسټ څخه خپور شوی وی. څرنګه چه د جزا قانون په ۴۶۹ ماده کې مشخص شوی دی، د غلطو معلوماتو مجازات لنډ حبس دی چه له دریو میاشتو کم نه وی.
دریم، فریبکاری اغلب د اطلاعاتو په رسوا کولو کې د بې پروایی په نتیجه کې رامنځ ته راځی. د فریکاری د تشکیل لپاره، فرد باید د هغو اطلاعاتو په رسواکولو کې چه قسماً د هغو د رسواکولو مکلفیت لری، په عمدی توګه غفلت وکړی. د تورن د عمدی انصراف مقصد باید ځان منفعت او یا قربانی ته د زیان اړول وی. د تورن عمدی انصراف مثالونه کولای شی د داسې مواردو شاملېږی لکه د یو وکیل په واسط  د مشتری له مهمو اطلاعاتو څخه عمدی انصراف چه په زیاتو قانونی لګښتونو باندی منجر شی.

څلورم، فریبکاری کېدای شی د مقام او موقعیت څخه په ناوړه ګټه اخیستنه تر سره شی. د فریبکاری دا بڼه هغه وخت رامنځ ته کېږی چه مدعی علیه د واکمن مقام له اشغالولو وروسته عمداً د شخص ګټولپاره له قدرت څخه ناوړه ګټه پورته کړی. څرنګه چه د جزا قانون په ۴۷۱(۳) ماده کې تصریح شوې ده، هر ″ ولی، وصی، قیم یا متولی″ چه له خپل موقعیت څخه د مال یا پیسو د لاس ته راوړلو په خاطر ناوړه اخلی د اوږد حبس په مجازاتو چه له اوه کلونو زیات نه وی محکومیږی.

که د قدرت هیڅ قانونی موقف شتون و نه لری، د جزا قانون ۴۷۱ (۱) ماده د موضوع په اړوند داسې وایی: ″ که شخص د یو قاصر چه د اتلس کلنی عمر یی پوره کړی وی د احتیاج عدم مهارت یا د نقس د ضعف څخه په داسې توګه بده استفاده وکړی چه پخپله د لیکلو په واسطه، د ملکیت د اسنادو په امضاء کولو یا د قرضونو پورې د مربوط رسید خط یا طلباتو یا د تجارتی پاڼو څخه په فراغت یا نورو مثبته سندونو ذکر شوی شخص ته ضرر ورسوی په لنډ حبس چه د دری میاشتو څخه کم نه وی، محکومیږی″.

د فریبکاری وروستی بڼه هغه وخت رامنځ ته کېږی چه د پرداخت ناوړ چک صادر شوی وی. د فریبکاری د تشکیل لپاره، فرد باید په آګاهانه داسې چک صادر کړی چه د نغدې پرداخت یا اعتبار وړ نه وی. همدا شانې، که صادر شوی چک ټول یا د مبلغ یوه برخه چه د هغې په اعتبار چک صادر شوی وی، د چک وجه پوره نه کړی، صادر کوونکی د فریبکاری په جرم تورن کېږی. که د فریبکاری دواړه مورده د رضایت وړ وی، تورن په لنډ حبس چه له دریو میاشتو کم نه وی او نغدی جزا چه له دولس زرو افغانیو زیات نه وی محکومیږی (۴۷۲ ماده).

د پاس یادشوو مجازاتو سربېره، په هغه صورت کې چه قربانی محسوس زیان زغملی وی د جزا قانون ۴۷۳ ماده د بشپړ تاوان (نغدی او غیر نغدی) د جبرانولو غوښتونکې ده.

## III. د نظام په وړاندې جرمونه (ځانګړی جزایی قوانین)

### 1. ارتشاء او اداری فساد

له ۲۷ کلنی جګړې څخه وروسته لاهم ، فساد په افغانستان کې د تاوتریخوالی د فرهنګ او د لومړنیو اړتیاو د نشت سره تړاو لری. د پلورنځیو خاوندان ددې لپاره چه برښنا لین و غزوی باید شبکې ته بډې یا رشوت ورکړی او ددې لپاره چه کار کوونکی له بنده خلاص شی باید د پولیسو آمرینو ته بډې ورکړی او د جرمونو قربانیان د رسمی عدلی سکتور ته له مراجعې څخه ډارېږی، ځکه دغه کار ډېر وخت او ډېرو پیسو ته اړتیا لری.

د افغانستان د روڼتیا یا شفافیت سزمان د ۲۰۰۷ کال سروې له مخې وایی چه اوس مهال په سلو کې نږدې شپېته وګړی پدې آند دی چه تر هر بل وخت په وروستیو دوو لسیزو کې دولت ډېر فاسد دی. په همدې سروې کې په سلو کې دری نوی ځواب ورکوونکی وایی چه د اداری کارونو د اجرا ا د دولتی اساسی خدماتو د ترسره کېدو لپاره باید بډې ورکړل شی. په ربښتیا چه په منځنی کچه هره کورنی په کال کې سل ډالره بډې ورکوی، پداسې حال کې چه په افغانستان کې په سلو کې د اویا کورنیو ورځنی عاید یو ډالر دی.[68]

فساد له رسمی مقام څخه د شخصی ګټې لپاره ناوړه کارول دی. د آسیا د پراختیا بانک فساد داسې تعریفوی: " د مقام تر لاسه کول ددې لپارره چه له غیر قانونی لارې پخپله شخص او یا یی خپلوان شتمن شی او یا د هغه موقعیت په ناوړه ګټه اخیستنې سره دې کار ته د نورو اړ ایستل دی ".[69]

لنډه داچه فساد د دولتی نویو رامنځ ته شوی بنسټونه کمزوری او عدالت د ګواښ او د قانون د حکومت په برخه کې نوښتونه د خنډ سره مخامخ کوی. په اوږد مهال کې فساد د پایښت وړ اقتصادی پراختیا تهدیدوی. پهځانګړې توګه، اداری فساد په افغانستان کې د د مخدرو موادو او تروریزم صنعت د بې ثبات کوونکو ځواکونو سره نژدې اړیکه لری. څرنګه چه د ملګرو ملتو پخوانی عمومی منشی کوفی عنان وایی ؛ " فساد بې وزلی په متناسب ډول زیانمن کوی — د توسعې یا پراختیا لپاره د بېلې شوې بودجې په انحراف سره د لومړنیو خدماتو وړاندې کولو ، تغذی کولو، نابرابری او بې عدالتی سره مبارزه او د بهرنی پانګه اچونې په برخه کې د دولت توان کمزوری کوی."[70]

پدې ترڅ کې، په وروستیو کلونو کې په افغانستان کې دا روښانه شوې ده چه مقامات باید عملاً د قانون څخه په اطاعت کولو متقاعد کړل شی. د هغه تر ټولو رواج شوی بېلګه قاچاق دی چه د هغه په ترڅ کې مالونه دوهم ځل صادرېږی، نفتی توکی په ناقانونه توګه واردېږی او لرګی ګاونډیو هېوادونو لکه پاکستان ته قاچاق کېږی. د ګمرک چارواکی او دولتی لولو ساتونکی د دې کارون په درولو کې کون اغېزمن کار نشی تر سره کولای ځکه چه هغوی ته کم حقوق ورکول کېږی او د قانون د بشپړ پلی کېدو روحیه له لاسه ورکوی.[71] په واقعیت کې د نا منظم کسب او کار فعالیتونه فوق العاده ګټور دی او په ټیټه کچه د فساد لپاره ډېرې انګېزی پیداکوی.

د سراسر فساد د منفی پایلو څخه یوه هم د هغو افراد زیاتوالی دی چه د بسټ پالو طالبانو ته مخه کوی چه د ډېرو دولتی ادارو په پرتله " پاک" انګېرل کېږی. پداسې حال کې چه د طالبانو خشن قوانین لا ندی هېر

[68] Lorenzo Delesgues and Yama Torabi, Afghan Perceptions of Corruption, (Integrity Watch Afghanistan, 2007
[69] [69] Asian Development Bank, Definitions of Corruption, *available at*
http://www.adb.org/documents/policies/anticorruption/anticorrupt300.asp
[70] 2003 address on the adoption of the United Nations Convention on Corruption by the General Assembly.
[71] Kim Barker, Pervasive Corruption Fuels Deep Anger in Afghanistan, Chicago Tribune (25 November 2008).

شوی، د هغوې کړنې هم پر بډه اخیستونکو مقامتو باندې ددې خشن قوانینو اغېزمن اعمال هم په یاد پاته دی چه د هغه په نتیجه کې د هېواد په لویه برخه کې ثبات  وو او له فساد څخه چا سترګې نشو پټولای.[72]

## د فساد خلاف هڅې

اوسنی نظام د فساد د له منه وړلو لپاره زو زیا شمېر جدې هڅې او اقدامات مخکې لری. په دې اړه د ملګرو ملتو د اداری فساد سره د مبارزې کنوانسیون سره  د افغانستان احاق یو مهم ټکی شمېرل کېږی. د ملګرو ملتو د پراختیایی پروګرام سره یوځای، د فساد سره مبارزه د جدی تدابیرو د دولت د دې ډول اقداماتو موخ ده لکه د روڼتیا او ځواب کونې پروژه چه د فساد سره مبارزې ته مدنی ټولنه او رسنی هڅوی. د کنواسیون د لاسلیك کوونکو لوری پدې باور دی چه ګډو هلو ځلو پواسطه سره کولای شی فساد سره د مبارزې په اړوند د عامه پوهاوی، ښوونې او روزنې د طرح  په برخه کې ډېری آسانتیاوې رامنځ ته کولای شی.

د فساد سره اغېزمنې هڅې، په ځانګړې توګه هغه کوښښونه چه د سیاسی ځواب ورکونې په برخه کې د ملګرو ملتو له لوری تر لاس لاندې نیول شوی دی، په ۶ بېلابېلو عنصرونو باندې تمرکز لزی: (۱) د روښانه او څرګندو قوانینو او مقرراتو جوړول، (۲) په حکومت کې د مدنی ټولنې د مشارکت پراختیا، (۳) د خصوص رقابتی سکتور رامنځ ته کول چه په ترڅ کې یی افراد وکولای شی مشروع پیسې او اعتبار لاس ته راوړی، (۴)په تدریجی توګه د قدرت د بنسټیزو خنډونو محدودول، (۵) د قضایه قوې د خپلواکې او بې طرف تأآمینول او (۶) دعامه سکتور د مدیریت، لارو چارو او روزنې ښه کول.

## قانون

له ارتشاء او اداری فساد سره د مبارزې قانون ( د بډې اخیستلو د مبارزش قانون)  په ۲۰۰۴ کال کې تصویب او د رسمې جریدې په ۸۳۸ ګڼه  کې خپور شو. دا قانون د اساسی قانون د ۵۰ او ۷۵ (۳) مادو د احکامو( " دولت مکلف دی چه د سالمې ادارې ... د سمون د رامنځ ته کېدو لپاره لاز تدبیرونه ونیسی...". او داچه " د عامه انظم او امن ټینګول او د هر راز اداری فساد له منځه وړل..") له مخې تصویب شو.

د بډې خلاف قانون موخې د فاسد رفتار د زمینو د انګېزو او علتونو پېژندل، په دولتی ادارو کې د شفافیت رواجول، د عادی افرادو د مالی او اقتصادی مشکوك فعالیتونو بیا پلټنه، د حکومت اودولتی ادارو مامورین، او د هغو عاملانو پېژندنه چه له قانون څخه سرغړونه کړې  او دې ته ورته نورو اقداماتو مخنیوی په بر کې نیسی.

د ارتشاء او اداری فساد سره د مبارزې قانون موخه یو خپلواك اجرایوی میکانیزم له لارې د جزا په قانون کې د بډې په هکله د راغلو احکامو بشپړول دی. په ځانګړې توګه د قانون سره سم، د ارتشاء اواداری فساد سره

[72] Kim Barker, Pervasive Corruption Fuels Deep Anger in Afghanistan, Chicago Tribune (25 November 2008).

د مبارزې اداره جوړه شوې ده. دا دفتر د فساد د جرړو را ايستلو لپاره د تګ لارې طرح ، د قانون د احکام اجراء، د فساد د علتونو او انګېزو پېژندل، د بډې اخيستلو او فساد اړونده چارو بررسی، او د مسلکی پوهې د لوړولو لپاره د ښوونېزو کورسونو جوړولو(۵ ماده) دنده په غاړه لری. دا اداره تر خپل تعقيب لاندې د ارتشاء او اداری فساد د مظنونينو د اعلامولو ، د هغو ادارو د اجراآتو درول چه د پلټنې په و خت کې يی د شفافيت نه شتون تثبيت شی، د دولتی ادارو د اسنادو او مدارکو بررسی او د حکومتی ادارو د مالی فعاليتونو د تفتيش واک لری (۶ ماده).

د د فساد سره د مبارزی د ادارې د اهميت باوجود، د هغې د کارمندانو شمېر په ټکی سره په ولاياتونو کې له ۳۸۰ کسانو څخه ۱۴۱ کارمندانو بې له دفتره، را کم شو. د ۲۰۰۸ کال په جولای کې په افغانستان کې د اداری فساد سره د مبارزې اداره و تړل شوه او ځای يی د اداری فساد سره د مبارزې د ستراتيژی تطبيق د نظارت عالی ادارې تر نامه لاندې کميسون ونيو. پدې کميسيون کې له څو اجرايوی ادارو څخه استازی ګډون لری او داسې تصور کېږی چه له مخکنی ادارې څخه يی ځواک زيات دی. د کميسيون مياشتنی غونډې د ولسمشر کرزی تر مشری لاندې داير ېږی.

سره ددې چه د بډې خلاف قانون په افغانستان کې د اداری فساد سره د مبارزې يو مهم ګام ګڼل کېږی، خو دا قانون هر اړخيز نه دی ځکه چه د بډې او فساد ټول موارد تر پوښښ لاندې نه نيسی. د مثال په توګه، دا قانون اصل جرم يا په ناقانونه توګه بډای کېدل منع يا مشخص نه کوی، او خصوصی سکتور په روښانه توګه تر پوښښ لاندې نه راولی، په هغه کې د عدالت اجرا جرم نه ګڼل کېږی او بهرنی رسمی مقامات او بين المللی سازمانونه ( او د هغوی کارکوونکې ) په بر کې نه نيسی. دا قانون همدارنګه، پدې دليل نيمګړی دی چه په هغه کې د مدنې بيا ځان موندی او يا د زيانمن شوو بنسټونو لپاره د جبران په هکله څرګند احکام ندې اټکل شوی.

## ځانګړی احکام

د رشوت اخيستلو په هکله د جزا قانون احکام، د بډی اخيستلو سره د مبارزې د قانون بشپړوونکی دی. د مثال په توګه، د جزا قانون ۲۵۴ ماده وايی : ″ د عمومی خدمتون هر مؤظف چه د يوی وظيفی د اجراء يا امتناع يا اخلال په مقصد چه پرې مکلف شوی پخپل نو يا د بل شخص په نوم نقدې پيسې، مال يا يوه ګټه وغواړی يا د شخص څخه د هغې وعده و اخلی او يا بخشش قبلو کړی، رشتو اخيستونکی شکارل کېږی ″.

په ۲۵۶ ماده کې بيا راغلی د ی چه که چېری له بډې څخه منظور د بل مجرمانه عمل تسهيل يا ارتکاب وی، بډې اخيستونکی او بډې ورکوونکی سربېره پر نغدی جريمې د قانون سره سم د اړونده جرم لپاه په اټکل شوې مجازاتوهم محکومېږی.

۲۵۸ ماده وایي: ″ که د عمومي خدمتونو مؤظف د وظیفې د ترسره کولو په مقابل کې پخپل نوم یا د بل شخص په نوم څه شی وغواړي یا د هغه چا څخه چه د وظیفی له لحاظه یی ورته کار کړی بخشش واخلی او یا یی قبول کړی او یا د بخشش په منظور پخپل یوه وظیفوی مکلفیت کښې د کار د ترسره کېدو وروسته خلل وارد کړی یا د پخوانی موافقې د مکافات اخیستلو په قصد د هغې څخه امتناع وکړی یا په هغې کښې خلل وارد کړی ، په متوسط حبس او نقدی جزاء د هغه څه معادل چه د بخشش غوښتنه یا وعده شوی محکومیږی ″.

۲۶۰ ماده حکم کوی چه که بلې د یو رسمی مقام له لوری و نه منل شی، د پیسو پیشنهاد کوونکی شخص په متوسط حبس او ۱۲۰۰۰ – ۶۰۰۰۰ افغانیونغدی جریمې محکومیږی. په و اقعیت کې، ″ د رشوت په جرم شروع د هغه د ارتکاب په حکم کې ده″ (۲۶۶ ماده).

## 2. د مخدرو موادو تولید او قاچاق

په ۲۰۱۱ کال کې، په افغانستان کې د ۱۳۱۰۰۰ هکتاره ځمکه کې کوکنار کرل کېدل او د ۵۸۰۰ ټنو په حدودو کې یی مخدر مواد تولیدول[73]. دا اندازه چه په سلو کې ۹۰ د ټولې نړۍ عرضه جوړوی، افغانستان یی په نړۍ کې د مخدرو موادو په تر ټولو لوی تولیدونکی هېواد بدل کړی دی[74]. دا ارقام هغه مهال پام ځان ته را اړوی چه په ۱۹۸۶ کال کې په ۲۹۰۰۰ هکتار ځمکه کې کښت شوی کوکنارو څخه ۳۵۰ متریک ټنه تولید شوی تریاک پرتله شی.[75]

د کوکنارو د کرلو څخه اصلی وېره پدې کې ده چه د مخدرو موادو پلورل د تروریستی ډلو سره مرسته کوی. په افغانستان کې د مخدرو موادو د صنعت څخه کلنی عاید نژدې ۲،۶ ملیارد امریکایی ډالره یا د هېواد په سلو کې ۳۵ کورنی ناخالص تولید اټکل کیږی. دولتی رپوټونه ښیی چه تروریستی سازمانونه دا پیسې د نوو کسانو د ګمارنی او د وسلې د برابرولو لپاره په کار اچوی.[76]

اګر چه د مخدرو موادو ډېری په وړو ځمکنیو ټوټو کې چه د هر کروند د کښت په سلو کې ۲۵ جوړوی، کرل کیږی مخدر مواد د یو دهقان د عاید یوه نا متناسبه برخه ده. ددې په نتیجه کې، مخدر مواد د اقتصاد په یوې نه بېلېدونکې برخې بدل شوی چه د کورنی ناخالص تولید ٪۹ جوړوی.[77]

---

[73] United Nations Office on Drugs and Crime, *2011 Afghan Opium Survey*, Oct. 11, 2011, *available at* http://www.unodc.org/afghanistan/en/october/2011/opium-production-in-afghanistan-shows-increase.html

[74] Tom Peter, Afghanistan Still World's Top Opium Supplier, Despite 10 Years of US-Led War, Christian Science Monitor, Oct. 11, 2011, *available at* http://www.csmonitor.com/World/Asia-South-Central/2011/1011/Afghanistan-still-world-s-top-opium-supplier-despite-10-years-of-US-led-war.

[75] Cindy Fazey, Responding to the Opium Dilemma, in Robert Rotberg, ed., Building a New Afghanistan (Brooking Institute Press, 2007).

[76] Hekmat Karzai, Strengthening Security in Contemporary Afghanistan: Coping with the Taliban, in Robert Rotberg, ed., Building a New Afghanistan (Brooking Institute Press, 2007).


[77] Peter, *supra* note

## د مخدرو موادو سره مبارزه

د نويو قوانينو د معرفي کولو په ترڅ کې، افغانستان او د هغه بين المللى متحدين پداسې حال کې چه د مخدرو  موادو د محصولاتو، لابراتوارونو، او د زېرمه کولو د تأسيساتو د له منځه وړلو او محصولاتو منع کولو خپل هڅې او کوښښونو زيات کړى دى، د کروندګرو لپاره د کوکنارو د د بديل کښت محصولاتو په خاطر يې هم کار پيل کړى. که څه هم د محصولاتو د له منځه وړلو موخه يو ښکاره خبره ده، بايد توجه وشى چه پخپله کروندګر د مخدرو موادو د تجارت د ګټې يوازې په سلو کې له ۳۰ څخه کمه اندازه لاس ته راوړى. توزيع کوونکى، عمده پلورونکى ددې پيسو تر ټوله لويه برخه تر لاس کوى. په راتلونکى پاڼه کې د کرونګرو لپاره د کوکنارو د بديل لپاره د افغانستان د دولت او بين المللى لوبغالو د هڅو ښکارندوى دى.

## د معيشت بديلى پروژې : د بېل شوو پيسو ګرافيکى ارائه[78]

[78] United Nations Office on Drugs and Crime, Alternative Livelihoods Projects Database, a*vailable at* http://www.unodc.org/pdf/afg/2005MappingAlternativeLivelihoodProjectsAfghanistan.pdf




د ترياکو او د مخدرو موادو د نورو فعاليتونو د محدودولو لپاره هڅې د هر څه نه مخکې د مخدرو موادو سره د مبارزې وزارت او د مخدردو موادو سره د مبارزې له خوا اداره کيږي. هغوی په ګډه، يو شمېر شريکې موخې لري: د نهادونو جوړول، د عامه پوهاوی لوړول، د بديل معيشت لوړول، د تقاضا راکمول، د معتادينو درملنه، او د سيمه همکاريو تأمينول. د مخدره موادو سره د مبارزې پوليس دری برخې لري: کشف، تحقيق او نيول. پداسې حال کې چه دې برخې له ۵۰۰زيات افسران په دنده ګمارلی دی، تر ټولو اغېزمن واخد د افغانستان د مخدرو موادو ضد خاصه قطعه ده چه په ۲۰۰۴ کال کې جوړه شوې او د چورلکو پواسطه کماندويی ورته بريدونو سره عمليات تر سره کوی.

د پوليسو د خاصو ځواکونو څخه کار اخيستل، د ۲۰۰۶ کال د قانونو په تصويب سره د مخدرو موادو سره مبارزه همزمان شوه. د رسمی جريدې په ۸۷۵ ګڼه کې خپور شوی دا قانون د مخدره مواد سره د مبارزې پخوانی قانون چه په ۲۰۰۳ کال کې تصويل شوی وو عوض کړ. دا قانون د تروريزم د تمويل پرخلاف د مبارزې قانون په شان، خپل مشروعيت د اساسی قانون له ۷ مادې څخه اخلی چه وايی: ″ دولت هر راز تروريرستی اعمالو، د مخدرو موادو د کرلو او قاچاق او د مسکراتو د توليد او استعمال مخنيوی کوی″.

دا قانون د هرڅه نه مخکې د جزایي عدالت ضربتي قطعې (CJTF) چه د افغانستان، بریتانیا او ملګرو ملتو سازمان پواسطه د مخدرو موادو اړوند جرمونو د تعقیب لپاره په ۲۰۰۵ کال کې جوړه او په کار یې پیل وکړ. (CJTF) د افغانستان د مفتشینو ، افغان څارنوالانو، او د مخدرو موادو سره د مبارزې په مرکزي دیوان کې د ابتدایه او استیناف محکمو له قاضیانو څخه جوړ شوی دی. مستنطقین قضیي څارنوالانو ته سپاري او هغوی د ۳۰ ورځو په اوږدو کې اتهام نامه ترتیبوی. د ۲۰۰۵ کال د می له میاشتې څخه د ۲۰۰۷ کال تر اپریل پورې، (CJTF) د ۸۵۲ تحقیقاتو، ۶۶۱ موردو تعقیب او د ۳۹۰ موردو محکمې د حکم د صدور مسؤل وو.

د مخدرو موادو سره د مبارزې د لومړیو لاس ته راوړنو باوجو، لاهم پدې برخه کې جدي ستونزې شته. مثال، د CJTF دفتر په پالازمېنه کې قرار لري او ولایتونو ته د هغه لاس رسی کم دی. سر بېره پر دې، CJTF د ورته مؤسسساتو سره په ولایتونو کې لږ اړیکې لری او د هغه پرسونل هراړخیز ښوونې روزنې ته لری. د مخدرو موادو سره د اغیزمنې مبارزې لپاره د مختلفو سازمانونو ترمنځ ارتباطات اوهمغږی لازم او ضروری ده.

**انتقادی تبصره: د مخدرو مواد جرمی اثر – اقتصادی تجزیه او شننه**

۱.د [مخدرو موادو] منع په زیات احتمال سره په صنعت کې د تاوتریخوالی د حاشیوی لګښتونو په کمېدو او د حاشیوی ګټې په لوړېدو منجر کېږی... ځکه چه د مخدرو موادو په ناقانون تجارت کې شرکت کوونکی نشی کولای له قانونی او قضایی نظام څخه ګټه واخلی، لدې امله د اختلافونو د حل او فصل له تاوتریخوالی څخه ګټه اخیستل دا حاشیوی منفعت زیاتوی... سربېره پردې ، د تاوتریخوالی د اعمال حاشیوی لګښتونه په زیات احتمال د آزاد بازار په پرتله په ممنوع بازار کې کم وی، ځکه چه د ناقانونه فعالیتونو د یو لړ فعالیتونو – مخدر موادو ـ څخه تېښته د یو لړ نورو ناقانونه فعالیتونو له پیل څخه تېښته ده".

۲."باید وویل شی، د [مخدرو موادو] د ممنوعیت بل اثر د محصول د کیفیت په هکله د اطمینان نشتوالی ډېرېدل دی. د ناقانونه مالونو د کیفیت دتنظیم لپاره دولتی اصول او مقررات وجود نه لری او پیرودونکی پرته لدې چه ځان مجرم وبولی، نشی کولای د مالونو د کیفیت په هکله شکایت وکړی".

۳." موجود شواهد په ټولیزه توګه اړخ لګوی ... چه د هېروئینو د قیمت لوړېدل د جرمونو د ملکیت د نرخ سره مل دی... [او] دا چه د [مخدرو موادو] د ممنوعیت د اعمالولو لپاره د هڅو زیاتوالی د عاید مؤلد جرمونو د نرخ د زیاتوالی سره ملګری دی".

۴.″ ممنوعیت همداشانی یو شمېر نور احتمال آثار هم لری ... له ممنوعیت څخه راولاړشوی لوړ قیمتونه، د مخدرو موادو د تزریق انګېزه زیاتوی (دا چه دا کار د لګښت لپاره لا زیات قدرت برابروی)، او یو ځای په پاکو ستنو باندې د لوړ محدودیت سره یو ځای اچ آی وی پراخوی″. [79]

## د مباحثې پوښتنې

۱.آیا دا تاثیرات په کاف اندازه د جرم د توجیه لپاهر قانع کوونکی دی؟ آیا هغه دمهمو پرابلونو نه زیات یا کم دی، کوم چې د مخدرو موادو او قاچاقو د استفادی په پیاله کې منځ ته راځی؟

۲.آیا داسې لارې چارې وجود لری چه دولت د مخدره موادو د منع کولو اواثراتو په وړاندې مبارزه وکړی؟ څرنګه؟

## قانون

د مخدروموادو په وړاندې دمبارزې موخه، ″ د کوکنارو ، بنګو او کوکا د کرلو مخنیوی تو او د هغه د مرتکبینو د مجازاتو تعیین ...(او) د مخدرو موادو، روانی درملو، کیمیاوی موادو، د موخدرو موادو په تولیډ او پروسس کې د موادو او تجهیزاتو تنظیم او کنترول دی″. هودارنګه دا قانون د مخدرو موادو خلاف فعالیتونه همغږی د روغتیا مرکزونه جوړ او لین المللی مرسته را جلب او جذب کوی (۲ ماده).

د مخدرو موادو سره د مبارزې قانون، اته پنځوس مادې لری او په اتو څپرکیو کې ډلبندی شوی دی: (۱) لومړی څپرکی د کلی احکامو او د اړونده تعریفونو، د مخدرو موادو تولید، حمل او نقل او هغوی نه د ګټې اخیستلو یو لیست وړاندې کوی، (۲) د مخدرو موادو لپاره د ډلبندی یا طبقه بندی یو سیست بیانوی، بوټی او مواد په څلورو برخو وېشی: (۱) بوټی او په طبابت کې له استعمال پرته ممنوعه مخدر مواد، (۲)ا په طبابت کې استعمالېدونکی تر شدید کنترول لاندې بوټی، (۳) هغه بوټی او مواد چه په طبابت کې استعمالیږی او ترکنترول لاندې دی، او (۴) کیمیاوز مواد. دوهم څپرکی ، همدارنکه د مخدرو موادو د تنظیم کمېټه چه له یو طبی کارپوه او د درمل پېژندونکی، د ګمرکونو یو کارپوه او د مخدره مواد سره د مبارزې له وزات څخه دوه کسان پکې ګډون لری د مخدرو موادو د ډلبندی چارې تنظیموی.

دریم څِپرکی د جواز د صدور مقرراتو، کښت، تولید، برابرول، سودګری، توزیع، او له هغو بوټو او موادو څخه استفاده چه په دوهم څپرکی کې تشریح شوی دی، ځانګړی شوی دی. پدې ډول مسلو کې د د فعالیت جوازونه د یو کال لپاره ورکول کیږی او هر ډول نوی مجوز د جواز درلودونکی د شخصیت د څرنګوالی او

[79] Jeffery Miron & Jeffery Zwiebel, The Economic Case Against Drug Prohibition, in Robert Kuenne, Readings in Social Welfare (2000)

د هغه مسلکی مهارت سره تړاو لری. د جواز ورکول هغه شخص ته مجاز نه ګڼل کیږی چه د مخدرو موادو اړونده  جرمونو او یا د پیسو تطهیر سره تړاو ولری. د مخدرو موادو د تولید، ساتنې، او یا صادراتو درلودونکی هر شرکت او یا مؤسسه باید هر کال د بوټو او مواود موجودی تر سره کړی. دا موجودی باید په ګدام کې د ټول وروستنی موجود مقدار سره پرتله شی ترڅو دا کار د مخدرو موادو په ګردش او توزیع د څرنګوالی په درک کولو کې مرسته وکړی. دریم څبرکی همداشانې ښیی چه د مخدرو موادو صادرات او واردات د مخدرو موادو د تنظیم کمېټې له لاری په دولتی تجویز پورې تړلی دی.

څلورم څپرکی ددې قانون د جزایی منځپانګې منجمله د جرمونو او مجازاتو د شرح درلودونکی دی. پدې څپرکی د اساسی جرایمو څخه په لاندې ډول یادونه شوې ده: د مخدرو موادو قاچاق، د مخدرو موادو تولید، د مخدرو موادو اړون فساد او پدې کار کې منځګړیتوب، ددې موادو کښت او مصرف.

پنځم څپرکی د مخدره موادو د اړونده جرمونو په هکله قضاوت ته ځانګړی شوی دی. د مخدرو موادو خاص دیوان کوښښ کوی تر څو د مخدرو موادو تر ټولو سخت مواردو ته رسیدګی وشی. دا موارد د مخدرو موادو د اختصاصی څارنوالی چه د لوی څارنوالی په چوکات کې جوړه شوی، تحقیق او عدلی تعقیب کیږی. ددې څارنوالی هر مامور باید د غیر قانونی مخدرو موادو د کشف اوضبط په باره کې رپوټ برابر کړی، اجرایوی اقدامات ثبت او وساتی او اطمینان تر لاسه کړی چه مخدر مواد بیا بازار ته نه واردیږی.

شپږم څبرکی د مخدرو موادو د اړونده جرمونو کشف، تحقیق او تعقیب په هکله احکام رانغاړی. دا مقررات د مؤقت جزایی اجراآتو قانون ځای ناست دی، او د هر وکیل د فعالتی لپاره فوق العاده مهم دی.دا څپرکی له افرادو او مالونو، مراقبت، مخبرانو او پټو عملیاتو څخه د مخدرو موادو قانونی تعقیب ټول اړخونه تنظیموی.

بالآخره اووم او تم څپرکی د مخدرو موادو سره  دمبارز وزارت او د مخدرو موادو سره د مبارزی قانون د پلې کولو په برخه کې د نورو امنیتی مقامتو د چارو تنظیم ته ځاګړی شوی دی.

<u>ځانګړی حکمونه</u>

**د مخدرو موادو پر ضد د مبارزې قانون – ۱۶ (۲) ماده – د مخدرو موادو د قاچاق مجازات**

هغه شخص چه د تریاکو یا د هرډول هغه ترکیب چه ددې مادې لرونکی وی د قاچاق مرتکب شی، د مقدار له په پام کی نیولو سره له احوالو سره سم په لاندې توګه مجازات کیږی:

۱. که چیرې د موادو مقدار له لسو ګرامو څخه لږ وی، تر دریو میاشتو پرې په حبس او له پنځو زرو څخه تر لسو زرو افغانیو پورې په نغدی جزا.

۲. که چېرې د موادو مقدار له لسو ګرامو څخه تر سلو ګرامو پورې وی ، له شپږو میاشتو څخه تر یوه کله پورې په حبس او له لسو زرو څخه تر پنځوس زرو افغانیو پورې په نغدی جزا.

۳. که چېرې د موادو مقدار له سلو څخه تر پنځه سوه ګرامو پورې وی ، له یوه کال څخه تر دریو کلونو پورې په حبس او له پنځوسو زرو څخه تر سلوزرو افغانیو پورې په نغدی جزا.

۴. که چېرې د موادو مقدار له پنځه سوه ګرامه څخه تر یو کیلوګرام پورې وی ، له دریو څخه ترپنځو کلونو پورې په حبس او له سلو زرو څخه تر پنځه سوه زرو افغانیو پورې په نغدی جزا.

۵. که چېرې د موادو مقدار له یو کیلو ګرامه څخه تر پنځو کیلوګرام پورې وی ، له پنځو کلونو څخه تر لسو کلونو پورې په حبس او له پنځه سوو زرو څخه تر یو ملیون افغانیو پورې په نغدی جزا.

۶.که چېرې د موادو مقدار له پنځو کیلو ګرامه څخه تر پنځوسو کیلوګرام پورې وی ، له لسو کلونو څخه ترپنځلسو کلونو پورې په حبس او له اوه سوو زرو څخه تر یو ملیون او پنځو سوو زرو افغانیو پورې په نغدی جزا.

د مخدرو موادو سره د مبارزې قانون احکام، د مخدرو موادو په هکله مهم او غوره قانون دی. په دې ځی کې په لنډ ډول ددې قانون مادو ته اشاره کوو:

۱۶ ماده: د مخدرو موادو قاچاق عبارت دی له تولید، برابرول، توزیع، لګښت، استخراج، تیارول، پروسس، عرضه کول، رانیول، خرڅول، تحویلی، دلای، لیږل، حمل او نقل، واردات، صادرات، پټول، او زیرمه کول د هر هغې مادې چه غیر قانونی او جواز و نه لری. پداسې حال کې چه د تریاکو مجازات چه لاندې یی یادونه شوې، شدید دی، د مخدرو مواد، هرویینو او یا د مخدرو موادو د هرې منع شوی بلې مادې د قاچاق د جرم مجازات له هغه نه هم سخت دی. د مثال په توګه، د هرویینو ۵ یا د نورو مخدرو موادو ۱۰کیلوګرامه چه په بشبړه توګه پروسس شوی وی قاچاق کول، په ابدی حبس منجر کېدای شی.

۱۹ ماده: د مخدرو موادو ممنوعیت پر دې دی چه (۱) هغه شخص چه د ملکیت هر ډول افتتاح وچلوی، اداره او یا کنترول کړی، (۲) جواز و نه لری، (۳) د کښت، تولید، زېرمه کولو، پټولو، توزیع او یا د ممنوعه مواد څخه د عاید د ترلاسه کولو په خاطر، مجازات کېږی. که هر یو ددې عنصرونه څخه د قناعت وړ وی، تورن د ۱۰ – ۲۰ کلونو حبس او ۵۰۰۰۰۰ افغانیو – ۱۰۰۰۰۰۰ افغانیو پوې په نغدی جریمه محکومیږی.

۲۱ ماده :دا ماده د مخدرو موادو اړوند فساد تر پوښښ لاندې نیسی. دا ماده د دولتی مقاماتو او هغو کسانو لپاره چه پر دولتی مقاماتو باندې د اغیز ښندلو په لټه کې دی پیشبینی کوی. ددې قانون پر بنسټ، د عامه خدماتو هر مامور چه رشوت اخلی، اود یوې قضیې په تحقیق کې خلال رامنځ ته کوی، او یا د نورو عامه

خدماتو د مامرینو څخه کوم یو د مخدرو موادو د جرم په تسهیل سره ګواښوی، په جدی توګه مجازات کېږی. د مثال په توګه، د عامه خدماتو هر مامور چه د مخدرو موادو په اړوند بلهې یا رشوت واخلی، مجازات یی له ۵ کلونو تر ۱۰ کلونو حبس دی او دهغه نغدی جریمه هم د اخستل شوی بلهې دوه برابره ده. د عامه خدماتو د یو مامور له خوا ګواښ له ۵ تر ۸ کلون حبس او له ۵۰۰۰۰۰ افغانیو تر ۱۰۰۰۰۰۰ افغانیو نغدی جریمی جزا لری.

د رسمی دندې په جریان کې د یو دولتی مقام ګواښ یا ګوت څنډنې نتیجې په حد اقل ۵ – ۱۰ کلونو حبس او له ۱۰۰۰۰۰ – ۲۰۰۰۰۰۰ افغانیو نغدی جریمه باندی منجر کېږی.که پدې ترڅ کې وګړی متضرر شی، حبس یی له ۱۰ – ۱۵ کلونو او حد اکثر جریمه یی ۳۰۰۰۰۰۰ افغانیو ته لوړیږی.

۲۵ او ۲۶ مادې: دا مادې هم د مخدرو مواد سره د مبارزې په قانون کې تر ټولو مهم ممنوعیتونه بیانوی. په ګډه، هغوی په افغانستان کې د کوکنارو او دانو، کوکا بوش او د بنګو کرل منع کوی. هغه افراد چه دا ډول بوټی روزی، د هغوب په له منځه وړلو مکلف ګڼل کېږی. که چېرې هغوی دې کار ته اقدام و نه کړی، یوازې پدې صورت کې په مجازاتو محکومیږی.

هغه کرونګر چه مخدر مواد او یا کوکابوش له اجازې پرته کری، په حد اقل ۶ میاشتو حبس او ۱۰۰۰۰ افغانیو نغدی جریمیو مجازات کېږی. ( که کبنت له یو جریب چه ۱۹۵۳،۶ متره کېږی کم وی). د هر ۱۰۰ مربع مترو لپاره چه له یو جرېب څخه زیاتیږی، کروند د یوې اضافی میاشت حبس او ۵۰۰۰ افغانیو اضافی جریمې سره مخامخ کېږی. هغه کروندګر چه د بنګو بوټی کری، په ورته مجازاتو محکومیږی سره ددې چه د امجازت یو څه خفیف ترنظره کېږی. همداشانې، ۲۶ ماده تصریح کوی چه ددې محصولاتو ناقانونه کرل، د جبران هیڅ ډول غرامت پرته له منځه وړل کېږی.

۲۷ ماده: د مخدرو موادو سره د مبارزې قانون د مخدرو موادو مصرف یا لګښت هم منع او د مجوز پرته د هغه کارول د مجازاتو وړ ګڼی. د هر ډول مخدرو موادو تصرف منع دی که نه په حد اقل یوه میاشت حبس او ۵۰۰۰ افغانۍ نغدی جریمه باندې محکومیږی. د هېروئینو، مورفینو، کوکایینو یا تریاکو په واک کې لرل، د لا شدیدو مجازاتو وړ له دریو میاشتو تر یوه کال حبس او له ۱۰۰۰۰ افغانیو تر ۵۰۰۰۰ افغانیو نغدی جریمی مستلزم ګڼل کېږی.

همدارنګه دا ماده په مخدرو موادو باندې روږدی شوی کسانو درملنه هم پیشبینی کوی. په واقعیت کې،که د طب یو ډاکتر دا تصدیق کړی چه د مخدرو موادو سره نیول شوی کس پدې موادو رو دی، محکمه واک لری چه نومړی د زندان او نغدی جریمی له مجازاتو څخه معاف کړی. د هغه پر ځای محکمه کولای شی چه تورن کس د درملنې لپاره د معتادینو مرکز ته معرفی کړی. د درملنې پهمرکز کې د تورن کس د رفتار د رپوټ څرنګوالی د پرمختګ پر بنسټ، محکمه کولای شی د حالونو سره سم د تورن کس د حجز او

درملنی موده اوږده او یا لغو کړي. په حبس باندې د محکومیت په صورت کې د درملنې په مرکز کې تېره شوې موده، د تورن کس د حبس په موده کې ګڼل کیږي.

**د مخدرو مواد سره د مبارزې نا تمه شوې پایلې : وروستنۍ موردی مطالعه**



Kuwayama Teru (کینه خوا)، ورونیک د Viguerie / WPN

سید شاه، د خپل عمر زیاته موده  د تریاکو په روزنه باندې تېر کړی دی، هغه ته ورته خلك څو لسیزې کیږي چه د افغانستان په ختیځ کې د ډبرو په غرونو کې او د سوېل د دوړو په خاورینو دښتو کې، پدې کار مشغول دی. دا د نغدې د اعتبار وړ یوازنی محصول دی چه کروندګرو تر اوسه پورې درلود...

کله چه سید شاه ۲۰۰۰ امریکایی ډالر د مخدرو موادو له یو ځایی قاچاقچي څخه واخیستل، [ هغه وعده ورکړې وه] چه قرض یی د تریاکو د حاصل د راټولو په مخت کې په ۲۴ کیلوګرامه تریاکو په ورکړې سره ادا کوی. د حاصل د راټولولو نه کټ محکې، د کوکنارو د له منځه وړلو ټیم د لغمان ولایت پدې کلی کې د کوکنارو په کرل شوې ځمکه کې راڅرګند شو او د سید شاه د کوکنارو کښت یی له منځه یوړ. سید شاه موضوع په لغمان ولایت کې د قبیلې شورا ته عرض کړه او غوښنه یی و کړه چه قاچاقچی ته د پیسو ورکولو په برخه کې نرمښت راولی. ددې غوښتنې پرځای، مشرانو په یوه خوله پرېکړه وکړه چه سید شاه قاچاقچی ته د پیسو په بېرته ورکولو باندې مجبوردی [قاچاقچی ته د خپلې ۹ کلنې لور په واده کولو سره].

[دا بهییر په نورو سیمو کې هم څرګند دی] د ننګرهار په ولایت کې له ۲۲ ولسوالیو څخه ... کابو نیم نوی وادونه د تریاکو د پورونو د بېرته اداکولو له لارې تر سره شوی دی. د نویو ناویو په منځ کې آن چه ۵ کلنې ماشومانې هم شته؛ تر څو چه هغوی د واده کولو عمر ته رسیږي، ډېری یی د کورنی خدمتګار په توګه د خسرګنی د خپلوانو چوپړ کوی". [80]

---

[80] Sami Yousafzai and Ron Moreau, The Opium Brides of Afghanistan, Newsweek (April 7, 2008), *available at* http://www.newsweek.com/id/129577.

**د مباحثې پوښتنې**

۱.دولت د ″ د ترياکو د ناويو″ د مخنيوی په برخه کې څه کولای شی؟ آيا د اجرا وړ هڅې بايد په توليد کوونکو او يا په لېږدوونکو باندې متمرکز شی؟ څرنګه سوچه قانونی هڅې په خاصه توګه د ″ قاچاق″ څخه د پراخه منل شوی تعريف ته په پام سره ښه يا بد کېدای شی؟

۲.آيا دولت بايد د محصولاتو د تخريب په خاطر، کروندګرو ته د خراب شوو کوکنارو د جبران پيسې ورکړی؟ ولې هو؟ ولې نه؟

## 3. د تروريزم تمويل

د يوې لسيزې په اوږدو کې د ۲۶۰۰۰ ځانی تلفاتو وروسته، د شوروی نظامی قطعاتو روحيه کمزورې شوه او په ۱۹۸۹ کال کې له افغانستان څخه په شا شول. د قطعاتو ستنېدلو په ټول هېواد کې د قدرت يوه تشه رامنځ ته کړه، د مجاهدين د مختلفو سيالو ډلو ترمنځ شديدې جګړې پيل شوی او له هغه وروسته، په ۱۹۹۴ کال کې د طالبانو تحريک منځ ته راغی. په پيل کې له جګړو څخه ستړی شوو وګړو د سولې او ټيکاو يا ثبات لپاره د طالبانو ژمنو ته هرکلی ووايه. خو د طالبانو د حکومت واقعيت د پايښت وړ ټيکاو او سولې څخه ليرې وو. د اسلام څخه د محدود تفسير په وحشيانه توګه تر اجرا لاندې ونيول شواو تروريستی ښوونه او روزنه تمويل او وهڅول شوه.

د طالبانو راڅرګندېدل او په هېواد کې د راديکال اسلام پالو اسامه بن لادن ته اجازه ورکړه ترڅو ددې هېواد څخه په آزاد ډول يو لړ تروريستی عمليات، له هغه جملې په ۱۹۹۸ کال کې په کېنيا او تانزانيا کې د امريکی د متحده ايالتونو په سفارتخانو کې بمب چاودنې، د ۲۰۰۰ کال اکتوبر په يو اس اس کول سمندری بېړۍ بريد، او په نيويارک او واشنګټن ډی سی کې د ۲۰۰۱ کا دسپتمبر بريدونو لار ښوونه وکړی. په افغانستان کې د امن پټن ځايونو هم اسامه بن لادن او د هغه پيروانو ته اجازه ورکړه ترڅو جهادی سازمانونه په ټوله نړۍ کې تمويل او ملاتړ کړی، له هرو دواړو لورو يعنې د مالی سرچينو تمويل او د اسلامی جنګيالو ښوونه او روزنه.

واقعی تروريستی بريدونه په پرته ايزه توګه په کم لګښت سره تر سره شوی. ددې ټولو ډير ګران بريد د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر ۱۱ بريدونه وو چه ۵۰۰۰۰۰ امريکايی ډالره لګښت يی درلود. پدې ترڅ کې، نړيوال تروريستی عمليات لکه هغه چه مخکې په افغانستان کې ترسره کېدل، د پام وړ سرچينو ته اړتيا درلوده. په واقعيت کې، په هره اندازه چه د ترور شبکې د وسعت له نظره پراختيا مومی، د پايګاوو او ښوونې اډو د ګمارنې لپاره لازمه بودجه، تجهيزات، چاودېدونکی مواد او عادی وسلې، بدل هويت او د سفر مدارک، د استخباراتی اطلاعاتو راټولول، د سازمانی واحدونو ترمنځ ارتباطات، رشوت ورکول او د تروريستانو او د دوی

کورنیو د پاینښت لپاره مصارف هم په سفر او هم په حضر او مرګ په صورت کې اړتیا ده. همداشنی، تروریزم په زیاتېدونکې توګه د بهرنیو موخو په خلاف د لمسون په خاطر د رسنیو عملیاتو له هغه جملی تلویزیون، رادیو، چاپ، انټرنت، او ویدیویی ثبت لپاره پیسو ته اړتیا لری.[81]

طالبان او د هغوی رادیکال میلمانه ددې مرستو ډېره برخه له دواړو سرچینو بهرنی او یا غیر قانونی څخه تر لاس کول. مثال، په ۱۹۹۷ کال کې پاکستان په هره میاشت کې ۶ ملیونه ډالره د طالبانو د لوړپوړو چارواکو د معاشونو، او ۳۰ ملیونه په ۱۹۹۸ [82] کال کې د روغنیاتو، خورای توکو، مهماتو، نظامی تجهیزاتو او پرزه جاتو په خاطر مرسته کوله. پنبې او د مخدرو موادو قاچاق اضافی ۷۵ امریکایی ډالره په ۱۹۹۷ کال کې د طالبانو لپاره عاید درلود، او همدارنګه طالبانو د مخدرو موادو د لېږد په امله د هرې لارۍ محمولی ۲۰٪ مالیه وضع کوله. آن سعودی عربستان د اسامه بن لادن " دښمن "، د طالبانو رژیم په رسمی توګه په رسمیت وپېژاند او له زکات (د بې وزلو لپاره صدقه) سلفی لارو د بهرنیو مرستو په توګه ګټه اخیستله. د بهرنیو مرستو پردې سرچینو سربېره، پخپله اسامه بن لادن او طالبانو هم په افغانستان او منځنی ختیځ کې له بډایو افرادو څخه مرستې راټولولې.

پداسې حال کې چه په افغانستان کې تروریستی عملیات د ۲۰۰۱ کال مخکې نه کم شوی دی، په افغانستان کې وسله والې ملېشی د افغانستان په حکومت، د امریکې متحده ایالاتو تر مشر تابه لاندې د امنیت سره په بین المللی مرستندوی ځواکونو (ISAF) او نورو کورنیو موخو باندی د برید د دوام په خاطر خپل ډل بندی نوی کړی. همدارنګه بهرنی مالی مرستې او د مخدرو موادو سوداګری د تروریزم لپاره د بودجې د برابرولو لپاره دوام لری او په نتیجه کې د افغانستان – پاکستان پولې ته څېرمه د تروریستانو د ښوونې روزنې اډې بیا فعال شوی دی. اوس مهال پیاوړې شوې او د تمویل کوونکو سازمانونو له کنترول پرته شبکه د تروریزم یو نوی مالی بنسټ په توګه عمل کوی.

## د مالی تمویل خلاف هڅې

له ۲۰۰۱ کال څه راپدېخوا بین المللی هڅې د تروریستانو د مالی تمویل د درلو په خاطر په پام وړ سره زیاتی شوی دی. د ملګرو ملتو د امنیت شورا د یوه پرېکړه لیك له لارې له هېوادونو څخه غواړی تر څو د تروریزم د مالی تمویل د درولو لپاره پراخ ګامونه پورته کړی.د مالی اقدام ضربتی ډله چه یو بین دولتی بنسټ دی، وروسته د سپارښتنی ستراتېژی لیست وړاندې کوی چه د حکومتی فعالیت بنسټ جوړوی. دا ستراتیژی ګانې د هغو قوانینو له وضع کولو څخه عبارت دی چه د تروریستانو مالی تمویل جرم ګڼې، د مشکوکو معاملاتود مالی مؤسساتو د راپور موجودیت، د ترور د تمویل کوونکو د شربنې لټولو په هکله د بین المللی همکاریو زیاتوالی او د تروریزم د تمویل په هکله د ملګرو ملتو د کنوانسیون تصویبول.

---

[81] Rachel Ehrenfeld, Funding Evil: How Terrorism is Financed – and How to Stop It (Bonus Books, 2005).
[82] Thomas Johnson, Financing Afghan Terrorism, in Jeanne Giraldo and Harold Trinkunas (eds.), *Terrorism Financing and State Responses* (Stanford University Press, 2007).

په عمل کې، دا هڅې د ۲۰۰۶ کال تر جنوری پورې په ۳۴ ولایتونو کې حد اقل د ۹۳،۴ ملیون امریکایی ډالرو شتمنیو په تړلو منجر شوی دی. د پیسو بین المللی صندوق په ۴۰ هېوادونو کې د تروریستانو د مالی تمویل د سره د مبارزې د ظرفیتونو په هکله ارزونه تر سره کړې ده، او ۲۰۰ دوه اړخیز تخنیکی ماموریتونه یی ددې کار لپاره تر سره کړی دی. همدارنګه نړیوال بانک د تروریزم خلاف د مالی تمویل ستاندارډونو سره د سمون ارزونه تر سره کړې ده او د مخ پر ودې ټولو هېوادونو او سیمو سره یی تخنیکی مرسته کړې ده.[83]

دا هڅې د مهمو ننګونو سره مخامخ شوی دی. تروریستی شبکې د هغوی د فعالیت د ګړندیتوب د راکمولو لپاره د حکومت له هڅو څخه خبرتیا لری او دهغه سره متناسب ځانونه عیاروی. تروریستان په افغانستان او نورو ځایونو کې په زیاتېدونکی ډول په قاچاق او درغلۍ تکیه کوی تر څو داسې عاید تر لاسه کړی چه په رسمی سیستم کې د هغه لټون ستونزمن کیږی. همداشانې تروریستان پر نغدو پیسو او د لټون وړ هر ډول کاغذی سندونو په له منځه وړلو باندې تکیه کوی. د لوړ عمل وړ روڼ یا شفاف اقتصاد پرته، د مالی/سوداګریز سکتور رسمی او غیررسمی تنظیم او اداره په ځانګړی ډول پېچلې ده.

| **په افغانستان کې د تروریزم د تمویل غوره سرچینې** |
|---|
| بهرنی هېوادونه |
| خیریه سازمانونه |
| مشروع کسب او کار چه دغړو لپاره کار پیداکوی، اضافی عاید رامنځ ته کوی او د پیسو د تطهیر لپاره د لېږد دو سیلې په توګه عمل کوی |
| د مالونو د نامنظمو بازارونو څخه ګټه پورته کول |
| د مخدرو موادو په خاص ډول تریاکو او هیروئنو قاچاق |
| د پیسو تطهیر |
| غصب |
| قاچاق |

[83] UN Action to Counter Terrorism, *available at* http://www.un.org/terrorism/makingadifference.shtml.

اختطاف

## قانون

د تروریزم د تمویل پر خلاف د مبارزې قانون په ۲۰۰۴ کال کې تصویب شو. دا قانون د اساسی قانون د ۷ مادې د حکم سره سم تصویب شو. د اساسی په یاده شوی ماده کې راغلی دی: ″ دولت د هر راز تروریستی اعمالو... مخنیوی کوی″. دا قانون د رسمې جریدې په ۸۳۹گڼه کې خپور او شپږ څپرکی او ۳۴ مادې لری.

د ا قانون د تروریزم سره د مبارزی او له مالی ملاتړو څخه د تروریستانو د بې برخې کولو په موخه تدوین شوی دی. د تروریزم په جرم گڼلو سره د افغانستان دولت کولای شی هغوی چه په مستقیم ډول په تروریستی فعالیتونو کې ښکېل دی او هغوی چه ددې فعالیتون سره مرسته کوی تر قانونی پلټنې لاندې ونیسی.

ددې قانون ۳ (۱) ماده د تروریزم تمویل واقعی جرم داسې تعریفوی: ″ شخص هغه وخت د تروریزم د تمویل د جرم مرتکب گڼل کیږی چه وجوه او شتمنی په مستقیمه یا غیر مستقیمه توگه، عمداً او په غیر قانونی صورت سره برابری او راټولې یا یی د برابرولو او راټولو هڅه وکړی یا وجوه او شتمنۍ او نور خدمتونه پدې باندې په پوهېدو سره چه قسماً یا کلاً به لاندې ډول یادوشویو فعالیتونو کې تر گټې لاندې نیول کیږی، برابرې او راټولې کړی یایی د برابرولو او راټولولو هڅه وکړی ″.

مهمه ده په یاد ولرو چه پدې هر یوه فعالیت کې گډون کول د جرم سره د معاونت په توگه، هم جرم گڼل کیږی، لکه د سازمان ورکولو، لارښوونې او یا ددې غیر قانونی اعمالو د ارتکاب لپاره د انگېزې په برخه کې مرسته. ۳ ماده همدا شانې روښانه کوی چه هېڅ ډول سیاسی، ایدیولوژیکه، نژادی، قومی یا مذهبی توضیح نشی کولای د یو تروریستی اقدام ارتکاب یا ملتړ توجیه کاندی.

که یو فرد د تروریزم په تمویل باندې مجرم و پېژندل شی، له پنځو تر پنځلسو کلونو د حبس په مجازاتو او ۲۵۰۰۰۰ افغانیو تر ۱۵۰۰۰۰۰ افغانیو پورې نغدی جریمه باندې محکومیږی. گډون کوونکی، مرسته کوونکی او د آسانتیاوو برابرونکی، په عین مجازاتو باندې محکومیږی (۴ ماده). کله چه د تروریزم د تمویل مجرم وکیل یا د حکمی شخصیت استازی وی، پدې حالت کې حکمی شخصیت له یونیم تر څلورنیم میلیون افغانیو پوری په نغدی جریمه مجازت کیږی. همداشانې ممکنه ده حکمی شخصیت په دایمی توگه د کسب او کار د ټاکلو ډولونو له فعالیت څخه منع، په دایمی ډول وتړل او یا منحل شی او د هغه په اړه حکم د عامه رسنیو له لاری نشر شی (۵ (۴) ماده).

پردې تنبېهي مجازات سربېره، د تمویل کوونکي وجوه او مالونه مصادره کېږي: (۱) کله چه هغه د تروریستي اعمالو لپاره تر استفادې لاندې نیول کېږي او یا ددې منظر لپاره بېل شوي وي، (۲) کله چه هغه د جرمي عوایدو څخه لاس ته راغلي وي یا له هغو څخه مشتق شوي وي او یا د هغو له تبادلې څخه تر لاسه شوي وي، (۳) که چیرې هغه دریم شخص ته لیږدول شوي وي مګر داچه نوی خاوند دا ثابت کړي چه ددې وجوه او شتمنۍ په مقابل کې یې د هغه معادل قیمت ورکړی دی، (۴) کله چه هغه د مشروع وجوه یا مالونوسره ګډ شوي وي، نه داچې د جرم خخه د حاصل شوي شتمنۍ سره. په هغه حالت کې چه هغه شتمني چه د مصادرې حکم یې صادر شوی دی د ترلاسه کېدو نه وي، د هغه معادلې وجوه او شتمني د مصادرې حکم صادرېږي، که چېرې دا شتمني په محکوم شوي شخص او یا د هغه په جوړې (همسر) او یا د هغوی په اولادونو پورې تړلې وي (۸ ماده). په همدې ترتیب د افغانستان ولسمشر کولای شي د تروریزم تمویل کوونکو افراد او سازمانونو د وجوه او مالونو د کنګل کولو امر صادر کړي (۱۳ماده).

| |
|---|
| **د تروریزم د تمویل پر خلاف د مبارزې قانون – ۱۷ ماده – د افغانستان د محکمو د واک حوزه** |
| ددې قانون حکمونه د هغه په دریمه ماده کې پر درج شوو جرمونو باندې په لاندې حالاتو کې د تطبیق وړ دي. |
| جرم د افغانستان د دولت په قلمرو کې ارتکاب شوی وي |
| جرم په هغه بېړۍ کې چه د افغانستان د دولت د بیرغ لیږدوونکې وي یا په هغه الوتکه کې چه د جرم له وقوع څخه د مخه د هېواد د نافذو قوانینو مطابق ثبت او راجستر شوې وي، ارتکاب شي. |
| جرم د افغانستان د تبعه له خوا ارتکاب شوی وي |
| جرم د افغانستان له قلمرو څخه بهر د هعه بهرنی شخص په و اسطه ارتکاب شوی وي چه اوس اوس (فعلاً) په هېواد کې موجود وي او د افغانستان دولت، غوښتونکی دولت د هغه له بېرته ورکولو سره موافق نه وي. |
| جرم د افغانستان د دولت د تبعه پر خلاف ارتکاب شوی وي |
| جرم د افغانستان د دولت په ودانۍ یا د ودانۍ پر خلاف ارتکاب شوی وي چه د هغه له جغرافیایي محدودې څخه بهر واقع ده، |
| هغه عمل چه د دې قانون د دریمې مادې د (۱) فقرې په (۱،۲) جزء کې له درج شوو جرایمو څخه د یوه د ارتکاب په منظور د یوه عمل د اجراء یا نه اجراء لپاره د افغانستان د دولت د اړ ایستلو په نیت صورت موندلی وي. |

جرم د افغانستان د دولت په قلمرو کې له تابعیت پرته د استوګن شخص له خوا ارتکاب شوی وی.

د افغانستان د دولت ستره محکمه، د هېواد له جغرافیایی محدودی څخه بهر د ارتکاب شوو جرمونو د غورونی په منظور، ځانګړې محکمه جوړوی.

د تروریستانو د تمویل د درولو په خاطر د کورنیو کوښښونو اړوند مقرراتو سربېره دا قانون افغانستان د تروریستانو د تمویل خلاف د نورو هېوادونو سره په همکاری کې مکلف بولی. د افغانستان حکومت موافقه کړې ده تر څو د شواهدو په راټولولو، د افرادو د نیولو او قضایی مقاماتو ته د هغوی د سپارلو ، د افرادو تعقیب او نیولو او د جرم د اثبات اړونده معلوماتو او مدرکونو د وړاندې کولو په برخه کې مرسته وکړی (۲۱ ماده). د افغانستان دولت نشی کولای د همکاری غوښتنه رد کړی مګر دا چه په غوښتنه کې ځانګړې نیمګړتیاوی شتون ولری یا د تور موضوع د محکمې تر کتنې لاندې قرار لری. آن د بانکې محرمیت د درخواست د ردولو لپاره لازمه زمینه نه تشکیلوی(۲۲ماده).

## 4. د پیسو تطهیر

د تروریزم تمویل خلاف قانون ته نژدې سند، د پیسو د تطهیر او له جرمونو څخه د راپیداشوو عوایدو پر خلاف د مبارزې قانون دی چه په ۲۰۰۴ کال کې تصویب او د رسمی جریدې په ۸۴۰ ګڼه کې خپور شو: ددې قانون موخه یا هدف د هغه په لومړی ماده کې داسې راغې ده ″ دغه قانون د پیسو د تطهیر او د تروریزم د تویل په غرض د مالی مؤسسو یا هر اقتصادی فعالیت د استعمال د مخنیوی او بندولو په منظور وضع شوی دی ″.

د پیسو تطهیر، د پیسو پېتول دی چه د مجرمانه فعالیت څخه په لاس راځی. په ټولیزه توګه، د پیسو تطهیر یو بهیر دی چه د هغه له طریقه یو شخص د ناقانونه سرچینې موجودیت او یا له عاید څخه ناقانونه استفاده پټه او عاید مشروع وښیی. په ساده عبارت، دا د ناپاکو ( ناقانون) پیسو بهیر پاك (قانونی) وښیی او له همدې امله هغو ته د ″ تطهییر″ اصطلاح کارول کیږی. همداشانې د پیسو تطهییر کولای شی دهغه ا ړوند سازمان یا ادارې مجرمان د پایښت وړ نغدی جریان او پانګه اچونه تأمین کړی. د بریالیتوب په حالت کې، مجرمان کولای شی له مجرمانه فعالیتونو څخه واټن ونیسی، د نیولو د وخت، د پیسو له مصادرې او خپلې پانګې ته د پام جلبولو څخه مخنیوی وکړی.

د لوست تمرکز

"په ټوله نړۍ کې د پیسو له تطهیر څخه د څو ملیارد ډالرو په حدودو کې پیسې، هېوادونو ته په دواړو هم کوچنۍ او هم لویه کچه اقتصاد ته ګواښ متوجه کړی دی. هغه فوق العاده شتمنی چه د پیسو د تطهیر له لارې یې مشروعیت پیدا کوی، جنایی سازمانونو ته اجازه ورکوی ترڅو د اقتصادی قدرات یوه زیاته اندازه په عادلانه شکل او چټکی سره لاس ته راوړی. مخکښ شرکتونه ... د پیسو د تطهیر مسلطې وسیلې دی چه نژدې ټولې جرمی ډلې له هغو څخه ګټه اخلی. له کوم ځایه چه د مخدرو موادو او نورو جرمی سازمانونو زیاتره پدې کار او کسب کې پانګه اچوی، د یو هېواد په مشروع اقتصاد د هغوی ونډه او رول وده کوی، لکه هغه اقتصادی، ټولنیز، سیاسی نفوذ چه لویې جنایی ډلې له هغه څخه برخمن دی". [84]

د پیسو تطهیر یو پرمخ تلونکی بهیر او د دریو پړاوونو درلودونکی دی: (۱) ځای په ځای کول یعنی له واقعی جرم څخه د پیسو او مالونو لیرې کول، (۲) اغواګری، یعنی د پیسو د آثارو داسې پټول چه هر ډول تحقیق ورو او یا له منځه یوسی، (۳) ادغام یا همګرایی، یعنې د سرچېنی د ښودلو پرته د په قانونی اقتصاد کې د مجرمانو او د هغوی متحدینو ته پیسې د لاس رسی وړ کول. د پیسو تطهیر په ختلفو طریقو منجمله له مالی سیستم څخه استفاده کول ، د نغدو صندوقونو/قاچاقچیانو پواسطه د بانک نوټونو لیږدول، او د داسې لارو چارو پواسطه لکه ساختګی سندونو او د سوداګری مالونو او خدماتو د اعلام له لاری د ارزښتونو لیږد صورت مومی.

پداسې حال کې چه د پیسو تطهیر د تروریزم په تمویل پورې تړلی او د هغه سره په تعامل کې قرار لری، هغه یو تر بله دوه متفاوت مفهومونه دی. د تروریستانو تمویل، څرنګه چه مخکې پرې بحث وشو، د تروریزم څخه د ملاتړ ټولې بڼې په بر کې نیسی. د پیسو د تطهیر خلاف، هغه پیسې چه تروریستان او هغوی حمایت کوی، کېدای شی پخپله سرچینه کې مشروع وی. خو د پیسو د تطهیر په شان، د تروریستان د تمویل شبکه د سرچینې د مخفی کولو او له پیسو او مالونو څخه د وروستنی ګټې اخیستنې لپاره کار کوی.

د پیسو د تطهیر قوانین د څو مختلفو موخو لکه د بانکولی په سیستم کې پخپل نفس باندې اعتماد، په نورو جرمونو لکه تروریزم کې د یولاس کېدو د شکل له منځه وړل، د لوړې کچې پر مجرمانو باندې د مجازاتو تحمیلول، د جرم د مالی سرچینو قطع کول، او له فساد څخه د کارپوهانو (حقوق پوهانو، بانکدارانو او حسابدارانو) لیرې ساتل درلودونکی دی.

پداسې حال کې چه په ظاهر کې یی خپله موخه د مخدرو موادو قاچاق او تروریزم ښیی، د پیسو د تطهیر قانون د لا پراخه ساحې درلودونکی دی او هر هغه فرد چه له ناقانونه فعالیتونو څخه حاصل شوی پیسې او مالونه پټ، د شکل تغییر، انتقال او یا هغه له هېوادڅخه خارج او یا وارد کړیتر خپل پوښښ لاندی نیسی. د پیسو تطهیر د بهیر د ښه درک لپاره لاندې ګرافیکی توضیح مطالعه کړی.

---

[84]. Dr. R. E. Bell, Prosecuting the Money Launderers who Act for Organized Crime, 2.

## د پیسو تطهیر : ګرافیکی توضیح[85]




**ستونزه**

د حوالې د سیستم په دلیل (د پیسو غیر رسمی لیږد) د پیسو تطهیر په ځانګړې توګه په افغانستان کې رنځ لرونکی دی. حواله له دودیزې بانکولی بیرون او موازی کانال دی چه په هغه کې شخصی اړیکی د رسمی مالی بنسټونو له لارې او د هغوی مسلکی مهارتونو پرته او سپوا د پیسو مبادله آسانوی.

---

[85] Zafar Gondal, Handbook on Economic and Financial Crimes, IDLO.

دا سیستم د نافانونه پیسو د تطهیر لپاره هم د یوی خوځنده وسیلې او همدارنګه د یو بې خطره سیستم چه له هغه طریق په بهر کې خپلوان کولای شی په داخل کې افغانانو ته پیسې ولیږدوی. خدمت کوی. د دوو سرچینو زیاتره ډېر پېچلی وی. د پراختیا سازمانونه د ناقانونه انتقالاتو سره د خپلې پانګې د ګډېدو د مخنیوی لپاره د حوالې په سیستم کې ډېر دقت کوی.[86]

د حوالې سیستم پر پېچلتیا سربېره، د مالی سیستم په نړیوال کېدو سره د پیسو د تطهیر سره د مبارزې هڅې کمی شوی دی. تروریستان او د سازمان شوو جرمونو سندیکاوی په ډېرو هېوادونو کې د تګ او راتګ له لارې مالی سیستمونو ته لاس رسی پیداکولی شی. د نتیجې په توګه، د پیسو د تطهیر سره د مبارزې لپاره د افغانستان هڅې کولای شی په تبعی قوانینو کې په شتو نیمګړتیاوو سره په نورو قضایی حوزو کې کمزوری کړی.

د مختلفو سنجونو پر بنسټ، په ۲۰۰۱ کال کې په ټوله نړۍ کې د تطهیر شوو پیسو اندازه له ۵۰۰ ملیارد امریکایی دالرو څخه تر ۱،۵ تریلیون امریکایی دالرو پورې اټکل کېږی چه د هغه زیات مبلغ د مخدرو موادو د ناقانونه سوداګری څخه وه.[87] په هماغه کال، د مخدرو موادو څخه ۷۰٪ په افغانستان کې تولید شوی وو. سر بېره پردې افغانستان، ایران او عراق په ۲۰۰۱ کال کې د پیسو د تطهیر خلاف هیڅ مقررات نه درلودل پداسې حال کې چه سعودی عربستان او پاکستان پدی اړوند د مقرراتو درلودل که څه هم چه نیمګړی وو. په نتیجه کې جرمی عملیات او تروریستی سازمانونه د هغو مالونو د تطهیر لپاره چه په ناقانون توګه یی لاس ته راوړی دی، د بانکې آسانتیاوو په لاس ته راوړلو کې د لږو ستونزو سره مواجه وو.

اوس په افغانستان کې د پیسو د تطهیر سره د مبارزی قانون تصویب شوی او د هغو مالونو د خوځښت په مخنیوې کې چه ناقانونه لارې لاس ته راغلی، د نورو هېوادونو سره نژدې همکاری شته، لاهم اجرایوی هڅې د جدی ننګونو سره مخامخ دی. په واقعیت کې، د تطهیر هلې ځلې په کافی اندازه مهارت لری تر څو د مالی تحقیقاتو اړوند مهارتونه د ناکامی سره مخامخ له منځه یوسی کړی او د اثبات شواهد په هر هغه قضایی حوزه کې چه پیسې په حرکت کې دی. پردې سربېره، د پیسو د تطهیر او نورو اقتصادی جرمونو په هکله د رپوټ ورکولو میزان په پام وړ توګه له نورو جرمونو څخه په ټیټه کچه کې قرار لری.

## د پیسو تطهیر خلاف بین المللی هڅې

د پیسو د تطهیر سره د مبارزې قانون په افغانستان کې د پیسو د تطهیر خلاف قوانینو یو هر اړخیز جامع ویب پاڼې د جوړولپاره د پراخو بین المللی اقداماتو یوازې یوه برخه ده. د مثال په توګه، د ملګرو ملتو سازمان د

[86] Patrick Jost and Harjit Singh Sandu, The Hawala Alternative Remittance System and its Role in Money Laundering (Interpol General Secretariat, 2000).
[87] Jermyn Brooks, Terrorism, Organized Crime, Money Laundering, International Herald Tribune (30 October 2001).

پیسو د تطهیر خلاف نړیوال پروګرام سره (GPAM) چه دفتر یې په ویانا کې دی د کوښښونو د همغږی کولو او د پیسو د تطهیر اړونده فعالیتونو د درولو لپاره کار کوی.

د پیسو تطهیر خلاف نورې بین المللی موافقتنامی عبارت دی له : (۱) د ۱۹۸۸ کال د ویانا کنوانسیون چه ستانداردونو متقابل حقوقی مرستې، د پیسو تطهیر خلاف او د مخدره موادو د قاچاق ضد قوانین وضع کوی، (۲) د بانکی مقرراتو او څارنیز عملکر په هکله د بازل کمیټه، (۳) د مالی بین المللی اقداماتو ضربتی ځواک د ۱۹۹۰ کال سپارښتنې، (۴) د پیسو د تطهیر په هکله د اروپا اتحادیی لارښود، او (۵) د پالمرو کنوانسیون چه اجازه ورکوی تر څو ټول جدی جرمی فعالیتونه د پیسو د تطهیر جرم د منشاء په توګه خدمت کوی.

پداسې حال کې چه بین المللی توافقنامې د اړونده قانون د مسودې د برابرولو په برخه کې لارښوونه کوی، هغوی همداشانې تر یوې اندازې پر هېوادونو باندې " ټولنیز" فشار ښندی تر څو د بین المللی منل شوو ستانداردونو سره اړخ ولګوی او د هغو هېوادونوخلاف رسمی تحریمونه وضع شی چه د پیسو د تطهیر سره په مبارزه کې د حد اقل ستانداردونو په وضع کولو کې یی لازمه پاملرنه نه ده کړی. هغه هېوادونه چه د حد اقل ستانداردونو په رامنځ ته کولو باندې قادر نه دی، د خپلو مرکزونو لپاره جواز نه شی تر لاس کولای پدې دلیل چه هغوی د بین المللی کسب او کار لپاره مناسب شریکان نه دی.

## قانون

هغسې چه مخکې یی یادونه وشوه، یو فرد هغه وخت د پیسو تطهیر په جرم تورن بلل کیږی چه وجوه او شتمنۍ پدې باندې له پوهېدو سره سره چه د جرم له ارتکاب څخه لاس ته راغلې، پټې کړی، شکل ته یی تغییر ورکړی ، تسعیر انتقال او یا یی له هېواد څخه بهر یا وارد کړی (۳ ماده). له ټولو مهم دا چه قانون له څارنوال څخه نه غواړی تر څو خپله اراده د پراختیا ورکولو، پټولو او یا رپوټ ورکونې له مطالباتو څخه د صرف نظر کولو لپاره په نمایش کیږدی. بیا هم، هغه باید دا وښیی چه تورن د شتمنیی له غیر قانونیت څخه خبر درلود او واقعیت کې پیسې د ناقانون ټاکلو فعالیتونو څخه په لاس راغلې دی. د قانون دریمه ماده اجازه ورکوی تر څو له عینی واقعی شرایطو څخه د باور وړ معلومات استنباط شی.

دا قانون د خاصو مؤسساتو او کسبونو په هکله د تطبیق وړ دی، چه عبارت دی له: (۱) ملی بنسټونه د غیر مقیمو مؤسساتو په شمول، (۲) د افغانهستان بانک، (۳) افراد او بنسټونه چه د طلا، قیمتی فلزاتو او کریمه احجارو په په پېرودلو او پلورلوبوخت دی په هغه صورت کې چه د معلاماتو نغدی حجم یی له یوملیون افغانیو څخه زیات وی، (۴) حقوق پوه، د معاملو د لارښوونې خاوند، د حقوقو نور مسلکی اشخاص او یا محاسب، (۵) د غیر منقولو املاکو د معاملو لارښوونکی، او (۶) نور هغه مراجع او فعالیتونه چه د افغانستان بانك په مقرراتو کې اټکل شوی دی (۴ ماده).

د پیسو د انتقال څارنې لپاره، د پیسو د تطیر  سره د مبارزې قانون ددې غوښتونکی دی چه دا کار باید د یو لړ ټاکلو شرایط په مراعات سره تر سره شی. لومړی، د یو ملیون افغانیو څخه زیات هر ډول لیږدونه بای د مالی مجازو مؤسساتو پواسطه تر سره شی. د پیسو د لیږد اړونده اداره باید لازم معلومات برابر کړی تر څو ټول اړوندان او حکومت د پیسو د سر]ینې په هکله معلومات تر لاسه کړی (۵ ماده).

دوهم، هغه شخص چه له افغانستان څخه تر یو ملیون افغانیو زیات خارج او یا داخل کړیو باید د موضوع په هکله د پولیسو مامور، د ګمرک مامور او د مالی استخباراتو د واحد هر یو مامور چه وی، په کتبی توګه راپور ورکړی. غیر له دې، لیږدوونکی شخص د ترلاسه شوو پیسو په اندازه نقدی جریمه محکومیږی. هغه شخص چه کښتی یا الوتکی ته د ننوتلو یا را و تلو، یا افغانستان ته د ننوتلو یا وتلو په لټه کې وی، واکمن شخص کولای شی اړونده شخص تلاشی کړی او د پیسو د تطهیر هر ډول شواهد ضبط کړی (۶ ماده).

د افرادوپه شان، مالی مؤسسې هم باید معین مکلفیتونه مراعات کړی. دا مکلفیتونه د مالی استخباراتو واحد سره د پیسو په تطهیر کې شکمنو مشتریانو د هویت په تثبیت کې مرسته کول دی ( د تروریزم په اړوند له یو میلیون افغانیو زیاتې تر شک لاندې راځی او د مشتری د هویت د تثبیت به هکله پوښتنې راپورته کوی).له هر ډول مستعارو اسعاری حسابونو څخه ډډه، او د معاملې سوابق حد اقل د راتلونکو پنځو کلونو لپاره ساتل کیږی (۸ — ۱۶ مادې).

تورن فرد، د پیسو تطهیر په جرم له ۲ تر ۵  کلونو حبس او له ۵۰۰۰۰ — ۲۵۰۰۰۰ افغانیو نغدی جزا باندې محکومیږی. د پیسو تطهیر لپاره غیر موفقانه هڅې د پیسو د تطهیر عمل په مجازاتو محکومیږی. د پیسو په جرم محکوم حکمی اشخاص  د ۲۵۰۰۰۰ تر ۱،۲۵ ملیون افغانیو جریمه باندې محکومیږی او همدارنګه کولای شی د کسب او کار ځینو فعالیتونو د ترسره کولو څخه تر پنځو کلونو پورې د یوې ټاکلې دورې لپاره منع  اعلان کړی، منحل یی کړی او یا د محکمې د حکم نشرولو ته اړ ایستل شی (۴۶ — ۵۰ مادې).
که د پیسو د تطهیرجرم د تروریستی سازمان د یو غړی پواسطه او یا هر یو بل جنایی سازمان ارتکاب شوی وی، مجازات له ۵ تر۱۴ کلونو حبس او د نغدی جریمې له ۵۰۰۰۰۰ تر ۲ افغانیو لوړېدلی شی (۴۶ — ۵۰ مادې).

## د مباحثې پوښتنې

۱.آیا د پیسو د تطهیر سره د مبارزې قانون پر عادی وګړو اغیزه لری؟

۲.د پیسو د تطهیر قربانی کوم کسان دی؟ آیا دا یوازې کافی ده چه د جرم عاملان له خپلو مالی سر]ینو څخه لیرې یا جدا شی؟

۳.د ۴ مادې احکامو پر اساس د بنسټونو او کسبونو محدودولو له مخې آیا دا قانون اصلاح کولو ته اړتیا لري؟ آیا لازم دی تر څو دا قانون یوازې پر ″ آسانوونکو″ نه ″ فعال ″ جنایتکارانو″ باندې تطبیق شی؟

۴.آیا تاسو له هغو جرایمو څخه چه د جزایی قوانینو پواسطه د طالبانو له دورې وروسته رېیدګی شوی وی، کومه بېلګه وینی؟ ولې دا قوانین نافذ شول؟ آیا د جزا قانون دا ډول جرمونو د رسیدګی لپاره کافی وو؟

## دریم برخه: وروستنی کتنې – مدافع وکیلان

ددې ټول څېړکی په اوږدو کې، موږ داسې قوانین بررسی کړل چه د محاکماتی بهیر خوندی او عامه امنیت ساتلو لپاره کارول کېږی. په عین حال کې مهم دی په یاد ولرو چه تورن کسان هم د مدافع وکیل او د څارنووال د تور سره د مقابلې حق لری. له محکومیت څخه د ډډې کولو لومړنی وسیله، د مدافع وکیل د هلو ځلو له لارې ممکن دی. په افغانستان کې د جزایی عدالت وضعیت ته په پام سره، د افغانستان د مدافع وکیلانو ټولنه د هغه د کوښښ او نیک نیت باوجود، لا هم د خپلو موخو څخه ډېر واټن لری. ددې سره، مهمه ده چه د تورنو کسانو د حقونو له کلی اصولو څخه یادونه وشی.

مدافع وکیل، لکه د نورو حقوقی کارپوهانو په شان، د محکمې یو مامور دی او حقیقت ته د رسېدلو په کار کې باید برخه واخلی. بریالی وکیلان کوښښ کوی تر څو د تورن له نظره حقیقت چه زیات وختونه د څارنوال د نظر سره په مخالفت کې راځی، په اغیزمنه توګه وړاندې کړی. ددې کار د اغېزمنتی لپاره، مدافع وکیل باید خپل ځان د مؤکل ګټو ته وقف کړی او د هغه د ټولې پوهې او استفادې وړ توان څخه کار واخلی. ددې منظور لپاره، یو تورن باید پدی وتوانېږی چه د خپل وکیل سره تفاهم برقرار کړی تر څو ډاډ حاصل شی چه وکیل خپل مؤکل ته ښې مشورې ورکوی او جدی مدافع دی. په یوه وکیل باندې له بدلېدو مخکې، د قانون د عرصې کارکوونکی د کار د پیل لپاره د لاندې لوړې په پرځای کولو باندې ملزم دی.

### د لوست تمرکز

″ مدافع وکیل د جواز لیک له اخستلو وروسته لاندې سوګند اداء کوی:

بسم الله الرحمن الرحیم. په لوی خدای (ج) سوګند یادوم چه د دفاع د وکالت شغل په امانت او صداقت اداء کوم، د هغه اسرار به ساتم او خپل مؤکل ته به خیانت نه کوم. د محمد (ص) د غری شریعت اساسات او د افغانستان اسلامی جمهوری دولت د نافذو تقنینو سندونو احترام او رعایت به کوم″. [88]

[88] Source: Article 27, Law Organizing the Affairs of Defense Attorneys, 1999.

په یوه اغېزمن سیستم کې د تورن د مدافع وکیل په توګه د کارکولو څخه مخکې مدافع وکیلان باید ددې کسب ټاکلی شرایط پر ځای کړی. دا شرایط عبارت دی له : (۱) صلاحیت او وړتیا – د مناسب حقوقی پوهې، مهارت، نظم او ځیرتیا درلودل او د تورن کس څخه د دفاع دندې ته چمتو والی، (۲) د ګټو د تضاد څخه خلاصون – د څو مؤکلینو څخه په یوه وخت کې نه استازیتوب داسې چه منفی پایلې ولری او هر ډول بل سیاسی، مالی او یا مادې ګټې چه مدافع وکلی د تورن له دفاع څخه لیرې کوی، (۳) لدې خخه ډاډ تر لاسه کول چه مؤکل د قضیې د مهمو مواردو په هکله د پرېکړې کولو فرصت لری، (۴) محرمیت – مدافع وکیل نباید هغه اطلاعات چه د دندې د اجرا په وخت کې یی له مؤکل څخه تر لاسه کوی، فاش او رسوا کړی، مګر داچه مؤکل ددې کار اجازه ورکړی او یا په جازو استثنایی حالاتو کې، (۵) ارتباطات یا افهام اوتفهیم – هغسې چه مخکې یی یادونه وشوه، تورن او وکیل د بریالې دفاع لپاره د یوبل سره د ښواړیکو درلودلو ته اړتیا لری، او (۶) اخلاص – ټول اطلاعات، شهادت او د وکیل له لوری وړاندې شوی شواهد باید صادقانه وی.

د مدافع وکیلانو ټولنې غړو لپاره پاس یادشوی حرف ای مسؤلیت د قانونی اخلاق له د یو لوی سیستم یوه برخه ده. په ساده توګه ویلای شو چه قانونی اخلاق د هغو رفتاری اصولو ټولګه ده چه افراد یی په محکمه کې مراعات کوی.دا لارښود اصول د مؤکل – وکیل د اړیکو څرنګوالی، د مدافع وکیل دندې په ګوته کوی او د حقوقی دندې جامعیت یا بشپړ تیا ته تداوم بخښی. په افغانستان کې د حرف ای مسؤلیت یو خوځنده سیستم او قانونی اخلاق چه د جزایی عدالت سیستم د ثبات او سیستم په لوری بیایی ډېر مهم دی.

## د افغانستان د مدافع وکیلانو خپلواکه ټولنه : د تورنو د حقونو د حمایت لپاره هڅه

د ادیدتور یادښت: په افغانستان کې د جزایی دفاع د خراب حالت باوجود، د افغانستان د مدافع وکیلانو خپلواکه ټولنه د جزایی تورنو افراد د حقونو څخه د ملاتړ په موخه فعالیت کوی. ددې فعالیت د لارښودونکو داخلی موادو څخه هم ددې ټولنې قانون دی چه ټاکلی مسؤلیتونه پهتفصیل سره بیانوی:

**د مدافع وکیلانو قانون، 25 ماده – د مدافع وکیل وجیبی**

1. د مؤکل د اسرارو ساتل
2. په صداقت او ایمانداری سره د وکالت د چارو اجرا کول اد اشخاصو حیثیت ته درناوی
3. د محکمو او نور ادارو دنظم مراعات کول
4. په قضایی غونډو کې برخه اخیستل
5. مقابل لوری ته له هر ډول مساعدت څخه ډډه کول
6. د مؤکل د سندونو او پاڼو ساتل او د مطلب له حل څخه وروسته د هغو بېرته سپارل

**15.** حد اقل د عدلیی وزارت په تأیید په کال کې د دریو جنایی قضیو وړیا دفاعیه.

تردې وروستیو ، د وکیلانو د چارو دتنظیمولو قانون د تورنو کسانو لپاره د مدافع وکیل درلودلو حق تضمین کړی دی (۲ ماده). د یادولو وړ ده چه د مدافع وکیلانو د چارو د تنظیم د نوی قانون مسوده تیاره شوی ده، خو ددې کتاب د متن د تیارې تر وخته په انګیسی ژبه نه ده اړول شوې.

د مدافع وکیل د درلودلو حق د ښه درک کولو لپاره، موږ مخکنی قانون په نظر کې نیسو چه په ټولیزه توګه د جزایی تورن د حقونو ښکارندوی دی. دا قانون چه د طالبانو د حکومت په وخت کې جوړ شوی وو، د رسمی جریدې په ۷۸۶ ګڼه کې په ۱۹۹۹ کال کې خپور شو. په ټولیزه توګه، د مدافع وکیل مکلفیت د مؤکل د حق څخه دفاع او د قانون مطابق په محکمه کې د دعوی اقامه کوی دی (۴ ماده). مدافع وکیل د شرعی وثیقې له وړاندې کولو وروسته مؤکل پواسطه ټاکل کیږی. په هغه صورت کې چه تورن کس د مدافع وکیل د کورنی له غړو څخه وی، د هیڅ ډول فورمې ډکولو ته اړتیا نشته.

د مدافع وکیل په شرایطو د برابرتیا لپاره لاندې موارد باید مراعات شی(۱) د افغانستان تبعه وی (۲) د جنایت په جرم نه محکومېدل، (۳) لږ تر لږه د هېواد له د ننه یا بهر څخه د رسمی دینی مدرسو یا د شرعیاتو یا حقوقو له پوهنځی څخه د فراغت د سند لرل او یا لږ ترلږه د عدلیی وزارت یا قضاء په ادارو کې د لسو کلونو مسلکی اوعملی کار د سابقی لرل، (۴) د نیک شهرت درلودل، (۵) د ۲۵ کلنی عمر تکمیلول ( ۶ ماده) او (۶) سر بېره پردې ، مدافع وکیل باید د وکالت جوزا له عدلیی وزارت څخه لاس ته راوړی (۸ ماده). د مراحلو له تېرولو او جواز اخیستلو وروسته (۸ ۱۶- مادې)، د مدافع وکیل حق الزحمه د جنحې اړونده جزایی دعواګانو لپاره ۸۰۰۰۰ افغانی او د جنایت اړونده دعوګانو لپاره حق الزمه ۱۲۰۰۰۰ افغانی (۲۴ ماده) ټاکل شوې ده.

ټول مدافع وکیلان مکلف دی چه خپل ټاکلې دندې سر ته ورسوی. مثال، مدافع وکیل باید : (۱) وظیفوی اسرار وساتی، (۲) په صداقت او ایمانداری سره د دندې تر سره کول، (۳) د محکمو د نظم رعایت، (۴) له هر ډول حقوقی مرستې څخه ډډه کول چه د منافعو تضاد رامنځ ته کوی، (۵) په قضایی او د تحقیق په ټولغونډو کې ګډون کول، (۶) د خپل مؤکل سره چه په توقیف کې قرار لری اړیکو درلودل، (۷) د مؤکل د جزایی او مدنی دعوی د پاڼو مطالعه کول (۲۳ او ۲۵ مادې). ددې کارونو نه بشپړول په تحریمونو باندې منجر کیږی. هر کله چه مدافع وکیل مکرراً ددې قانون مندرج احکامو په تخلف مرتکب شی، ذیصلاح محکمې ته د رپوټ ورکولو څخه وروسته د هغه د و کالت شغل امتیاز سلبیږی (۳۸ ماده).

## انتقادی تبصره : په افغانستان کې مدافع وکیلان

″ سره ددې چه افغنان د مدافع وکيل د درلودلو حق لری، په افغانستان کې مدافع وکيلان کابو څوک نه پېژني. آن په جزايي رسېدګی کې د تورنو کسانو څخه نژدې هيڅکله مدافع وکيل استازی توب نه کوی... فرض په دې دی د حقوقی مساعدتونو شعبه چه په ستره محکمه کې قرار لری د بې و زلو تورنو کسانو سره مرسته کوی، خو د مختلفو سرچينو په حواله ، دا دفتر يوازی په نوم شتون لری. همدارنګه، د مدافع وکيل له رول څخه هم درک وجود نه لری. د مثال په توګه، د څارنوالی يو د لوړ پوړو مسؤلينو څخه يوه چاروا‌کی ويلی دی چه يو مدافع وکيل يوازې د بې سواده تورن لپاره لازم دی ″.

## د مباحثې لپاره پوښتنې

۱.د مدافع وکيل مناسب رول په څه کې دی؟ آيا ضرورت دی تر څو **لا** فعال اداره يا سازمان جوړ شی چه د حقوقی خدماتو په برخه کې د لاس رسی وړ وی؟

۲.دولت څرنګه کولای شی با استعداد وکيلان د حقوقی خدماتو د وړاندې کولو په برخه کې جذب کړی؟ ايا دا کار امکان لری؟

۳.که تورن له وکيل درلودلو پرته محکوم شی، آيا داډول حکم د باور وړ دی؟ او يا بايد بې اعتباره وی؟ آيا د مدافع وکيل شتون اهميت لری؟ که داسې وی نو بيا څنګه؟

۴.آيا د مدافع وکيل درلودل ″ مثبت″ حق دی؟ يعنس که يو تورن کس پخپله نشی کولای وکيل ونيسی، دولت بايد د وکيل په توظيف کولو سره د تورن سره مرسته وکړی؟ آيا دا کار بايد تر سره شی؟

۵.آيا د مؤظف وکيل مصارف غير معقول دی؟ آيا دا تفاوت کوی چه که چېرې د جنايی دوسيی لپاره د يو وکيل لګښت يا مصرف (۱۲۰۰۰۰ ا افغانی) د هغه تورن له مجازاتو څخه زيات وی چه د ۱۰۰ ګرام او ۵۰۰ګرام ترياکو (د ۵۰۰۰۰ او ۱۰۰۰۰۰۰افغانی) څخه زيات وی؟ ولې دا اندازه مصارف تجويز شوی دی؟ آيا دولت بايد دا مصارف ورکړی؟ آيا دولت يوازې په هغه صورت کې دا مصارف ورکړی چه متهم يی په ورکولو قادر نه وی؟

**د بحث راغونډيدا**

دې څپرکې د افغانستان د جزا قانون يو شمېر زيات غوره مسلې تر پوښتنې لاندې ونيولی. يوځای موږ د جزا حقوقو سرچينې او د اسلامی حقوقو او مدنی حقوقو اثر ښندنه او يو د بل سره د هغوی تعامل تر بررسی لاندې ونيول. تاسو د اسلامی حقوقو مختلفې برخې و څېړلې او د هغوی د پراختيا او پکارولو د څرنګوالی په هکله

ټاکلې پوښتنې مطرح کړلی. له هغه وروسته موږ په مفصل ډول د جزا قانون او د عامه ګټو او اشخاصو مالونو خلاف جرمونه بررسی کړل. یو ځای تجزیه او تحلیل یا شننه، تمرینونه، موردی مطالعات او د مباحثې پوښتنې تاسو د جزا د قانون سره هغسې چه دی آشنا کړی  او تاسوی یی و هڅولی تر څو د دواړو یعنې هم د حقوقو او هم د ټولنې د ښه کېدو په هکله فکر وکړی.

هماغسې چه تاسو د خپل ژوندانه په یوه نوی پړاو کې قرار نیسی، که څه هم چه دا پړاو غیر حرف ای وی او یا مسلکی حقوقی، دا کتاب تاسو په حقوقی بحثونو (ګفتمان) کې د شرکت کولو لپاره په ټولنه کې چمتو کوی. له تاسو څخه د هغو شمېر کسانو لپاره چه حقوقی حرفه لکه قاضی، څارنوال، مدافع وکیل، د پولیسو افسر او یا علاقمند وګړی دی، د قانون په اعمال او رعایت کولو کې  ډېر مسؤلیت لری. په عین حال کې، تاسو باید جدی ننګونې چه د جزایی عدالت سیستم ورسره مواجه دی، تشخیص او ددې نیمګړتیاوو د لیری کولو په لټه کې شی. هغه کسان چه بل مسلك غوره کوی، بیا هم د هغوی لپاره ددې فصل تجزیه او تحلیلونه مهم دی ځکه چه د افغانستان د یو وګړی په توګه ستاسو حقوق اوملکفیتونه بیانوی. په ټولیزه توګه، هر محصل چه دا څپرکی بشپړ کوی، کولای شی د افغانستان د جزایی عدالت سیستم د پیاوړتیا او توسعې سره واقعی او مهمه مرسته وکړی.


Moises Saman/New York Times

## اصطلاحات

- **تبرِیه شوی – Acquitted: هغه** شخص چه د قانون په تأیید د جرم ارتکاب له ګناه څخه تبرئه شی.
- **د جرم مادی عنصر – Actus Reus:** د جرم تشکیلوونکی مادی فعل او عمل
- **رضایت - Consent :** هغه مهال رامنځ ته کیږی چه فرد اجازه ورکړی، د یو شی سره په خپله خوښه رضایت و ښیی.
- **محکوم – Convicted:** هغه شخص چه د هغه خلاف د قضاوت حکم صادر شی.
- **تصمیم نیونه – Decision:** د قاضی له لوری د قضاوت حکم صادرېږېدل به داسې کلماتو لکه : تاسو ... په... قضیه کې ... محکوم یاستی او توضیح ورکوی چه د قضیی موضوع ته خاتمه ورکوی او یا دا چې (د زیاتې رسیدګی په موخه) نورههم تعقیبیږی اویا " زه حکم کوم چه تاسو له دې وروسته نه باید د اختلاف په مورد کې د مدعی سره دخالت وکړی".
- **تورن (مدعی علیه) – Defendant:** هغه لوری چه په خلاف یی اقامه دعوای صورت مومی
- **قصد، نیت – Intent:**دجرم د ارتکاب په مهال د شخص ذهنی وضعیت .
- **قاضی – Judge :** هغه شخص چه قضایی حکم صادروی.
- **قضاوت – Judgment :** د قاضی تصمیم چه د خاصو کلمو په ویلو سره په مطلق او قطعی شکل صادر یږی.
- **صلاحیت، واک – Jurisdiction :** د قانون د تفسیر او اعمال قدرت، حق او یا صلاحیت دی.
- **د جرم معنوی عنصر – Mens Rea :** ذهنی یا روانی حالت دی چه یو شخص د ناقانونه عمل ارتکاب ته سوق کوی.داسې یو ذهنی حالت زیاتره د ناقانونه عمل په ارتکاب کې غوره عنصر ګڼل کیږی .
- **غفلت – Negligence:** کله چه یو فرد د خپل موقعیت له مخې د منطقی عمل په ترسره کولو کې پسمان کیږی اودا کار د نورو لپاره د زیان سبب کیږی.
- **د جزا قانون – Penal Code:** د جرمونو او مجازاتو په هکله د قوانینو ټولګه ده .
- **شاکی – Plaintiff:**د دعوا طرف چه د محکمې څخه د خلاصېدو غوښتنه کوی.
- **بی پروایی – Recklessness:** کله چه یو فرد ژوند، امنیت یا حقوقو ته د خطر صدمه رامنځ ته کړی او په هغه باندی په علم لرلو باوجود بیا هم عمل کوی. بې توپیروالی په ځانګړې توګه په عادی افرادو کې د کتنې وړدی، معقول افراد هیڅکله پدې طریق باندې عمل نه کوی.
- **قربانی – Victim:** هغه فرد چه د جرم یا صدمې یا شبه جرم طرف واقع شوی دی. د قربانی صدمی او زیانونه کېدای شی فزیکی، احساسی او یا پولی وی.

# اخځلیکونه او معلوماتی سرچینې

Afghanistan Legal Documents Exchange Center (available at http://www.afghanistanranslation.com) .

Official Website of the Ministry of Justice (*available at* http://www.moj.gov.af/).

Marcus Dubber and Mark Kelman, American Criminal Law, Foundation Press, 2005.

Hisham M. Ramadan, Understanding Islamic Law, Rowman & Littlefield Publishers, 2006.

Robert Rotberg, Building a New Afghanistan, Brookings Institution Press, 2007.

Joel Hafvenstein, Opium Season: A year on the Afghan Frontier, The Lyons Press, 2007.

Mohammad Hashim Kamali, Shari'ah Law, Oneworld Publications, 2008.

Yahaya Yunusa Bambale, Crimes and Punishments under Islamic Law, 2003.

Jamila Hussain, Islam, its Law and Society, The Federation Press, 2004.

Nadjma Yassari, The Shari'a in the Constitutions of Afghanistan, Iran and Egypt – Implications for Private Law, Mohr Siebeck & Max-Planck Institute, 2005.

Muhammad Abdel Haleem, Adel Omar Sherif, and Kate Daniels, Criminal Justice in Islam, I.B. Tauris & Co., 2003.

Sean Costigan and David Gold, Terrornomics, Ashgate Publishing Co., 2007.
Harold Trinkunas and Jeanne Giraldo, Terrorism Financing and State Responses: A Comparative Perspective, Stanford University Press, 2007.

Loretta Napoleoni, Terror Incorporated: Tracing the Dollars Behind the Terror Networks, Seven Stories Press, 2005.

The World Bank, Afghanistan: Building an Effective State, 2008 (*available at* http://www.worldbank.org.af/WBSITE/EXTERNAL/COUNTRIES/SOUTHASIAEXT/AFGHANISTANEXTN/0,,contentMDK:20148280~menuPK:306011~pagePK:1497618~piPK:217854~theSitePK:305985,00.html).

The World Bank, Initiatives to Reduce Opium Production, 2008 (*available at* http://www.worldbank.org.af/WBSITE/EXTERNAL/COUNTRIES/SOUTHASIAEXT/AFGHANISTANEXTN/0,,contentMDK:20148280~menuPK:306011~pagePK:1497618~piPK:217854~theSitePK:305985,00.html).

The World Bank, Afghanistan's Drug Industry and Counter-Narcotics Policy, 2006 (*available at* http://www.worldbank.org.af/WBSITE/EXTERNAL/COUNTRIES/SOUTHASIAEXT/A

FGHANISTANEXTN/0,,contentMDK:20148280~menuPK:306011~pagePK:1497618~piPK:217854~theSitePK:305985,00.html).

Rome Justice Conference, Access to Justice, Legal Aid and Human Rights, 2007 (*available at* http://www.rolafghanistan.esteri.it/ConferenceRol/Menu/Ambasciata/Gli_uffici/).

M. Cherif Bassiouni and Daniel Rothenberg, An Assessment of Justice Sector and Rule of Law Reform in Afghanistan and the Need for a Comprehensive Plan, Rome Justice Conference, 2007 (*available at* http://www.rolafghanistan.esteri.it/ConferenceRol/Menu/Ambasciata/Gli_uffici/).

Amnesty International, Afghanistan: Country Report, 2008 (*available at* http://thereport.amnesty.org/eng/Regions/Asia-Pacific/Afghanistan).

Dilip Das and Michel Palmioto, The World Police Encyclopedia, Routledge, 2005.

United States Department of State, Afghanistan: Country Specific Background Notes, 2007.

United States Department of State, Afghanistan: Country Reports on Human Rights Practices, 2006 (*available at* http://www.state.gov/g/drl/rls/hrrpt/2006/78868.htm).

United States Department of State, U.S. Counternarcotics Strategy for Afghanistan, August 2007.

Human Rights Council of the United Nations, Report of the High Commissioner for Human Rights on the situation of human rights in Afghanistan ad on the achievements of technical assistance in the field of human rights, 2008.

United States Institute of Peace, Establishing the Rule of Law in Afghanistan, March 2004 (*available at* http://www.usip.org/pubs/specialreports/sr117.pdf).

Seth Jones, Establishing Law and Order after Conflict, RAND Corporation, 2005.
N.J. Coulson, A History of Islamic Law, Edinburgh University Press, 2001.

Noah Feldman, The fall and Rise of the Islamic State, Princeton University Press, 2008.

Khaled Abou El Fadl, Speaking in God’s Name: Islamic Law, Authority andWomen, Oneworld Publications, 2001.

Khaled Abou El Fadl, Rebellion & Violence in Islamic Law, Cambridge University Press, 2001

«پای »